فَاسْئَلُوْا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ

الفتاوى الغزنوية

المسائل الفقهية

شافعی مجلد الثاني

إعداد

مصنف)مفتي مدد خان ياسر

خپرونكى:
تاج كتب خانه كاسى روډكوئټه بلوچستان
تاج كتب خانه ارگ بازار كندهار افغانستان

المحتويات صفحه

باب الوتر والقنوت

باب السنن والنوافل

باب التراويح:

: باب ادراک الفريضه

: باب القضاء

باب صلوه الاستسقاء

باب سجود السهو

باب صلوة المريض

باب سجدة التلاوة

باب صلوة المسافر

باب الجمعة و العيدين

کتاب الجنائز

بـاب في حكم الشهيد

فصل في ما يتعلق بالقبر والدفن

كتـــاب الزكوة

باب زكوة السوائم

باب العشر:

: باب صدقه الفطر

باب مصارف الزکوه

كتاب الصوم

باب مایکره في الصوم وفي مالایکره

باب ما یفسد الصوم ومالایفسد

متفرقات الصوم

باب الاعتکاف

كتاب الحج

باب التمتع و القرآن

باب الحج عن الغير

باب الجنايات

باب العمره

باب في زيارة قبر النبي

باب الوتر و القنوت

که دچا دعاء قنوت نه وو په یاد اللهم ربنا به څو واره وایي ؟

الاستفتاء که دیو چا دعاء قنوت نه وي زده یا یې نه وي یاد ، د دعاء قنوت پر ځای به اللهم ربنا یو وار وایي او که درې واره؟

الجواب حامدا و مصلیا : د وترو په اخري رکعت کښې وروسته تر الله اکبر خو باید دعاء قنوت وویل سي، او که د چا دعاء قنوت نه ؤ زده یا یې نه ؤ په یاد ، نو زموږ د فقهي کتابونه وایي ده ته اختیار دي په درو شیانو کښې (۱) اللهم اغفر لي درې واره (۲) یا اللهم ربنا یو وار (۳) یا دغه الفاظ درې واره یا رب، یا رب، یا رب.

لماقال ابن نجیم المصری رحمه الله: ومن لا یحسن القنوت بالعربیة أو لا یحفظه ففیه ثلاثة | أقوال مختارة قیل یقول یا رب ثلاث مرات ثم یرکع وقیل یقول اللهم اغفر لي ثلاث مرات وقیل اللهم ربنا آتنا في الدنیا حسنة وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار والظاهر أن الاختلاف في الأفضلیة لا في الجواز وأن الأخیر أفضل لشموله وأن التقیید بمن لا یحسن العربیة لیس بشرط بل یجوز لمن یعرف الدعاء المعروف أن یقتصر علی واحد مما ذکر لماعلمت أن ظاهر الروایة عدم توقیته (البحرالرائق ج ۲ ص ۷۴/۷۵ مکتبه رشیدیه/ بدائع الصنائع ج ۱ ص ۶۱۴/ فتا وي حقا نیة ج ۲ ٥٤٧ پښتو/ ردالمحتار علي الدرالمختارج ۱ ص ۴۹۳ / فتاوي محمودیه ج ۲ ص ۱۶۶ اردو)

په روژه کښي وتر په جماعت سره بنه دي که دتهجدو سره په انفرادي تو که ؟

الاستفتاء: پوښتنه داده چي په روژه کښي وتر په جماعت سره بنه دي که د تهجد و سره په انفرادي توګه؟

الجواب حامدا و مصلیا : حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تها نوي رحمه الله تعالي په امداد الفتاوی کي لیکلي دي چي وتر د روژې په میاشتي کښي په جماعت سره اداء کول بهتره دي ځکه چي د جماعة رعایت او خیال ساتل دوقت تر رعایت او خیال ساتلو مقدم دي ، او همدا شان د (اعراض عن الجماعة) د جماعته څخه دمخ ګرځولو د صورته څخه هم پرهېز کول ضروري دي .

لما في الفتاوى الهندية : ويوتر بجماعة في رمضان فقط عليه إجماع المسلمين، كذا في التبيين الوتر في رمضان بالجماعة أفضل من أدائها في منزله وهو الصحيح، هكذا في السراج الوهاج .وقال العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله تعالى في البحر الرائق شرح كنز الدقائق : (قوله | ويوتر بجماعة في رمضان فقط) أي على وجه الاستخباب وعليه إجماع المسلمين كما في الهداية واختلفوا في الأفضل ففي الخانية الصحيح أن أداء الوتر بجماعة في رمضان أفضل لأن عمر – رضي الله عنه – كان يؤمهم في الوتر وفي النهاية اختار علماؤنا أن يوتر في منزله لا بجماعة لأن الصحابة لم يجتمعوا على الوتر بجماعة في رمضان كما اجتمعوا على التراويح لأن عمر كان يؤمهم فيه في رمضان وأبي بن كعب كان لا يؤمهم اهـ ورجح الأول في فتح القدير بأنه – صلى الله عليه وسلم – كان أوتر بهم ثم بين العذر في تأخره عن مثل ما صنع فيما مضى قالوتر كالتراويح فكما أن الجماعة فيها سنة فكذلك في الوتر (الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۱۶ فصل في التراويح مكتبه رشيديه / البحر الرائق ج ۲ ص ۱۲۲ باب الوتر والنوافل مكتبه رشيديه / حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۸۶ مكتبه رشيديه / امداد الفتاوي ج ۱ ص ۳۵۷ باب صلوة الوتر اردو جاب)

دوتروپه نیت کښي واجب ويل څنګه دي ؟

الاستفتاء: كه يو څوک د وترو په نيت كښي د (واجب الليل) لفظ ووايي يعني وتر کوم درې رکعته دشپې واجب داويل څنګه دي صحيح دي که يا ؟

الجواب حامدا ومصليا : دوترو په نيت کښې داسي ويل پکار دي چي (نيت کومه زه ددرو رکعتووترو دلمانځه په دغه وخت کښې ترآخره پوري ....) او پاته سوه دا خبره چي واجب ورسره ووايي او که يې ونه وايي دا څنګه دي ؟ نو جواب هم دادي چي شرعاً کوم حرج نسته په دغه ويلو کښي او داسي ويل لازم او ضروري هم نه دي .

لما قال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار: (وكفى مطلق نية الصلاة) وإن لم يقل لله (لنقل وشئة) رائبة (وتراويح) على المعتمد، إذ تعيينها بوقوعها وقت الشروع، والتعيين احوط (ولا بد من التعيين عند النية) فلو

جهل الفرضية لم يجز؛ ولو علم ولم يميز الفرض من غيره، ولماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قوله انه وتر) أشار إلى أنه لينوي فيه أنه واجب للاختلاف فيه زيلعي: أي لا يلزمه تعيين الوجوب، وليس المراد منعه.من أن ينوي وجوبه لأنه إن كان حنفيا ينبغي أن ينويه ليطابق اعتقاده وإن كان غيره لا تصرة تلك، ذكره في البحر في باب الوتر (ردالمحتار مع الدرالمختارج ۱ ص ۳۰۷ . ۳۰۸ مكتبه رشيديه / فتاوي دارلعلوم ديوبندج ۴ ص ۱۱۴ باب الوترېښتو)

ددعاء قنوت لپاره رفع اليدين سنت دي كه يا؟

الاستفتاء: ددعاء قنوت تر مخه په وترو كښي لاسونه پورته كول د تكبير سره سنت دي كه يا ؟ځني وايي دا سنت نه دي ځواب راكړئ

.الجواب حامدا ومصليا : په شرح منيه كښي راغلي دي ددغه لاسو د پورته كولو او د الله اكبر د ويلو د سنت ثابتوالي چي دغه لاسونه د ددعاء قنوت تر مخه پورته كول او تكبير ويل سنت كار دی، علامه حلبي رحمه الله تعالي احاديث او اثار په دغه باره كښي جمع كړي او نقل كړي دي.

لمافي غنية المستملي : ثم اذا اراد القنوت كبرورفع يديه عندنا..... قال أحمداذاقنت قبل الركوع كبر قال ابن قدامةفي المغني وقدروي ابن عمرانه كان اذافرغ من القرائةكبروفي الذخيرة رفع يديه حذأ أذنيه وهومروي عن ابن مسعود وابن عمر وابن عباس وأبي عبيدة وفي الهندية : إذا فرغ من القراءة في الركعة الثالثة كبر ورفع يديه حذاء أذنيه، ويقنت قبل الركوع في جميع السنة، ومقدار القيام في القنوت قدر {إذا السماء انشقت} (الانشقاق :) . هكذا في المحيط (الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۱۱ الباب الثامن في صلاة الوترمكتبه رشيديه/غنيةالمستملي ص۳۹۷ صلاة الوتر سهيل اكيډمي/الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۳۴۶ باب الوتروالنوافل مكتبه حبيبيه/الهداية ج ۱ ص ۱۲۸ كتاب الصلاة مكتبه رحمانية ه/فتاوي محموديه ج ص ۱۶۳ باب الوتروالقنوت اردو فتاوي دارالعلوم ديوبندج ۴ ص ۱۱۸ بـښتو)

په وترو کښې دقنوت تکبیر واجب نه دي سنت دي.

الاستفتاء : په وترو کښې تر دعاء قنوت مخکښې تکبیر ويل سنت دي که واجب؟.

الجواب حامدا و مصليا : په وترو کښې تر دعا قنوت مخکښې تکبير ويل سنت دي واجب نه دي لکه څنګه چي علامه ابن عابدين رحمه الله تعالي په رد المحتار کښې ليکلي دي ، او علامه ابن نجيم مصري رحمه الله تعالي په البحر الرائق کښې په دغه خبره سره تصريح کړيده

.لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار: (قوله وكذا تكبير قنوته) أي الوتر . قال في البحر في باب سجود السهو: ومما ألحق به: أي بالقنوت تكبيره؛ وجزم الزيلعي بؤجوب السجود يتركه: وذكر في الظهيرية أنه لو تركه لا رواية فيه، وقيل يجب السجود اعتبارا بتكبيرات العيد، وقيل لا. اهـ. وينبغي ترجيح عدم الوجوب لأنه الأصل، ولا دليل عليه، بخلاف تكبيرات العيد (الدرالمختار مع ردالمحتارج ۱ ص ۳۴۶ واجبات الصلوة مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۲ ص۱۶۹ مكتبه رشيديه / الموسوعة الفقهية ج۱۳ ص ۲۰۷ / احسن الفتاوي ج ۳ ص ۴۸۸ باب الوتروالنوافل اردو)

باب السنن و النوافل

د سهار سنتونه زيات مؤكد دي

الاستفتاء: جناب مفتي صاحب! له يو چا څخه مې اوريدلي دي چه د سهار سنتونه تر ټولو زيات مؤكد دي. آيا د پنځه وخته لمونځونو سنتونه يو ډول دي او که کوم فرق پکښې شته؟ د ځواب مهرباني راسره وکړي او مونږ مشکور و ګرځوی؟

الجواب حامدا ومصليا: د حنفي فقهي په معتبرو کتابونو کښې ليکلي دي چه په پنځه وخته لمونځونو کښې تر ټولو زيات مؤكد د سهار سنت دي رسول الله ﷺ په دې باندې ځانګړي هميشه والي کړي دی. له دې وروسته د ماسپښين څلور ركعته سنتون دي، پاتې نور ټول سره برابر دي-

ما قال العلامة الحصكفي رحمه الله: و السنن اكدها سنة الفجر اتفاقاً ثم الاربع قبل الظهر في الاصح لحديث من تركها لم تنله شفاعتي ثم الكل سواء. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ۱٤ ، باب النوافل) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : اقوى السنن المؤكدة ركعتا الفجر حتى روى عن ابي حنيفة انها لا تجوز مع القعود بغير عذر لقوله عليه الصلوة و السلام صلوها و لو طردتكم الخيل . . الفجر ثم الباقي سواء. (منحة الخالق حاشية البحر الرائق ج۲، ص ٤٨ ، باب النوافل) و مثله في مراقي الفلاح على صدر و الاصح ان التي قبل الظهر اكد بعد طحطاوي ص ۳۱٤، باب النوافل)

د مؤکد و سنتونو ثبوت

الاستفتاء: د سهار ،مابنام، ماسخوتن او جمعې په لمانځه کښې مؤکد و سنتونو ثبوت د کوم حديث له مخې شوي دي او په کوم کتاب کښې موجود دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د مؤکد و سنتونو په باره کښې ګڼ قولي او فعلي حديثونه راغلي دي - د نسائي د روايت مطابق په ورځ کښې دولس رکعته سنتونه دي او د جمعې په باره کښې د امام ابو حنيفة د رائې مطابق څوارلس جوړيږي او همدا قول راجح هم دی. په داسې حال کښې چه د صاحبينو په نزد شپاړس دي چه امام طحاوي همد اقول راجح بللي دی۔

بحديث النبي ﷺ عن عائشه قالت قال رسول الله ﷺ من ثابر على اثنتي عشرة ركعة في اليوم و الليلة دخل الجنة اربعاً قبل الظهر و ركعتين بعدها و ركعتين بعد العشاء و ركعتين قبل الفجر . (التسالي ج ۱، ص ۲۵٦، باب ثواب من صلى في اليوم و الليلة)و عن ابي هريرة قال قال رسول الله ﷺ : اذا صلي احدكم فليصل اربعا. (النسائي ج۱، ص ۲۱۰، باب عددالصلوة بعد الجمعة)و عن ابن عمر أن رسول الله ان كان لا يصلي بعد الجمعة حتى ينصرف فيصلي ركعتين. (النسائي ج۱،ص ۲۱۰، باب صلوة الامام بعد الجمعة) ليكن دا دوه رکعته صرف سنت دي مؤکد نه دي–و الدليل على استنان الأربع قبل الجمعة ما رواه مسلم مرفوعاً من كان مصليا قبل الجمعة فليصل اربعاً. (البحرالرائق باب النوافل ج ۲، ص ٤۹) فتا وي حقا نية ج۲ ص ٥٥٥

د جمعې د ورځې د سنتونو تعداد او په آخري دوو رکعتونو کښې د جمعې نيت

الاستفتاء: د جمعې په لمانځه کښې آخري دوه رکعتونه سنتمؤکد دي او که نه؟ او د جمعې نيت پکښې ضروري دي او که نه؟ برسيره پر دې د قبليه او بعديه سنتونو تعداد څومره دی؟ ځينې خلک د جمعې د لمانځه ټول رکعتونه شپاړس، ځينې دولس او ځينې لس بيانوي. که چيرته يو څوک آخري دوه رکعتونه ادا نه کړي نو لمونځ ئې کيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د جمعې لمونځ دوه رکعته فرض، څلور مؤکد سنتونه له فرضو څخه مخکښې او څلور وروسته او تر دې وروسته د دوو رکعتونو په مؤکد والي کښې اختلاف دي ليکن د مفتي به قول له مخې ادا کول ئې بهتر دي. او په دغو دوو رکعتونو کښې به د جمعې نيت بايد وشي، دا دوه رکعتونه له عذر څخه پرته پريښودل ښه نه دي او د اولي خلاف دي ليکن د جمعې لمونځ ئې کيږي. پاتې شوه دا خبره چه کوم خلک د جمعې لمونځ لس رکعته بولي هغوي د آخري دوو رکعتونو په سنتو الي باندې قائل نه دي لکه امام ابو حنيفةؒ او کوم خلک ئې چه شپاړس رکعته بولي ښايي چه هغوي پکښې نوافل يا احتياطي لمونځ ورګډ وي

قال ابن نجيم المصرى: و الدليل على استنان الاربع قبل الجمعة ما رواه مسلم مرفوعاً من كان مصلياً قبل الجمعة فليصل اربعاً مع ما رواه ابن ماجة عن ابن عباس رضي الله عنه قال كان رسول الله ﷺ يركع من قبل الجمعة اربعا لا يفصل في شيء منهن. و على استنان الاربع بعدها ما في صحيح مسلم عن ابي هريرة مرفوعاً اذا صلى احدكم الجمعة فليصل بعدها اربعاً و في رواية اذا صليتم بعد الجمعة فصلوا اربعاً و ذكر في البدائع انه ظاهر الرواية و عن ابي يوسف انه ينبغي ان يصلى اربعاً ثم ركعتين. و ذكر محمد في كتاب الاعتكاف ان المعتكف يمكث في المسجد الجامع مقدار ما يصلي اربعا او ستا آه. و في الذخيرة و التجنيس و كثير من المشائخ على قول ابي يوسف. و في منية المصلى الافضل عندنا ان يصلى اربعاً ثم ركعتين. (البحر الرائق ج ۲، ص ۹ ٤ ، باب السنن و النوافل)مسعود قال الامام ابو بكر الكاساني: فقد ذكر في الاصل اربع قبل الجمعة و اربع بعدها كذا ذكر الكرخي و ذكر الطحاوي عن ابي يوسف انه قال يصلى بعدها سيا و قيل هو مذهب علي و ما ذكرنا انه كان يصلي اربعاً مذهب عبدالله ابن .... و نحن لا تمنع من يصلي بعدها كم شاء

غير انا نقول السنة بعدها اربع ركعات لا غير لما روينا. (بدائع الصنائع ج ۱، ص ۲۸۵، فصل اما الصلوة المسنون) و مثله في كبيري ص ۳۸۸، فصل في النوافل)

له مكروه وختونو څخه پرته هر وخت نفل لمونځ کول بهتر دي

الاستفتاء: له رياکاري څخه د ځان ساتنې په نيت د ورځې د زوائد و سنتونو د پرېښودلو حکم څه دی؟

الجواب حامدا و مصليا: ريا په نفلو، سنتو، فرضو او تولو عباد اتو کښې حرامه ده. له ريا کاري څخه د ځان ساتنې په بهانې سره د عباداتو پرېښودل مناسب نه دي. د ريا احتمال خو په فرضو کښې هم کيدلي شي په داسې حال کښې چه د فرضو پرېښودل په هيڅ صورت کښې هم جائز نه دي نوافل په شپه او ورځ کښې له مکروه وختونو څخه پرته په هر حالت کښې جائز دي چه له تفصيل څخه د فقهې کتابونه ډک دي-

و في الهندية: ثلاث ساعات لا تجوز فيها المكتوبة و لا صلوة الجنازة و لا سجدة التلاوة اذا طلعت الشمس حتى ترفع و عند الانتصاف الى ان تزول و عند احمرارها الى ان تغيب الا عصر يومه ذلك. فانه يجوز اداؤه عند الغروب هكذا في فتاوي قاضيخان .و قال بعد عدة اسطر: و التطوع في هذه الاوقات يجوز و يكره كذا في الكافي و شرح الطحاوى. (الهندية ج۱، ص ۵۲ ، كتاب الصلوة، الباب الاول في مواقيت الصلوة) قال الامام الكاساني: اما الذي يكره التطوع فيها لمعنى يرجع الى الوقت فثلاثة اوقات احدها ما بعد طلوع الشمس الى ان ترتفع و ابيض و الثاني عند استواء الشمس الى ان تزول و الثالث عند تغير الشمس و هو احمرارها الى ان تغرب الشمس ففي هذه الاوقات الثلاثة يكره كل تطوع في جميع الازمان يوم الجمعة وغيره و في جميع الاماكن بمكة و غيرها. و سواء كان تطوعا مبتدأ لا سبب له او تطوعا له سبب كر كعتي الطواف و ركعتي تحية المسجد و نحو هما الخ. (بدائع الصنائع ج۱، ص۲۹٦، فصل في بيان ما يكره في التطوع)

د مازدیګر تر لمانځه مخ کښې د څلورو رکعتونو نفلو د اداکولو حکم

الاستفتاء: د مازدیګر تر لمانځه مخ کښې د لــورو رکعتونو نفلو د ادا کولو فضیلت له کوم حدیث څخه ثابت دی؟ همدارنګه د وخت صحیح تعین او حکم ئې بیان کـــړی

الجواب حامدا ومصلیا: د مازدیګر تر لمانځه مخ کښې څلور رکعته نفل لمونځ مستحب دی او صحیح وخت ئې د مازدیګر د لمانځه له وخت څخه شروع کیږي-البته دا نفل د مازدیګر تر لمانځه مخ کښې اداکیږي-

بحدیث النبي ﷺ : عن ابن عمر رضی الله تعالی عنه عن النبي ﷺ رحم الله امراء صلی قبل العصر اربعاً. (الترمذي ج ١، ص ٩٨، باب ما جاء في الاربع قبل العصر) قال ابن نجیم: و ندب الاربع قبل العصر .... الخ و قال بعد ثلاثة اسطر و روي ابو داؤد عنه (ای عن علي رضي الله عنه) ان النبي ﷺ کان یصلی قبل العصر رکعتین فلذا خیره في الاصل بین الاربع و بین الرکعتین و الا فضل الاربع الخ. (البحر الرائق ج١، ص ٥٠ ، باب النوافل) و مثله في الدر المختار علی صدر رد المحتار ج٢، ص١٣، مطلب في السنن و النوافل)

د مازدیګر تر لمانځه مخ کښې د سنتو د ماتولو په صورت کښې تر لمانځه وروسته اداکول ئې مکروه تحریمي دی

الاستفتاء: که چیرته یو څوک د مازدیګر تر لمانځه مخ کښې نفل لمونځ شروع کړي لیکن د جماعت د دریدو له وجهې ئې مات کړي او په فرض لمانځه کښې شامل شي نو آیا د مازدیګر تر لمانځه وروسته ئې را ګرځولي شي او که نه؟ او آیا په نوموړي باندې د "لزم النفل بالشروع" د قاعدې اطلاق کیږي او که نه؟

الجواب حامدا ومصلیا: اګر که د نفل لمانځه په ماتولو سره د "لزم النقل بالشروع" د قاعدې مطابق نقل واجب ګرځي لیکن دا واجب د واجب لغیره په حکم کښې دي او د مازدیګر تر لمانځه وروسته لکه څرنګه چه نفل لمونځ نه کیږي همدارنګه واجب لغیره اداکول هم جائز نه دي. له دې وجهې په کوم بل صحیح وخت کښې دې ادا کړي-

و في الهندية: لو افتتح صلوة النفل في وقت مستحب ثم افسدها فقضاها بعد صلوة العصر قبل مغيب الشمس لا يجزيه هكذا في محيط السرخسي، انتهى. (الفتاوى الهندية ج١، ص ٥٣ ، كتاب الصلوة، فصل في الاوقات التي لاتجوز فيها الصلوة ..... الخ)قال الحصكفي: و كره نفل و كل ما كان لا لعينه بل لغيره كمنذور و الذي شرع فيه في وقت مستحب اومكروه. ثم فسده و لو سنة الفجر بعد صلوة وصلوة عصر انتهى مختصراً. و قال ابن عابدين: تحت هذه العبارة و الكراهةهنا تحريمية ايضاً كما صرح به في الحلية. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ١، ص ٣٧٥، كتاب الصلوة)

د لمر د زېړوالي په وخت کښې د مازديگر ترلمانځه مخ کښې د نفلو حکم

الاستفتاء: که چيرته د مازديگر او ماښام ترمنځ وخت مختصر وي نو په د اسې صورت کښې د مازديگر لمونځ ضروري دي چه مخ کښې اداشي او که ترهغه مخ کښې نفل بايد اداشي او بيا د مازديگر لمونځ وشي؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: چه تر خو پورې د لمر رڼا تغير نه وي خوړلي بلکه پخپل اصلي حالت قائم وي نو په داسې صورت کښې د مازديگر ترلمانځه مخ کښې نفل جائز دي. البته که چيرته د لمر په رڼا کښې د زېړوالي اثرات شروع شوي وي نو بيا دې د وخت په لمانځه باندې اکتفاء وشي او د نفل لمونځ مکروه دي

قال الامام الكاساني: و الثالث عند تغير الشمس و هو احمرارها و اصفرارها الى ان تغرب ففي هذه الاوقات الثلاثة يكره كل تطوع في جميع الاماكن يوم الجمعة و غيره. و في جميع الاماكن بمكة و غيرها و سواء كان تطوعا بتداء حينئذ لا سبب له. (بدائع الصنائع ج١، ص ٢٩٥ ، فصل في بيان ما يكره من التطوع) قال برهان الدين المرغيناني: لا يجوز عند طلوع الشمس و لا عند قيامها في الظهيرة و لا عند غروبها لحديث.عقبة بن عامر قال ثلثة اوقات نهانا رسول الله ﷺ ان تصلى فيها و ان نقبر فيها موتانا عند طلوع الشمس حتى ترتفع و عندزوالها حتى تزول و حين تضيف للغروب حتى تغرب. و قال بعد اسطر الا عصر يومه. (الهداية ج١، ص٦٨، فصل في الاوقات بكره فيها الصلوة)

د مـــاسپښين تر فرضو مخ کښې د سنتو تعداد

الاستفتاء: تر زوال وروسته د صحيح حديث مطابق بايد څو رکعاته سنت ادا شي؟

الجواب حامدا و مصليا: د صحيح حديث مطابق نبي کريم د لمر تر زوال وروسته څلور رکعتونه ادا کول په داسې حال کښې چه په ځينو روايتونو کښې د دوو رکعتونو ادا کول هم ثابت دي. لکه څرنګه چه د حضرت ابن عمر په روايت کښې راغلي دي. ليکن دا دوه رکعتونه امام محمد او ابن الهمام رحمهما الله په تحيه المسجد باندې محمول کړي دي-

عن على قال كان النبي ﷺ يصلي قبل الظهر اربعاً و بعدها ركعتين .عن ابن عمر ان رسول الله ﷺ يصلى قبل الظهر ركعتين و بعدها ركعتين و بعد صلوة المغرب ركعتين في بيته و بعد صلوة العشاء ركعتين و كان لا يصلى بعد الجمعة في المسجد حتى يتصرف فيسجد سجدتين .قال محمد هذا تطوع، و هو حسن، و قد بلغنا ان النبي ﷺ كان يصلى قبل الظهر اربعاً اذا زالت . الخ (مؤطا امام محمد ص ١٦٢) الشمس.. و قال ابن الهمام: ثم كان يصلي ركعتين تحية المسجد فكان ابن عمر براهما. (فتح القدير ج١ ، ص ٣٨٦، باب النوافل) ذكر الامام ابو عيسى الترمذي: عن على كان رسول الله ﷺ يصلي قبل الظهر اربعاً و بعدها ركعتين. قال ابو عيسى و العمل على هذا عند اكثر اهل العلم من اصحاب النبي ﷺ و من بعدهم يختارون ان يصلي الرجل قبل الظهر اربع ركعات و هو قول لسفيان و ابن المبارك .... الخ. قال العلامة محمد يوسف البنوري: تحت هو قول السفيان و اليه ذهب ابو حنيفة و اصحابة. (معارف السنن ج ٤ ، ص ١٠٤/١٠٥ ، باب ما جاء في الاربع قبل الظهر)و عن ابن عمر قال صليت مع النبي ﷺ ركعتين قبل الظهر و ركعتين بعدها. (معارف السنن ج ٤، ص١٠٣/١٠٦) قال ابن عابدين: و ما رآه ابن عمر تحية المسجد. (منحة الخالق حاشية البحر الرائق ج ٢، ص ٥٠ ، باب النوافل)

ماښام تر لمانځه وروسته دوه رکعته نفـــل ادا کول

الاستفتاء: د ماښام تر لمانځه وروسته د دوه رکعته نفل لمانځه اداکولو حيثيت څه دی؟ آيا دا نفل دا واينو په جملې کښې راتلي شي او که نه؟ بينوا توجروا-–

الجواب حامدا و مصليا: نفل لمونځ د مکروه وختونو څخه پرته په هر وخت کښې جائز دی-په مذکوره وخت کښې د نفلو په اداکولو کښې هیڅ حرج نشته. البته دا نفل په اوابینو کښې نه شماریږي. ځکه چه د اوابینو د لمانځه تعداد په روایاتو کښې شپږ رکعته راغلي دي. هو! که چیرته له څلور نفلو سره دوه رکعته سنت ګډ کړي او شپږ رکعته ئې شمار کړي نو بیا په شمار يد لاي شي-لیکن په مستقله توګه شپږ رکعته اوابین اداکول بهتر دي-

لحديث النبي صلي الله عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله من صلى بعد المغرب ست ركعات لم يتكلم فيما بينهن بسوء عدلن له بعبادة ثنتي عشرة سنة. (الجامع الترمذي ج١، ص٩٨، باب ما جاء في فضل التطوع ست ركعات بعد المغرب) قال ملا علي قارى: تحت هذه الحديث (قوله ست ركعات) المفهوم ان الركعتين الراتبتين داخلتان في الست الى ان قال فان هـ الطيبي فيصلي المؤكدتين تسليمة و في الباقي الخيار الخ. (مرقات شرح مشكوة ج٣، ص ١١٤، باب النواقل، الفصل الثاني) قال الشيخ ابراهيم الحلبي: و ان تطوع بعد المغرب ست ركعات فهو افضل. لحديث ابن عمر انه عليه السلام قال: من صلى بعد المغرب بست ركعات كتب من الاوابين و تلا انه كان للاوابين غفوراً. (كبيري ص ٣٨٥، باب فصل في النوافل) و مثله في الجامع الترمذي ج١، ص٩٨، باب ما جاء في فصل التطوع الخ)

د ماښام تر فرضو وروسته د دوه رکعتو مؤکد و سنتو د نیت په تړلو سره څلور رکعته اداکول او آخـــري دوه رکعته په ناستو باندې د اداکولو حکم

الاستفتاء: که چیرته یو سړي د ماښام د دوه رکعته مؤکد و سنتو نیت وتړي او له دوو رکعتونو تر اداکولو وروسته په قعده کښې د څلور رکعتونو د اداکولو اراده وکړي او بیا په آخر کښې د دوه رکعتونو لپاره د درید و په ځاي دا دوه رکعتونه په ناستو وکړي نو آیا دا طریقه شرعاً جائزه ده؟

الجواب حامدا و مصليا: په نوموړي صورت کښې دوه مسئلې د غور وړ دي. لومړي مسئله دا ده چه آیا د سنتو له لمانځه سره د نفل لمانځه په ګډولو سره د سنتو په آخري قعدې کښې د تاخیر یا ځنډ په کولو سره په لمانځه باندې څه اثر پریوځي او که نه؟ او دو همه مسئله دا ده چه د نفلو په لمانځه باندې د قیام د قدرت په درلودلو سره په ناستو سره د اداکولو شرعي حیثیت

څه دی؟ تر کومه ځایه پورې چه د دوهمې مسئلې حکم دي نو نفل لمونځ ابتداء یا بناء په قیام باندې د قدرت درلودلو تر څنګ په ناستې سره جائز دی. البته په ولاړې باندې اداکول ئې بهتر دي

-قال العلامة الحصكفي: و يتنفل مع قدرته على القيام قاعداً لا مضطجعاً الا بعذر ابتداء و كذا بناء بعد الشروع بلا كراهة على الاصح كعكسه. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص ٣٦، باب السنن و النوافل) و في الهندية: و حكم السهو في الفرض و النفل سواء. و قال بعد اسطر. و لا يجب السجود الا بترك واجب اوتاخيره او تاخير ركن او تقديمه او تكراره او تغير واجب بان يجهر فيما يخافت. و في الحقيقه وجوبه بشيء واحد و هوترك الواجب. (الهندية ج١، ص١٢٦)و في الهندية: و اذا افتتح التطوع قائماً ثم اراد ان يقعد من غير عذر فله ذلك عند ابي حنيفة استحساناً. (الهندية ج١، ص ١١٤، باب النوافل) و مثله في الجوهرة النيرة ج١، ص ٨٩/٩٢، باب النوافل) قال المرغيناني: لا يجب السهو الا بترك الواجب او تاخيره او تاخير ركن ساهياً. (الهداية ج١، ص١٣٧، باب سجود السهو)

د تراويح او وترو په منځ کښې د نفلو حکم

الاستفتاء: د تراويح د لمانځه او وترو په منځ کښې د نفلو اداکولو شرعي حيثيت څه دی؟

الجواب حامدا و مصليا: د تراويح او وترو په منځ کښې نفل لمونځ جائز دی--

قال العلامة الحصكفي يجلس ندبا بين كل اربعة بقدرها كذا بين الخامسة و الوتر و يخيرون بين تسبيح و قرأةو سكوت و صلوة فرادى. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص ٤٦ ، بحث صلوة التراويح) و قال ابن نجيم المصرى: و قد قالوانهم مخيرون في حالة الجلوس ان شاءوا سبحو ا و ان شاؤا قرؤا القرآن . و ان شاؤا صلوا اربع ركعات فرادي و ان شاؤا قعدوا ساكتين. و اهل مكة يطوفون اسبوعاً و يصلون ركعتين و اهل المدينة يصلون اربع ركعات فرادي. و بهذا علم انه لو قال بانتظار بعد كل ترويحة بدل قوله بجلسة لكان اولي. (البحر الرائق ج٢، ص ٦٩، باب النوافل) و مثله في غنية المستملي ص ٤٠٤ ، باب النوافل)

وترو وروسته د دوه رکعته نفلو شرعي حيثيت

الاستفتاء: له وترو وروسته دوه رکعته نفل له کوم روايت څخه ثابت دي او که نه؟ که چيرته ثابت وي نو کيفيت ئې څرګند کړی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: له وترو وروسته د دوه رکعته نفلو په باره کښې قولي او فعلي دواړه قسمه روايتونه وارد دي. د ترمذي شريف روايت دي چه: عن ام سلمة ان النبي ﷺ كان يصلي بعد الوتر ركعتين. (الجامع الترمذي ج١، ص١٠٨، ابواب الصلوة الوتر) او په ابن ماجه کښې پرې دا اضافه شوې ده چه: "خفيفتي و هو جالس". (ابن ماجة ص ٨٥، باب . ما جاء في الركعتين بعد الوتر جالسا) لهذا دا دوه رکعتونه له شک او شبهې نه بغير په سنن زوائد و کښې داخل دي. باقي د ابن ماجه د روايت له مخې رسول الله ﷺ دا دوه رکعتونه په ناستې کړي دي. د دې لپاره په فقهاء کرامو کښې د دغو دوه رکعتونو په ناستې او ولاړې سره ئې په افضل والي کښې اختلاف دی- په د اسې حال کښې چه علامه انور شاه کشميري د تحقيق او نورو محققينو د رائې مطابق لکه څرنګه چه د رسول الله ﷺ په ناستې سره د دغو دوه رکعتونو ادا کول تعبداً او قصداً وو نو ځکه په ناستې سره ادا کول ئې افضل دي-

لما قال الشيخ انور شاه الكشميرى: يعني ان الجلوس فيهما اتفاقي او قصدي فاختار النووى الاول عندي المختار هو الثاني لانهما لم تثبتا عنه قائماً قط فحمل فعله في جميع عمره على الاتفاق مما يصادم البداهة. (فيض البارى ج٢، ص ٤٢٦ ، باب المداومة على ركعتي الفجر) قال العلامة محمد يوسف البنورى: لو ثبت الركعتان بعد الوتر فا لسنة فيها الجلوس دون القيام فان الجلوسا فيهما قصدى. (معارف السنن ج ٤، ص ٢٥٩، بحث ركعتين بعد الوتر جالسا) و مثله في عرف الشذى على الترمذي ج١، ص١٠٧، باب ما جاء في ركعتين بعد الوتر)

د نوافلو په اولي قعدې کښې د درود شريف او د دريم رکعت په ابتداء کښې د ثناء او تعــــو د لوستلو حکم

الاستفتاء: د نوافلو او سنتونو په اولې قعدې کښې بايد يواځې په تشهد اکتفاء وشي او که د درود شريف لوستل هم ورسره ضروري دي؟ همدارنګه د دريم رکعت لپاره تر دريد و وروسته ثناء او اعوذ با لله لوستل ضروري دي او که د فرض لمونځونو غوندې له سورت فاتحې څخه شروع کيږي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د مؤکدو سنتونو په اولې قعدې کښې درود شريف او په دريم رکعت کښې ثناء او اعوذ بالله نه لوستل کيږي. له دې پرته د نورو نوافلو هره شفع (دوه رکعته) مستقل لمونځ دی. د دې لپاره د هرې شفعې په اولې قعدې کښې درود شريف او د دريم رکعت په ابتداء کښې ثناء او اعوذ بالله بايد ولوستل شي.

قال العلاة الحصكفي: و لا يصلى على النبي ﷺ في القعدة الاولى في الاربع قبل الظهر و الجمعة و بعدها الى ان قال و لا يستفتح اذا قام الى الثالثة منها. لانها لتأكدها اشبهت الفريضة و في البواقي من ذوات الاربع يصلي على النبي ﷺ و يستفتح و يتعوذ و لو نذراً لان كل شفع صلوة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص١٦ ، باب السنن و النوافل) قال ابن نجيم المصرى: و في الاربع قبل الظهر و الجمعة و بعدها لا يصلى على النبي ﷺ و لا يستفتح اذا قام الى الثالثة بخلاف سائر ذوات الأربع من النوافل. (البحر الرائق ج ٢، ص ٤٩ ، باب السنن و النوافل)

د سنت زوائد و په اولي قعــــدې کښې د درود شريف او په دريم رکعت کښې د ثناء او تعوذ د لوستلو حــــکم

الاستفتاء: د جمعې او ماسپښين د لمانځه په څلورو رکعتونو کښې له تشهد وروسته درود شريف او په دريم رکعت کښې د ثناء د لوستلو حکم څه دی؟ همدارنګه په سنن مؤکدو او زوائدو کښې کوم فرق شته او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: د ماسپښين او جمعې له سنتونو پرته د نورو ټولو څلور رکعتيزو سنتونو او نفلونو په اولې قعدې کښې له تشهد وروسته درود شريف او په دريم رکعت کښې بايد ثناء او تعوذ ولوستل شي ځکه چه د نوافلو هره شفع ځانته يو مستقل لمونځ دي په دا سې حال کښې چه مؤکد سنتونه له دې حکم څخه مستثنية دي

قال العلامة الحكفي: و لا يصلى على النبي ﷺ في القعدة الاولى الاربع قبل الظهر و الجمعة و بعدها. و قال بعد اسطر واحدة و لا يستفتح اذا قام الى الثالثة منها. لانها لتأكدها اشبهت الفريضة. و في البواقي من ذوات الاربع يصلي على النبي ﷺ و يستفتح و يتعوذ و لو نذراً لان كل شفع صلوة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٢، ص١٦، باب السنن و النوافل)باب السنن و النوافل قال ابن نجيم: و في المجتبى و في الاربع قبل الظهر و الجمعة و بعدها لا يصلي على النبي في القعدة مثله في الهندية ج١ ، ص ١١٣، باب النوافل) الاولى و لا يستفتح اذا قام الى الثالثة بخلاف سائر ذوات الاربع من النوافل. (البحر الرائق ج ٢، ص ٤٩ ، باب النوافل) و

د سنتو او فرضو تر منځ دوه رکعته د تحيه المسجد د لمانځه اداکولو حکم

الاستفتاء: که چيرته يو څوک په کور کښې د ماسپښين سنت ادا کړي او جومات ته لاړ شي او په جومات کښې د جماعت له دريد و څخه مخ کښې دوه رکعته د تحيه المسجد لمونځ اداکړي نو آيا د شريعت له مخې په دې کښې څه ممانعت شته او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د ماسپښين د سنتو او فرضو په منځ کښې دوه رکعته د تحية المسجد لمونځ جائز دي او په فقهاء کرامو کښې يو هم په دې وخت کښې له نفلو څخه ممانعت نه دي کړي بلکه د ځينو محققينو د رائې مطابق له شارع عليه السلام څخه د ماسپښين د څلورو مخکښيني سنتونو څخه وروسته دوه رکعته د تحية المسجد لمونځ ثابت دی. د تحية المسجد د صحت لپاره کوم خاص وخت معين نه دی. البته په مکروه وختونو کښې د اسې لمونځ نه شي ادا کيدلی. هو! د سنتو او فرضو تر منځ بغير له کوم عذر نه له د اسې کار څخه بايد پرهيز وشي کوم چه له تحريمه سره ټکر وي ځکه چه بيائې په ثواب باندې اثر لويږي.

لما قال العلامه ابن الهمام: فا لاولى الاستدلال بمجموع حديثين حديث ابن عمر و حديث عائشة........ فان الاربع كان يصليها في بيته فاتفق عدم علم ابن عمر بهن و ان علم غيرها مما صلى في بيته لانه كان يصلي الكل في البيت ثم كان يصلي ركعتين تحية المسجد كان ابن عمر يراها. (فتح القدير ج ۱، ص ۳۸٤، باب النوافل) قال العلامة الشرنبلالي: سن تحية المسجد بركعتين في غير وقت مكروه قبل الجلوس...... الخ. (مراقي الفلاح على هامش الطحطاوي ص ۲۱۵، فصل في تحية المسجد) قال ابن عابدين: و هو الذي جمع به في الفتح بين هذا الحديث (اي حديث ابن عمر) و حديث عائشة انه كان يصلى اربعا قبل الظهر بقوله. اما بان الاربع كان يصليها عليه السلام في بيته. و ما رأه ابن عمر تحية المسجد او بان ابن عمر كان يرى تلك ورد آخر سببه الزوال و هو مذهب بعض العلماء. (منحة الخالق على البحر الرائق ج ۲، ص ۵۰ ، باب الوتر والنوافل)

د جمعې د ورځې سنتونه له جومات څخه د باندې (باهـــر) په نورو ځایونو کـــې د ادا کولو حکم

الاستفتاء: د جمعې د ورځې سنتلمونځونه له جومات سره ځانګړي دي او که په کوم بل ځاي کښې هم اداکيدلي شي؟ بينوا توجروا.

الجواب حامدا و مصليا: د سنتو د ادا کولو لپاره د جومات ځانګړتيا نشته، سنتونه له جومات څخه پرته په کور کښې هم اداکيدلي شي. له نبي کريم څخه په دواړو ځايونو (کور او جومات) اداکول ثابت دي. هو! له جومات څخه په کور کښې ئې اداکول بهتر دي

بحديث النبي ﷺ: عن زيد بن ثابت عن النبي ﷺ قال افضل صلوتكم في بيوتكم الا المكتوبة. (الترمذي ج۱، ص ۱۰۲، باب ما جاء في فضل الصلوة في البيت) عن ابن عمر قال كان اذا كان بمكة فصلي الجمعة تقدم فصلي ركعتين ثم تقدم فصلي اربعا و اذا كان با لمدينة صلى الجمعة ثم رجع الى بيته فصلى ركعتين فقيل له فقيل كان رسول الله يفعل ذلك. (ابو داؤد ج۱، ص ۱٦۰، باب الصلوة بعد الجمعة) قال الشيخ ابراهيم الحلبي الكبيرى: و اما السنن التي بعد الفريضة فانه ان تطوع بها في المسجد فحسن و تطوعه

بها في البيت افضل. و هذا غير مختص بما بعد الفريضة بل بجميع النوافل ما عدا التراويح و تحية المسجد قال بعد عدة اسطر التطوع في المسجد حسن و في البيت احسن. كما قال المصنف و به افتى الفقيه ابو جعفر. قال الا ان يخشى ان يشغل عنها اذا رجع. (كبيري ص ٣٩٩/٤٠٠، باب النوافل) و مثله في رد المحتار ج ٢، ص ٢٠، باب السنن و النوافل)

د سنتو د نه اداکوونکي سړي حکم

الاستفتاء: که چیرته یو څوک مؤکد او غیر مؤکد سنتونه ادا نه کړي نو آیا په فرض لمانځه باندې ئې څه اثر لویږي او که نه؟ او د داسې سړي حکم څه دی؟

الجواب حامدا ومصليا: مؤکد سنتونه په سفر کښې د شرعي عذر له مخې پریښودل جائز دي- او همداسې د مؤکدو سنتونو پریښودل د عتاب او ملامتیا موجب دی- سنتونه د فرضو مکملات دي. ګواکه د سنتونو د نه اداکولو له وجهې فرائض نیمګړي پاتې کیږي- د سنتونو په پریښود لو باندې مدا ومت له عملي نافرماني سره برابره ده

....قال ابن نجيم: رجل ترك سنن الصلوة الخمس ان لم ير السنن حقاً فقد كفر لانه ترك استخفافاً. و ان رأى حقاً منهم من قال لايأثم و الصحيح انه يأثم لانه جاء الوعيد با لترك. و قال بعد اسطر ان السنة المؤكدة بمنزلة الواجب في الاثم با لترك الى ان قال و انه لا يجوز ترك السنن المؤكدة و لو صلى وحده و هو احوط . (البحر الرائق ج ٢، ص ٤٩ ، باب الوتر و النوافل) و في الهندية: رجل ترك السنن الصلوة ان لم ير السنن حقاً فقد كفر لانه تاركها استخفافاً و ان راها حقاً فالصحيح انه ياثم لانه جاء الوعيد با لترك كذا في محيط السرخسي. (الفتاوى الهندية ج١، ص١١٢، باب النوافل) و مثله في كبيري ص ٣٨٩، باب النوافل (فروع)

د نفلو په ځــاي د قضايي لمونځونو راګرځول بهتر دي

الاستفتاء: که چیرته د یوه سړي په ذمې باندې قضاء شوي فرض لمونځونه وي نو د هغه لپاره د نفل لمونځونو اداکول بهتر دي او که د قضايي لمونځونو؟

الجواب حامدا و مصليا: چه کله د قضاء شوي لمونځونو صحيح تعداد معلوم نه وي نو د داسې سړي لپاره بهتره دا ده چه له هر لمانځه سره د يوه يوه لمانځه قضايي را و ګرځوي. نو په داسې صورت کښې د نفل لمونځونو له اداکولو څخه د قضايي لمونځونو را ګرځول ډير بهتر دي-

و في الهندية: و في الحجه و الاشتغال با لفوائتة اولى و اهم من النوافل او السنن المعروفة وصلوة الضحى وصلوة التسبيح و الصلوة التي رويت في الاخبار فيها سور معدودة و اذكار معهودة فتلك بنية النفل و غيرها بنية القضاء كذا في المضمرات . (الهندية ج۱، ص ۱۲۵ ، باب قضاء الفوائت) قال ابن عابدين: و اما النقل فقال في المضمرات الاشتغال بقضاء الفوائت اولي و اهم من النوافل (رد المحتار ج ۲، ص ۷۴، باب قضاء الفوائت) و مثله في التاتارخانية ج۱ ، ص ۷۷۰، كتاب الصلوة،

د تهجد لمانځه د رکعتونو تعـداد

الاستفتاء: د تهجد لمونځ څو رکعته دی؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا: له حضورﷺ د تهجد لمونځ په مختلفو وختونو کښې مختلف رکعتونه ثابت دي چه کم تر کمه دوه رکعته او زيات نه زيات دولس رکعتونه مروي دي. ځکه چه په اکثرو وختونو کښې ده مبارک اته رکعتونه ادا کړي دي د دې لپاره ځينو محققين و داکثر تعداد اته رکعته نقل کړي دي په داسې حال کښې چه له زيات څخه زيات تر دولسو رکعتو پورې هم ثابت دي

.لما ذكره الامام محمد بن اسماعيل البخاري: ان عبد الله بن عباس اخبره انه بات عند ميمونة زوج النبي ﷺ و هي خالته الى ان قال عبد الله فقمت فصنعت مثل ما صنع ثم ذهبت فقمت الى جنبه فوضع رسول الله ﷺ يده اليمنية علي رأسي و اخذ بأذني يقتلها فصلى ركعتين ثم ركعتين ثم ركعتين ثم ركعتين ثم ركعتين ثم اوتر ثم اضطجع حتى جاء المؤذن فقام فصلى ركعتين خفيفتين ثم خرج فصلى الصبح. (الجامع البخاري ج۱، ص ۱۳۵، ابواب الوتر، باب ما جاء في الوتر) قد ذكر الامام البيهقي عن كريب مولى ابن عباس

ان عبد الله بن عباس اخبره انه بات عند . ميمونة زوج النبي صلى الله عليه وسلم هي خالته الى ان قال عبد الله فقمت فصنعت مثل ما صنع ثم ذهبت فقمت الى جنبه فوضع رسول الله صلى الله عليه وسلم يده اليمنى على رأسي و اخذ باذني يفتلها فصلى ركعتين ثم ركعتين ثم ركعتين ثم ركعتين ثم ركعتين ثم ركعتين قال القعنبي ست مرار ثم اوتر ثم اضطجع حتى جاء المؤزن فقام فصلى ركعتين خفيفتين ثم خرج فصلى الصبح. (السنن الكبرى ج۳، ص ۷، باب عدد ركعات قيام النبي ة و صفتها) و مثله في امداد الفتاوي ج ۱ ، ص ۳۰۹، نماز وتر)

د تهجد و د جماعت حکم

الاستفتاء: د تهجد و لمونځ په جمعي سره د ادا کولو په باره کښې د شریعت حکم څه دی؟ که چیرته جائز وي نو د ټل لپاره به جائز وي او که کله کله؟ او څو مره خلک چه سره یو ځاي شي نو بغیر له کراهیت نه د تهجد و جماعت ادا کولي شي؟

الجواب حامدا و مصليا: د تهجد و لمونځ نفل دی او په نفلي لمانځه کښې چه یو یا دوه کسان په امام پسې اقتداء وکړي نو کله کله چه على سبيل التداعي (د را بللو په شکل کښې) نه وي نو له کراهیت پرته جائز دی. البته که چیرته مقتدیان له دریو څخه زیات شي نو د احنافو په نزد په اتفاق سره مکروه دي او د دریو مقتدیانو صورت کښې د فقهاوو تر منځ اختلاف دی. د ځینو په نزد مکروه دي او د ځینو په نزد له دریو حخه د کمو جماعت پرته له کراهیت څخه جائز دیالتداعي بان يقتدي اربعة بواحد

قال العلامة الحصكفي و لا يصلى الوتر و لا التطوع بجماعة خارج رمضان اى يكره ذلك لو على سبيل التداعى. بان يقتدي باربعة. قال ابن عابدين: تحت هذه العبارة اما اقتداء واحد بواحد او اثنين بواحد فلا يكره و ثلاثة بواحد فيه خلاف و ايضاً قال فوق هذه العبارة و يمكن ان يقال الظاهر ان الجماعة فيه غير مستحبة. ثم ان كان ذلك كان مباحا غير مكروه و ان كان على سبيل المواظبة كان بدعة مكروهة خلاف المتوارث . (رد المحتار ج ۲، ص ٤٨ ، بحث صلوة التراويح)احياناً كما فعل عمرقال العلامة عالم بن العلاء الانصاري: و لا يصلي تطوعاً بجماعة الا قيام رمضان و حكى عن شمس الائمة السرخسي ان التطوع با لجماعة على سبيل التداعي مكروه اما لو اقتدى واحد بواحد او اثنان بواحد لا يكره و اذا اقتدى للالة بواحد ذكر هو رحمه الله ان

فيه اختلاف المشائخ قال بعضهم و اذا اقتدى اربع بواحد كره بلا خلاف. (الفتاوى التاتارخانية ج۱، ص ۶۷۰، باب الوتر) و مثله في كبيري ص۴۰۸، باب التراويح)فتاوى

د تهجد د لمانځه په آخر کښې وتر ادا کول بهتـــــر دي

الاستفتاء: د تهجد د لمانځه په آخر کښې د وتر لمونځ ادا کول ضروري دي او که نه؟ که چيرته يو څوک د شپې يوائې يو څو رکعته نفل ادا کړي او وتر ورسره و نه کړي نو په تهجد باندې ئې څه اثر لوېږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: تهجد د نقل هغه لمانځه ته وايي چه له ماسخوتن څخه وروسته له خوب څخه په را ويښيد و سره ادا کيږي. که چيرته وترئې په آخر کښې ادا شي نو بهتر دي- هوا که چيرته وتر ورسره ادا نه شي نو بيا هم په تهجد باندې کوم اثر نه لويږي

بحديث النبي ﷺ عن نافع ان ابن عمر قال من صلى من الليل فليجعل آخر صلوته وتراً فان رسول الله ﷺ يأمربذلك، والنسائي ج۱، ص ۲۴۷، باب وقت الوتر)الخرج الامام الترمذي عن مسروق انه سئل عائشة عن وتر النبي ﷺ فقالت من كل الليل قد اوتر اوله و اوسطه و آخره فانتهى وتره حين مات في وجه السحر، والجامع الترمذي ج۱، ص۱۰۳، باب ما جاء في وتر من اول الليل و آخره. كان ابو بكر يوتر ثم ينام ثم يقوم و يتهجد و عمر كان ينام قبل ان يوتر ثم يقوم و يصلي و يوتر فقال النبي ﷺ لابي بكر احات با الجزم و قال لعمر اخذت با لقوة (مجموعة الفتاوي اردو ج ۱، ص ۳۳۱، كتاب الصلوة، تراويح و تهجد الخ)

که چيرته يو څوک د شپې په آخري برخه کښې له خوب څخه تر ويښيدو وروسته

الاستفتاء: که چيرته يو څوک د شپې په آخري برخه کښې له خوب څخه تر ويښيدو وروسته قضائي لمونځونه ادا کړي نو آيا د تهجد و په ځاي هم ورته دريږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: که چيرته يو څوک له خوب څخه را ويښ شي او د قضاء شوي لمونځونو قضائي را وګرځوي نو د ځينو فقهاوو په نزد د تهجد و په ځاي هم ورته د رېږي

.قال ابن عابدين: لان التهجد ازالة النوم و قال بعد سطر واحد ان التهجد لا يحصل الا با لتطوع فلو نام بعد صلوة العشاء ثم قام فصلى فوائت لا يسمى تهجداً و تردد فيه بعض الشافعية قلت و الظاهر ان تقيده با لتطوع بناء على الغالب و انه يحصل بأي صلوة كا نت في الحديث المار و ما كان بعد صلوة العشاء فهو من الليل. (رد المحتار ج٢ من ٢٤، مطلب في صلوة الفيل)

تحية المسجد د نورو لمونځونو په ضمن کښې هم ادا کيدلي شي؟

الاستفتاء: که چيرته جومات ته د داخليدو په وخت کښې د تحية المسجد د د ادا کولو په ځاي په نورو سنتونو يا قضايي لمونځونو کښې سړي مشغول شي نو آيا د تحية المسجد ثواب هم ورکول کيږي او که نه؟ اګر که ئې په همدې لمانځه سره د تحية المسجد نيت نه وي کړی- "په بهشتي زيور" کښې د ثواب د ورکول کيدو او په کامل حنفي لمونځ کښې د نه ورکول کيد و خبره راغلې ده. لهذا چه کومه خبره راجحه وي هغه څرګنده کړی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: تحية المسجد جومات ته د ورننوتو په وخت کښې له دوه رکعاته لمانځه د ادا کولو څخه عبارت دي او د روايتونو له مخې تحيه المسجد سنت دي. که چيرته په مستقله توګه دوه رکعته ادا شي نو بهتر دي او که نه نو د وخت د سنتو په ضمن کښې هم تحيه المسجد ادا کيدلي شي. خيال وکړي چه تحية المسجد په مکروه وختونو کښې د حنفي فقهې له مخې جائز نه دی. په داسې وختونو کښې د تحية المسجد په ځاي تسبيح، تهليل او درود شريف په لوستلو سره د تحية المسجد ثواب ورکول کيږي-

--قال العلامة الحصكفي: و يسن تحية المسجد و هي ركعتان و اداء الفرض او غيره و كذا دخوله بنية فرض او اقتداء ينوب عنها بلا نية..... قال ابن عابدين: تحت هذه العبارة اذ دخل فيه (اى المسجد) بعد الفجر او العصر فانه يسبح و يهلل و يصلى على النبي ﷺ فانه حينئذ يؤدي حق المسجد كما اذا دخل المكتوبة فانه غير مامور بها حينئذ كما في التمرتاشي. و قال بعد عدة اسطر. قال في الحلية لو اشتغل داخل المسجد با

لفريضة غير ناو للتحية قامت تلك الفريضة مقام تحية المسجد لحصول تعظيم المسجد كما في البدائع. (رد المحتار ج١، ص١٨ ، باب السنن و النوافل) قال العلامة الشرنبلالي: سن تحية المسجد بركعتين يصليها في غير وقت مكروه قبل الجلوس الخ الى ان قال و اداء الفرض ينوب عنها فان هـ الزيلعي و كذا كل صلوة اداها عند الدخول بلا نية التحية لانها لتعظيمه و حرمته و قد حصل ذلك بما صلوة و لا تفوت با لجلوس عندنا. (مراقي الفلاح على هامش الطحطاوي ص ٣٢٠، فصل في تحية المسجد)

د صلوة التسبيح په قومه کښې د لاسونو تړل مسنون دي

الاستفتاء: يو عالم فرمائي چه په صلوة التسبيح کښې تر رکوع وروسته چه کله څوک په ولاړي دعات وائي نو په دې حالت کښې دې بايد لاسونه تر نامه لاندې وتړي آيا دا خبره صحيح ده بينوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا په هر اوږد قيام کښې د لاسونو تر نامه لاندې تړل مسنون دي د دې کلبي لاندې د صلوة التسبيح په قومه کښې به هم د لاسونو تړل مسنون وي که څه فتاوي حقانية کې واي چې لاسونه ځړوي

.قال العلائي تعليم لايسن (الوضع) في قيام بين ركوع و سجود لعدم القرار ولا بين تكبيرات العيد لعدم الذكر ما لم يطل القيام فيضع، سراجية. وقال ابن عابدين عليه (قوله لعدم القرار) ليس على اطلاقه لقولهم ان مصلى النافلة ولوسنة يسن له ان يأتي بعد التحميد بالادعية الواردة نحو ملء السموت و الارض الخ و اللهم اغفر لي و ارحمني بين السجدتين نهر. ومقتضاه انه يعتمد بيديه في النافلة ولم ار من صرح به تأمل لكنه مقتضى اطلاق الاصلين المارين ومقتضاه انه يعتمد ايضا فى صلوة التسابيح ثم رأيته ذكرهاط والرحمني والسائحاني بحثا.(قوله مالم يطل القيام فيضح) اى فان اطانه لكثرة القوم فانه يضع.(ردالمحتار ج١، ص٢٥٥) وقال الطحطاوي خانية و ظاهرة يعم اي قيام طال و عليه فيضع في قيام صلوة التسابيح الذي بين الركوع و السجود.(طحطاوي على الدرج١، ص٢١٨)كذافي احسن الفتاوي ج٣ ص٢٢٥

د استخارې د لمانځه مسنونه طــــــريقه

الاستفتاء: د استخارې د لمانځه مسنونه طريقه کومه يوه ده او په کوم وخت کښې ئې ادا کول بهتر دى؟

الجواب حامدا و مصليا: د استخارې د لمانځه مسنونه طريقه دا ده چه کله يو څوک د کوم کار د کولو اراده وکړي چه په هغه کښې د تاوان او فائدې دواړو احتمال وي نو په د اسې حالت کښې دې د ماسخوتن تر لمانځه وروسته دوه رکعته لمونځ د اسې ادا کړي چه په لومړي رکعت دبې سورت کافرون او په دوهم رکعت کښې سورت اخلاص تلاوت کړي. له لمانځه وروسته دې په پوره توجه سره د ادعا ووايي –

اللهم إلي استخيرك بعلمك و استقدرك بقدرتك و اسئلك من فضلك العظيم. فانك تقدر و لا اقدر و تعلم و لا اعلم و انت علام الغيوب . اللهم ان كنت تعلم ان هذا الامر خير لي في دينية و معيشتي و عاقبة امرى أو قال في عاجل امري و آجله فاقدره لي ثم بارك لي فيه. و ان كنت تعلم ان هذا الامر شر لي في دينية و معيشتي او قال في عاجل امري او آجله فاصرفه عني و اصرفني عنه و اقدر لي الخير حيث كان ثم ارضني به قال و يسمى حاجته. (الجامع الترمذي ج١، ص ١٠٩ ، باب ما جاء في الاستخارة)

او چه کله هذا الامر ته ورسيږي نو د هم هغه کار خوا ته به توجه کوي او په زړه کښې دې راولي. د د اسې عمل له کولو څخه وروسته چه کومې خوا ته د زړه ميلان وي هغه کار دې غوره کړي. که چيرته له يو ځل څخه اطمينان حاصل نه شي نو تر اوه ځله پورې دې دا عمل جاري ساتي. ځکه چه د څوځله په کولو سره تردد او شک نه پاته کيږي

قال ابن عابدين: و في الحلية و يستحب افتتاح هذا الدعاء و ختمه با لحمدله و الصلوة. و في الاذكار انه يقرأ في الركعة الاولى ى الكافرون و في الثانية الاخلاص آه. و عن بعض السلف انه يزيد في الاولى " و ربك يخلق ما يشاء و يختار" الى "يعلنون" و في الثانية " و ما كان لمؤمن و لا مؤمنة (الآية) و ينبغي ان يكروها سبعاً لما روى ابن السنية يا انس اذا هممت بامرها فاستخر ربك فيه سبع مرات. ثم انظر الى الذي سبق الى قلبك فان الخير فيه و لو تعذرت عليه الصلوة استخار با لدعاء آه. و في شرح الشرعة المسموع من المسشائخ انه ينبغي ان ينام على طهارة مستقبل القبلة بعد قرأة الدعاء المذكور فان رأى في منامه بياضاً أو

خضرة فذلك الأمر خير. و ان رأى فيه سواد او حمرة فهو شر ينبغي ان يجتنب آه. (رد المحتار ج ۲، ص٢٦، مطلب في ركعتى الاستخارة)

نفل لمونځ له عذر پرته په ناستې سره د ادا کولو حکم

الاستفتاء: د نفل لمانځه د ادا کولو کیفیت څه دی؟ آیا له عذر څخه پرته په ناستې سره د ادا کولو په صورت کښې په نفلو باندې کوم اثر لويږي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا: نفل لمونځ په ناستې سره هم او په ولاړې سره هم جائز دی. البته د ولاړې په مقابله کښې په ناستې سره نیم ثواب ورکول کیږي-

قال الامام البخاري: عن عمران بن حصين قال سئلت النبي ﷺ صلوة الرجل و هو قاعد فقال من صلى قائماً فهو افضل و من صلى قاعداً فله نصف اجر القائم. (الحديث) (الجامع الصحيح البخاري ج١، ص ١٥٠، ابواب تقصير الصلوة)

په داسې حال کښې چه معذور سړي په ناستې سره هم د ادا کولو په صورت کښې پوره ثواب ورکول کیږي

قال العلامة علاؤ الدين الحصكفي: و يتنفل مع قدرته على القيام قاعداً لا مضطجعاً الا بعذر ابتداء و كذا بناءبعد الشروع بلا كراهة كعكسه، (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٢، ص ٣٦، باب السنن و النوافل) ال ابن نجيم المصرى رحمه الله: و يتنفل قاعداً مع قدرته على القيام ابتداء و بناء و قد حكى فيه اجماع العلماء. و بعد عدة اسطر قال و اما اذا صلاه مع عجزه فلا ينقص عن ثوابه قائماً. (البحر الرائق ج٢، ص ٦٢، باب النوافل)

د ديني عالم لپاره د سنتو پرېښودل جائز دي

الاستفتاء: آیا د یوه دیني عالم یا مفتي لپاره د خلکو د مسائلو د حل کولو لپاره سنتلمونځونه پرېښودلي شي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د خلکو د مسائلو د حل کولو او د تعليم او تعلم لپاره مقدس شريعت يوه ديني عالم لپاره د دې مشغوليت په بناء سره د سنتو د پرېښودلو اجازه ورکړې ده ليکن د سهار د سنتو د پرېښودلو اجازه ئې ده ته هم نه ده ورکړې

-لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله: و لا يجوز تركها لعالم صار مرجعاً في الفتاوى بخلاف باقي السن كله تركها لحاجة الناس الى فتواه. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢ ، ص ١٥ ، باب النوافل) قال العلامة ابن عابدين: (فله تركها) الظاهر ان معناه انه يتركها وقت اشتغاله با لافتاء لاجل حاجة الناس المجتمعين عليه ينبغي انه يصليها اذ فرغ في الوقت و ظاهر التفرقة بين السنة الفجر وغيرها الخ (رد المحتار ج ٢، ص١٥)

حاجي صاحبان به نفل لمونځونه په حرم شريف کښې کوي او که د خپل او سيد و په ځـــاي کښې؟

الاستفتاء: جناب مفتي صاحب! ما حج ته د تلو اراده ده. پوښتنه مې دا ده چه د يوه حاجي لپاره نفل لمونځ په حرم شريف کښې بهتر دي او که د خپل اوسيدو په ځاي کښې؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: بهتره دا ده چه نفل لمونځ د خپل اوسيدو په ځاي کښې ادا شي ليکن د حرمين شريفينو د شرافت او عظمت په خاطر د يوه حاجي لپاره نفل لمونځ په حرمين شريفين. کښې بهتر دي د دې لپاره چه حاجي ته د اشرافت په نورو ځايونو کښې نه ورپه برخه کيږي-

لما قال العلامة ملا على القارئ:(

«وَالظَّاهِرُ أَنَّ الْكَعْبَةَ وَالرَّوْضَةَ الشَّرِيفَةَ تُسْتَثْنَيَانِ لِلْغُرَبَاءِ لِعَدَمِ حُصُولِهِمَا فِي مَوَاضِعَ أُخَرَ، فَتُغْتَنَمُ الصَّلَاةُ فِيهِمَا قِيَاسًا عَلَى مَا قَالَهُ أَئِمَّتُنَا: إِنَّ الطَّوَافَ لِلْغُرَبَاءِ أَفْضَلُ مِنَ الصَّلَاةِ النَّافِلَةِ، وَاللَّهُ أَعْلَمُ. (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)». (مرقاة ج٣، ص١٨٦، کتاب الصلوة)

د مازديگر تر لمانځه وروسته د نذر شوي نفلونو د ادا کولو حکم

الاستفتاء: د اسې خو د مازديگر تر لمانځه وروسته د لمر ډوبيدو په وخت کښې د نفلو ادا کول مکروه دي ليکن که چيرته چا د نفلو د لمانځه نذر منلي وي نو د اسې نفلونو د واجب والي په بناء سره د مازديگر تر لمانځه وروسته ئې ادا کولي شي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د مازديگر او سهار تر لمونځونو وروسته مطلقاً نفل مکروه دي که نذر شوي نفلونه وي او که نور نفلونه وي. د دې لپاره د صورت مسئوله مطابق د مازديگر تر لمانځه وروسته د منل شوي نذر دې په کوم غير مکروه وخت کښې ادا کړي ځکه چه تر مازديگر وروسته ادا کول ئې له کراهيت څخه خالي نه وي۔

لما قال العلامة المرغيناني: و يكره ان يتنفل بعد الفجر حتى تطلع الشمس و بعد المغرب حتى تغرب لما روى انه عليه السلام نهى عن ذلك و لا بأس بان يصلي في هذان الوقتين الفوائت و يسجد التلاوة و يصلى على الجنازة لان الكراهة كا نت لحق الفرض ليصير الوقت كا لمشغول به لا لمعنى في الوقت فلم تظهر في حق الفرائض و فيما وجب لعينه كسجدة التلاوة و ظهر في حق المنذور لانه تعلق وجوب بسبب من وجبته. (الهداية ج١، ص٨٢، فصل في الاوقات المكروه، كتاب الصلوة) لما في الهندية: و لو نذر ان يصلي في الوقت المكروه فادى فيه يصح و يأثم و يجب ان يصلى في غيره. (الفتاوى الهندية ج ١، ص ٥٢، كتاب الصلوة، الباب الاول في المواقيت، الفصل الثالث)

د صلوة التسبيح په جماعت سره د ادا کولو حکم

الاستفتاء: جناب مفتي صاحب! زمونږ د کلي څه خلک د رمضان المبارک په مياشت کښې صلوة التسبيح په جمعې سره ادا کوي او ښځو ته په ځانګړي توګه په لاسپيکر کښې اعلانونه کوي او د دې لمانځه د ادا کولو لپاره ئې جوماتونو ته رابولي. نو د صلوة التسبيح په جماعت سره د ادا کولو اهتمام او انتظام شرعاً جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د صلوه التسبيح په جماعت سره ادا کول له شارع علیه السلام څخه منقول نه دي او لکه څرنګه چه دا لمونځ نفل دی او نفل لمونځ په جماعت سره بیا په ځانګړې توګه چه په تداعي (د تداعي مطلب دا دي چه مقتدیان څلور وي نو بیا به په اتفاق د علماوو سره دا جماعت مکروه دي او که چیرته مقتدیان درې نفره وي نو ئې په مکروه والي کښې اختلاف دي او که چیرته مقتدیان دوه نفره وي له کراهیت پرته جائز دي لیکن د جماعت ثواب به ئې بیا هم نه وي

"رد المحتار على الدر المختار ج١، ص٣٧١" و فيه قوله على سبيل التداعي بان يقتدى اربعة فاكثر بواحد) لما قال في الهندية: التطوع با لجماعة اذا كان على سبيل التداعي يكره و في الأصل للصدر الشهيد اما اذا صلوا بجماعة بغير آذان و اقامة في ناحية المسجد لا يكره. و قال شمس الائمة الحلواني: إن كان سوى الامام ثلاثة لا يكره با لاتفاق و في الاربع اختلف المشائخ و الاصح انه يكره هكذا في الخلاصة. (الفتاوي الهندية ج١، ص٨٢، الباب الخامس الامامة، الفصل الاول في الجماعة من كتاب الصلوة)

په صلوۃ التسبیح کښې د تسبیحاتو په پاتې کیدو سره د تسبیح د لمانځه حکم

الاستفتاء: که چیرته له یو سړي څخه د صلوۃ التسبیح په لومړي رکعت کښې تسبیحات پاتې شي او د سلام له اړولو څخه مخ کښې ورپه زړه شي چه له ما څخه په فلاني رکعت کښې تسبیحات پاتې شوي دي نو آیا د سجده سهو په کولو سره ئې لمونځ صحیح کیږي او که نه؟ او که چیرته سجده سهو و نه کړي نو آیا شرعا ئې د المونځ په صلوه التسبیح کښې شمارېږي او که یوازې په نفلو کښې شمارېږي؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا: سجده سهو د واجبو په ترک باندې لازمیږي په داسې حال کښې چه تسبیحات واجب نه دي د دې لپاره د تسبیحاتو په پاتې کید و سره سجده سهو نه لازمیږي- البته د تسبیحاتو په پاتې کیدو سره دا لمونځ یوازې په نفلو کښې حسابیږي او د صلوۃ التسبیح ثواب نه ورکول کیږي. هکذا في فتاوي رحیمیه ج ۴، ص۴۳۲، باب النوافل

باب التراويح :

په سحري (پیشلمي) کښې د تراویح د ادا کولو حکم

الاستفتاء: ځینې خلک مولیدلي دي چه د تراویح لمونځ په پیشلمي کښې اداکوي، آیا د تراویح تر پیشلمي پورې ځنډول خو به مکروه نه وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: مستحبه دا ده چه تراویح دې د شپې تر نیمایي یا تر دریمې برخې پورې وځنډول شي. تر پیشلمي پورې ځنډول ئې اګر که د صحیح قول مطابق مکروه خو نه دي لیکن له داسي کولو څخه اجتناب مناسب دی۔

لما قال العلامة الحصكفي: و يستحب تاخيرها الى ثلث الليل او نصفه و لا تكره بعده في الاصح. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص ٤٤ ، باب الوتر و النوافل) قال العلامة ابن عابدين: و ما في البحر من ان الصحيح انه لا بأس با لتاخير لا يدل على ثبوت كراهة التنزيهة. (رد المحتار ج ٢، ص ٤٤ ، باب الوتر و النوافل)

تراویح سنت مؤکد دي :

الاستفتاء: د تراویح د لمانځه اداکول څه حکم لري؟ په موجوده وخت کښې چه په کوم اهتمام مونږ تراویح اداکوو د رسالت یا خلافت په دور کښې ئې حیثیت څه وو؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: رسول الله ﷺ تروایح کړي دي البته د باقاعده اهتمام رعایت ئې نه دي کړی. ځکه چه د ده په اهتمام سره په امت باندې د لازم والي خطره وه. د دې لپاره ده مبارک د عذر له وجهې پریښي دي . البته د خلفاء راشدینو په دور کښې دا عذر پاتې نه وو نو خلفاء راشدینو په باقاعده اهتمام سره تراویح کړي دي. پر دې بناء باندې په تراویح باندي مواظبت سنت مؤکد دی۔

لما قال العلامة عبد الله بن محمود الموصلي: التراويح سنة مؤكدة لان النبي ﷺ اقامها في الليالي.. . الى يومنا هذا. ان ابا يوسف سئل أبا حنيفة عنها و ما فعله عمر. فقال التراويح سنة مؤكدة و لم يتخرجه عمر من تلقاء نفسه. و لم يكن فيه مبتدعا و لم يأمر الا عن اصل لديه و عهد من رسول الله ﷺ (الاختيار لتعليل المختار ج ١ ، ص ٦٨ ، فصل في التراويح .قال العلامة الحصكفي التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين..... قال العلامة ابن عابدين: تحت قوله سنة مؤكدة صححه في الهداية و غيرها و هو المروي عن ابي حنيفة و ذكر في الاختيار ان ابا يوسف سئل أبا حنيفة عنها و ما فعله عمر فقال التراويح سنة مؤكدة و لم يستخرجه عمر من تلقاء نفسه و لم يكن فيه مبتدعاً و لم يامر به الا عن اصل لديه و عهد من رسول الله ﷺ و قال ايضاً تحت قوله لمواظبة الخلفاء الراشدين اى اكثرهم لان المواظبة عليها وقعت في البناء خلافة عمر و وافقه على ذلك عامة الصحابة و من بعدهم الى يومنا هذا بلا نكير . (رد المحتار على الدر المختار ج ٢، ص ٤٣ ، باب التراويح) و مثله في الفتاوي التاتارخانية ج ١ ، ص ٦٥٣ ، الفصل الثالث عشر في التراويح)

د شلو رکعتونو ثبوت

الاستفتاء: د شلو رکعتونو تراويح دليل څه دی؟ حضرت عمر رضي الله تعالی عنه د کومو وجوهاتو له مخې دومره اهميت ورکړی دی؟

الجواب حامدا و مصليا: د رمضان المبارک په مياشت کښې د تراويح اداکول د نبي کريم ﷺ مبارک سنت دي چه تر اوسه پورې تعامل پرې راغلي دي تر کومه ځايه پورې چه د رکعتونو د تعداد تعلق دي نو د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما له مرفوع روايت څخه پرته د اکثر و خلفاء راشدينو متوارثه طريقه ده. چه کله خليفه راشد حضرت عمر رضي الله عنه شل رکعته تراويح د يوه قاري تر شا د ادا کولو حکم ورکړ نو د هغه دور يوه صحابي هم انکار و نه کړ. ګواکه هغوي د حضرت عمر په فيصلي باندې اجماع وکړه. په اصولي توګه دا فيصله هم د مرفوع روايت په حکم کښې دی. د دې لپاره چه د صحابي په عباداتو کښې د خلاف قياس خبرې د کولو لازمي نتيجه به دا وي چه هغه به دا خبره له حضور څخه اوريدلي وي. له دې بغير د ټول امت په دې باندې اجماع شوې ده .

قال ابن نجيم المصرى::(وقد سنها رسول الله – صلى الله عليه وسلم – وندبنا إليها وأقامها في بعض الليالي ثم تركها خشية أن تكتب على أمته كما ثبت ذلك في الصحيحين وغيرهما ثم وقعت المواظبة عليها في أثناء خلافة عمر – رضي الله عنه – ووافقه على ذلك عامة الصحابة – رضي الله عنهم– كما ورد ذلك في السنن ثم ما زال الناس من ذلك الصدر إلى يومنا هذا على إقامتها من غير نكير وكيف لا وقد ثبت عنه «– صلى الله عليه وسلم – عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين عضوا عليها بالنواجذ» كما رواه أبو داود وأطلقه فشمل الرجال والنساء كما صرح به في الخانية والظهيرية وقوله عشرون ركعة بيان لكميتها وهو قول الجمهور لما في الموطإ عن »يزيد بن رومان قال كان الناس يقومون في زمن عمر بن الخطاب بثلاث وعشرين ركعة وعليه عمل الناس شرقا وغربا لكن ذكر المحقق في فتح القدير ما حاصله أن الدليل يقتضي أن تكون السنة من العشرين ما فعله – صلى الله عليه وسلم – منها ثم تركه خشية أن تكتب علينا والباقي مستحب وقد ثبت أن ذلك كان إحدى عشرة ركعة بالوتر كما ثبت في الصحيحين من حديث عائشة فإذن يكون المسنون على أصول مشايخنا ثمانية منها والمستحب اثنا عشر انتهى وذكر العلامة الحلبي أن الحكمة في كونها عشرين أن السنن شرعت مكملات للواجبات وهي عشرون بالوتر فكانت التراويح كذلك لتقع المساواة بين المكمل والمكمل انتهى» (البحر الرائق ج ٢، ص ٦٦ ، تراويح في باب الوتر و النوافل)قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري: التراويح سنة مؤكدة توارثها الخلف عن السلف من لدن تاريخ رسول له الى يومنا هذا هكذا روى الحسن عن أبي حنيفة و قد واظب عليها الخلفاء الراشدون و قال عليه السلام عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين من بعدي و اقامها ازواج النبي عليه السلام. (الفتاوى التاتارخانية ج١، ص ٦٥٣ ، الفصل الثالث عشر في التراويح) و عن السائب بن يزيد قال كانوا يقومون على عهد عمر بن الخطاب في شهر رمضان بعشرين ركعة. رواه البيهقي و اسناده صحيح. (آثار السنن ص ٢٥٠، باب في التراويح بعشرين ركعات) و مثله في فتاوي قاضي خان علي هامش الهندية ج ١، ص ٢٣٢، باب التراويح و آثار السنن ص ٢٥٣، باب في التراويح بعشرين ركعات .

د پنځمې ترويحې او وترو تر منځ د نفلو له اداکولو څخه د ضعيفانو (کمزورو) خلکو رعايت بهتر دی

الاستفتاء: د تراويح او وترو تر منځ د نفلو د اداکولو حکم څه دی؟ په داسې حال کښې چه په قوم کښې ضعيف خلک هم موجود وي او د تاخير په کولو سره هغو ته تکليف وي. نو آيا نفل اداکول بهتر دي او که د ضعيفانو رعايت ضروري دی؟

الجواب حامدا و مصليا: که چيرته د قوم ضعيفو خلکو ته له انتظار څخه تکليف وي نو د نفلو د اداکولو په ځاي بايد وتر لمونځ اداشي ځکه چه د نفلو له اداکولو څخه د ضعيفانو رعايت اهم دی.

و في الهندية: و يستحب الجلوس بين الترويحتين قدر ترويحة و كذا بين الخامسة و الوتر كذا في الكافي و هكذا في الهداية. و لو علم ان الجلوس بين الخامسة و الوتر يثقل على القوم لا يجلس هكذا في السراجية. (الهندية ج١، ص ١١٥ ، فصل في التراويح) قال العلامة الحصكفي: يجلس ندباً بين كل اربعة بقدرها كذا بين الخامسة و الوتر و يخيرون بين تسبيح و قرأة و سكوت و صلوة فرادي. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص٤٦ ، باب التراويح)

د تراويح په منځ کښې د کښيناستلو په صورت کښې چپ والی

الاستفتاء: له څلورو رکعتونو تراويح وروسته چه کومه دعا لوستل کيږي که چيرته هغه د چا زده نه وي نو په تسبيح او تهليل باندې اکتفاء جائزه ده او که نه؟ که چيرته يو څوک غلی او خاموش کښيني نو د هغه بيا حکم څه دی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د څلورو رکعاتو تراويح څخه وروسته کښيناستل مستحب دي-تسبيح او تهليل ضروري نه دي. البته که چيرته درې وارې دا دعا چه سبحان ذي الملك و الملكوت....... الخ ولولي نو ډيره به ښه وي. که چيرته ئې دا دعا ياده نه وي نو تسبيح او تهليل هم ويلې شي او په غلي او چپ اوسيد و باندې هم سنت اداکيږي-#

قال العلامة الحصكفي: و يجلس ندباً بين كل اربعة بقدرها و كذا بين الخامسة و الوتر و يخيرون بين تسبيح و قرأة و سكوت و صلوة فرادى. و قال ابن عابدين تحت هذه العبارة. قال القهستاني: فيقال ثلاث مرات سبحان ذي الملك و الملكوت سبحان ذي العزه و العظمة و القدرة و الكبرياء و الجبروت، سبحان الملك

الحي الذي لا ينام و لا يموت سبوح قدوس رب الملئكة و الروح لا انه الا الله نستغفر الله نسئلك الجنة و نعوذ بك من النار. (رد المحتار ج۲، ص٤٦، مبحث في صلوة التراويح) قال ابن نجيم: و قد قالواانهم مخيرون في حالة الجلوس ان شاؤا سبحوا و ان شاؤا قرؤا القرآن و ان شاؤا صلوا اربع ركعات فرادي و ان شاء ، قعدوا ساكتين. و اهل مكة يطوفون اسبوعاً و يصلون ركعتين و اهل المدينة يصلون اربع ركعات فرادى. (البحر الرائق ج ۲، ص ٦٩ ، باب الوتر و النوافل)

په دیر شم د رمضان کښې د شوال د میاشتې د راختو د احتمال په صورت کښې د تراویح د اداکولو حکم

الاستفتاء: زمونږ په علاقه کښې زیاتره د رمضان دیرشمه د شوال اولنۍ ورځ وي. که چیرته صحیح شهادت په لاس را نه شي نو په همدې شپې کښې د تراویح لمونځ باید ادا شي او که نه؟ که

.الجواب حامدا و مصلیا: تراویح د رمضان المبارک د میاشتې وظیفه ده، چه ترڅو پورې د کوچني اختر حکم نه وي شوي تر هغو پورې به روژه او تراویح دواړه معمول به وي. له دې وجهي که چیرته د شوال د میاشتې احتمال هم وي نو تراویح به پخپل ټاکلي وخت اداکیږي – هو! که چیرته د شپې په آخري برخې کښې د میاشتې د لیدو خبر راشي نو تراویح به نفلو بدلیږي-

عن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ لا تصوموا قبل رمضان صوموا لرؤيته و افطروا لرؤيته. (معارف السنن ج٥، ص ٣٣٦، باب ما جاء ان الصوم لرؤية الهلال و الافطار) و عن رجل ان اصحاب النبي ﷺ قال اختلف الناس في آخر يوم من رمضان فقدم اعرابيان فشهدا عند النبي ﷺ با الله لاهل اهلال امس عشيه فامر رسول الله ﷺ الناس ان يفطروا زار خلف في حديثه و ان يغدوا الى مصلاهم. (سنن ابي داؤد ج١، ص٣٢٠، باب شهادة رجلين على رؤية الهلال شوال) و مثله في رسائل الاركان ص٢٠٦ ، فصل يفترض على المكلفين الا يطلبوا هلال)

د حنفي مذهبه خلکو لپاره په رمضان شریف کښې د تراویح په جماعت سره د ادا کولو لپاره د مستقل امام د نیولو حکم

الاستفتاء: مونږ د روزګار او کاروبار په سلسله کښې په متحده عربي اماراتو کښې اوسیږو، د اماراتو خلک دولس رکعته تراویح کوي، که چیرته مونږ د لته د ځان لپاره په رمضان شریف کښې یو حنفي امام ونیسو او پخپل کور یا أطاق کښې په جمعې سره د تراویح د ادا کولو انتظام وکړو نو شرعا به ئې څه حیثیت وي؟

الجواب حامدا ومصلیا: که چیرته په قانوني توګه کوم ممانعت نه وي نو د اسې کول صحیح بلکه بهتر دي-قال ابن عابدين: و لو كان لكل مذهب امام كما في زماننا فا لافضل الاقتداء با لموافق سواء تقدم او تأخر على ما استحسنه عامة المسلمين و عمل به جمهور المؤمنين من اهل بحرمين قدس و مصر و الشام و لا عبرة بمن شذ منهم. (رد المحتار ج ١ ، ص ٥٦٥ ، باب الامامة، مطلب اذا صلى الشافعي قبل الحنفي الخ)

: په تروایح کښې د قرآنکریم د ختم حکم

الاستفتاء: په تراویح کښې د قرآنکریم ختم شرعاً څه حکم لري؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا: په تراویح کښې یو ځل د قرآنکریم ختم سنت دي او له یو ځل څخه زیات افضل دی-

قال العلامة الحصكفي: و الختم مرة سنة و مرتين فضيلة و ثلاثا افضل. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص ٦ ٤ ، باب التراويح) قال ابن نجيم: و الجمهور على ان السنة الختم مرة ...... الخ. و مرتين فضيلة و ثلاث مرات في كل عشرة مرة افضل. (البحر الرائق ج٢، ص٦٨) و مثله في الهندية ج١، ص١١٧، الباب التاسع في النوافل، فصل في التراويح)

په اتو رکعتونو تراويح کښې د مسنون ختم قرآن حکم

الاستفتاء: په کوم قرائت باندي چه شل رکعته تراويح په ېيره ېيره اد اکيږي که چيرته هم هغه قرائت په اتو رکعتونو کښې په قراره قراره تلاوت شي نو آيا په دې سره به کفايت وشي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: د قرآن د ختم سنت خو به اداشي ليکن د تراويح سنت نه اداکيږي او هغه د شلو رکعتونو په اد اکولو سره اداکيږي۔

قال ابن عبد الله بن عمر النسفي: و سن في رمضان عشرون ركعة بعد العشاء قبل الوتر و بعده بجماعة و الختم مرة بجلسة بعد كل اربع بقدرها. (كنز الدقائق على هامش البحر الرائق ج ٢، ص ٦٦، فصل في التراويح) قال ابن عابدين: تحت قوله عشرون ركعة هو قول الجمهور و عليه عمل الناس شرقا و غرباً. (رد المحتار ج ٢، ص ٤٥، باب النوافل و التراويح) و مثله في رسائل الاركان ص١٣٨، فصل في التراويح)

د اتو رکعتونو تراويح د ادا کولو حکم

الاستفتاء: آيا د اتو رکعتونو تراويح اد اکوونکي فاسق او بدعتي دي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: شل رکعته تراويح د امت د اجماع له مخې او د خلفاء راشدينو د مواظبت (هميشه والي) له مخې سنت مؤکد دي. لهذا بغير له کوم شرعي عذر څخه شل رکعته پريښودل او په ځای ئې اته رکعته اداکول د ملامتی موجب دي په داسې حال کښې چه د شلو رکعتونو منکر سړي ضال او مضل دي۔

لما قال العلامة ظفر احمد العثماني: فقيام رمضان بعشرين ركعة و الوتر هو السنة المؤكدة يضلل تاركها و يلام من نقص عنها. (اعلاء السنن ج٧، ص ٧٢، كيفية القرأة في التراويح) قال العلامة الحصكفي: التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين للرجال و النساء........ و هي عشرون ركعة. قال ابن عابدين تحت عشرون هو قول الجمهور و عليه عمل الناس شرقا و غرباً. (رد المحتار و الدر المختار ج ٢، ص ٤٣ / ٤٥ ، باب التراويح) قال العلامة ابن عابدين: تاركها يستوجب اساء ة اي التضليل و اللوم. (رد المحتار ج١ ، ص ٤٧٤ ،

باب صفة الصلوة) و مثله في الجوهرة النيرة ج١، ص١١٧، باب قيام رمضان و منحة الخالق على البحر الرائق ج١، ص٣٠٢، باب صفة الصلوة)

د قرآن د ختم سنت والی له تراویح سره خاص دی

الاستفتاء: «الف» زید او بکر دواړه د قرآن حافظان دي او دواړه غواړي چه په یوه جومات کښې په تراویح کښې د قرآن کریم ختم وکړي. آیا د هغو لپاره دا صحیح ده چه په لومړیو لسو رکعتونو کښې زید څپل منزل (پاو باندې یوه سیپاره) تلاوت کړي او په پاتې لسو رکعتون کښې بکر څپل منزل تلاوت کړي، په دې ډول سره په یوه جومات کښې به د قرآن کریم دوه ختمونه وشی؟ «ب» زید د تراویح په لمانځه کښې قرآنکریم وایي په داسې حال کښې چه بکر به فرضو اووترو کښې قرآن کریم تلاوت کول غواړي ترڅو چه دوه ختمونه ادا شي. شرعا په دغو دواړو صورتونو کښې کوم یو صورت صحیح دی؟

الجواب حامدا ومصليا: په صورت مسئوله کښې لومړي صورت جائز دي او دوهم صورت د سنتو خلاف دي ځکه چه د قرآن کریم ختم په تراویح کښې سنت دي نه په فرضو او وترو کښې، په ځانګړې توګه دا حکم به په هغه صورت کښې وي چه د قرائت اوږدوالي د خلکو لپاره د تکليف سبب وي۔

قال العلامة الحصكفي: و الختم مرة سنة و مرتين فضيلة و ثلاثا افضل. و قال ابن عابدين: تحت هذه العبارة اى قرأة الختم في صلوه التراويح سنة. وصححه في الخانية و غيرها و قال بعد اسطر لكن في الخانية و غيرها ما يفيد تخصيص التراويح. (الدر المختار و رد المحتار ج ٢، ص٤٦ ، مبحث صلوة التراويح) قال العلامة قاضي خان: و لو قرأ بعض القرآن في سائر الصلوة بان كان القوم يملون من القرأة في التراويح فلا بأس به لكن يكون لهم ثواب الصلوة لا ثواب الختم و قد ذكرنا ان السنة هي الختم في التراويح. (الفتاوى القاضي خان على هامش الهندية ج١، ص٣٣٨، فصل في مقدار القرأة في التراويح) و مثله في رسائل الاركان ص١٣٧، فصل في التراويح)

په تراويح کښې څو ځله د قرآنکريم د ختمولو حکم

الاستفتاء: يو حافظ په يوه جومات کښې له يو ځل ختم کولو څخه وروسته په بل جومات کښې د دوهم ځل لپاره ختم کولي شي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: هو کولي ئې شي! ځکه چه د امام او مقتديانو د ټولو لپاره تراويح سنت دي، په دې کښې اقتداء المثل با لمثل دی. لهذاد مقتديانو اقتداء صحيح ده. او دا خبره چه د دوهم ځل لپاره بل قوم ته د قرآن کريم ختم، نو د امام لپاره د فضيلت په درجه کښې دي او د مقتديانو په حق کښې سنت دي - برسيره پر دې له اقتداء څخه مخ کښې قرأت نه په امام باندې او نه په مقتديانو باندې لازم دی، له اقتداء څخه وروسته په امام باندې په اندازه د ما تجوز به الصلوة فرض دی او اوس چه امام څومره قرائت هم ووايي تر دې پورې چه په دوه رکعتونو کښې ټول قرآن ختم کړي د امام او مقتديانو سنت ادا کيږي. حاصل دا چه د حافظ په بل جومات کښې د قرآنکريم ختم کول د مقتديانو په مسنون ختم باندې کوم اثر نه اچوي-

و في خزانة الروايت: قد روى بعض اهل العلم عن كنز الفتاوى رجل ام قوماً في التراويح و ختم فيها ثم ام قوماً آخرين له ثواب الفضيلة و لهم ثواب الختم. (مجموعة الفتاوى ج١، ص ٢٢٤، باب التراويح) قال الشيخ ظفر احمد العثماني: و سن ختم القرآن فيها اى مرة في الشهر على الصحيح و هو قول الأكثر . قال الطحطاوي و مرتين فضيلة و ثلاثة في كل عشرة مرة افضل آه. قلت و الاطلاق يدل على فضيلة الختم ثلاثا مطلقاً سواء كان في مسجد واحد او في ثلاث مساجد في كل مسجد مرة. (امداد الاحكام ج١، ص ٦٢٠ ، باب التراويح) و حيله في كفايت المفتي ج٣، ص ٣٦٥، باب التراويح) قال العلامة الحصكفي و الجماعة فيها سنة على الكفاية في الاصح فلو تركها اهل مسجد اثموا الا لو ترك بعضهم و كل ما شرع بجماعة فا لمسجد فيه افضل. (الدر المختار على صدر رد المحتار على صدر رد المحتار ج ٢، ص ٤٥ – باب النوافل) قال العلامة ابن عابدين: و الجماعة فيها سنة على الكفاية الخ افاد ان اصل التراويح سنة عين فلو تركها واحد كره بخلاف صلاتها با لجماعة فانها سنة كفاية فلو تركها الكل اساء وا اما لو تخلف عنها رجل من افراد الناس وصلى في بيته فقد ترك الفضيلية. (رد المحتار ج ٢ ، ص ٤٥ ، باب النواقل) و مثله في البحر الرائق ج٢، ص٦٨ ، باب النوافل)

په نابالغه حافظ پسي تراويح كول صحيح دي؟

الاستفتاء: كه په تراويح كښي امام نابالغه وي اياد بالغينو او نابالغينو اقتداء پسي صحيح ده كه يا ؟

الجواب حامدا و مصليا : په نابالغه امام پسي په تراويح كولو كښي د علماؤو او فقهاؤو اختلاف دي ليكن اصح دادى چي دنابلغه هلک امامت و بالغه مقتديانو ته نه دي صحيح بلكي منع دي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (ولا يصح اقتداء رجل بالمرأة وخنثى (وصبي مطلقا) ولو في جنازة ونفل على الأصح لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : والمختار أنه لا يجوز في الصلوات كلها (الدرالمختار مع ردالمحتارج ۱ ص ۴۲۷ باب الامامة مكتبه حبيبيه/غنية المستملي ص ۳۹۰ فصل في النوافل والتراويح سهيل اكبدمي/فتاوي عالمگيريه ج ۱ ص ۸۵ باب الامامة مكتبه رشيديه/البحرالرائق ج ۱ ص ۶۲۸ باب الامامة مكتبه رشيديه/فتاوي دارالعلوم ديوبندج ۴ ص۱۹۱ /فتاوي محموديه ج ۷ ص ۲۷۶ باب التراويح/ فتا وي حقا نية ج ۲ ص ۴۶۵ باب التراويح)

باب ادراک الفريضه :

يو اځې د اقامت په اوريدو سره لمونځ مه ماتوی

الاستفتاء: يوه سړي د نفلو د نيت په كولو سره په لمانځه شروع كړې وه چه مؤذن د جماعت د لمانځه اقامت شروع كړ-آيا نوموړي سړي به نفل لمونځ ماتوي په جماعت كښې به شامليږي او كه خپل نفل لمونځ به پوره كوي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په جماعت كښې شريكيدل واجب دي له دې وجهې متنفل بايد د جماعت د فوت كيدو له وجهې خپل نفل لمونځ مات كړي او په جماعت كښې شامل شي. هو! يو اځې د مؤذن د اقامت د اوريدو په صورت كښې د دوو ركعتونو له پوره كولو څخه مخ كښې دې لمونځ نه ماتوي-

قال العلامة الحصكفى: شرع فيها اداء........ منفرداً ثم اقيمت اي شرع في فريضة لا اقامة المؤذن و لا الشروع في مكان و هو في غيره يقطعها لعذر احراز الجماعة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص ۵۰، باب ادراك الفريضة)قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالى: اذا شرع المصلي في اداء الفرض او قضائه منفرداً او في نفل.. فاقيمت الجماعة في محل ادائه.... . قطع بتسليمة قائما و بعده اقتدى على الصحيح. (مراقي الفلاح على صدرالطحطاوي ص ۳۶۵، باب النوافل)

جماعت کښې د شريکيدو په هيله د سهـــار د سنتو د اداکولو حکم

الاستفتاء: د سهار جمعه ولاړه وه او د جومات په سراي کښې د سنتو د ادا کولو لپاره کوم مستقل ځاي نه وو په داسې حال کښې چه د امام قرائت هم اوريدل کيده نو په داسې حالت کښې د سنتو اداکول ضروري دي او که له جمعې سره شريکيدل او د سنتو پريښودل؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د سهار د سنتو په حديثو کښې ډير تاکيد راغلي دی- رسول الله ﷺ فرمايلي دي: عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لا تدعوهما ان طردتكم الخيل. (ابو داؤد ج۱، ص۱۸۶، في باب في تخفيفهما. د دې لپاره ترڅو چه کيدلي شي د سنتو د ادا کولو کوشش وکړي او په جماعت کښې تر شريکيدلو مخکښې په کوم جلا ځاي کښې سنت ادا کړی. ترڅو پورې چه په جماعت کښې د دو هم رکعت د رکوع د پيد اکولو امکان وي نو سنت مه پريږدي اگر که ځينو د التحيات د پيد ! کولو د ممکن والي قول هم کړي دي په داسې حال کښې چه د ابن الهمام د قول مطابق تر سلام څخه مخکښې د جمعې په لمانځه کښې د شريکيد و اميد وي نو تر هغو پورې بايد سنت ادا . البته که چيرته په جومات کښې دننه ځاي نه وي نو دروازې ته نژدې دې ادا شي

قال العلامة الحصكفي: و اذا خاف فوت ركعتي الفجر لاشتغاله بسنتها تركها لكون الجماعة اكمل، و الا بان رجاء ادراك ركعة في ظاهر المذهب و قيل التشهد . و اعتمده المصنف و الشرنبلالي تبعاً للبحر لكن ضعفه في النهر لا يتركها بل يصليها عند باب المسجد ان وجد مكانا و الا تركها، (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص ۵۶ ، باب ادراك الفريضة، مطلب هل الاساءة دون الكراهة الخ) قال برهان الدين

المرغيناني: و من انتهى الى الامام في صلوة الفجر و هو لم يصل ركعتي الفجر ان خشى ان تفوته ركعة و يدرك الأخرى يصلى ركعتي الفجر عند باب المسجد ثم يدخل لانه امكنه الجمع بين الفضيلتين و ان خشي فوتهما دخل مع الامام لان ثواب الجماعة اعظم و الوعيد با لترك الزم بخلاف سنة الظهر الخ. (الهداية على صدر فتح القدير ج۱، ص ٤١٤ ، باب ادراك الفريضة)

د سهار د سنتو د قضايي حکم

الاستفتاء: كه چيرته د سهار سنت د فرضو له وجهې فوت شي نو له فرضو څخه وروسته ئې قضايي بايد را وګرځي او كه د لمر تر ختلو وروسته؟ له ځينو علماوو څخه مو اوريدلي دي چه با لكل ئې قضايي نشته؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د سهار د سنتو اهميت او تاكيد له ګڼو روايتونو څخه ثابت دى، بهتره داده چه تــــر څو كيدلي شي له فرضو څخه مخ كښې بايد ادا شي. البته كه چيرته د مجبورى په صورت كښې له چا څخه پاتې شي نو له فرضو څخه وروسته د لمر تر ختلو پورې ئې د احنافو علماوو په اتفاق سره قضايي نشته. البته د لمر تر ختلو وروسته پكښې اختلاف دى- د امام ابو حنيفه په نزد ئې قضائي نشته په داسې حال كښې چه د امــــام محمد په نزد ئې د نفلو په حكم كښې قضايي را ګرځول افضل دي. او كه له فرضو سره يو ځاى قضاء شوي وي نو له فرضو سره ئې يو ځاي د لمــــر تر ختلو وروسته قضائي را ګرځول كيږي.

..قال ابن نجيم المصرى: لم تقض سنة الفجر الا اذا فاتت مع الفرض فتقضى تبعاً للفرض سواء قضاها مع الجماعة او وحده لان الاصل في السنة ان لا تقضى لاختصاص القضاء با لواجب . و الحديث ورد في قضائها تبعاً للفرض في غداة ليلة التعريس فبقى ما وراءه على الاصل. فافاد المصنف انها لا تقضى قبل طلوع الشمس اصلاً و لا بعد الطلوع اذا كان قد ادي الفرض و شمل كلامه ما اذا قضاهما بعد الزوال او قبله و لا خلاف في الثاني و اختلف المشائخ في الاول على قولهما و الصحيح كما في غاية البيان انها لا تقضى تبعاً. لان النص ورد بقضاتها في الوقت المهمل بخلاف القياس و ما ورد على خلاف القياس فغيره عليه لا يقاس. (البحر الرائق

ج۲، ص ٧٤ ، باب ادراك الفريضة) قال العلامة الحصكفي: و لا يقضيها (اى سنة الفجر) الا بطريق التبعية لقضاء فرضها قبل الزوال لا بعده في .الاصح لورود الخبر بقضائها في الوقت المهمل بخلاف القياس فغيره عليه بقاس. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ٥٧ ، باب ادراك الفريضة)

د ماسپښين د څلورو رکعتونو سنتو د پاتې کيدلو په صورت کښې لهآخري دوه رکعتونو سنتو سره د ترتيب حکم

الاستفتاء: که چيرته له يو چا څخه د ماسپښين څلور رکعته سنت فوت شي نو د فرضو له ادا کولو څخه وروسته د دوه رکعتو سنتو د ادا کولو په وخت کښې به ترتيب څرنگه وي؟ آيا اول به څلور رکعته ادا کوي او که آخري دوه رکعته؟

الجواب حامدا و مصليا: په جواز کښې دواړه صورتونه برابر دي البته په افضليت کښې اختلاف دی. د علامه ابن عابدين رحمه الله تحقيق ته په کتو سره بايد لومړي دوه رکعته ادا شي ځکه چه د څلورو رکعتو سنتو د فوت کيدو په وجه دوه رکعته خو دې کم تر کمه پخپل ځاي باندې پاتې شي. او که نه وي نو په بل صورت کښې به دواړه سنتونه پخپل ځاي باندې نه پاتې کيږي

-قال العلامة الحصكفي: ثم يأتي بها (اى سنة الظهر القبلية) على انها سنة في وقته (اى الظهر) قبل شفعه عند محمد و به يفتي.قال ابن عابدين: تحت هذه العبارة اقول و عليه المتون لكن راجح في الفتح تقديم الركعتين قال في الامداد و في فتاوى العتابي انه المختار و في مبسوط شيخ الاسلام انه الاصح لحديث عائشته ان النبي ﷺ كان اذا فاتته الاربع قبل الظهر يصليهن بعد الركعتين و هو قول أبي حنيفة كذا في جامع قاضي خان. (الدر المختار و رد المختار ج۲، ص٥٨، باب ادراك الفريضة)قال ابن نجيم المصرى: و قضى التي قبل الظهر في وقته قبل شفعه بيان لشيئين احدهما القضاء و الثاني محله اما الاول ففيه اختلاف و الصحيح انها تقضى كما ذكره قاضي في شرحه مستدلاً بما عن عائشة ان النبي ﷺ كان اذا فاتته الاربع قبل الظهر قضاهن بعده. و ظاهر كلام المصنف انها سنة لا نفل مطلق. و ذكر قاضي خان انه اذا قضاها فهي لا تكون سنة عند ابي حنيفة و عندهما سنة و تبعه الشارح. و تعقبه في فتح القدير بانه من تصرف المصنفين فان المذكور من وضع المسئلة الاتفاق على قضاء الاربع و انما الاختلاف في تقديمها او تاخيرها. و الاتفاق

على انها تقضى اتفاق على وقوعها سنة الى آخر ما ذكره. و اما الثاني فاختلف فيه النقل عن الشيخين فذكر في الجامع الصغير للحسامي ان ابايوسف يقدم الركعتين و محمد يؤخرهما. و في المنظومة و شروحها على العكس. و في غاية البيان و يحتمل ان يكون عن كل واحد من الامامين روايتان. و رجح في فتح القدير تقديم الركعتين لان الاربع فاتت عن الموضع المسنون. فلا يفوت الركعتين عن موضعها قصداً بلا ضرورة. (البحر الرائق ج ٢، ص ٧٥ ، باب ادراك الفريضة)فتاوي لانه قال اذا صليت في اهلك ثم ادركت الصلوة فصلها الا الفجر و المغرب و قوله فصلها يعني نفلا لانه امر به نصاً لرجلين لم يصليا معه الظهر و اخبرا بصلاتهما في رحالهما فقال عليه السلام اذا صليتما في رحالكما ثم اتيتما صلوة قوم فصليا معهم و اجعلا صلاتكما معهم سبحة اى نافلة قال السيد احمد الطحطاوى تحت قوله اقتدى متنفلا ان شاء قال في البحر عن الحاوى انه يدرك هذه النافلة فضيلة الجماعة. (الطحطاوي حاشية مراقي الفلاح ص ٣٦٦، باب ادراك الفريضة)كذافي فتا وي حقا نية ج٢ ص٥٩٢

د چـــاد امداد د غوښتلو ياد والدينو د بلنې کښې د لمانځه د ماتولو حکم

الاستفتاء: که چيرته والدين خپل زوي را وبولي او زوي ئې په فرضو يا سنت لمانځه کښې مشغول وي نو آيا د والدينو په را بلنې باندې زوي خپل لمونځ ماتولې شي او که نه؟ همدارنګه يو څوک په لمانځه کښې مشغول سړي ته د امداد لپاره آواز وکړي نو آيا دا سړي له هغه سړه د امداد او مرستې لپاره خپل لمونځ ماتولې شي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: که چيرته والدين يا نيکونه خپل زوي يا لمسي را وبولي نو د هغو د حکم د تعميل لپاره د نفل لمونځ ماتول جائز دي البته پرته له ضرورت څخه د فرض لمانځه د ماتولو اجازه نشته په داسې حال کښې چه د استغاثې (يعني امداد غوښتنې) په صورت کښې د فرض لمانځه ماتول هم واجب دي. بلکه که يو چا ته د چا د امداد کولو ضرورت محسوس شي نو پرته له بلنې هم فرض لمونځ ماتول واجب دي-

ال العلامة الحصكفي: و لو دعاه احد ابويه في الفرض لا يجيبه الا ان يستغيث به و في النفل ان علم انه في الصلوة فدعاه لا يجيبه و الا اجابه. و قال ابن عابدين: تحت هذه العبارة اي يطلب منه الغوث و الاعانة و

ظاهره و لو في امر غير مهلك و استغاثة غير الابوين كذلك. و الحاصل ان المصلى متى سمع احدا يستغيث و ان لم يقصده با لنداء او كان اجنبياً و ان لم يعلم ماحل به او علم و كان له قدرة على اعانته و تخليصه وجب عليه اعانته و قطع الصلوة فرضا كا نت او غيره. (الدر المختار و رد المحتار ج ٢، ص ٥١، باب ادراك الفريضة و ايضاً في ٢، ص ٤) ...قال ابن نجيم المصرى: و في فتاوى الولوالجي اذا دعاه المصلى احد ابويه فلا يجيبه ما لم يفرغ من صلوته الا ان يستغيث به. لان قطع الصلوة لا يجوز الا لضرورة و كذلك الاجنبي اذا خاف ان يسقط من سطح او تحرقه النار او يغرقه الماء وجب عليه ان يقطع الصلوة هذا اذا كان في الفرض . فاما في النفل اذا ناداه احد ابويه ان علم انه في الصلوة و ناداه لا بأس به ان لا يجيبه. و ان لم يعلم يجيبه أه. (البحر الرائق ج٢، ص٧١، باب ادراك الفريضة) و مثله في الهندية ج١) ص١٠٩، الباب السابع فيما يفسد الصلوة مما يتصل بذلك المسائل)

د وتـــــرو د جماعت له دريد و وروسته د فـرض لمانځه د

الاستفتاء: كه چيرته يو څوک د څلورو ركعتو فرضو نيت وتړي، د دريو ركعتونو له ادا كولو وروسته د وترو جماعت ودريږي نو اوس به د اسړي بايد څه وكړي؟ آيا خپل لمونځ به پوره كوي او كه به لمونځ ماتوي او د وترو په جماعت كښې به شريكيږي؟

الجواب حامدا و مصليا: كوم سړي چه د وترو له جماعت څخه مخ كښې د فرضو لپاره دريدلي وي او ييا د دريو ركعتونو له اداكولو څخه وروسته د وترو جمعه ودريږي نو داسړي به څلور ركعته فرض پوره كوي او ييا به د نفلو په نيت سره په جماعت كښې شريک شي البته د مازديگر په لمانځه كښې د اسې كول صحيح نه دي-

لما قال العلامة الحصكفي: ان صلى ثلاثاً منها اى الرباعية اتم منفرداً ثم اقتدي با لامام متنفلاً و يدرك بذلك فضيلة الجماعة الا في العصر فلا يقتدى لكراهة النفل بعده. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٢، ص ٥٢ ، باب ادراك الفريضة)قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي: ان صلى ثلاثا من رباعية فاقيمت اتمها اربعاً منفرداً حكماً ... ثم بعد الاتمام اقتدى متنفلاً ان شاء و هو افضل لعدم الكراهة الا في العصر و الفجر.

(مراقي الفلاح على صدر طحطاوي ص ٣٦٦ ، باب ادراك الفريضة) و مثله في البحر الرائق ج ٢، ص ٧١، باب ادراك الفريضة)

سهار امام پر التحياته باندي ناست دي سنتو سي که يا ؟

الاستفتاء: دسهار پر لمانځه باندي امام پر التحياته باندي ناست وو چي زه راغلم سنت مي نه دي کړي نو اوس سنتو کړم بيا په جماعت کښې شريک سم او که سنت پرېږدم په جماعت کښې شريک سم څنګه بايد وکړم؟

الجواب حامدا ومصليا : دسهار دسنتو په باره کښې په احاديثو کښې ډېر زيات تاکيد راغلي دي . لهذا تر څو چي کېدلای سي دسنتو داداکولو کوشش دي وسي او بيا دي په جماعت کښې شرکت وکړل سي او تر څو پوري چي ددوهم رکعت درکوع دنيولو او پيداکولو امکان وي نو سنت بايد پاته نه سي . که څه هم ځيني فقها و و داخبره هم کړېده چي تر څو پوري دالتحياتو دنيولو امکان وي نو سنت دي وکړي بيا دي په جماعت کښې شريک سي . لهذا کله چي دغه کس راغي امام پر التحياته باندي ناست وو نو ښکاره خبره ده چي په دغه لنډ او کوتاه وخت کښې دوه رکعته سنت دي نه سي کولاي نو دي سنت پرېږدي په جماعت کښې دي شريک سي

.لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وإذا خاف فوت) ركعتي (الفجر لاشتغاله بسنتها تركها) لكون الجماعة أكمل (وإلا) بأن رجا إدراك ركعة في ظاهر المذهب. وقيل التشهد واعتمده المصنف والشرنبلالي تبعا للبحر، لكن ضعفه في النهر (لا) يتركها بل يصليها عند باب المسجد إن وجد مكانا وإلا تركها (الدرالمختار علي صدر ردالمحتارج ٢ ص ٥٦ باب ادراک الفريضة مطلب هل الاساءة دون الكراهة / الهداية علي صدر فتح القديرج ١ ص ٤١٤ باب ادراک الفريضة / فتا وي حقا نية ج ٢ ص٥٨٧ باب ادراک الفريضة / فتاوي فريديه ج ٢ ص ٤٧٠ باب المدرك والمسبوق واللاحق)كذافي فتاوي رحمانية هـ ج٢ ص ١١٤

: باب القضاء

د بيا لپاره د ترتيب خاوند جوړيدل

الاستفتاء: که چيرته له يوه سړي څخه دومره لمونځونه قضا شي چه صاحب د ترتيب پاتې نه شي نوآيا د دغو لمونځونو د قضايي په ګرځولو سره نوموړي بيا د ترتيب خاوند جوړيدلي شي او که يو ځل د ترتيب په ساقطيد و سره د بيا لپاره د ترتيب خاوند جوړيدل ممکن نه دي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د ترتيب خاوند والي په حقيقت کښې يو د اسې صفت دي چه د سړي په ذمه باندې د شپږ او ورځې لمونځونه پاتې نه وي. په نوموړي صورت کښې د قضايي په ګرځولو سره چونکه غاړې خلاصيږي له دې وجهې د ټولو لمونځونو په را ګرځولو سره دا سړي به بيا صاحب ترتيب ګڼل کيږي. هو ! که چيرته په ذمه باندې له شپږو لمونځونو څخه کم لمونځونه ب شي نو بيا هم صاحب د ترتيب جوړيږي-

قال العلامة ابن العابدين: و قيد بقضاء البعض لانه لو قضى الكل عاد الترتيب عند الكل الخ. (رد المحتار ج۲، ص ۷۰، باب قضاء الفوائت)قال صدر الشريعة: فانه لما قضى صلوة الشهر الا فرضاً او فرضين قلت الفوائت بعد الكثرة فلا يعود الترتيب الا ان يقضى الكل و قال ناكت فانه اذا قضى جميع الفوائت يلزمه الترتيب جديد. (شرح الوقاية ج۱، ص۲۱۹، قضاء الفوائت) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۸٦، قضاء الفوائت)

د نفلو په ځاي د قضايي لمونځونو اداکول بهتر دي

الاستفتاء: که چيرته د چا په ذمه باندې نا معلوم لمونځونه پاتې وي نو آيا د داسي سړي لپاره نفل بهتر دي او که قضائي لمونځونه؟ په داسې حال کښې چه د قضائي لمونځونه وخت او تعداد ورته معلوم نه وي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: اګر که د نفلونو اداکول پخپل ذات کښې د برکت موجب او د ثواب باعث دي ليکن د داسې سړي لپاره د نوافلو پر ځاي د قضايي لمونځونو اداکول بهتر دي. که چيرته تعداد او وختونه ئي ور معلوم نه وي ليکن په اجمالي

توګ، دومره ورته معلومه وي چه له ما ښخه د دومره زماني لمونځونه قضاء شوي دي نو د هر وخت له لمانځه سره دې لومړي قضائي لمونځ اداکړي

و في الحجة و الاشتغال با لفوائت اولى و اهم من النوافل الا السنن المعروفة الخ. والهندية ج۱، صد : — الباب الحادي عشر في قضاء الفوائت ، مسائل شتى)قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري: الاشتغال بقضاء الفوائت اولى و اهم من النوافل الا السنن المعروفة. (التاتارخانية ج۱، ص ۷۷۰، كتاب الصلوة، قضاء الفوائت) و مثله في الميسوط ج۱ م ۱۵۵، باب قضاء الفوائت)

په شـــــروع سره د نفلود لزوم حکم

الاستفتاء: که چیرته چا د سهار په سنتو شروع وکړه او ناڅاپه ئې د جماعت په لمانځه کښې د شریکیدو په غرض سنت مات کړه نو آیا د دې سنت قضائي پرې لازمه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصلیا: که چیرته په التحیاتو کښې له امام سره د شریکید و امکان هم وي نو سنت به ادا کوي لیکن په هر صورت کښې ئې په ماتولو سره قضاء پرې لازمیږي ځکه چه د نفلو یا سنتو په شروع کولو سره د لزم النقل با لشروع له مخې د هغو نقلو یا سنتو اداکول ضروري ګرځي.

قال برهان الدين المرغيناني: و من شرع في ناقلة لم افسدها قضاها الخ. (الهداية ج۱، ص ۱۲۸، باب النوافل، فصل في القرأة) قال العلامة الكاساني: اما الاول فقد قال اصحابنا اذا شرع في التطوع يلزمه المعنى فيه و اذا افسده يلزمه الفضاء الخ. (بدائع الصنائع ج۱، ص ۲۹۰، فصل في صلوة التطوع) و مثله في الهندية ج۱، ص ۱۱۳، الباب التاسع في النوافل)

د ماسپښین د څلورو مخکښیني سنتو په پاتې کید و ســــــره ئې

الاستفتاء: که چیرته له چا څخه د ماسپښین څلور رکعته مخکښیني سنت د کوم عذر له وجهې پاتې شي نو د فرضو له اداکولو وروسته ئې د اداکولو حکم څه دی؟ او په کومه طریقه سره به ئې اداکوي؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د فرضو له ادا کولو وروسته دا سنت ادا کیږي. له رسول الله ﷺ څخه دا ثابته ده چه که چیرته له فرضو څخه مخ کښې د سنتو د ادا کولو وخت پیدا نه شي نو له فرضو څخه وروسته له دوه رکعته سنتو څخه مخ کښې هم اداکیږي لیکن بهتره داده چه تر دوه رکعتو سنتو وروسته اداشي-

لما قال الحصكفي: فانه ان خاف فوت ركعة يتركها و يقتدى ثم يأتى بها على انها سنة في وقته اى الظهر قبل شفعة عند محمد و به يفتي. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ۵۸، باب ادراك الفريضة) و في الهندية: و اما الاربع قبل الظهر اذا فائته وحدها بان شرع في صلوة الامام و لم يشتغل با لاربع فعامتهم على انه يقضيها بعد الفراغ من الظهر ما دام الوقت باقياً و هو الصحيح . و في الحقائق يقدم الركعتين عندهما و قال محمد ادراك الفريضة . يقدم الاربع و عليه الفتوى. (الهندية ج۱، ص۱۹۲، الباب التاسع في النوافل) و مثله في البحر الرائق ج۲، ص ۷۵، باب

د سنتو قضـــاي ضروري نه ده

الاستفتاء: که چیرته یو داسې لمونځ له چا څخه قضاء شي چه سنت هم ورسره وي نو د لمانځه و قضايي د را ګرځولو په وخت کښې سنت هم را ګرځي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: د فقهاء کرامو له تصریحانو څخه دا خبره ثابته ده چه د هیڅ یوه لمانځه قضایي له فرضو يا و اجبو سره خاص نه ده. د دې لپاره که چیرته سنت قضاء شي نو په بل وخت کښې ئې قضاً جائزه نه ده. البته د سهار دوه رکعته سنت دتبعاً للفرض له مخې قضائي را ګرځول صحیح دي-

لما قال العلامة ابن نجيم المصرى: (قوله و لم تقض الا تبعاً) اى لم تقض سنة الفجر الا اذا فاتت مع الفرض فقضى تبعاً للفرض سواء قضاها مع الجماعة او وحده لان الأصل في السنة ان لا تقضى لاختصاص القضاء يا لواجب. البحر الرائق ج۲، ص ۷٤، باب ادراك الفريضة)قال العلامة برهان الدين المرغيناني: و اذا فاتته ركعتا الفجر لا يقضيها قبل طلوع الشمس و لا بعد ارتفاعها عند ابي حنية فة و ابي يوسف .. . و لهما ان الأصل في السنة ان لا تقضي لاختصاص القضاء با لواجب و الحديث ورد في فضائلها تبعاً للفرض فبقى ما

رواه على الاصل و انما تقضي تبعاً له و هو يصلي با لجماعة او وحدة الى وقت الزوال و فيما بعده اختلاف المشائخ و اما سائر السنن سواها لا تقضى بعد الوقت وحدها، (الهداية ج۱، ص۱۳۲، باب ادراك الفريضة) و مثله في البناية ج۳، ص ۱۲۷، باب ادراك الفريضة)

په قضايي لمونځونو کښې د ترتيب رعايت

الاستفتاء: که چيرته کړ لمونځونه له چا څخه قضاء شوي وي نو د را ګرځولو په وخت کښې به ئې د ترتيب کيفيت څنګه وي؟ آيا په هغه ترتيب سره ادا کيدلي شي په کوم ترتيب سره چه قضاء شوي وي او که په هر وخت کښې چه ادا کوونکي ته وخت ميسر شي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د ترتيب د خاوند لپاره د قضائي د ګرځولو په وخت کښې د ترتيب رعايت ضروري دي. البته که هغه امور مخې ته ورشي په کوموامورو سره چه ترتيب ساقطيږي نو بيا ترتيب واجب نه وي. هو! په دې صورت کښې هم که چيرته قضاء شوي لمونځونه په ترتيب سره اداشي تو بهتر دی-

قال برهان الدين المرغيناني و لو فاتته صلوة رتبها في القضاء كما وجيت في الأصل الخ. و بعد اسطر قال الا ان يزيد الفوائت على ستة صلوة لان الفوائت قد كثرت فتسقط الترتيب الخ. (الهداية ج۱، ص ۱۳٤، باب قضاء الفوائت) و قال محمد بن عبد الله التمرتاشي الترتيب بين الفروض الخمسة و الوتر اداء و قضاء لازم الخ. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ٦٥، باب قضاء الفوائت) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۷۹، باب قضاء الفوائت)

د سفر په حالت کښې د قضاء شوي لمونځونو د قضاء حکم

الاستفتاء: د سفر په حالت کښې که چيرته له چا څخه لمونځ قضاء شي نو د مقيم والي په حالت کښي به دالمونځ پوره ادا کيږي او که قصر (يعني نيم)؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د لمانځه په قضايي کښې د وجوب حالت معتبر وي، د سفر په حالت کښې لکه څرنګه چه قصر وي د دې لپاره د مقيم والي په حالت کښې به هم د هغه قضائي قصر اداکيږي-

قال العلامة ابن العابدين: و لذا يقضى المسافر فائتة الحضر الرباعية اربعاً و يقضي المقيم فائتة السفر ركعتين الخ. (رد المحتار ج۲، ص۷۶، باب قضاء الفوائت، مطلب اذا اسلم المرتد هل الخ) و في الهندية: و من حكمه ان الفائتة تقضي على الصفة التي فاتت عنه الا لعذر و ضرورة فيقضي مسافر في السفر ما فاتته في الحضر من الفرض الرباعي اربعاً و المقيم في الاقامة ما فاته في السفر منها ركعتين. (الهندية ج۱، ص۱۲۱، الباب الحادي عشر في قضاء الفوائت) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۷۹، باب قضاء الفوائت .

د سهـــار او مازديګر تر لمونځونو وروسته د قضايي لمونځـــونو اداکـــول جائز دي

الاستفتاء: د سهار او مازديګر له لمونځونو وروسته نفل خو جائز نه دي ليکن آيا په دغو وختونو کښې د قضايي لمونځونو را ګرځول جائز دي او که د هغو حکم هم د نوافلو غوندې دی؟

الجواب حامدا و مصليا: د سهار تر لمانځه وروسته د لمر تر ختو پورې او د مازديګر تر لمانځه وروسته د لمر تر تغير مخکښې د قضائي لمونځونو اداکول له کراهيت پرته جائز دي-

قال علاؤ الدين الحصكفي: لا يكره قضاء فائتة الخ. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱ ، ص ۳۷۵، كتاب الصلوة) و في الهندية: فيجوز فيها قضاء الفائتة وصلوة الجنازة الخ . (الهندية ج۱، ص ۵۲ ، الباب الأول في المواقيت الفصل الثاني الخ) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۲۵۱ ، باب قضاء الفوائت .

د قـــرات په مسئله کښې د وختي او قضايي لمانځــــه يو شي والى

الاستفتاء: که چيرته د شپې او ورځې لمونځونه له چا څخه قضا شي او په بل وخت کښې ئې را ګرځوي نو د قرائت حکم ئې څه دی؟ په داسې حال کښې چه د دواړو وختونو د قرائت حکم د سرأ او جهرأ له مخې مختلف دی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د قضائي لمانځه حکم د وختي لمانځه غوندې دی. په کوم لمانځه کښې چه د ادا په وخت کښې د قرائت څه کيفيت وي نو په قضاء کښې د هم هغه کيفيت رعايتول مرخص دي۔

قال في الهندية: و من حكمه ان القائمة تقضى على الصفة التي فاتت عنه الخ. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۲۱ الباب الحادي عشر في قضاء الفوائت) و قال علاؤ الدين ابي بكر الكاساني: و الاصل كل صلوة ثبت وجوبها في الوقت و فاتت عن وقتها انه يعتبر في كيفية قضائها وقت الوجوب و تقضى على الصفة التي فاتت عن وقتها. (بدائع الصنائع ج۱، ص ۲٤۷، فصل في بيان حكم الصفوة الفائدة) و مثله في البحر الرائق ج۲، ص۷۹، باب قضاء الفوائت

: د وتر د لمانځه قضـــاي

الاستفتاء: آيا د وترو قضايي ضروري ده او که د عامو سنتو غوندې چه فوت شي نو قضاء ئې نشته؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: وتر لکه څرنګه چه د امام ابو حنيفه په نزد واجب دي د دې لپاره د فوت کيدو په صورت کښې ئې قضائي واجبه ده او چه څوک شي قضايي نه راوړي نو ګنهګار به وي.

كما قال محمد بن عبد الله التمرتاشي : وقضاء الفرض و الواجب و السنة فرض و واجب و سنة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص٦٦ ، باب قضاء الفوائت) و في الهندية: و القضاء فرض في الفرض و واجب في الواجب و سنة في السنة الخ. والهندية ج۱، ص۱۲۱، الفصل الحادي عشر في صلوة قضاء الفوائت) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۸۰، باب قضاء الفوائت)

د قضاء عمـــري حقيقت

الاستفتاء: د رمضان المبارک په آخري جمعه کښې ځینې خلک د "قضاء عمري" تر نامه لاندې دوه رکعاته لمونځ په جماعت سره ادا کوي او دائې عقیده او نظر وي چه په دې سره د ټول عمر له قضاء شوي لمونځونو څخه غاړې خلاصیږي. د دې خبرې شرعي حیثیت به څه وي؟ بینوا توجروا

-الجواب حامدا و مصلیا: د لمانځه قضایي پخپل ذات کښې یو روا کار دی لیکن د مروجه قضاء عمري دا رسم او رواج د ځینو پښتنو تر علاؤو پورې محدود دی کوم چه په کوم صحیح دلیل سره ثابت نه دی بلکه له عامو قواعدو او اصولو سره ټکر دی. د دیوبند علماوو دا په بدعت سیئه کښې شمار کړي دي کوم چه د عوامو لپاره یوه مهلکه خبره ده او خواصو ته ئې ضرورت نشته. د دې لپاره په هیڅ یوه ځاي کښې په دې کښې باید شرکت و نه کړی-

لما قال العلامة عزیز الرحمن: قضاء عمري عند الحنفیة مشروع نیست پس التزام آن خصوصا در آخر جمعة رمضان المبارک که چهار رکعت نفل به نیت قضاء عمري ادا کرده شود شرعا بي اصل است و این چنین اعتقاد کردن که از چهار رکعت نفل صلوة فائتة عمر حاصل شود خلاف نصوص صحیحه و صریحه و قواعد شرعیة است. (عزیز الفتاوی ج ۱، ص ۲۵۴، المعروف بدار العلوم دیوبند، فصل في قضاء الفوائت)

لما قال المفتي کفایت الله: پس د قضاء عمري لمونځ بې اصله دی او په جماعت سره ادا کول یې ناجائز دي (کفایت المفتي ج ۳، ص ۳۳۸، قضاء لمونځونه)

[د وخت د کموالي له وجهې د قضایي لمانځه د ادا کولو په ځـــاید وختي لمانځه د ادا کولو حکم

الاستفتاء: که چیرته له چا څخه د مازدیگر لمونځ قضاء شي او د مابنام دومره وخت پاتې وي چه که چیرته هغه د مازدیگر د لمانځه قضایي راوړي نو د مابنام د لمانځه د قضاء کیدو خطر وي. پهدې صورت کښې به دا سړي لومړي قضایي لمونځ کوي او که د همدې وخت لمونځ؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: له کوم سړي څخه چه کوم لمونځ قضاء شي نو بايد چه په بل وخت کښې لومړی قضاء لمونځ را وګرځوي او بيا د هم هغه وخت لمونځ اداکړي. ليکن که چيرته وخت کم وي او د قضايي لمانځه د را ګرځولو څخه وروسته د وختي لمانځه لپاره وخت نه پاتې کيده نو په دې صورت کښې به د اسړي لومړي وختي لمونځ اداکوي او بيا به قضايي لمونځ.

لما في الهندية: ان كان بحيث اذا قطع الجمعة و اشتغل با لفجر يفوته الوقت اتم الجمعة اجماعاً ثم يصلى الفجر بعدها. (الفتاوى الهندية ج١، ص ١٢٢، باب قضاء الفوائت)

د قضائي لمونځونو د ادا کولو لپاره کوم خاص وخت نه دي ټاکل شوی

الاستفتاء: جناب مفتي صاحب! که چيرته له چا څخه ډير لمونځونه قضاء شوي وي او غواړي چه اوس ئې را وګرځوي نو آيا د قضايي لمونځونو لپاره کوم ټاکلي وخت شته او که کله چه فرصت پيدا کړي قضايي لمونځونه اداکولي شي؟

الجواب حامدا ومصليا: د قضايي لمونځونو د ادا کولو لپاره کوم ټاکلي وخت نشته چه کله چاته وخت او فرصت پيد اکيږي هلته دې اداکوي. البته د مکروه وختونو خيال او لحاظ ساتل پکښې ضروري دي.

لما قال العلامة ابن نجيم: ثم ليس للقضاء وقت معين. (البحر الرائق ج ٢، ص ٨٠، باب الفوائت

) لما قال العلامة اشرف على التها نوي رحمه الله: د قضايي لمونځونو د ادا کولو کوم ټاکلي وخت نشته چه په کوم وخت کښې فرصت پيدا کړي ادا کوي دي. البته دومره خيال به کوي چه مکروه وخت نه وي. (بهشتي زيور ص١٣۴، د قضايي لمونځونو د ادا کولو بيان)

باب صلوه الاستسقاء

د باران لپاره د سورت يس تلاوت او آذان کول مسنونه طريقه نه ده

الاستفتاء: په ځينو علاؤو کښې د باران د غوښتلو لپاره د استسقاء د لمانځه په ځاي دا طريقه رائجه ده چه د ماسخوتن تر لمانځه وروسته يو سړي سورت يس له ابتداء څخه واخله تر اول مبين پورې تلاوت کوي، له دې وروسته يو سړي په لوړ آواز

سره د لمانځه لپاره مسنون آذان شروع کوي. د ده له آواز سره سم د جومات په هر طرف کښې خلک آذان شروع کوي. وروسته له دې قاري د سورت يس له شروع څخه تر دوم مبين پورې تلاوت کوي نو بيا په همدې طريقې سره آذانونه شروع کيږي تر دې پورې چه آخري مبين ته ورسيږي. او په آخر کښې د يوې اوږدې دعا په کولو سره د اسلسله پاي ته رسيږي. آيا د باران لپاره دا طريقه اختيارول جائز دي؟

الجواب حامدا و مصليا: د استسقاء د لمانځه په ځاي دا طريقه د سنت په توګه د شريعت له مخې نه ده ثابته، همدا رنګه د آذان په مسنونو ځايونو کښې د باران لپاره آذان ورکول ثابت نه دي-

قال العلامة ابن العابدين: تحت قوله لا يسن بغيرها كعيد. اي وتر و جنازه و كسوف و استسقاء الخ. (رد المحتار ج ۱، ص ۳۸۵، باب الآذان)و في الهندية: و ليس لغير صلوة الخمس و الجمعة نحو السنن و الوتر و التطوعات و التراويح و العيدين اذان و لا اقامة كذا في المحيط و كذا للمنذورة وصلوة الجنازة و الاستسقاء و الضحى الخ. (الهندية ج ۱ ، ص ۵۳، باب الآذان) و مثله في خلاصة الفتاوي ج ۱، ص ۴۸، باب الآذان)

د استسقاء د لمانځه په جمعې سره د ادا کولو حکم

الاستفتاء: د استسقاء لمونځ په جمعې سره اداکول جائز دي او که نه؟ په داسې حال کښې چه د ځينو خلکو خيال دا دي چه دالمونځ په جمعې سره اداکول بدعت دي؟بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د استسقاء لمونځ په جمعې سره ادا کول د صاحبينو په نزد سنت او د امام ابو حنيفه په نزد مستحب دي ليکن بغير له جماعت نه ئې ادا کول هم صحيح دي. په دې دواړو طريقو کښې يوې طريقې ته بدعت ويل له فقهي ذخائرو څخه د ناخبري دليل دی

- قال العلامة ابن العابدين: فالحاصل ان الاحاديث لما اختلف في الصلوة با لجماعة و عدمها على وجه لا يصح به اثبات السنية لم يقل ابو حنيفة بسنيتها و لا يلزم منها قوله بانها بدعة كما نقل عند بعض المتعصبين

بل هو قائل با لجواز الخ. قلت و الظاهر ان المراد به الندب و الاستحباب. (رد المحتار ج٢ ، ص ١٨٤ ، باب الاستسقاء) و قال علاؤ الدين الكاساني: و الجماعة غير مسنونة في هذا الصلوة عنده و عندهما سنة. (بدائع الصنائع ج١، ص ٢٨٣، فصل في بيان صلوة الاستسقاء) و مثله في الهندية ج ١، ص ١٥٣، الباب التاسع عشر في الاستسقاء)

د استسقاء لمونځ بايد په بيابان كښې ادا شي

الاستفتاء: د استسقاء لمونځ بايد په كوم ځاي كښې اداشى؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د استسقاء لپاره د بيابان خواته وتل بهتر دي-

لما ورد في الحديث : حدثنا ابو داؤد قال حدثنا مسدد قال حدثنا هشيم عن يحي بن سعيد عن عبد الله بن ابي بكر عن عباد بن تميم عن عبد الله بن زيد ان رسول الله ﷺ خرج با لناس الى المصلى فاستسقى فحو ل ردائه و استقبل القبلة. (طحاوي ج١، ص٢٢٥، باب الاستسقاء الخ) و قال العلامة ابن عابدين: و يخرجون اى إلى الصحراء كما في الينابيع. هذا في غير اهل المساجد الثلاثة. (رد المحتار ج ٢، ص ١٨٥، باب صلوة الاستسقاء) و مثله في فتح القدير ج ٢، ص ٥٨، باب صلوة الاستسقاء)

[د استسقاء لمونځ دوه ركعاته دى

الاستفتاء: د استسقاء لمونځ څو ركعاته دي په كموالي او زيانولي سره د استسقاء په لمانځه باندې كوم اثر لويږي او كه نه؟ كه چيرته يو څوك دوه ركعاته له جماعت سره ادا كړي او دوه ركعاته له ځان سره يواځې په دې نيت سره ادا كړي چه د صاحبينو او امام صاحب رحمهم الله د دواړو په قول عمل وشي نو د دې به څه حكم وي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په دې مسئله كښې د صاحبينو قول مفتي به دى. د دې لپاره له جمعې سره په دوه ركعتونو اكتفاء وكړي او د يواځي دوه ركعتونو د ادا كولو كوشش مه كوى- هو كه چيرته دوه ركعته يواځي څوك اداكړي نو د استسقاء په اصل لمانځه كښي كوم فرق نه راځي

قال العلامة ابن العابدين: اي بان يصلى بهم ركعتين يجهر فيهما با لقرأة بلا اذان و لا اقامة لم يخطب بعدها قائماً على الارض معتمداً على قوس او سيف او عصا خطبتين عند محمد و خطبة واحد عند ابي يوسف. (رد المحتار ج۲، ص ۱۸۵ ، باب الاستسقاء) و قال العلامة برهان الدين المرغيناني رحمه الله : يصلى الامام ركعتين الخ. (الهداية ج۱، ص ۱٤٦ ، باب صلوةالاستسقاء) و مثله في البحر الرائق ج۲، ص۱٦۸، باب الاستسقاء)

د استسقاء د لمانځه مسنونه طريقه

الاستفتاء: جناب مفتي صاحب! د استسقاء د لمانځه د ادا کولو مسنونه طريقه کومه يوه ده؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د استسقاء د لمانځه مستحبه طريقه دا ده چه خلک د لمانځه لپاره تر وتلو مخکښې درې ورځې پر له پسې روژې ونيسي او نصوحا توبه وباسي او په ځلورمه ورځ په پښو، سرونه به ئې ټيټ نيولي وي، زاړه او پرې مينځل شوي کالي به ئې اغوستي وي او له عجزه تواضع او انکساري سره په داسې حال کښې چه له الله تعالي څخه به ويريدونکي وي د استسقاء د ميدان خواته به ځي او له تک څخه مخکښې به صدقه ورکوي، واړه هلکان به له.ميندو څخه جلا کوي او د لمانځه لپاره به له ځان سره کوچنيان، سپين ږيري، کمزوري، ضعيفان او څناور هم بيايي۔

قال العلامة الحصكفي: يستحب للامام ان يأمرهم بصيام ثلاثة ايام قبل الخروج و با لتوبة ثم يخرج بهم في الرابع مشأة في ثياب غسيلة او مرقعة متذللين متواضعين خاشعين لله ناكسين رؤسهم و يقدمون الصدقة كل يوم قبل خروجهم و يجد دون التوبة و يستغفرون للمسلمين و يستسقون با لضعفة و الشيوخ و العجائز و الصبيان و يبعدون الاطفال من امهاتهم و يستحب اخراج الدواب الخ. (رد المحتار ج ۲، ص ۱۸۵، باب صلوة الاستسقاء)

د استسقاء د لمانځه په دعا کښې د لاسونو د پړ مخې نیولو حکم

الاستفتاء: زمونږ په کلي کښې يوه ورځ د استسقاء لمونځ ادا کيده چه امام صاحب خپل لاسونه سرچپه کړل او دعائې وغوښته. آيا د استسقاء په لمانځه کښې د دعا غوښتلو نوموړې طريقه صحيح ده او که څنګه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د استسقاء په لمانځه کښې د لاسونو په سر چپه نيولو سره دعا غوښتل له جناب نبي كريم ﷺ څخه ثابت دي. د دې لپاره د امت فقهاوو د استسقاء د لمانځه په دوران کښې د دعا په وخت کښې سرچپه لاسونه نيول سنت ګرځولي دي. له دې وجهې ستاسو امام د صاحب صحيح كار كړي دی- البته په استسقاء کښې د لاسونو د پړ مخې له نيولو څخه پرته هم دعا جائزه ده-

اخرج امام مسلم بن حجاج القشيري: عن انس بن ماللك ان النبي ﷺ استسقى فاشار بظهر كفيه الى السماء «قال النووي: قال جماعة من العلماء: والسنة في كل دعاء لرفع بلاء كالقحط ونحوه أن يرفع يديه، ويجعل ظهر كفيه إلى السماء، وإذا دعا لسؤال شيء وتحصيله، جعل بطن كفيه إلى السماء، واحتجوا بهذا الحديث». (صحيح مسلم مع شرح للنووي ج١، ص٢٩٣، كتاب صلوة الاستسقاء)الخرج ابو داؤد عن انس بن مالك ان النبي ﷺ كان يستسقى هكذا يعنية و مد يديه و جعل بطونهما مما يلى الارض حتى رأيت بياض ابطيه. (ابو داؤد ج١، ص١٧٢، باب رفع اليدين في الاستسقاء) و مثله في مشكوة المصابيح ج١، ص١٣١، باب الاستسقاء)

د استسقاء په لمانځه کښې د څادر د اړولو حکم

الاستفتاء: آيا د استسقاء په لمانځه کښې د څادر اړول ثابت دي او که نه؟ او که ثابت وي نو طريقه ئې څه ده؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د استسقاء په لمانځه کښې يوائې د امام لپاره مستحب دي چه تر لمانځه وروسته خپل څادر د اسې واړوي چه د پورتنۍ برخه کښته راشي او کښتنۍ برخه پورته راشي په داسې حال کښې چه ښي خوا به کيڼې خواته راځي او کيڼه خوا به ښۍ خواته راځي.

قال العلامة ابن الهمام: واعلم أن كون التحويل كان تفاؤلا جاء مصرحا به في المستدرك من حديث جابر وصححه قال: «حول رداءه ليتحول القحط» . وفي طوالات الطبراني من حديث أنس «وقلب رداءه لكي ينقلب القحط إلى الخصب» (فتح القدير ج ۲، ص ٦٢، باب الاستسقاء) قال العلامة الزيلعي : قال محمد يقلب الامام ردائه دون القوم (و بعد اسطر) و ما رواه محمد محمول على انه عليه الصلوة والسلام فعله تفاولاً ...... او عرف با لوحى تغير الحال عند تغيير الرداء و كيفية القلب على قول من يراه ان يجعل اعلاه اسفله ما امكن و ان لم يمكن كا لجبة جعل يمينه على يساره. (تبيين الحقائق ج ۱، ص ۲۳۱، باب الاستسقاء) و مثله في الهندية ج ۱، ص ١٥٤ ، باب الاستسقاء)

د استسقاء تر لمانځه وروسته د ډېر باران له وجهې له نقصان څخه د بچ كيدو لپاره د دعا حكم

الاستفتاء: كه چيرته د استسقاء تر لمانځه وروسته دومره زيات باران وشي چه خلكو ته نقصان وركوونكي ثابت شي نو آيا د هغه د بندولو لپاره له الله تعالي څخه دعا غوښتل كيدلي شي او كه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: كه چيرته باران دومره زيات وشي چه خلک تـرې تنگ شي او په هغه كښې د ځاني او مالي نقصان خطر وي نو د هغه د بندولو لپاره دعا كيدلي شي. له رسول الله ﷺ څخه پخپله د اسې كول ثابت دي-

قال العلامة ابن عابدين: (فلا باس با لدعاء بحبسه) اي فيقول كما قال اللهم حو الينا و لا علينا اللهم على الآكام و الظراب و بطون الأودية و منابت الشجر. (رد المحتار ج ۲، ص١٨٦، باب الاستسقاء) قال العلامة ابراهيم الحلبي: و اذا دام المطر حتى خيف ضرره قانواللهم حو الينا و لا علينا اللهم على الآكام الى آخره، (كبيري ص ٤٢٨ ، باب الاستسقاء) و مثله في الفقه الاسلامي و ادلته ج۲، ص ٤٢٧ ، باب الاستسقاء)

د استسقا د لمانځه لپاره تر دريو ورځو زيات د وتلو حکم

الاستفتاء: په عامه توګه خلک د استسقاء د لمانځه لپاره تر دريو ورځو پورې ووځي او وايي چه تر دريو ورځو څخه زيات وتل جائز نه دي. آيا دا خبره صحيح ده او که څنګه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د سلف صالحينو او فقهي ذخائرو څخه تر دريو ورځو پورې وتل منقول دي او له دې څخه زيات وتل نه دي راغلي. د دې لپاره يواځې تر دريو ورځو پورې پرله پسې وتل جائز دي.

قال العلامة الحصكفي: و يحرجون ثلاثة ايام لانه لم ينقل أكثر منها متتابعات. (الدر المختار على صدر رد المختار ج ٢، ص ١٨٥، باب الاستسقاء) قال العلامة الكاساني: ثم المستحب ان يخرج الامام و الناس ثلاثة ايام متتابعة لان المقصود من الدعاء الاجابة و الثلاثة مدة ضربت لابلاء العذر. (بدائع الصنائع ج١، ص ٢٨٤، صلوة الاستسقاء) و مثله في الهندية ج١، ص١٥٤ باب الاستسقاء

استسقاء د لمانځه لپاره يواځې په دعا باندي كفايت كول جائز دي

الاستفتاء: آيا د استسقاء لپاره يواځې لمونځ كول مسنون دي او كه تر فرض لمونځونو وروسته يا په نورو حالاتو كښې دعا هم غوښتل كيدلي شي؟ يوه مولوي صاحب د استسقاء د لمانځه په تقرير كښې يواځې دعا بدعت و بلله؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د استسقاء لپاره له حضور څخه مختلف اعمال مروي دي چه په هغو كښې دعا هم راغلې ده. د دې لپاره امام ابو حنيفة له جماعت سره استسقاء يواځې تر جواز پورې محدود بولي. له دې وجهې كه چيرته د استسقاء لپاره يواځې دعا وشي نو بيا هم جائز دي. او دې ته بدعت ويل د شرعي دلائلو څخه د ناخبرۍ دليل دی- البته امام به د دعا لپاره قبلې ته مخامخ دريږي او مقتديان به ناست وي.

قال العلامة الحصكفي: هو دعاء و استغفار لانه السبب لارسال الامطار بلا جماعة مسنونة بل هي جائزة آه. قال ابن عابدين: (قوله هو دعاء) و ذلك ان يدعوا الامام قائما مستقبل القبلة رافعاً يديه و الناس قعود مستقبلين القبلة يؤمنون على انه با للهم اسقنا غيثاً مغيثاً هنيئا مريئاً مريعاً غدقا مجللا سحا طبقاً دائماً الخ. (رد المحتار ج۲، ص ۱۸٤، باب الاستسقاء)قال العلامة برهان الدين المرغيناني: قال ابو حنيفة ليس في الاستسقاء صلوة مسنونة في جماعة فان صلى الناس وحدانا جاز، انما الاستسقاء الدعاء و الاستغفار لقوله تعالى: إستغفروا ربكم إنه كان غفارا يرسل السماء عليكم مدراراً، (الهداية ج۱، ص۱۵۸ ، باب الاستسقاء) و مثله في الهندية ج ۱ ، ص ۱۵۳، باب الاستسقاء)

باب سجود السهو

د سهوې د سجدې لپاره يوې خوا ته سلام اړول كافي دي

الاستفتاء: په سجده سهو كښې دواړو خواوو ته سلام ګرځول كيږي او كه يوې خوا ته؟ او آيا په دې كښې امام او يوائې لمونځ كوونكي سره برابر دي او كه څنګه؟

الجواب حامدا ومصليا: د امام، مقتدي او يوائې لمونځ كوونكي لپاره په سجده سهو كښې د ټولو فقهاوو په نزد يوې خوا يعني ښۍ خوا ته سلام ګرځول او سجده كول بهتر دي-ليكن ځينو محققينو لكه صاحب هدايه او داسې نورو دواړو خواوو ته سلام ګرځول راجح بللي دی- اګر كه د ځينو فقهاوو په نزد دواړو خواوو ته په سلام ګرځولو سره له لمانځه څخه د وتلو له وجهې سجده سهو ساقطيږي . البته دواړه طريقې جائزې دي ليكن يوې خوا ته سلام ګرځول بهتر دي-

قال علي بن ابي بكر المرغيناني: و يأتي بتسليمتين هو الصحيح . (الهداية ج١، ص ١٤٠، باب سجود السهو) قال علاء الدين الحصكفي: يجب بعد سلام واحد عن يمينه فقط، لانه المعهود و به يحصل التحليل و هو الاصح بحر عن المجتبى و عليه لو الى بتسليمتين سقط منه السجود. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٢، ص٧٨، باب سجود السهو)قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالى: (و يكتفى بتسليمة واحدة) فان ه شيخ الاسلام و عامة المشائخ و هو الاضمن للاحتياط و الاحسن و يكون (عن يمينه) لانه المعهود به يحصل التحليل فلا حاجة الى غيره خصوصاً و قد قال شيخ الاسلام خواهر زاده لا يأتي بسجود السهو بعد التسليمتين لان ذلك بمنزلة الكلام (في الاصح) و في الهداية و يأتي بتسلميتين هو الصحيح. قال العلامة السيد احمد الطحطاوي تحت قوله و يأتي بتسليمتين هو الصحيح) ايده العلامة خسرو بما لا مزيد عليه. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص٣٧٦/٣٧٧، باب سجود السهو) و مثله في الفتاوى الهندية ج١، ص ١٢٥، الباب الثاني عشر في سجود السهو)

له سورت فاتحه څخه که چیرته یو حرف هم پاتې شي نو سجده سهو واجبیږي

الاستفتاء: د لمانځه په لومړي رکعت کښې که چیرته له سورت فاتحه څخه إياک نعبد وإياک نستعين سهواً پاتې شي نو آيا لمونځ ورسره کيږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: د فرضو په لومړي دوه رکعتونو کښې او د سنتو، وترو او نفلو په ټولو رکعتونو کښې که چیرته له سورت فاتحه څخه یو حرف هم پاتې شي نو سجده سهو واجبیږي۔او که چیرته سجده سهو و نه کړي نو د لمانځه بیرته ګرځول پرې واجب دي۔

قال العلامة الحصكفي: (قرأة فاتحة الكتاب) فيسجد للسهو بترك اكثرها لا اقلها. لكن في المجتبى يسجد بترك آية منها و هو اولى. قلت و عليه فكل آية واجبة.قال ابن عابدين: تحت هذه العبارة اى و بناء على ما في المجتبى فكل آية واجبة و فيه نظر لان الظاهر ان ما في المجتبى مبنى على قول الامام بانها بتمامها واجبة.

و ذكر الآية تمثيل لا تقيد. اذ بترك شيء منها آية او اقل و لو حرفاً لايكون أتيا بكلها الذي هو الواجب كما ان الواجب ضم ثلاث آيات فلو قرأ دونها كان تاركا للواجب افاده الرحمتي. (الدرالمختار و رد المحتار ج ١، ص ٤٥٨ ، مطلب كل صلوة اديت مع كراهية التحريم تجب اعادتها)قال ابن نجيم المصرى: الاول قرأة الفاتحة الخ الى ان قال و ان ترك اقلها لا يجب (أي السجود) لان للاكثرحكم الكل كذا في المحيط و سواء كان اماما او منفرداً كذا في التجنيس و في المجتبى اذا ترك من الفاتحة آية وجب عليه السجود و ان تركها في الآخرين لا يجب ان كان في الفرض و ان كان في النفل أو الوتر وجب عليه لوجوبها في الكل الخ.و قال ابن عابدين: تحت هذه العبارة (قوله و في المجتبى اذا ترك الخ) قال في النهر و هو اولى و يؤيده ما سيأتي و حكاه في المعراج عن شيخ الاسلام ثم قال و عند ابي يوسف و محمد اذا قرأ اكثرها لا يجب أه. (البحر الرائق على صدرمنحة الخالق ج٢ ، ص ٩٣/٩٤، باب سجود السهو

د سورت فاتحې په پاتې کېدو سره سجده سهو واجبيږي

الاستفتاء: زيد د سهار د لمانځه جمعه ورکوله چه له تکبير اولي څخه وروسته ئې د سورت فاتحه په ځاي د کوم بل سورت تلاوت شروع کړ. د ورپه زړه کيدو په صورت کښې که چيرته فاتحه تلاوت کړي نو آيا سجده سهو پرې واجبيږي او که نه؟ همدارنګه که چيرته په همدي رکعت کښې ورپه زړه نه شي بلکه په دوهم رکعت کښې ئې ورپه زړه شي نو آيا په سجده سهو باندې اکتفاء کولي شي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: په نوموړي صورت کښې اګر که د ورپه زړه کيدو په صورت کښې امام سورت فاتحه تلاوت کړي دي ليکن د سورت فاتحه تر ځنګ ضم سورت او د فاتحه تر منځ دا ترتيب هم واجب دي چه سورت فاتحه به مخ کښې وايي او بل سورت به وروسته وايي - چونکه له زيد (امام) څخه ترتيب خراب شوي دي نو ځکه سجده سهو پرې واجبه ده. لکه څرنګه چه د سورت فاتحه ياد ضم سورت په پاتې کيدو سره سجده سهو واجبيږی.

و قال ابن نجيم المصرى: و قد قدمنا في ذكر الواجبات انه يجب تقديم الفاتحة على السورة و انه يجب ان يؤخر السورة عن قرأةالفاتحة فكذا لو بدأ با لسورة ثم تذكر يبدأ با لفاتحة ثم يقرأ السورة و يسجد للسهو و ان

قرأ من السورة حرفاً كذا في المجتبى. وقيده في فتح القدير بان يكون مقدار ما يتأدى به ركن عن قرأة الفاتحة. (البحر الرائق ج۲، ص ۹٤، باب سجود السهو)و ايضاً قال ابن نجيم: الاول قرأة الفاتحة فان تركها في احدى الاوليين او اكثرها وجب عليه السجود. (البحرالرائق ج۲، ص۹۳، باب سجود السهو)قال العلامة فخر الدين الزيلعي: منها قرأة الفاتحة و السورة فلو ترك الفاتحة او اكثرها في الاوليين وجب عليه سجود السهو. . و لو قرأ الفاتحة وحدها و ترك السورة يجب عليه سجود السهو كذا لو قرأ مع الفاتحة آية قصيرةلان قرأة ثلاث آيات قصار او آية طويلة مع الفاتحة واجبة و لو اخر الفاتحة عن السورة فعليه سجود السهو. (تبيين الحقائقج۱، ص۱۹۳، باب سجود السهو)و مثله في الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۲٦ ، باب سجود السهو)

د ضم سورت په پــــاتې کيدو سره د سجده سهو وجوب

الاستفتاء: که چيرته کوم لمونځ کوونکي د سورت فاتحه تر تلاوت کولو وروسته ضم سورت بالکل پرېږدي نو آيا لمونځ ئې کيږي او که نه؟ همدارنګه که چيرته په آخر کښې نوموړي سجده سهو وکړي نو لمونځ ئې پوره کيږي او که بيرته راګرځول ئې پرې واجب دي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا باسم مقدم الصواب: په لمانځه کښې نفس قرائت فرض دی. البته سورت فاتحه او له هغې سره کوم سورت يو ځاي کول واجب دي. په دغو دواړو کښې چه کوم يو پاتې شي نو لمونځ يي کيږي او په آخر کښې د سجده سهو په کولو سره بيرته پوره کيږي. او که چيرته په دغو دواړو کښې يو ئې په قصد سره پرېږدي نو بيا په سجده سهو سره ئې هم لمونځ نه پوره کيږي بلکه د لمانځه بيرته ګرځول پرې و اجبيږي. همدارنګه د نفس قرائت په پاتې کيدو سره د فرضو د پاتې کيدو له وجهې لمونځ نه کيږي

-قال الامام الكاساني: منها قرأة الفاتحة و السورة في صلوة ذات ركعتين و في الاوليين من ذوات الاربع و الثلاث حتى لو تركهمااو احدهما فان كان عامداً كان مسيئاً. و ان كان ساهيا يلزمه سجود السهو، (بدائع الصنائع ج ۱، ص ۱٦۰ ، باب سجود السهو) قال ابن نجيم: الاول قرأة الفاتحة فان تركها في احدى الاولين او اكثرها وجب عليه السجود و ان ترك اقلها لا يجب لان للأكثر حكم الكل كذا في المحيط وسواء كان اماماً

او منفرداً كذا في التجنيس . و ان تركها في الأخيرين لا يجب ان كان الفرض و ان كان النفل او الوتر وجب عليه لوجوبها في الكل. قد قدمنا انه لتركها في الأوليين لا يقضيها في الآخرين في ظاهر الرواية. و ايضاً قال فلو لم يقرأ شيئا مع الفاتحة او قرأ آية قصيرة لزمه السجود. (البحر الرائق ج٢ص ۹۳/۹٤، باب سجود السهو)

په لمانځه کښې د ضم سورت او فاتحه تر منځ د تکبيـــر په ويلو سره د سجده سهو حکم

الاستفتاء: که چيرته يو لمونځ کوونکي د وترو په دريم رکعت کښې د سورت فاتحه تر لوستلو وروسته تکبير ووايي، لاسونه پورته کړي ليکن فورا ئي ضم سورت ور په زړه شي او سورت ووايي. بيا تکبير ووايي، لاسونه پورته کړي او دعاء قنوت ولولي. نو آيا په دې صورت کښې سجده سهو واجبه ده او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په نوموړي صورت کښې د سجده سهو د قواعد و له مخې سجده سهو واجبه نه ده ځکه چه سجده سهو په کوم رکن کښې په دومره ځنډ باندې واجبيږي چه په هغه کښې په مسنونې طريقې سره د لمانځه يو کوچنية رکن لکه رکوع يا سجده ادا کيږي. لهذا په رکوع يا سجدې کښې درې واړې سبحان ربي العظيم يا سبحان ربي الاعلي په ويلو سره د حروفو د تلفظ وخت پکښې لګيږي. د دې لپاره په نوموړي صورت کښې د الله کبريوائي د اتو حروفو په تلفظ سره سجده سهو نه واجبيږي-

قال العلامة الشيخ احمد الطحطاوي: و من الواجب تقديم الفاتحة على السورة و ان لا يؤخر السورة عنها بمقدار اداء ركن الخ. (طحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۷٥، باب سجود السهو)و في الهندية: و لو آخر الفاتحة عن السورة فعليه سجود السهو كذا في النبيين والهندية ج١، ص١٢٦، باب سجود السهو

) ليکن دا جزئيه مجمله ده او پورتنۍ جزئيه صريح ده د دې لپاره مفتي به قول د طحطاوي دی-منه (مرتب)

د لمانځه د دوهمې سجدې د هيريد و په صورت کښې له سلام اړولو څخه وروسته هغه سجده بيا اداکيدلي شي

الاستفتاء: که چيرته له چا څخه په کوم رکعت کښې دوهمه سجده په هيرې سره پاتې شي او د سلام له اړولو څخه وروسته ور په زړه شي نو آيا د سلام په اړولو سره دا سړي له لمانځه څخه د باندې ګڼل کيږي او که د ننه ګڼل کيږي؟ همدارنګه که چيرته له لمانځه سره کوم منافي کار هم تر سره کړي نو بيا په دې صورت کښې به دي څه کوي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: تر څو پورې ئې چه له لمانځه سره کوم منافي کار نه وي کړي نو د سلام له اړولو وروسته هم د اسړي په لمانځه کښې د ننه ګڼل کيږي. په دې صورت کښې دې دا سړي سجده ثانيه صلوتيه صلبيه ادا کړي بيا دې قعده وکړي تشهد دې ووايي او سجده سهو دې ادا کړي. بيا دې قعده وکړي او خپل لمونځ دې مکمل کړي سلام دې وګرځوي. او که چيرته يو داسې کار وکړي چه د لمانځه منافي وي نو بيا له لمانځه څخه وتلي دي او د سجدې په کولو سره ئې لمونځ نه مکمل کيږي بلکه د لمانځه بيرته راګرځول پرې واجب دي-

قال الامام الكاساني: و ان كان ساهياً عنها (اى عن سجدة صلبية و سجدة التلاوة و سلم) لا يخرج عن الصلوة. و عليه ان يسجد لكل واحدة منهما الأول فا لاول منهما ثم يتشهد بعدهما و يسلم. ثم يسجد سجدتي السهولم يتشهد ثم يسلم الخ. (بدائع الصنائع ج۱، ص۱۷۰)قال الشيخ طاهر بن عبد الرشيد البخاري: و ان سلم و هو غير ذاكرا لهما (اي سجدة صلبية و سجدة التلاوة) فان سلامه لا يكون قطعاً و عليه ان يسجد للتلاوة و يسجد للصلوتية الاول. فا لاول ثم يتشهد ثم يسلم ثم يسجد سجدتي السهو ثم يتشهد ثم يسلم الخ. (خلاصة الفتاوى ج۱، ص ۱۸۰، باب سجود السهو)

د لومړي او دريم رکعت څخه وروسته اوږده جلسه د سهو موجب ده

الاستفتاء: په دوو يا څلورو رکعتونو کښې امام په لومړي يا دريم رکعت کښې له دوهمې سجدې وروسته دومره ډير کښيني چه مقتديان ټول ودريږي او بکر (مقتدي) فتح ورکړه بيا امام صاحب له قعدې څخه جګ شو او ودريد. نو آيا په دې صورت کښې سجده سهو واجبيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: كه چيرته دا قعده له اول ركعت يا دريم ركعت څخه وروسته اوږده شي يعنې دومره ځنډ وشي په څومره وخت كښې چه د لمانځه يو كوچنية ركن په مسئلونه طريقه سره ادا كيدلي شي لكه په ركوع يا سجده كښې د درې ځله تسبيحاتو په ويلو باندې چه څومره وخت مصرفيږي نو د دومره ځنډ په كولو سره سجده سهو واجبيږي -

قال ابن عابدين: و كذا القعدة في آخر الركعة الأولى أو الثالثة فيجب تركها. و يلزم من فعلها ايضاً تأخير القيام الى الثانية او الرابعة عن محله. و هذا اذا كا نت القعدة طويلة. اما الجلسة الخفيفة التي استحبها الشافعي فتركها غيرواجب عندنا بل هو الافضل كما سيأتي. (رد المحتار ج ۱، ص ۳٤۷، واجبات الصلوة) قال صاحب ملتقى الابحر : تحت ان قرأ في ركوع او قعود او قدم ركناً او اخره او كرره او غير واجباً او تركه كركوع قبل القرأة و تأخير القيام الى الثالثة بزيادة التشهد قال شارحه شيخ زاده و اختلفوا في مقدار الزيادة فقال بعضهم بزيادة حرف و كلام المصنف الى هذا و قال بعضهم بقدر ركن و هو الصحيح كما في اكثر الكتب . (مجمع الانهر ج۱، ص ۱٤۸، باب سجود السهو) و مثله في حاشية امداد الفتاوي ج ۱، ص ۳۵۲ تا ۳۵۵، باب سجود السهو.

د مابنام په لمانځه كښې له امام سره د يوه ركعت تر پيد اكولو وروسته په دو هم

الاستفتاء: يوه سړي د مابنام په لمانځه كښې له امام سره په داسې وخت كښې شامل شو چه امام صاحب دوه ركعته كړي وو. د عامو اقوالو مطابق دا سړي به يو بل ركعت ادا كوي او اوله قعد به كوي ليكن په داسې حالت كښې كه چيرته له نوموړي مسبوق څخه دا قعده كومه چه له امام څخه ئې وروسته په يوائې توګه اداكوي پاتې شي نو سجده سهو پرې و اجبيږي او كه نه؟

الجواب حامدا و مصليا: اوله قعده اګر كه واجبه ده چه په پريښودو سره ئې سجده سهو واجبيږي ليكن په نوموړي صورت كښې له مسبوق څخه د دې قعدې په پاتې كيدو سره استحساناً سجده سهو واجبه نه ده او لمونځ ئې هم صحيح دى

-قال ابن عابدين: (قوله و عليه ان يقضى ركعة بتشهد الخ) يعني الركعة الاولى من الركعتين. قال في شرح المنية حتى لو أدرك مع الامام ركعة من المغرب فانه يقرأ في الركعتين الفاتحة و السورة. و يقعد في اولهما لانها ثانية و لو لم يقعد جاز استحساناً لا قياساً و لم يلزمه سجود السهو و لو سهواً لكونها اولى من وجه آه. و لا يخالفه ما نقله العيني عن المبسوط من ان هذا استحسان و القياس ان يصلى ركعتين ثم يقعد ووجه الاستحسان ان هذه الركعة ثانية لهذا المسبوق و القعدة بعد الركعة الثانية من المغرب سنة آه. (منحة الخالق على البحر الرائق ج١، ص٣٧٩، باب الحدث في الصلوة) قال العلامة الحصكفي: فمدرك ركعة من غير فجر يأتي بركعتين بفاتحة و سورة و تشهد بينهما. قال ابن عابدين (تحت قوله و تشهد بينهما) قال في شرح المنية و لو لم يقعد جاز استحساناً لا قياساً و لم يلتزمه سجود السهو لكون الركعة اولى من وجه. (رد المحتار ج١، ص ٥٩٧، باب اللاحق و المسبوق) و مثله في كبيري ص٤٦٨، باب سجود السهو)

اولـــــي قعده كښې د زيانولي لـهوجهې د سجده سهو حكـــــم

الاستفتاء كه چيرته يو څوک د څلورو مؤكد و سنتو په لومړي قعدې كښې له تشهد برسيره د درود شريف يو څو كلمې هم زياتې كړي نو د داسې سړي د لمانځه حكم څه دى؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا د درود شريف لوستل پخپل ذات كښې د سجده سهو موجب نه دي بلكه د درود شريف په ويلو سره د دريم ركعت په قيام كښې ځنډ راځي كوم چه د سجده سهو موجب دي بلكه د اولې قعدې د تشهد تر لوستلو وروسته كه چيرته يو څوک همداسې هم په كومې خاصې اندازې سره ځنډ وكړي نو بيا به سجده سهو واجبيږي -

-قال ابن نجيم المصرى: و منها لو كرر التشهد في القعدة الاولى فعليه السهو لتاخير القيام و كذا لو صلى علي النبي ﷺ فيها لتاخيره و اختلفوا في قدره و الاصح وجوبه با للهم صل على محمد و ان لم يقل و على آله. و ذكر في البدائع انه يجب عليه السجود عندة و عندهما لا يجب لانه لو وجب لوجب لجبر النقصان و لا يعقل نقصان في الصلوة علي رسول الله ﷺ و ابو حنيفة رحمه الله يقول لا يجب عليه با لصلوة على النبي ﷺ بل بتاخير الفرض و هو القيام الا ان التاخير حصل با لصلوة فيجب عليه من حيث

انها تاخير لا من حيث انها صلوة على النبيﷺ آه. و قد حكى في المناقب ان ابا حنيفة رحمه الله رأى النبيﷺ في المنام فقال له كيف اوجبت على من صلى على سجود السهو فاجابه بكونه صلى عليك ساهياً فاستحسنه منه. (البحر الرائق ج ۲، ص ۹۷، باب سجود السهو)قال العلامة ابراهيم الحلبي: فان زار على القدر التشهد . قال المشائخ: ان قال اللهم صل على محمد ساهياًيجب عليه سجدتا السهو و عن ابي حنيفة فيما رواه الحسن عنه ان زاد حرفاً واحدا فعليه سجدتا السهو. قال المصنف اكثر المشائخ على هذا اى على انه يلزمه السهو بزيادة حرف واحد. و في الخلاصة و المختار انه يلزمه السهو ان قال اللهم صل على محمد. قال البزازي: لانه ادى سنة فيلزم بتاخير الركن يجب سجود السهو. (كبيري ص۳۳۰ باب سجود السهو) و مثله في خلاصة الفتاوى ج ۱، ص ۱۷۷، باب في عشر الصلوة السهو، جنس آخر في المقدمة

په څلورو رکعتو نفلو کښې د اولـــې قعدې په پاتې کېدو سره د لمانځه حکم

الاستفتاء: که چیرته یو څوک په څلورو رکعتو نفلو کښې په لومړۍ قعدې کښې د ناستې په ځای دریم رکعت ته لاړ شي نو لکه څرنګه چه د نفل هره شفعه د مستقل لمونځ والي له وجهې اوله قعده فرض وي د دې لپاره باید چه لمونځ ئې صحیح نه شي؟ شرعاً د دې حکم څرګند کړي تر خو عند الله مأجور وګرځی؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: په صورت مسئوله کښې د فقهاوو تر منځ اختلاف دي چه تر څو پورې لمونځ کوونکي د دریم رکعت سجده نه وي کړې نو د ځینو په نزد باید بیرته لومړۍ قعدې ته راشي، کښیني او تشهد دې ووایي بیا دې دریم رکعت ته لاړ شي. او د ځینو فقهاوو په نزد د فرضو غوندې دریم رکعت ته تر درید و وروسته به بیرته نه ګرځي بلکه خپل لمونځ به جاري ساتي او په آخر کښې به د واجبو د ترک له وجهې سجده سهو وکړي نو لمونځ ئې پوره کیږي. د علامه شامي هم همدغه رأیه ده او د ا رایه آسانه هم ده–

..قال العلامة الحصكفي: سها عن القعود الأول الى ان قال اما النفل فيعود ما لم يقيد با لسجدة. قال ابن عابدين: تحت هذه العبارة (قوله اما النفل فيعود الخ) جزم به في المعراج و السراج و علله ابن وهبان بان كل شفع منه صلوة على حدة، لا سيما على قول محمد بان القعدة الأولى منه فرض فكا نت كا لاخيرة و فيها يقعد

و ان قام و حكي في المحيط فيه خلافاً، و كذا في شرح التمرتاشي قيل يعود. و قيل لا يعود. و قال بعد سطر واحدة. لكن في التاتارخانية عن العتابية قيل في التطوع يعود ما لم يقيده با لسجدة و الصحيح انه لا يعودالخ. (رد المحتار ج ۲، ص ۸۳، باب سجود السهو) و ايضاً قال الحصكفي: و لو ترك القعود الاول في النفل سهواً سجد (اى للسهو) و لم تفسد استحساناً لانه كما شرع ر كعتين شرع اربعاً ايضاً و قدمنا انه يعود ما لم يقيد الثالثة بسجدة. و قيل لا. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج۲، ص ۸۸، باب سجود السهو)قال ابن نجم المصرى: اما في النفل اذا قام إلى الثالثة من غير قعدة فانه يعود و لو استتم قائماً ما لم يقيدها بسجدة كذا في السراج الوهاج. و حكى فيه خلافاً في المحيط. قيل لا يعود لانه صار كا لفرض. و قيل يعود ما لم يقيدها بالسجدة. لان كل شفع صلوة على حدة في حق القرأة فامرناه با لعود الى القعدة احتياطاً، و منى عاد تبين ان القعدة وقعت فرضاً فيكون رفض الفرض لمكان فيجوز. (البحر الرائق ج۲، ص۱۰۱، باب سجود السهو)

د اولـــه قعدې په پرېښودو او قيام ته په تلو سره د بيرته راګـــرځيدو په صورت كښې لمونځ نه فاسديږي

الاستفتاء: كه چيرته امام د ماسخوتن په لمانځه كښې په لومړۍ قعدې باندې د كښيناستو په ځاي قيام ته لاړ شي او له شا څخه مقتدي فتح وركړي او امام په مكمله توګه د دريد و تر څنګ فوراً بيرته كښيني نو آيا په لمانځه باندې كوم اثر لويږي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د قواعد و له مخې اوله قعده واجبه ده او قيام فرض دي د دې لپاره د واجب په پاتې كيدو سره امام بايد بيرته ورو نه ګرځي ليكن چه كله امام بيرته را وګرځي او كښيني نو د مفتي به قول مطابق لمونځ نه فاسديږي ليكن نقصان پكښې پيدا كيږي. البته د سجده سهو په كولو سره ئې لمونځ پوره كيږي. او كه چيرته سجده سهو و نه كړي نو لمونځ به واجب الاعاده وي

-قال ابن نجيم المصرى: و ان سها عن القعود الاول و هو اليه اقرب عاد و الا لا و قال بعد عدة اسطر، و ذكر في المبسوط من الثانية الى الثالثة قبل ان يقعد فسبحوا به فعاد و روى انه لم يعد و كان بعد ما استتم قائماً و هذا لانه لما استم قائماً اشتغل بفرض القيام فلا يترك آه. وصححه الشارح. و في فتح القدير انه ظاهر المذهب و التوفيق بين الفعلين المرويين با لحمل على حالتي القرب من القيام و عدمه ليس باولى منه با لحمل على الاستواء و عدمه ثم لو عاد في موضع وجوب عدمه اختلفوا في فساد صلوته فصحح الشارح الفساد لتكامل الجناية برفض الفرض بعد الشروع فيه لاجل ما ليس بفرض و في المبتغى با لغين المعجمة انه غلط لانه ليس بترك و انما هو تأخير كما لو سها عن السورة فركع فانه يرفض الركوع و يعود الى القيام و يقرأ لاجل الواجب الخ. ان قال لا تفسد على الاصح. (البحر الرائق ج ۲، ص ۱۰۱/۱۰۰، باب سجود السهو)قال ابن عابدين: و قد نقل المقدسي عن شرحي القدوري للمذكورين بعد نقله تصحيح الصحة عن المعراج و الدراية، ما نصه ان عاد للقعود يكون مسيئاً و لا تفسد صلوته و يسجد لتاخير الواجب . (منحة الخالق على هامش البحر الرائق ج ۲، ص ۱۰۱، باب سجود السهو)

د ماسخوتن په آخري رکعت کښې جهر د سجده سهو موجب دی

الاستفتاء: د ماسخوتن په لمانځه کښې د فرضو په آخري دوه رکعتونو کښې په جهر سره د قرائت کولو په صورت کښې په لمانځه باندې کوم اثر لويږي او که نه؟ آيا په دې کښې نسيان او عمد سره برابر دي او که فرق شته پکښې ؟بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د ماسخوتن د فرضو په دوه آخري رکعتونو کښې اخفاء واجبه ده -لهذا په جهر سره د قرائت ويلو په صورت کښې د واجبو د ترک له وجهې سجده سهوا واجبيږي. او په قصد سره په زوره د قرائت ويلو په صورت کښې په سجده سهو باندې کفايت نه کيږي بلکه د لمانځه اعاده به واجبه وي ځکه چه په سجده سهو سره د هيرې (نسيان) جبيره (پټې) کيږي-

قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاري: و لو جهر فيما يخافت فيه و هو امام عليه السهو قل ذلك او كثر. وكذا اذا خافت فيما يجهر فيه قل ذلك او كثر عليه السهو ان فعل ساهياً في ظاهر الرواية. و عليه اعتماد شمس الائمة الحلواني لا على رواية النوادي، و لا سهو على المنفرد في شيء من ذلك و لو جهر في الآخرين لزمه السهو. (خلاصةالفتاوى ج ۱، ص ۱۷۵، جنس في القرأة و الاذكار) قال العلامة الحد كفي: و الجهر فيما يخافت فيه للامام (و عكسه) لكل مصل في الاصح و الاصح تقديره.وبقدر ما تجوز به الصلوة في الفصلين، و قيل قائله قاضي خان يجب السهو بهما اي با لجهر و المخافة مطلقاً اى قل او كثر و هو ظاهر الرواية. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص۸۱، باب سجود السهو)

د دعــاء قنوت په تکرار باندې د سجده سهو حکم

الاستفتاء: د دعاء قنوت د تکرار له وجهې سجده سهو واجبيږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: د دعاء قنوت د تکرار له وجهې سجده سهو واجبيږي ځکه چه په دې سره په رکن کښې تاخير راځي کوم چه د واجبو له ترک سره برابره ده. .

و في الهندية: و لا يجب السجود الا بترك واجب او تاخيره او تاخير ركن او تقديمه او تكراره او تغيير واجب . قال ابن نجيم المصرى: و في فتح القدير و لو قرأ القنوت في الثالثة و نسي قرأة الفاتحة او السورة او كليهما فتذكر بعد ما ركع قام و لو قرأ او اعاد القنوت و الركوع لانه رجع الى محله و يسجد للسهو (البحر الرائق ج ۲، ص۱۹٦ (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۲٦، باب سجود السهو) باب سجود السهو) و مثله في فتح القدير ج ۱، ص ٤٣٩ ، باب سجود السهو

پـــه سهوه سره د دعاء قنوت په پاتې کيدو باندې سجـــده سهو واجبيږي

الاستفتاء: که چيرته په وترو کښې له چا څخه دعاء قنوت هير شي نو د سلام له ګرځولو څخه وروسته د ور په زړه کيدو په صورت کښې به څه طريقه اختيار وي؟

الجواب حامدا و مصليا: که چیرته د وترو په لمانځه کښې له چا څخه دعاء قنوت هیر شي او تر سلام گرځولو وروسته د ور په زړه کیدو په صورت کښې فوراً سجده سهو وکړي نو لمونځ ئې مکمل کیږي په دې شرط چه له سلام څخه وروسته کوم د اسې کار و نه کړي چه د لمانځه منافي وي او که نه نو بیا ئې لمونځ واجب الاعاده دی. همدارنگه که چیرته په قصد سره دعاء قنوت پرېږدي نو په دې صورت کښې هم د لمانځه بیرته راگرځول ضروري دي۔

قال طاهر بن عبد الرشيد البخاري: و لو سلم و عليه السجدة الصلوتية و التلاوة او السهو. ان سلم و هو غير ذاكر للكل أو ذاكر للسهو لا يكون قطعاً. (خلاصة الفتاوي ج ۱، ص ۱۸۰، سجود السهو)و ايضا ذكر و أن سلم و هو لا يريد ان يسجد لسهوه لم يكن تسليمه ذلك قطعاً حتى لو بدا له ان يسجد و هو في مجلسه ذلك قبل ان يقوم و قبل ان يتكلم فانه يسجد سجدتي السهو فان تكلم او خرج من المسجد لا تأتى بهما و يسجد لسهوه بعد السلام عندنا و لو سجد قبل السلام لا يجب عليه اعادتهما بعد السلام لم يتشهد ثانياً بعد السجدتين و يقرا التشهد . (خلاصة الفتاوى ج۱، ص ۱۷۳، سجود السهو) قال قاضي خان: و لو ترك القنوت فذكر في القعدة او بعد ما قام من الركوع لا يقنت عليه السهو. (الفتاوى القاضي خان على هامش الهندية ج۱، ص۱۲۱، باب سجود السهو)

د آخري قعدې په پرېښودو سره د دوه نورو رکعتونو د وريو ځاي کولو په صورت کښې د لمانځه فـــرضيت په نفلو بدليږي

الاستفتاء: يوه سړي د څلور رکعته فرضو نيت وتاړه، آخري قعده ئې پريښوده او دوه رکعته نور ئې ورسره يو ځاي کړه.شرعا د داسې سړي د لمانځه څه حيثيت دی؟ او سجده سهو پرې واجبه ده او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: په صورت مسئوله کښې چه کله لمونځ کوونکي آخري قعده پريښوده او دوه رکعته نور ئې ورسره يو ځاي کړه نو دا شپږ رکعته ئې ټول نفل شول او د سجده سهو د کولو ضرورت ئې نشته، فرض لمونځ به بيا کوي.

قال الشيخ ابراهيم الحلبي. و ان سها عن القعدة الاخيرة في ذوات الاربع و قام الى الخامسة الى ان قال و ان قيد الركعة الخامسة با لسجدة بطل فرضه تحولت صلوته نفلاً عند ابي حنية فة و ابي يوسف. و بطلت اصلا عند محمد. و عليه ان يضم اليها (اى الخامسة) ركعة سادسة عندهما خلافاً لمحمد. و قوله و يسجد للسهو. هو قول بعض المشائخ و في النهاية و الاصح انه لا يسجد و كذا قال ابن الهمام الصحيح الله لا يسجد لان النقصان با لفساد لا ينجبر با لسجود الخ. (كبيري ص ٤٦٢ ، باب سجود السهو)و في الهندية: و ان لم يقعد على رأس الرابعة حتى قام الى الخامسة الى ان قال. و ان قيد الخامسة با لسجدة فسد فرضه عندنا كذا في المحيط و تحو لت صلوته نفلاً عند ابي حنية فة و ابي يوسف. ويضم البها ركعة سادسة و لو لم يتضم فلا شيء عليه كذا في الهداية. (الفتاوى الهندية ج١، ص١٢٩، باب سجود السهو) و مثله في البحر الرائق ج٢، ص ١٠٤، باب سجود السهو)

په آخـري قعده کښې دوارو خواوو ته تر سلام ګرځولو وروسته د يو هر کعت د پاتې کيدو د غالب ګومان يا شک حکم

الاستفتاء: که چيرته يوه سړي ته په آخري قعده کښې دوارو خواوو ته تر سلام ګرځولو وروسته د يوه رکعت د پاتې کيدو غالب ګومان وشي او د همدې غالب ګومان له وجهې بناء وکړي او د پاتې شوي رکعت د ادا کولو لپاره جګ شي او د همدې رکعات د ادا کولو په وخت په قيام رکوع کښې ورپه زړه شي چه رکعتونه خو مې پوره کړي دي. نو د شريعت له مخې به دا سړي اوس څه کوي؟

الجواب حامدا و مصليا: که چيرته يو څوک د ظن غالب له وجهې په آخري قعده کښې تر سلام وروسته يا مخ کښې متصلاً جګ شي چه زما په ذمه باندې يو رکعت پاتې دي او بيا په قيام يا رکوع کښې ييرته ورپه زړه شي چه رکعت مې نه دي پاتې بلکه لمونځ مې مکمل کړي دي نو دا سړي به فوراً کښيني، سلام به ګرځوي او که ئې په ولاړې سلام وګرځاوه نو بيا هم جائز دي ليکن د سنتو خلاف دی

-لما قال العلامة حماد بن حسن الستر بلالي: و ان قعد الجلوس الأخير قدر التشهد ثم قام و لو عمداً او قرأ و وركع عاد للجلوس لان مادون الركعة بمحل الرفض و سلم فلو سلم قائماً صح و ترك السنة لان السنة للتسليم جالساً من غير اعادة التشهد لعدم بطلانه با لقيام. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص۳۸۳، باب سجود السهو) قال العلامة الحصكفي: و ان قعد في الرابعة مثلا قدر التشهد ثم قام عاد و سلم و لو سلم قائما صح. قال العلامة ابن عابدين: قوله عاد و سلم اي عاد للجلوس لما مر ان ما دون الركعة محل الرفض و فيه اشارة الى انه لا يعيد التشهد و به صرح في البحر قال في الامداد و العود للتسليم جالساً سنة لان السنة التسليم جالساً الخ. (رد المحتار ج ۲، ص ۸۷، باب سجود السهو)

تــــر آخري قعدې وروسته د پنځم رکعت د سجدې د کولويــــانه

کولو په صورت کښې د لمانځه حکم

الاستفتاء: که چیرته امام آخري قعده وکړي او بیا ودریږي پنځم رکعت هم وکړي او په همدې پنځم رکعت باندې سجده سهو وکړي خپل لمونځ ختم کړي نو آیا د امام او مسبوق لمونځ به صحیح وي او که څنګه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا: د آخري قعدې په کولو سره لمونځ پوره شو. د پنځم رکعت په کولو سره په سلام کښې د تاخیر له وجهې سجده سهو کفایت کوي. لهذاد سجده سهو تر ادا کولو وروسته د امام او مقتدیانو لمونځونه صحیح دي لیکن د مسبوق لپاره ضروري دي چه تر آخري قعدې وروسته له امام څخه جلا شي او خپل لمونځ یواځې پوره کړي. که چیرته مسبوق په پنځم رکعت کښې د امام اقتدا وکړي نو لمونځ ئې فاسدیږي او د عدم موافقت له وجهې په مسبوق باندې سجده سهو هم نه لازمیږي. د دې لپاره په امام باندې سجده سهو هلته لازمه شوه په کوم وخت کښې چه مسبوق له امام څخه جلا او یواځې شوي وو

-قال العلامة علاؤ الدين الحصكفي: (و ان قعد في الرابعة) الخ (ثم قام عاد و سلم) و لو سلم قائما صح ثم الاصح ان القوم ينتظرونه فان عاد تبعوه (و ان سجد للخامسة سلموا لانه تم فرضه اذ لم يبق عليه الا السلام

الخ. الی ان قال و سجد للسهو في الصورتين (يعنى لم يسجد للخامسة او سجد لنقصان فرضه بتأخير السلام في الاولى و تركه في الثانية (يعنى بعدالسجدة للخامسة). (الدر المختار على هامش رد المحتار بتغير عبارة قليل و كثير ج ۱، ص ۵۳ ۵ ، باب سجود السهو) لما قال العلامة الحصكفي: و لو قام امامه لخامسة فتابعه ان بعد القعود تفسد و الا لا حتى يقيد الخامسة بسجدة. قال العلامة ، محمد امين قوله تفسد ای صلوة المسبوق لانه اقتداء في موضع الانفراد و لان اقتداء المسبوق بغيره مفسد كما مر قوله الا ای و ان لم يقعد و تابعه المسبوق لا تفسد صلوته لأن ما قام اليه الامام على شرف الرفض و لعدم تمام الصلوة الخ . (رد المحتار ج ۱، ص ۵۹۹ ، باب اللاحق و المسبوق)قال ابن نجيم المصرى: (و ان قعد في الرابعة ثم قام عاد و سلم الخ) و قال بعد سطر واحدة لم قبل القوم يتبعونه فان عاد عادوا معه و ان مضى في النافلة اتبعوه لان صلوتهم تمت با لقعدة. و الصحيح انهم لا يتبعونه لانه لا اتباع في البدعة. فان عاد قبل تقييد الخامسة با لسجدة اتبعوه با لسلام فان قيد سلموا في الحال (و ان سجد للخامسة تم فرضه و ضم.اليها سادسة) ای لم تفسد فرضه بسجوده كما فسد فيما اذا لم يقعد هذا هو المراد با لتمام و الا فصلاته ناقصة كما سيأتي وانما لم يفسد لان الباقي اصابة لفظ السلام و هي واجبة، و انما يضم اليها أخرى لتصير الركعتان له نقلاً للنهي عن الركعة الواحدة. فاذا ضم فانه يتشهد ويسلم ثم يسجد للسهو كما سيأتي، (البحر الرائق ج ۲، ص ۱۰٤، باب سجود السهو) و ايضاً قال ابن نجيم المصرى، و لو قام الامام الى الخامسة في صلوة الظهر فتابعة المسبوق ان قعد الامام على رأس الرابعة تفسد صلوة المسبوق و ان لم يقعد لم تفسد حتى يقيد الخامسة السجدة، فاذا قيدها با لسجدة فسد صلوة الكل. لان الامام اذا قعد على الرابعة تمت صلوته في حق المسبوق فلا يجوز للمسبوق متابعته. (البحر الرائق ج۱، ص۳۷۸، باب الحدث في الصلوة) و مثله في خلاصة الفتاوى ج ۱، ص ۱٦۱/۱٦٤، الفصل في السجود السهو)

په فرائضو او نوافلو کښې د سجده سهو حکم

الاستفتاء: په نوافلو کښې سجده سهو په سړي لازميږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: سجده سهو په حقیقت کښې په لمانځه کښې د ننه د کوم واجب په پاتې کیدو سره چه کوم کمي په لمانځه کښې راځي د هغه جبیره وي او د واجبو پاتې کیدل یو اځې له فرضو سره خاص نه دي بلکه په نوافلو کښې هم کیدلي شي. د دې لپاره د سجده سهو حکم په فرائضو او نوافلو کښې یو شان دي.

و في الهندية: و حكم السهو في الفرض و النفل سواء. كذا في المحيط. (الفتاوى الهندية ج۱ ، ص ۱۲٦ – باب سجود السهو)قال ابن نجيم المصرى رحمه الله: فإن سجود السهو في مطلق الصلوة و لا يختص با لفرائض. (البحر الرائقج ۲، ص ۹۱، باب سجود السهو)

د لمانځه په آخـــر کښې د سلام حکم

الاستفتاء: یوه لمونځ کوونکي یوې خوا ته سلام و اړاوه او بلې خوا ته ئې وانه ړاوه بلکه همداسې را ولاړ شو، یا که چیرته دواړو خواوو ته سلام و نه ګرځوي نو د داسې لمونځ کوونکي د لمانځه حکم به څه وي؟ آیا بیا به لمونځ کوي او که همدغه لمونځ ئې کافي دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: یوې خوا ته تر سلام اړولو وروسته لمونځ بغیر له کراهیت څخه صحیح. کیږي ځکه چه کله ئې سلام و اړاوه نو لمونځ پوره شو، البته بلې خوا ته سلام اړول هم واجب دي – لهذا د سینې تر ګرځولو او د خبرو تر کولو مخکښې دې بلې خوا ته هم سلام واړوي. او که چیرته ئې دواړو خواوو ته سلام و انه ړاوه نو له لمانځه سره تر منافي کار کولو مخکښې د ور په زړه کیدو په صورت کښې دې فوراً کښیني، سجده سهو دې و کړي بیا دې تشهد ووایي او سلام دې واړوي نو لمونځ به ئې صحیح ګڼل کیږي او که نه نو د واجبو د ترک له وجهې ئې لمونځ مکروه تحریمي کیږي او بیرته را ګرځول ئې پرې واجب دي. لکه څرنګه چه دواړو خواوو ته په قصد سره د سلام په پرېښودلو باندې لمونځ په سجده سهو نه پوره کیږي بلکه بیرته ګرځول به ئې واجب وي –

قال علاؤ الدين الحصكفي: و لفظ السلام مرتين فا لثاني واجب على الاصح برهان دون عليكم و بتقضى قدوة بالأول قبل عليكم على المشهور عندنا و عليه الشافعي خلافاً للتكملة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱ ، ص٤٦٨) قال ابن نجيم المصرى: الثامن لفظ السلام و لا يتصور ايجاب السجود بتركه لانه

بعد القعود الأخير اذا لم يأت بمناف فانه يسلم و ان أتى بمناف فلا سجود و لهذا قال في التجنيس و السهو عن السلام يوجب سجود السهو. و السهوعنه ان يطيل القعدة و يقع عنده الله خرج من الصلوة ثم يعلم ذلك فيسلم و يسجد لانه آخر واجباً او ركناً على اختلاف الاصلين آه، و انما يتصور ايجابه بتاخيره كما قدمناه و ذكرنا في باب صفة الصلوة ان الواجب منه التسليمة الاولى و هي السلام دون عليكم و رحمة الله . و في البدائع انه لو سلم من يساره اولا لا سهو عليه لانه ترك السنة، و في الظهيرية و اذا سلم الرجل عن يمينه و سها عن التسليمة الأخرى فما دام في المسجد يأتي با لاخرى و ان استدبر القبلة و عامة المشائخ على انه لا ياتي متى استدبر القبلة، والبحر الرائق ج۲، ص ۹۵، باب سجود السهو)

د سجده سهو په سلام کښې د امام د متابعت نه کوونکي د لمانځه حکم

الاستفتاء: که چیرته یو مقتدي له امام سره د سجده سهود سلام ګرځولو په وخت کښې په قصد سره سلام و نه ګرځوي او یواځې په سجده سهو کښې شریک شي نو آیا د واجبو د ترک له وجهي به لمونځ بیرته راګرځوي؟ او که چیرته په سهوه سره سلام و نه ګرځوي نو په مقتدي باندې خو یواځې سجده سهو نه واجبیږي د دې لپاره ئې لمونځ کیږي. آیا دا صحیح ده او که څنګه؟

الجواب حامدا ومصليا: سجده سهو که تر سلام اړولو مخکښې وي او که وروسته په دواړو صورتونو کښې جائزه ده. ځکه چه په روايتونو کښې له حضور څخه دواړه ډوله عمل راغلي دي- ليکن نبي کريم ﷺ د عامې تشريع لپاره ويلي دي چه "لکل سهو سجدتان بعد السلام د دې لپاره تر سلام ګرځولو وروسته سجده سهو کول افضل دي او تر سلام ګرځولو مخکښې که قصداً وي او که سهواً په دواړو صورتونو کښې جائز دي

-قال ابن نجيم المصرى: و هذا الخلاف في الاولوية حتى لو سجد قبل السلام لا يعيده لانه لو عاد يتكرر و انه خلاف الاجماع الخ. و ذلك كان مجتهد فيه. و روى عن اصحابنا انه لا يجزئه بعيده كذا في المحيط و في غاية البيان ان الجواز ظاهر الرواية و في التجنيس لو كان الامام يرى سجدتي السهو قبل السلام و المأموم بعد السلام قال بعضهم يتابع الامام لان حرمة الصلوة باقية فيترك رأيه برأى الامام تحقيقاً للمتابعة. و قال بعضهم لا

ينابع و لو تابعه لا اعادة عليه آه. و كان القول الأول مبنى على ظاهر الرواية و الثاني على غيرها كما لا يخفى. و ذكر الفقيه ابوا الليث في الخزانة انه قبل السلام مكروه، و الظاهر انها كراهة تنزيه الخ. (البحر الرائق ج١، ص٩٢، باب سجود السهو)قال طاهر بن عبد الرشيد البخاري و لو سجد قبل السلام لا يجب عليه اعادتهما. (خلاصة الفتاوى ج١،من ١٧٣، باب سجود السهو)

د فـــاسد لمانځه بيرته را ګرځول واجب دي

الاستفتاء: که چيرته له چا څخه د واجبو د ترک له وجهې سجده سهو پاتې شي او تر سلام ګرځولو وروسته ورته د سجده سهو د کولو موقع په لاس ورنه شي نو د شريعت له مخې ئې د لمانځه حکم څه دی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د واجبو د ترک په صورت کښې د لمانځه بيرته ګرځول واجب دي. د غاړې د پوره خلاصولو لپاره دوباره اداکول ئې ضروري دي-

قال علاؤ الدين الحصكفي: (لها واجبات) لا تفسد بتركها و تعاد وجوباً في العمد و السهو ان لم يسجد له. قال ابن عابدين: تحت هذه العبارة، و هل تجب بترك سجود السهو لعذر كما نسيه او طلعت الشمس في الفجر لم اره فليراجع و الذي يظهر الوجوب كما هو مقتضى اطلاق الشارح. لان النقصان لا ينجبر بجابر و ان لم يأثم بتر كه فليتأمل. (رد المحتار ج ١، ص ٥٦ ٤ ، مطلب واجبات الصلوة) لما قال العلامة السيد احمد الطحطاوى: قوله و اعادتهما بتر كه عمد اي مادام الوقت باقيا و كذا في السهو ان لم يسجد له و ان لم يسجد له و ان لم يعدها حتى خرج الوقت تسقط مع النقصان و كراهة التحريم. (الطحطاوي حاشية مراقي الفلاح ص ٣٠٠، باب واجبات الصلوة) و مثله في امداد الاحكام ج ١، ص ٤٨١، كتاب الصلوة)

د امام له سجده سهو څخه تر فارغيدو وروسته د مسبوق لپاره د سجده سهو حکم:

الاستفتاء: که چيرته مسبوق له امام سره په داسې حالت کښې يو ځاي شي چه امام سجده سهو کړې وي نو آيا مسبوق مقتدي به سجده سهو کوي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: په دې صوت کښې په مسبوق مقتدي باندي سجده سهو واجبه نه ده . بلکه که چيرته همدغه مسبوق په دوهمې سجدې کښې له امام سره يو ځاې شي بيا هم د اولې سجدې را ګرځول پرې واجب نه دي-

و في الهندية: و لو دخل معه (اي مع الامام) بعد ما سجد سجدتي السهو يتابعه في الثانية و لا يقتضي الأول و ان دخل معه بعد ما سجدهما لا يقضيهما كذا في التبيين. (الفتاوى الهندية ج١، ص ١٢٨، باب سجود السهو) قال العلامة الحصكفي: و المسبوق يسجد مع امامه مطلقاً سواء كان السهو قبل الاقتداء و بعده. قال ابن عابدين تحت هذه العبارة (قوله سواء كان السهو الخ) بيان للاطلاق و شمل ايضاً ما اذا سجد الامام واحدة ثم اقتدى به قال في البحر فانه يتابعه في الاخرى و لا يقضى قضاء الاولى كما لا يقضيهما لو اقتدى به بعد ما سجدهما. (رد المحتار ج ٢، ص ٨٢، باب سجود السهو

د جمعې او اخترونو په لمونځونو کښې د ډيرې ګڼه ګونې له وجهې د سجده سهو نه کولو حکم

الاستفتاء: د اخترونو په لمونځونو کښې د تکبيراتو په پاتې کيدو سره سجده سهو واجبه ده او که نه؟ او آيا د اخترونو په لمونځونو کښې د سجده سهو د واجبيدو سره سره د پريښودلو په صورت کښې لمونځ کيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د عيدينو تکبيرات واجب دي او د واجب په پاتې کيدو سره سجده سهو واجبيږي ليکن د عيدينو په لمانځه کښې د ډيرې ګڼه ګونې او ازدحام له وجهې متاخرينو دا فتوى ورکړې ده چه د عيدينو په لمانځه کښې د سجده سهو د واجبيدو تر څنګ بايد سجده سهو و نه شي تر څو چه په خلکو کښې فتنه او فساد را منځته نه شي. هو! که چيرته سجده سهو وشي نو د خلکو د جګيدو په صورت کښې د هغو په لمونځونو کښې فساد نه راځي ځکه چه تر سجده سهو وروسته که چيرته يو څوک جګ شي او لاړ شي نو لمونځ ئې پوره ګڼل کيږي. د دې وجه دا ده چه تر سجده سهو وروسته قعده فرض نه بلکه واجبه ده د دې لپاره تر سجده سهو وروسته د قعدې په پاتې کيدو سره لمونځ له کراهيت سره جائز کيږي. او د كل صلوة اديت مع كراهة التحريم يجب اعادتها قاعده پرې جاري کيږي- او که چيرته مجمع ډيره ګڼه نه وي نو بيا سجده سهو بايد چه وشي-

قال العلامة الحصكفي و السهو في صلوة العيد و الجمعة و المكتوبة و التطوع سواء، والمختارعند المتاخرين عدمه في الأولیين لدفع الفتنة كما في جمعة البحر و اقره المصنف و به جزم في الدرر آه، قال ابن عابدين تحت هذه العبارة (قوله عدمه في الأوليين) الظاهر ان الجمع الكثير فيما سواهما كذلك كما بحثه بعضهم و كذا بحثه الرحمني. و قال خصوصاً في زماننا و في جمعة حاشية ابی السعود عن العزمية ان ليس المراد عدم جوازه بل الاولى تركه لئلا يقع الناس في فتنه آه، (قوله و به جزم في الدرر) لكنه قيده محشيها الوالي بما اذا حضر جمع كثير و الا فلا داعي الى الترك. (رد المحتار ج ۱، ص ٥٠٦ ، باب سجود السهو) و في الهندية: قال في الفتاوى القعدة بعد سجدتي السهو ليست بركن و انما أمر بها بعد سجدتي السهو ليقع ختم الصلوة بها حتى لو تركها فقام و ذهب لا تفسد صلاته كذا فان هـ الحلواني كذا في السراج الوهاج. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۲۶، باب سجود السهو)و في الهندية: السهو في الجمعة و العيدين و المكتوبة و التطوع واحدا الا ان مائخنا قانولا يسجد للسهوفي العيدين و الجمعة لئلا يقع الناس في فتنة. (الفتاوي الهندية ج۱، ص۱۲۸، باب سجود السهو)

په لمانځــه کښې تر ډیره ځنده پورې د غلي (چپ) پاتې کیدلو حکــم

الاستفتاء: زمونږ د جومات امام صاحب د وترو جمعه ورکوله نو چه کله دریم رکعت ته پورته شو نو د څو لمحو لپاره چپ پاتې شو، بیا ئې قرائت شروع کړو او په آخر کښې ئې سجده سهو وکړه. آیا د نوموړي امام د اسې کول صحیح دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: په لمانځه کښې تر دومره ځنده پورې چپ پاتې کیدل چه درې وارې سبحان الله پکښې ویل کیدلي شي د سجده سهو موجب دی۔ د دې لپاره په نوموړي صورت کښې د مذکوره امام سجده سهو صحیح اقدام دی۔

لما قال العلامة الحصكفي: و اعلم انه اذا شغله ذلك الشك فتفكر قدر اداء ركن و لم يشتغل حالة الشك بقرأة ولاتسبيح ذكره في الذخيرة وجب عليه سجود السهو. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۱ ، ص ٥٠٦ ، باب سجود السهو) و في الهندية: و اذا شك في صلوته فلم يدرأ ثلاثا صلى ام اربعاً و تفكر في ذلك

كثيرا ثم استقين انه صلى ثلاث ركعات فان لم يكن تفكر شغل عن اداء ركن بان يصلى و يتفكر فليس عليه سجود السهو و ان طال تفكره حتى شغله عن ركعة او سجدة او يكون في ركوع او سجود فيطول تفكر في ذلك و تغير حانه با لتفكر فعليه سجود السهو استحساناً. (الفتاوي الهندية ج۱، ص۱۳۱، باب سجود السهو)

مسبوق مقتدي د امام سره سلام وګرځوي لمونځ څنګه سو ؟

الاستفتاء ديو شخص څخه يو رکعت تېر سوي ؤ په امام پسي يې اقتداء وکړه خو څه وخت چي امام سلام و کرځوي ده هم سهوا سلام ورسره وګرځوي وروسته يې خپل لمونځ پوره کړي او س پوښتنه داده چي دغه لمونځ صحيح سو که يا ؟

الجواب حامدا و مصليا : دنوموړي شخص لمونځ پر دغه طريقه صحيح دي دراګرځولو ضرورت يې نسته که يې چيري د امام سره سلام ګرځولي ؤ نو سجده سهوه هم نه غواړي البته که يې د امام څخه وروسته سلام وګرځوي نو بيا سجده سهوه لازميږي

.لماقال ابن عابدين الشامي رحمه الله في رد المحتار : (قوله ولو سلم ساهيا) قيد به لأنه لو سلم مع الإمام على ظن أنه عليه السلام معه فهو سلام عمد فتفسد كما في البحر عن الظهيرية (قوله لزمه السهو) لأنه منفرد في هذه الحالة ح .(قوله وإلا لا) أي وإن سلم معه أو قبله لا يلزمه لأنه مقتد في هاتين الحالتين . وفي شرح المنية عن المحيط إن سلم في الأولى مقارنا لسلامه فلا سهو عليه لأنه مقتد به ، وبعده يلزم لأنه منفرد ا هـ . ثم قال :

فعلى هذا يراد بالمعية حقيقتها وهو نادر الوقوع . قلت : يشير إلى أن الغالب لزوم السجود لأن الأغلب عدم المعية ، وهذا مما يغفل عنه كثير من الناس فليتنبه له (ردالمحتارج ۱ ص ۴۴۳ مكتبه رشيديه / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۴۲۲ مكتبه رشيديه / الفتاوي الهندية ج ۱ ص ۹۱ مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۲ ص ۱۷۶ مكتبه رشيديه / فتاوي دارالعلوم ديوبندج۳ ص ۳۴۴ پښتو / فتا وي حقا نية ج ۲ ص ۵۰۳ پښتو)

كذافي فتاوي رحمانية هـ

سجده سهوه نه وه لازمه ده وکړله.

الاستفتاء: یو کس پر لمانځه ولاړ دی داسې عمل یې ترسره کړی چې په هغه سره سجده سهوه نه لازمېږي لیکن ده فکر وکړي چې سجده سهوه را باندې لازمه سوله او ادا یې کړه بیا وروسته ورته معلومه سوه چې سجده سهوه نه وه آیا د دغه کس لمونځ صحیح سو که یا؟

الجواب حامدا ومصلیا: په خلاصة الفتاوي او په رد المحتار کتبي د دغه مسئلې پر برابر داسې لیکلي دي که یو چا په دغه نیت سجده سهوه اداء کړه چې د ده په فکر پر ده سجده سهوه لازمه ده وروسته ورته معلومه سوه چې سجده سهوه نه وه پر لازمه که دغه کس امام ؤ نو د ده او په ده پسې ولاړ د مدرکینو مقتدیانو لمونځونه صحیح دي او د مسبوق په لمانځه کتبي اختلاف دي چې صحیح دي که فاسد مشهوره روایت دا دي چې د مسبوق لمونځ فاسد دي، او یو روایت دا دي چې صحیح دی او فتوی هم پر دغه قول ده. احتیاط د مسبوق لپاره دا دي چې لمونځ را وګرځوي او د نه راګرځولو ګنجائش یې هم سته او هم دغه حکم د منفرد دي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار: ولو ظن الإمام السهو فسجد له فتابعه فبان أن لا سهو فالأشبه الفساد لاقتدائه في موضع الانفراد. وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى في ردالمحتار: (قوله فالأشبه الفساد) وفي الفيض: وقيل لا تفسد وبه يفتي. وفي البحر عن الظهيرية قال الفقيه أبو الليث: في زماننالا تفسد لأن الجهل في القراء غالب. اهـ. والله أعلم. (الدرالمختار مع ردالمحتارج ۱ ص ۵۹۹ باب الامامة مكتبه شامله / خلاصة الفتاوى ج ۱ ص۱۶۳/ امدادالاحكام ج ۱ ص ۵۶۲ / فتاوي محموديه ج ۷ ص ۴۵۴ باب سجود السهوج ۲۲ ص۲۲۶ باي سجود السهو / الحلبي الكبير فصل في سجود السهوص ۴۶۵ سهيل اكيډمي)

په سهوه سره که څوک اول چپه طرف ته سلام وګرځوي بیا یې راسته طرف ته وګرځوي؟

الاستفتاء که چیرې یو څوک سهوا او په خطا سره اول چپه طرف ته سلام وګرځوي لمونځ یې شرعا درست دي که یا

الجواب حامدا و مصليا : که يو څوک اول چپه طرف ته سلام وګرځوي که يې خبري نه وې کړي نو بيرته دې راسته طرف ته سلام وګرځوي لمونځ يې صحيح دې سجده سهوه هم نه غواړي والله اعلم.

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر الرائق شرح كنزالدقائق :ولو بدأ باليسار عامدا أو ناسيا فإنه يسلم عن يمينه ولا يعيده على يساره ولا شيء عليه، ولو سلم تلقاء وجهه فإنه يسلم عن يساره، ولو سلم عن يمينه ونسي عن يساره حتى قام فإنه يرجع ويقعد ويسلم ما لم يتكلم أو يخرج من المسجد، وفي المجتبى ولم يذكر قدر ما يحول به وجهه(البحرالرائقج ۱ ص ۳۳۲ مكتبه سعيد كراچي / ردالمحتارج ۱ ص ۵۲۴ مكتبه سعيد كراچي الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۷۷ مكتبه رشيديه / دلمانځه مسائل ج ۱ ص ۳۹۷ اردو)

باب صلوة المريض

د بيماري په حالت کښې د قضاء شوي لمونځونو د قضايي حكم

الاستفتاء: يو سړي ډير سخت مريض دي او په هيڅ صورت کښې هم د لمانځه په ادا کولو باندې قدرت نه لري چه له دې وجهې ئې ډير لمونځونه قضاء شوي دي. په داسې حال کښې چه په همدې مرض کښې ئې له دنيا څخه هم سترګې پټې کړې. اوس د هغه د قضاء شوي لمونځونو د قضايي حكم څه دی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: که چيرته له کوم مريض سړي څخه د شرعي عذر له وجهي لمونځونه قضاء شي نو تر جوړيدو وروسته به ئې قضايي خامخا راوړي. هو! که چيرته په همدې مرض کښې ئې انتقال وشي نو شرعاً له هغه څخه قضاء شوي لمونځونه ساقطيږي او د فديې او داسې نورو د ورکولو ضرورت ئې هم نشته

لما قال العلامة ابن عابدين: فلو مات و لم يقدر على الصلوة لم يلزمه القضاء حتى لا يلزمه الايصاء بها كا لمسافر اذا افطر مات قبل الاقامة. (رد المحتار ج۲، ص۹۹، باب صلوة المريض) قال العلامة ابن نجيم:

حتی لو مات المريض أيضاً من ذلك الوجه و لم يقدر على الصلوة لا يجب على القضاء حتى لا يلزمه الايصاء فصار كا لمسافر. (البحر الرائق ج۲، ص۱۱۵، باب صلوة المريض)

مريض د لمانځه لپاره جګول سنت دي

الاستفتاء: که چیرته يو څوک د زړه او دماغو مريض وي او د همدې تکليف له وجهې ئې تهوله شپه تيره کړې وي او يو ائحې ئې د سهار خوا ته ويده شوي وي نو د داسې بيمار د لمانځه حکم څه دی؟ او که چیرته ئې يو څوک د لمانځه لپاره جګ کړي نو شرعاً څه حکم لري؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: که چیرته دا مريض په لمانځه باندې قدرت درلود اګر که په اشارې سره هم وي نو د لمانځه لپاره ئې جګول بهتر بلکه د نی کي په کار کښې امداد او عبادت دی۔

لقوله تعالى: تعاونوا على البر والتقوى. (سورة المائدة، پاره ٦، آيت ۲) و بحديث النبي ﷺ عن ابي بكرة رضي الله تعالى عنه عن ابيه خرجت مع النبي ﷺ الصبح فكان لا يمر برجل الا ناداه با لصلوة او حركه برجله. (ابو داؤد ج۱، ص۱۷۹، باب الاضطجاع بعدها)قال الملا علي قاري في شرح الحديث : فيه حث على ايقاض النائم و نحوه للصلوة و يؤخذ من تحريكه برجله جواز ذلك من غير كراهة. (المرقات شرح مشكوة المصابيح ج۲، ص ۱۵۷ ، باب الآذان، الفصل الثالث)

د لمانځـــه د قيام په نه کولو کښې د ډاکټر د مشورې حيثيت

الاستفتاء: يوه مريض ته ډاکټر وايي چه لمونځ په ناستو وکړه، په ولاړې سره د لمونځو کولو په صورت کښې دې مرض زياتيږي۔ ليکن هغه د ډاکټر دا خبره نه مني او په ولاړې سره لمونځ کوي. لهذا د دې سړي لپاره شرعاً څه حکم دی؟ د ډاکټر د مشورې مطابق په ناستې لمونځ کولې شي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: په لمانځه کښې قيام (دريدل) فرض دی. که چیرته مريض په قيام قدرت ولري او د مرض د زياتولي انديښنه ئې نه وي او په دريد و کښې تکليف هم ورته نه وي نو پرته له عذر څخه د قيام پريښودل جائز نه دي. البته

معذور سړي ته قيام پرېښودل روا دي. د عذر د تحقق دارومدار په نفس الامر کښې په موجود الي پورې دی. که چيرته مريض ته پخپله دا احساس وي چه د درېدو په صورت کښې په لمونځ کولو سره مې مرض زياتيږي يا برسيره پر دې ډاکټر په نوموړي مرض باندې ماهر وي او د مسلمان و الي تر څنګ د لمانځه د حقيقت قائل هم وي نو د داسې ډاکټر په مشوره يو مريض عمل کولي شي

-لما قال العـــلامة ابن الهمام: قوله اذا عجز المريض عن القيام صلى قاعداً يركع و يسجدالمراد اعم من العجز الحقيقي حتى لو قدر على القيام لكن يخلف بسببه ابطاء برء او كان يجد الماً شديداً اذا قام جاز له تركه. (فتح القدير ج ١، ص ٤٥٧ ، باب صلوة المريض) قال ايضاً: ثم معرفته (اي ازدياد المريض) ذلك باجتهاد المريض و الاجتهاد غير مجرد الوهم بل هو غلبة ظن عن امارة او تجربة او باخبار طبيب مسلم غير ظاهر الفسق. (الفتح القدير ج٢، ص٢٧٢، فصل و من كان مريضاً في رمضان الخ) قال العلامة الحصكفي: من تعذر عليه القيام لمرض قبلها او فيها (أى الفريضة) بان خاف زيادته او بطاء برئه بقيامه او دوران رأسه او وجد لقيامه الماً شديداً صلى قاعداً كيف شاء بركوع و سجود و آن قدرا على بعض القيام و لومتكئا على عصا أو حائط قام.. (ادر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص ٩٥/٩٦، باب صلوة المريض ...و ايضاً قال: او مريض خاف الزيادة لمرضه و صحيح خاف المرض و خادمة خافت الضعف بغلبة الظن بامارة او تجربة او باخبار طبيب حاذق مسلم مستور. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٢، ص ٤٢٢ ، فصل في العوارض المبيعة للصوم) و مثله في الهندية ج١، ص١٣٩، ج١، ص٢٠٧، الباب الخامس في الاعذار التي تبيح الافطار، صلوة المريض

په رکوع او سجدې باندې د قدرت نه درلودونکي سړي لپاره د قيام حکم

الاستفتاء: يو مريض خپلې سترګې عمليات کړي دي او ډاکټر له رکوع او سجدې څخه منع کړي دي ليکن په قيام باندې بنه قادر دی-نو آيا په دې صورت کښې ئې لمونځ له قيام پرته په ناستو صحيح دي او که نه؟ بينوا توجروا-

.الجواب حامدا ومصليا: که چیرته نوموړي په سجدې باندې قادر نه وي نو قیام هم ترې ساقط دي تر څو پورې چه جوړیږي. لهذا دا سړي به لمونځ په ناستې او رکوع او سجده به په اشاره سره کوي څکه چه د ریدو په ځاي په ناستې باندې اشاره کول زمکې ته نژدې دي. د اشارې په وخت کښې به د رکوع په نسبت سجدې ته خپل سر لږ زیات کښته کوي۔

قال الحصكفي: او صلى قاعدا كيف شاء بركوع و سجود و آن قدر على بعض القيام قام و ان تعذرا (اي الركوع والسجود) ليس تعذرهما شرطاً بل تعذر السجود كاف (لا قيام او ما قاعداً) و هو افضل من الايماء قائماً لقربه من الارض. و يجعل سجوده اخفض من ركوعه لزوماً و لا يرفع الى وجهه شيئاً يسجد عليه فانه يكره تحريماً. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج۲، ص۹۸/۹۷، باب صلوة المريض)قال عبد الله النسفي و ان خاف زيادة المرض صلى قاعداً يركع و يسجد و مومياً ان تعذر و جعل سجوده اخفض و لا يرفع الى وجه شيئاً يسجد عليه. فان فعل و هو يخفض رأسه صح و الآلا. و ان تعذر الركوع و السجود لا القيام اوما قاعداً. (كنز الدقائق على هامش البحر الرائق ج۲، ص۱۱۳/۱۱۲، باب صلوة المريض) و مثله في الهداية على صدر فتح القدير ج ۱، ص ٤٥٧ ، باب صلوة المريض)

د معذور د لمانځه طـــــریقه

الاستفتاء: یو سړي د کومې سختې حادثې ښکار شوي دي او اوس ئې حال دا دي چه له نامه څخه لاندې بالکل بې حسه شوي دي. له حادثې څخه وروسته ئې متیازې د پائپ په ذریعې سره ایستل کیږي او شپه ورځ ئې پائپ د متیازو له نلکې سره لګیدلي وي چه د هغه په ذریعه سره ئې متیازې یو یو څاڅکي په یوه بوتل کښې جمع کیږي. نوموړي په قیام، رکوع او سجدې باندې هم قدرت نه لري. له دې برسیره پخپله په اودس باندې هم قدرت نه لري او له بل چا څخه په اودس او استنجاء کښې امداد غوښتل مشکل دي. نو د داسې سړي لپاره د تیمم، اودس او لمانځه حکم څه دي؟ بینوا توجروا

الجواب حامدا ومصلیا: د داسې معذور سړي چه تر څو پورې دا عذر موجود وي تر هغو پورې په تیمم باندې لمونځ کولي شي او که چیرته په تیمم باندې هم قدرت و نه لري نو بې اودسه دې لمونځ کوي او بیائې را ګرځول هم واجب نه دي –

قال العلامة الحصكفي: (و المحصور فاقد) اى الماء و التراب الخ و كذا العاجز عنهما المرض (يؤخرها) عنده و قالا يتشبه با لمصلين وجوباً الخ. و به يفتي و اليه صح رجوعه اى الامام كما في الفيض و فيه ايضا (مقطوع اليدين و الرجلين اذا كان بوجهه جراحة يصلى بغير طهارة و لا تيمم (و لا يعيد على الاصح). الدر المختار على هامش رد المحتارج۱، ص ۱۸۵، باب التيمم)

باب سجدة التلاوة

د سجده تلاوت د وجوب لپاره د پوره آیت لوستل یا اوریدل ضروري دي

الاستفتاء: که چیرته د سجدې پوره آیت تلاوت نه شي بلکه نیم یا تر نیمایي زیاته برخه ئې تلاوت شي نو په دې صورت کښې به سجده واجبه وي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: د سجده تلاوت د وجوب لپاره د پوره آیت تلاوت یا اوریدل ضروري دي، که چیرته نیمایي یا تر نیمایي زیاته برخه ئې تلاوت شي او په کومې کلمې کښې چه د سجدې حروف راغلي وي د هغې تلاوت و نه شي نو سجده نه واجبیږي، البته داسې کول صحیح نه دي چه د سجدې ځای ته ځوک ورسیږي او بیا ئې پریږدي۔

قال العلامة ابن العابدين: (تحت قوله يجب بسبب التلاوة آية اي اكثرها مع حرف السورة) و الصحيح انه اذا قرأ حرف السجدة و قبله كلمة او بعده كلمة وجب الخ. (رد المحتار ج۱، ص۱۰۳، باب سجود التلاوة) لما في الهندية: و لو قرأ آية السجدة الا الحرف الذي في آخرها لا يسجد الخ. (الفتاوى الهندية ج۱ –ص ۱۳۲، الباب الثالث عشر في سجود التلاوة)

د تلاوت د سجدې لپاره اودس شرط دی.

الاستفتاء: د قرآنکریم په یاد تلاوت لپاره خو اودس شرط نه دي د دې لپاره که چیرته بې اودسه د تلاوت کولو په دوران کښې که چیرته د سجدې آیت تلاوت شي نو د سجدې د کولو څه حکم ده بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: په صورت مسئوله كنبې د قرآنكريم د تلاوت لپاره اگر كه اودس شرط نه دي ليكن د سجده تلاوت د ادا كولو لپاره اودس شرط دي او لكه څرنگه چه د تلاوت سجده په فوري توگه واجبه نه ده د دې لپاره چه د سجدې كوم آيت په اودسي كښې تلاوت شوي دي نو د اود اسه له كولو وروسته دې سجده وشي. له اوداسه پرته كه چيرته سجده وشي نو د شريعت له مخې ئې هيڅ اعتبار نشته

قال علاؤ الدين الكاساني: و اما شرائط الجواز فكل ما هو شرط جواز الصلوة من طهارت الحدث و هي الوضوء و الغسل و طهارت النجس و هي طهارت البدن الخ. (بدائع الصنائع ج۱، ص۱۸٦، فصل اما شرائط الجواز) و قال طاهر بن عبد الرشيد البخاري: و يشترط لأداء السجدة ما يشترط لاداء الصلوة من طهارة الثوب و البدن و المكان الخ. (خلاصة الفتاوى ج۱، ص۱۸۹، باب سجود التلاوة) و مثله في الهندية ج۱، ص ۱۳۵، الباب الثالث عشر في سجود التلاوة.

د سجدې د آيت په ويلو او اوريدو سره د سجدې وجوب

الاستفتاء: د سجدې د آيت په تلاوت كولو او اوريدلو سره د سجدې د وجوب دليل څه دى؟ ډير وارې د اسې شوي دي چه د تلاوت د اوريد و اراده نه وي. آيا د ارادې د نشتوالي تر څنگ سجده تلاوت واجبيږي او كه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د احنافو په نزد د سجدې د آيت په تلاوت يا اوريدو سره سجده واجبيږي او د تلاوت كوونكي او اوريدونكي د قصد او ارادې هيڅ دخل پكښې نشته كه اراده وي او كه نه وي نو سجده واجبيږي-

لما ورد في الحديث : اذا قرأ ابن آدم السجدة اعتزل الشيطن يبكي و يقول يا ويله امر ابن آدم الخ. (الصحيح المسلم ج۱، ص ٦۱، باب بيان اطلاق اسم الكفر الخ و قال علاؤ الدين الكاساني: قوله فكان في الحديث دليل على كون ابن آدم مامور با لسجود و مطلق الامر للوجوب الخ. وبدائع الصنائع ج۱، ص ۱۸۰، فصل اما سجود التلاوة) و مثله في الهندية ج۱، ص ۱۳۲، الباب الثالث عشر في سجود التلاوة)

د سجدې د آیت په اورید و باندې هم سجده واجبېږي

الاستفتاء: آیا د تلاوت سجده د سجدې د آیت له تلاوت کولو پرته په اوریدو سره هم واجبېږي او که نه! همدا رنګه په اورید و کښې د قصد او ارادې د خل شته او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا: د سجدۀ تلاوت د وجوب ادا لپاره د سجدې د آیت له تلاوت کولو برسیره اوریدل هم یو سبب دی. لهذا چه کله هم د سجدې آیت و اوریدل شي نو سجده واجبېږي. البته که چیرته په هغه وخت کښې د سجدې د کولو فرصت نه وي نو بیا دې وروسته ادا کړي

قال برهان الدين المرغيناني: و السجدة واجبة في هذه المواضع على التال و السامع سواء قصد سماع القرآن او لم يقصد الخ. (الهداية ج۱، ص ۱۲۲، باب سجود التلاوة) و قال علاء الدين الكاساني: و اما سبب وجوب السجدة فسبب وجوبها احد شيئين التلاوة و السماع الخ. (بدائع الصنائع ج۱، ص ۱۸۰، باب سجود التلاوة، فصل سبب الوجوب) و مثله في رد المحتار ج۲، ص۱۰۸، باب سجود التلاوة.

.د تلویزون، رادیو، تیپ ریکارډ په ذریعه د سجدۀ تلاوت عدم وجوب

الاستفتاء: له تلویزون، رادیو، تیپ ریکارډ څخه که چیرته د سجدې آیت و اوریدل شي نو آیا په اوریدونکي باندې به سجده واجبه وي او که نه؟ ډیر وارې د کوم قاري آواز مخامخ اوریدل کیږي، آیا د ثبت شوي آواز او براه راست د آواز د دواړو حکم یو دي او که فرق پکښې شته؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا: په راډیو، ټي وي او ټیپ ریکارډ کښې چه کله تلاوت کیږي نو د سجدې د آیت په اوریدو سره سجده نه واجبېږي-اګر که د ځینو په نزد د براه راست آواز له آورید و څخه سجده واجبیږي-

قال علاء الدين الحصكفي: لا تجب بسماعه من الصدى وا لطير و من كل قال حرفاً و لا با لتهجي الخ. (الدرالمختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ۱۰۸، باب سجود التلاوة) و قال علاؤ الدين الكاساني: فينظر الى اهلية التال و اهليته با لتميز و قد وجد فوجد سماع تلاوت صحيحة فتجب السجدة بخلاف السماع من

البيغاء و الصدى فان ذلك ليس بتلاوت الخ. (بدائع الصنائع ج١، ص١٨٦، باب سجود التلاوة، فصل بيان من تحب عليه) و مثله في خلاصة الفتاوي ج١، ص ١٨٤، الفصل السابع عشر في وجوب سجدة الثلاوة.

په مکروه وختونو کښې د سجده تلاوت د ادا کولو حکم

الاستفتاء: که چیرته په مکروه وختونو کښې د تلاوت په دوران کښې د سجدې آیت مخې تلاوت شي نو آیا په همدې وخت کښې سجده جائزه ده او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: له لمانځه څخه د باندې د تلاوت سجده په هغه ساعت نه واجبیږي بلکه چه کله ادا شي نو غاړې پرې خلاصیږي. په سجده تلاوت کښې هم د مکروه او غیر مکروه وختونو رعایت ضروري دی. چه کله سجده په مشروع وخت کښې واجب شوي وي نو په مکروه وختونو کښې ئې ادا کول جائز نه دي. البته که چیرته په مکروه وختونو کښې د سجدې آیت تلاوت شي نو د سجدې ادا کول په همدې وختونو کښې جائز دي-

لما في الهندية: و لو تلاها في وقت مباح فسجدها في اوقات مكروهة لم تجر الخ. (الفتاوى الهندية ج١. ص ١٣٥، الباب الثالث عشر في سجود التلاوة) و قال علامة ابن العابدين: (تحت قوله بشروط الصلوة) و كذا يشترط لها الوقت حتى لو تلاها او سمعها في وقت غير مكروه فاداهافي وقت مكروه لا تجزيه الخ. (رد المحتار ج ٢، ص١٠٦، باب سجود التلاوة) و مثله في خلاصة الفتاوي ج ١، ص ١٩٠، قبيل الفصل الثامن عشر في النذر و ما يلزمه الخ.

د سجدې د ګڼو آیتونو لپاره یوه سجده کافي نه ده

الاستفتاء: که چیرته په یو مجلس کښې یو سړي د قرآنکریم د تلاوت په دوران کښې د سجدې ګڼ شمیر آیتونه تلاوت کړي نو آیا دا سړي به د سجدې د هر آیت لپاره ځان ځانته سجدې کوي او که د ټولو آیتونو لپاره یوه سجده کافي ده؟

الجواب حامدا و مصليا: د سجدې د ګڼ شمیر آیتونو د لوستلو په وخت کښې د هرې سجدې، مختلف دی. د دې لپاره په دې صورت کښې په سجد و کښې د تداخل د نه روا والي له وجهې په هر آیت باندې ځان ځانته سجده باید وشي. البته د

سجدې د يوه آيت په يوه مجلس کښې په بار بار تلاوت کولو سره تر څو چه له مجلس څخه پورته شوي نه وي نو يوه سجده ورته کافي وي۔

قال علامة ابن عابدين: (تحت قوله و لو كررها في مجلسين تكررت) الاصل انه لا يتكرر الوجوب الا باحد امور الطلبة اختلاف التلاوت او السماع او المجلس الخ. (رد المحتار ج۲ ، ص ۱۱٤ ، باب سجود التلاوت).و قال علاؤ الدين الكاساني : فنقول الاصل ان السجدة لا يتكرر وجوبها الا باحد امور الخ، (بدائع الصنائع ج۱، ص۱۸۹، باب سجود التلاوة)

د صلوتيه سجدې نيت په رکوع کښې جائز دی

الاستفتاء: په لمانځه کښې د تلاوت د سجدې په وجوب باندې که چيرته د مستقلې سجدې په ځاى په رکوع کښې د سجدې نيت وشي نو آيا په دې سره غاړې خلاصيږي او که مستقله سجده ضروري ده؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: څرګنده دې وي چه د لمانځه سجده د باندې له لمانځه څخه نه صحيح کيږي. د دې لپاره چه کومه سجده د تلاوت په لمانځه کښې واجبه شي نو هغه به په همدغه لمانځه کښې ادا کوي. اوس که چيرته لمونځ کوونکي په لمانځه کښې مستقله سجده وکړي او خپل لمونځ جاري وساتي نو شرعا جائز دي او که چيرته رکوع ته د تلو په وخت کښې د سجده تلاوت لپاره په زړه کښې اراده وکړي نو بيا هم جائز دی. البته د نيت نه بغير په رکوع کښې سجده صلوتيه نه ادا کيږي ليکن په رکوع کښې د سجدې د نيت لپاره دا شرط دي چه د سجدې د آيت له لوستلو وروسته او د رکوع د کولو تر منځ له دريو آيتونو څخه زياته فاصله نه وي او که نه نو بيا په رکوع کښې د سجدې نيت نه صحيح کيږي۔

قال حسن بن عمار : و يجزي عنها اى عن سجدة التلاوة ركوع الصلوة ان نواها اى نوى ادائها فيه و فيه و انقطاعه بان يقرأ اكثر من آيتين بعد آية السجدة با لاجماع. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ٢٦٤، باب سجود التلاوة) و قال علاؤ الدين الكاساني: فينظر ان كا نت آية السجدة في وسط السورة فينبغي ان يختم الخ. وبدائع الصنائع ج۱، ص۱۸۸، فصل في كيفية ادائها) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۱۲۲، باب سجود التلاوة.

د مازديگر او سهار په وختونو کښې د تلاوت د سجدې حکم

الاستفتاء: له صبح صادق څخه واخله تر لمر ختو پورې يا له مازديگر څخه واخله تر مابنامه پورې خو نفل جائز نه دي آيا په همدې وختونو کښې څوک د تلاوت سجده ادا کولې شي او که دا هم ممنوع ده؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: په دغو وختونو کښې نوافل اگر که ممنوع دي ليکن د قضايي لمونځونو غوندې په دغو وختونو کښې د تلاوت د سجدې ادا کول هم جائز دي-

قال علاؤ الدين الحصكفي: لا يكون قضاء فائتة و لو وترأ او سجدة تلاوت و صلوة جنازة الخ. (الدر المختارو قال ابن الهمام: و ادائها ليس على الفور حتى لو اداها في اي وقت كان يكون مؤديا لا قاضياً. (فتح القديرالثالث عشر باب سجود التلاوة) ج۱، ص۲۰۷، كتاب الصلوة، فصل في الأوقات التي تكره فيه الصلوة) و مثله في الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۳۳، الباب

آيا له دريد و پرته د تلاوت سجده جائزه ده؟

الاستفتاء: که چيرته يو څوک له لمانځه څخه د باندې د سجدې آيت تلاوت کړي او فوراً له دريد و پرته سجده وکړي نو آيا د اسې سجده به جائزه وي او که خامخا به دريږي او بيا به سجده کوي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: له لمانځه څخه د باندې د تلاوت د سجدې طريقه دا ده چه په ولاړې به نيت تړي او د لاسونو د پورته کولو بغير تر الله اکبر ويلو وروسته به سجدې ته ځي، په سجده کښې به تسبيحات وايي او بيا به الله اکبر وايي او له سلام څخه پرته به له سجدې څخه جگيږي - البته که چيرته ئې يو څوک په ناستو الله اکبر ووايي او سجده وکړي نو بيا هم پروانه لري-

قال العلامة ابن نجيم: ومما يستحب لادائها ان يقوم فيسجد لان الخرور و سقوط عن القيام و القرآن ورد به و هو مروي عن عائشه رضي الله عنها و ان لم يفعل لم يضره. (البحر الرائق ج ۲، ص ۱۲۶، باب سجود التلاوة)قال العلامة ابن نجيم: و مما يستحب لادائها ان يقوم فيسجد لان الخرور و سقوط عن القيام و القرآن

ورد به و هو مروی عن عائشه رضي الله عنها و ان لم يفعل لم يضره. (البحر الرائق ج٢، ص١٢٦، باب سجود التلاوة) قال العلامة ابن همام: و قيل يكبر في الابتداء بلا خلاف و في الانتهاء على قوله محمد نعم و على قول ابي يوسف لا و الظاهر الأول للاعتبار المذكور و يستحب ان يقوم فيسجد روى ذلك عن عائشة رضي الله عنها. (فتح القدير ج١، ص ٤٧٧ ، باب مسجود التلاوة) و مثله في امداد الفتاوي ج ١، ص ٣٧٣، باب سجود التلاوة

له اود اسه پرته د سجده تلاوت د ادا کولو حکم

الاستفتاء: يوه سړي بې اودسه د قرآنكريم تلاوت كاوه چه د سجدې آيت ئې تلاوت كړ-نو آيا دا سړي به بې اودسه د تلاوت سجده كولي شي او كه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: كه چيرته د كوم عذر له وجهې ئې د تلاوت سجده په هغه وخت كښې نه شواي كولي نو د سجدې د آيت له تلاوت څخه وروسته دې دا كلمات سمعنا و اطعنا غفرانک ربنا و إليک المصير ووايي او بيا چه كله وخت ورپيدا شي نو سجده دې وكړي

-قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري: و يستحب للتالي او السامع اذا لم يمكنه السجود ان يقول سمعنا وأطعنا غفرانك وإليك المصير. (الفتاوى الهندية ج١، ص٧٨٩، كتاب الصلوة، فصل سجدة التلاوة) قال العلامة حسن بن عمار : و يستحب للتالى او السامع اذا لم يمكنه السجود ان يقول: سمعنا و أطعنا غفرانك وإليك المصير آه ثم يقضيها. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ٤٠٧ ، باب سجود التلاوة)

له ويده سړي څخه د سجدې د آيت اوريدلو حكم

الاستفتاء: كه چيرته يو څوک د ويده سړي له ژبې څخه د سجدې آيت و اوري نو آيا سجدهٔ تلاوت پرې و اجبيږي او كه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: سجدۀ تلاوت د هر هغه آيت د تلاوت په اوريد و باندې واجبيږي چه له مکلف سړي څخه واوريدل شي که هغه ويده وي او که ويښ. لهذا په صورت مسئوله کښې سجدۀ تلاوت واجبيږي.دي. که چيرته يو څوک د سجدې آيت په يوه کاغذ باندې وليکي او په ژبې سره ئې و نه لولي نو په داسې سړي باندې سجده نه واجبيږي.

قال العلامة الحصكفي: يجب بسبب تلاوة آية السجدة، قال ابن عابدين: احترز عما لو كتبها او لهجاها فلا سجود عليه (رد المحتار ج٢، ص١٠٣- باب سجود التلاوة) قال العلامة ابراهيم الحلبي: و كذا لا تجب با لكتابة أو النظر من غير تلفظ لانه لم يقرأ و لم يسمع. (كبيرى ص ٤٦٤، باب سجود التلاوة)

د سجدې د آيت په يو اځې ترجمې سره هم سجده تلاوت و اجبيږي

الاستفتاء: آيا د سجدې د آيت يو اځې د ترجمې په ويلو سره سجده واجبيږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: قرآنکريم لکه څرنګه چه له الفاظ او معانيه و دواړو څخه جوړ دي د دې لپاره که چيرته يو څوک د سجدې د پوره آيت ترجمه وکړي نو په هغه باندې د تلاوت سجده واجبيږي. البته د مفهوم يا تفسير په بيانولو سره سجده نه واجبيږي-

قال العلامة الحصكفي و السماع شرط في حق غير التالي و لو با لفارسية اذااخبر. قال ابن عابدين: (تحت قوله اذا اخبر) اي بانها آية سجدة سواء فهمها او لا ، ورد المحتار ج ٢، ص ١٠٥، باب سجود التلاوة) قال العلامة فخر الدين الشهير بقاضي و لو تلي با لفارسية تجب عليه و على من سمعها السجدة فهم السامع أو لم يفهم اذا اخبر السامع انه قرأ آية السجدة، (فتاوي قاضيخان على هامش الهندية ج١، ص ١٥٦، فصل في قرأة القرآن خطاء الخ) و مثله في الهندية ج١، ص ١٣٢ ، الباب الثالث عشر في سجود التلاوة

په لمانځه کښې د تلاوت سجده له ځنډ پرته فوراً ادا کول ضروري دي

الاستفتاء: که چيرته يو چا په لمانځه کښې د سجدې آيت تلاوت کړ ليکن فوراً ئې سجده و نه کړه بلکه د يو څو نورو آيتونو له تلاوت کولو وروسته ئې سجده وکړه نو آيا د اسې کول جائز دي؟

الجواب حامدا و مصليا: د تلاوت د سجدې د سجدې د آیت له تلاوت کولو وروسته فوراً ادا کول واجبيږي. د دې لپاره ضروري ده چه د سجدې د آیت په ویلو او اوریدلو سره فوراً په هم پکښې کیدلي شي. هغه وخت کښې سجده وشي او ځنډول ئې ګناه ده. البته د مجبوری په صورت کښې پکښې کیدلي شي.

قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي وصفتها الوجوب على الفور في الصلوة و على التراخي ان كا نت غير صلوتية. قال الشيخ السيد احمد الطحطاوي: (تحت قولي على الفور) اي فور التلاوة و ظاهر انه لو اخرها الى ركعة ثانية لخ. (طحطاوي حاشيه مراقي الفلاح ص ٢٦٠، باب سجود التلاوة) قال العلامة الكاساني: اما وقت ادائها في الصلوة فوقتها فوراً الصلوة لما مر ان وجوبها في الصلوة على الفور و هو ان لا تطول المدة بين التلاوة و بين السجدة فاما اذا طالت فقد دخلت في القضاء و صار آثما با لتفويت عن الوقت . (البدائع الصنائع ج٩، ص١٩١، باب سجود التلاوة) و مثله في البحر الرائق ج ٢، ص ١٢٤، باب سجود التلاوة

د سجدې د آیت له تلاوت څخه وروسته پنځه یــا شپږ آیتونه لوستل او بیا سجده کول

الاستفتاء: که چیرته یوه سړي لمونځ کاوه او په قرائت کښې ئې د سجدې آیت تلاوت کړ لیکن سجده ئې هیره شوه او د نورو پنځه یا شپږو آیتونو له تلاوت کولو وروسته ئې سجده وریاده شوه او فورأئي سجده وکړه. نو آیا د نوموړي سړي لمونځ وشو او که نه په داسي حال کښې چه په آخر کښې ئې سجده سهو هم وکړه؟

الجواب حامدا و مصليا: د سجدې د آیت له تلاوت وروسته باید فورأ سجده وشي که چیرته په لمانځه کښې له کومې وجهې تاخیر پکښې وشي او د ورپه زړه کیدو په صورت کښې فوراً سجده وکړي نو لمونځ ئې کیږي لیکن د تاخیر یا ځنډ له وجهې سجده سهو ضروري کیږي- که چه سجده تلاوت پرې واجب شوي وي او د سجده سهو د نه کولو په صورت کښې به د لمانځه بیرته راګرځول پرې واجب وي-

قال العلامة الحصكفي: فعلى الفور لصيرورتها جزاء منها و يأثم بتاخيرها و يقضيها ما دام في حرمة الصلوة و لو بعد السلام. قال ابن عابدين: ثم تفسير الفور عدم طول المدة بين الصلوة و السجدة بقرأة أكثر من أيهين او ثلاث على ما سياتي حلية قوله يأثم بتاخيرها الخ لانها ووجبت ما هو من افعال الصلوة و هو القرأة و

صارت اجزائها فرجب اداؤها مضيقا كما في البدائع و لذا كان المختار وجوب – ة السهو لو تذكرها بعد محلها. (رد المحتار ج۲، ص۱۱۰/۱۰۹، باب سجود الصلوة)

باب صلوة المسافر

د قصر (سفرانه) لمانځه لپاره د سفر اندازه

الاستفتاء: آيا د مطلق سفر په ارادې سره له کوره په وتلو باندې قصر کيږي او که د قصر لپاره د سفر کومه شرعي اندازه ټاکلې ده؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د حنفي فقه له مخې په مطلق سفر سره لمونځ نه قصر کيږي بلکه کم تر کمه د دريو ورځو په اندازه سفر ورته ضروري دي. په موجوده وخت کښې علماوو اته څلويښت (۴۸) ميله يا اته اويا کيلو متره اندازه ټاکلې ده. له دې څخه د کمې مسافې په ارادې سره د وتلو په صورت کښې سفر ته شرعي سفر نه ويل کيږي-

قال برهان الدين المرغيناني: السفر الذي يتغير به الاحكام ان يقصد مسيرة ثلثة ايام و لياليها الخ، (الهداية ج۱– ص ۱٤۸، صلوة المسافر) و في الهندية: اقل مسافة لتغير فيها الاحكام مسيرة ثلثة ايام كذا في العيين. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۳۸ الباب الخامس عشر في صلوة المسافر) و مثله في الزيعلى ج۱، ص۲۰۹، باب صلوة المسافر.

قصـــــر (سفرانه) تر فرائضو پورې خاص دى

الاستفتاء: له فرائضو برسيره په سنتو کښې د قصر د کولو حکم څه دى؟

الجواب حامدا و مصليا: که چيرته د سنتو د اداکولو لپاره وخت او مرقع نه وي نو د اداکولو ضرورت ئې نشته. البته چه کله وخت او موقع وي نو سنت به پوره اداکوي-

قال علاؤ الدين الحصكفي: و يأتي المسافر با لسنن ان كان في حال امن و قرار و الا لا. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص۱۲۱، باب صلوة المسافر) و قال علاؤ الدين الكاساني: و كذا لا قصر في السنن و التطوعات .. . الخ. (بدائع الصنائع ج۱، ص۰۹۲ فصل الكلام في صلوة المسافر) و مثله في الهندية ج۱، ص۱۳۹، الباب الخامس عشر في صلوة المسافر)

د اتــــه څلويښت ميله په مقابله کښې فرسخونه معتبر نه دي

الاستفتاء: په ځينو کتابونو کښې فراسخو ته د اعتبار د نشتوالي سره سره احناف اته څلويښت ميلو ته ولې اعتبار ورکوي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د احنافو په مذهب کښې په بنيادي توګه فرسخونو ته اعتبار نشته بلکه د سفر موده د دريو ورځو په اندازې پورې اړه لري-ليکن په يوه ورځ کښې يو انسان په اوسط ډول شپارس ميله مسافه وهلي شي. د دې لپاره مونږ ۱٦×۳=۴۸ ميلوته اعتبار ورکړ-

قال برهان الدين المرغيناني: و لا معتبر با لفراسخ هو الصحيح. (الهداية ج ۱ ، ص ۱٤۸، باب صلوة المسافر)فتاوي و قال علاؤ الدين الحصكفي: و لا اعتبار با لفراسخ على المذهب .. الخ. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲۰ ص ۱۲٤، صلوة المسافر) و مثله في البحر الرائق ج۲، ص۱۲۹، باب المسافر)

د مسافــــر د پوره لمونځ کولو په صورت کښې د غاړې د خلاصيدو حکم

الاستفتاء: که چيرته يو مسافر د قصر (سفرانه) په ځاي پوره لمونځ وکړي نو آيا غاړې ئې پرې خلاصيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: كه چيرته په منځ كښې قعده وكړي نو لمونځ ئې صحيح كيږي او غاړي ئې پرې خلاصيږي. البته د سلام د تأخير له وجهې به ګنهګار وي. ليكن كه چيرته اوله قعده و نه كړي او بې له قعدې دريم ركعت ته پورته شي او څلور ركعته پوره كړي نو لمونځ ئې باطليږي او له سره به ئې اداكوي

قال علاء الدين الحصكفي: فلو اتم مسافر ان قعد في قعدة الاولى تم فرضه لكنه اساء الخ. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص ۱۲۸، صلوة المسافر) و في الهندية: فان صلى اربعاً و قعد في الثانية قدر التشهد اجزائه و الأخريان ناقلة و يصير مسيئاً لتاخير السلام و ان لم يقعد في الثانية قدرها بطلت كذا في الهندية. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۳۹، الباب الخامس عشر في صلوة المسافر) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۱۳۰، باب المسافر)

د قصـــر (سفرانه) لمانځه لپاره په سفر كښې مشقت او تكليف ضروري خبـــره نه ده

الاستفتاء: د موجوده زمانې په سفرونو كښې كوم خاص ډول مشقت او تكليف چاته نه وي د مثال په ډول يو سړي چه كله له كراچۍ څخه پشاور ته سفر كوي نو پرته له كوم تكليف څخه په څو ساعتونو كښې خپل منزل مقصود ته رسيږي. آيا په داسې صورت كښې د آسانتياوو او راحتونو باوجود په لمانځه كښې قصر كول جائز دي او كه څنګه؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا: په سفر كښې د رخصت رعايت په كوم مشقت او تكليف پورې نه دي تړلي بلكه د مطلق سفر له وجهې رخصت وركړ شوي دی۔ پخپله سفر د مشقت لپاره د سبب كيدو له وجهې په هغه باندې د احكامو د مرتب كيدو په خاطر محض د سفر په موجودوالي كښې قصر روا شوي دی

۔قال علاء الدين الحصكفي: حتى لو اسرع فوصل في يومين قصر (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ۱۲۹، صلوة المسافر و في الهندية: و لو كا نت المسافة لا با لسير المعتاد فسار اليها على الفرس جر يا حثيثاً فوصل في يومين أو) اقل قصر باب المسافر ، والفتاوي الهندية ج۱، ص۱۳۹، الباب الخامس عشر في صلوة المسافر) و مثله في البحر الرائق ج۲) ص ۱۲۹،

په اصلي وطن کښې تعدد (ګڼ والی) ممکن دی

الاستفتاء: آیا د یوه سړي لپاره په ګڼو ځایونو کښې د ځان لپاره وطن اصلي جوړول ممکن دي او که نه؟ په داسې حال کښې چه په هریو ځای کښې د ده د مستقلو اوسید و اراده وي. تر دې پورې چه شپږ میاشتې په یوه کلي کښې او شپږ میاشتې په بل کلي کښې تیروي او هلته ورته د ژوند ټول ضروریات مهیا وي؟

الجواب حامدا و مصلیا: په وطن اصلي کښې تعدد ممنوع نه دی. د صورت مذکوره مطابق چه په هریو ځای کښې چه کله د مستقلو اوسیدو د اسې اراده وي چه شپږ میاشتې په یوه ځای او شپږ میاشتې په بل ځای کښې تیروي. د مثال په ډول په دواړو ځایونو کښې ئې کور آباد کړي وي نو دواړه ځایونه د نوموړي په حق کښې اصلي وطن ګڼل کیږي او په دواړو ځایونو کښې به پوره لمونځ کوي

-قال علاؤ الدین الکاساني: ثم الوطن الاصلي یجوز ان یکون واحداً او اکثر من ذلك بان کان له اهل و دار في بلدتین او اکثر و لم یکن من نیة اهله الخروج منها و ان کان هو ینتقل من اهل الی اهل في السنة انه لو خرج مسافر من بلدة فیها اهله و دخل في اي بلدة من بلاد التي فیها اهله فیصیر مقیماً من غیر نیة الاقامة. (بدائع الصنائع ج۱، ص۱۰۳، فصل في بیان ما یصیر به المسافر مقیماً) و في الهندیة: و یبطل وطن الاصلي با لوطن الاصلی اذا انتقل عن الاول باهله و اما اذا لم ینتقل باهله و لکنه استحدث اهلاً ببلدة اخری فلا یبطل وطنه الاول و یتم فیها. (الفتاوي الهندیة ج۲، ص ۱۴۲، الباب الخامس عشر في صلوة المسافر) و مثله في البحر الرائق ج۲، ص۱۳۶، باب المسافر.

د سامان له پاتې کیدو سره سره د سفر له انشاء څخه د اقامت وطن نه باطلیږي

الاستفتاء: ډیرځله د اقامت له وطن څخه د سفر د مسافې په اندازه وتل مخ ته راځي لیکن د اقامت له وطن څخه د تعلق د پریښود و اراده با لکل نه وي، همدا وجه ده چه ټول کور او سامان پخپل ځای کښې پاتې وي. آیا په داسې صورت کښې د

سفر له انشاء څخه وطن اقامت په باطليد و سره د بيرته راتګ په صورت کښې د دوباره نيت ضرورت پيدا کيږي او که نه؟ په داسې حال کښې چه کله کله د پنځلسو ورځو په دننه کښې د بيا لپاره د سفر اراده پيدا کيږي.

الجواب حامدا و مصليا: تر څو پورې چه اهل، عيال او سامان د قـــامت په وطن کښې موجود وي تر هغو پورې د سفر په انشاء سره وطن اقامت نه باطليږي. په داسې صورت کښې دوه درې ورځې په وطن اقامت کښې د موقع د پيدا کيدو په صورت کښې هم لمونځ کيږي. هو! د دې لپاره به دا ضروري وي چه يو ځل د پنځلسو ورځو د ده اوسيدلو د ارادې په کولو سره قيام وکړي تر څو چه د اقامت د وطن حقيقت ثابت شي او د دوباره باطل و الي له صورت څخه بچ شي

.قال علامة ابن نجيم: كوطن الاقامة يبقى بقاء النقل و ان قام بموضع آخر. (البحر الرائق ج۲، ص۱۳۶، باب المسافر) و قال علاؤ الدين الحصكفي: و يبطل بمثله اذا لم يبقى له با لاول اهل فلو بقى لم يبطل بل يتم فيها. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ۱۲٤، صلوة المسافر) و مثله في الهندية ج۲، ص ۱٤۲، الفصل الخامس عشر في صلوة المسافر)

مسافـــــر چه په کومې لارې باندې يو ځاي ته ځي د هم هغې لارې مسافه به معتبره وي

الاستفتاء: که چيرته منزل مقصود ته د رسيدو دوه لارې وي چه يوه نژدې او بله لرې وي نو د سفر لپاره به مسافر کومه لاره غوره کوي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په کومه لاره باندې چه مسافر سفر کوي د هم هغې لارې مسافه به معتبره وي. لهذا که چيرته مسافر په لرې لارې باندې سفر کوي او د شرعي سفر مسافه ئې پوره کوله نو تلونکي به مسافر بلل کيږي اګر که دويمه لار نژدې هم وي-

لما في الهندية: فاذا قصد بلدة و الى مقصده طري فان احدهما مسيرة ثلثة ايام و لياليها و الآخر دونها فسلك الطريق الا بعد كان مسافراً عندنا الخ. (الفتاوى العلمية ج ۱، ص۱۳۸، الفصل الخامس عشر في صلوة

المسافر) و قال علامة ابن نجيم المصرى: و في فتاوي قاضي خان الرجل اذا قصد بلدة و الى مقصده طري فان احدهما مسيرة ثلثة ايام و لياليها و الآخر دونها فسلك الطريق الابعد كان مسافرا عندنا الخ. (البحر الرائق ج۲، ص۱۲۹، باب المسافر) و في خلاصة الفتاوى هكذا ج۱، ص۱۹۸، الفصل الثاني و العشرون في صلوة المسافر .

په غيـــر آباد ځاي کښې د اقامت د نيت حکم

الاستفتاء: ډېر واري انسان په يوه داسې ځاي کښې خيمه لګوي چه شاوخوا هيڅ آبادي نه وي، دا هم ممکنه ده چه د ژوندانه د ضروریاتو د نشت والي له وجهې نو موړي د خپل نيت مطابق يوه ورځ هم پوره تيره نه کړي نو آيا په داسې ځنګل او غير آباد (بيابان) کښې د اقامت نيت صحيح کيږي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: د اقامت د نيت لپاره د هغه ځاي صلاحيت ضروري دى. په صورت مذکوره کښې په داسې غير آباده ځاي کښې د اقامت نيت معتبر نه دى. نو ځکه د نيت د کولو سره به هم قصر لمونځ کوي۔

كما في الهندية: حتى لو نوى الاقامة في بر او بحر أو جزيرة لم يصح الخ. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۳۹ الباب الخامس عشر في صلوة المسافر) و قال العلامة ابن نجيم: و قيد با لبلد و القرية لان نية الاقامة لا تصح في غيرهما فلا تصح في مفازة و لا جزيرة ولا بحر و لا سفينة الخ. (البحر الرائق ج۲، ص۱۳۱، صلوة المسافر) و مثله في بدائع الصنائع ج۱، ص۹۸، فصل في بيان ما يصير المسافر به مقيماً

د اقـــــامت د مودې له نيت څخه پرته قصـــــر واجب دى

الاستفتاء: که چيرته يو څوک د اقامت له وطن څخه د اته څلويښت ميلو په اندازه د سفر په اراده باندې ووځي ليکن د پنځلسو ورځو د پاتې کيدو يقين ئې نه وي نو په دې صورت کښې به لمانځه حکم ئې څه وي؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: په کوم ځاي کښې په باقاعده توګه د پنځلسو ورځو د پاتې کيدو له نيت نه بغير نوموړي به د مسافرو په حکم کښې وي کوم چه په لمانځه کښې قصر پرې واجب دی۔

قال برهان الدين المرغيناني: و لا يزال على حكم السفر حتى ينوى الاقامة في بلدة او قرية خمسة عشريوماً او اكثر و ان نوى اقل من ذلك قصر ..... الخ . (الهداية ج ۱، ص ۱٤۹ ، باب صلوة المسافر) و قال علاء الدين الكاساني: فا لذي يصير المقيم به مسافر نية مدة السفر و الخروج من عمران المصر الخ. (بدائع الصنائع ج۱، ص۹۳، فصل في بيان يصير به المقيم مسافر) و مثله في الهندية ج۱، ص۱۳۹، الباب الخامس عشر في صلوة المسافر

د مقيم امام په اقتداء کښې به مسافر پوره لمونځ کوي

الاستفتاء: که چيرته يو مسافر په مقيم امام پسې اقتداء وکړي نو د هغه د لمانځه حکم به څه وي؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: د امام د متابعت له وجهې مسافر مقتدي قصر نه شي کولي بلکه پوره لمونځ به کوي۔

قال برهان الدين المرغيناني: و ان اقتدى المسافر با لمقيم في الوقت اتم اربعاً لانه يتغير فرضه الى اربع للتبعية كما تتغير بنية الاقامة لاتصال المغير با لسبب و هو الوقت، (الهداية ج ۱، ص ۱٤۹ ، باب صلوة المسافر) و قال علاؤ الدين الحصكفي: و اما اقتداء المسافر با لمقيم فيصح في الوقت و يتم الخ. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص ۱۳۰، باب صلوة المسافر) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۱۳٤، صلوة المسافر .

د مسافـــر امام په اقتداء کښې د مقيم مقتدي لپاره په پاتې لمانځه کښې قـرائت نشته

الاستفتاء: که چيرته يو مقيم مقتدي په کوم مسافر امام پسې اقتداء وکړي نو د امام له فراغت څخه وروسته مقيم مقتدي به په پاتې رکعتونو کښې قرائت وايي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د امام له فراغت وروسته په مقيم مقتدي باندې د پاتې لمانځه اداکول ضروري دي ليکن لکه څرنگه چه دې د امام په اقتداء کښې گډل کيږي د دې لپاره د مقتدي په ذمه باندې په آخري رکعتونو کښې قرائت ضروري نه دي بلکه د سورت فاتحه د ويلو په انداز ه به چپ دريږي او بيا به رکوع کوي –

قال علاء الدين الحصكفي. وصح اقتداء المقيم با لمسافر في الوقت و بعده فاذا قام المقيم الى الاتمام لا يقرأ الخ (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٢، ص١٢٩، باب صلوة المسافر) في الهندية: وصاروا منفردين كا لمسبوق الا انهم لا يقرؤن في الاصح الخ. (الهندية ج١، ص ١٤٢، الباب صلوة المسافر) و مثله في البحر الرائق ج٢، ص١٣٥، صلوة المسافر

د مسافر امام د پوره لمونځ کولو له وجهې د مقتديانو د لمانځه د فساد حکم

الاستفتاء: که چيرته مقيم مقتديان په مسافر امام پسې اقتداء وکړي او په دې حالت کښې امام د قصر په ځاي لمونځ پوره اداکړي او مقتديان هم پوره لمونځ ورسره وکړي نو د مقيمو مقتديانو د لمانځه حکم د شريعت له مخې څه دی؟

الجواب حامدا و مصليا: د مسافر امام په حق کښې آخري دوه رکعتونه نفل وي په داسې حال کښې چه د مقيمو مقتديانو ټول لمونځ فرض دی. له دې وجهې د فرض کوونکو اقتداء په نفل کوونکي پسې د راتلو په صورت کښې لمونځ فاسد وي نو ځکه ئې بيرته راگرځول ضروري دي۔

قال ابن عابدين: (تحت قوله لم يصر مقيماً) فلو اتم المقيمون صلوتهم . معه فسدت لانه اقتداء المفترض با لمتنقل الخ. (رد المحتار ج ۲، ص ۱۳۰، باب صلوة المسافر) قال ابن عابدين: حتى لو اتم المقيمون صلوتهم معه فسدت صلوتهم لان هذا اقتداء المفترض با لمتنقل و لا يصح الخ. (منحة الخالق حاشية البحر الرائق ج ۲، ص ۱۳۵، صلوة المسافر) و مثله في خلاصة الفتاوى ج۱، ص۲۰۲ صلوة المسافر .

د امـــام له حالت څخه د واقفيت (خبرتيا) ضرورت

الاستفتاء: د کوم امام د سفر يا اقامت په باره کښې چه کله مقتدي علم و نه لري نو مقتدي به څه کوي او د ا ناخبري د ده په لمانځه باندې څه اثر کوي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د امام د سفر يا اقامت له حالت څخه د ناخبري له وجهې ډير واري مقتدي د شکوکو او شبهاتو ښکار کيږي د دې لپاره د امام له حالت څخه خبرتيا د مقتدي لپاره ضروري خبره ده نو ځکه مقتدي بايد د امام د سفر يا اقامت حالت معلوم کړي تر څو چه اقتداء ئې ورپسې صحيح شي او که نه نو د ناخبري په حالت کښې ئې اقتداء نه صحيح کيږي-

قال علامة ابن عابدين: (تحت قوله ان العلم بحال الامام شرط لكن) و حاصله تسليم اشتراط العلم بحال الامام. (رد المحتار ج ۲، ص ۵۳۱، صلوة المسافر) و قال علامة ابن نجيم المصرى: و هذا محمل ما في الفتاوى اذا اقتدى با لامام لا يدرى ا مسافر هو ام مقيم لا يصح لان العلم بحال الامام شرط الاداء بجماعة الخ. (البحر الرائق ج۲، ص ۳۵، باب المسافر) و مثله في الكبيري ص ۵۹۱، باب صلوة المسافر،

د ښځي د پاره د مېړه کور وطن اصلي دي که يا ؟

الاستفتاء: که چيري يوه ښځه د پلار د کوره څخه واده کړل سي د خاوند و کورته راسي نو د دې ښځي د لمانځه حکم څه دي يعني سفريانه لمونځ به کوي او که د اقامت د حالت لمونځ؟

الجواب حامدا و مصليا : که څه هم د مور او پلار کور دښځي دپاره اصلي وطن وو خو چي کله دې د مور او پلار کور پرې ښوو ي او دخاوند کورته دمستقل اوسېد و دپاره راغله نو اوس د مور او پلار وطن ددې ښځي دپاره وطن اصلي پاته نه سو بلکي د خاوند کور ددې دپاره وطن اصلي و ګرځېدی له دې وجي څخه د اېښځه که چيري د خاوند دکوره څخه دمور او پلار کورته راسي او نېتيې د اقامت نه وي کړي نو لمونځ به سفريانه اداء کوي.

لماقال العلامة ابن عابدين رحمه الله في ردالمحتار : قوله (الوطن الأصلي) ويسمى بالأهلي ووطن الفطرة والقرار قوله (أو تأهله) أي تزوجه قال في شرح المنية ولو تزوج المسافر ببلد ولم ينو الإقامة به فقيل لا يصير مقيما وقيل يصير مقيما وهو الأوجه ولو كان له أهل ببلدتين فأيتهما دخلها صار مقيما فإن ماتت زوجته في إحداهما وبقي له فيها دور وعقار قيل لا يبقى وطنا له إذ المعتبر الأهل دون الدار كما لو تأهل ببلد واستقرت سكنا له وليس له فيها دار وقيل تبقى-"قوله (أو توطنه) أي عزم على القرار فيه وعدم الارتحال وإن لم يتأهل فلو كان له أبوان ببلد غير مولده وهو بالغ ولم يتأهل به فليس ذلك وطنا له إلا إذا عزم على القرار فيه وترك الوطن الذي كان له قبله(الدرالمختار مع ردالمحتارج ۱ ص ۵۸۶ مطلب في وطن الاصلي ووطن الاقامة مكتبه رشيديه /خلاصة الفتاوي ج ۱ ص ۲۰۴ الفص الثاني والعشرون في صلاة المسافر / فتا وي حقا نية ج ۳ ص ۹۰باب صلاة المسافر / كبيري ص ۵۴۴ باب صلاة المسافر الفص الرابع في الوطن الاصلي)فتاوي رحمانية هـ ج۲ ص۱۷۳

د قصر لمونځ د پاره د سفر د مسافت مقدار

الاستفتاء: څه فرمائي علمائې دين دې مسئلې باره کښې چه حد د سفر درې ورځې دې آيا ددې نه پيدل سفر مراد دې او که د ګاډی، جهاز وغيره هم؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا : اته څلويښت ميله يا اته اويا کلوميټره مسافت معتبر دې

وهو الموفقا وفي الهندية: اقل مسافة تتغير فيها الاحكام مسيرة ثلاثة ايام كذافي التبين...والمعتبر السير الوسط وهو سير الابل ومشى الاقدام في اقصر ايام السنة الخ. (فتاوي عالمگيرية ص ۱۳۸ جلدا الباب الخامس عشر في صلاة المسافر) فتاوي فريديه ج۳ ص۵۷

د سفر لمونځ په قصدا سره پوره كول.

الاستفتاء : كه چيري يو كس د سفر لمونځ پوره اداء كړي يعني د دوه ركعته پرځاي باندي څلور ركعته وكړي نو څه پرواه لري؟

الجواب حامدا ومصليا : په سفر كښې مسافرانه لمونځ كول د شريعت له مخي عزيمت دي او بيا دځان له خوا څخه قصدا او عمدا په لمانځه كښې زيانولي كول د گناه موجب او سبب دى. نو الجواب حامدا ومصليا هم دادي چي كوم كس په قصدا سره په سفر كښې پوره لمونځ وكړي نو گناهگاره به وي او پر ده لازمه ده چي د دې عمل څخه توبه وكړي .

قال العلامة برهان الدين المرغيناني رحمه الله تعالى : وإن صلى أربعا وقعد في الثانية قدر التشهد أجزأته الأوليان عن الفرض والأخريان له نافلة " اعتبارا بالفجر ويصير مسيئا لتأخير السلام. قال العلامة علاءالدين الحصفكي: (فلو أتم مسافر إن قعد في) القعدة (الأولى تم فرضه ؤ) لكنه (أساء) لو عامدا لتأخير السلام وترك واجب القصر وواجب تكبيرة افتتاح النفل وخلط النفل بالفرض، وهذا لا يحل كما حرره القهستاني بعد أن فسر أساءبأثم واستحق النار . (الدرالمختار علي صدر ردالمحتارج ۲ ص ۱۲۸ كتاب المسافر / الهداية شرح بداية المبتدى ج ۱ ص ۱۴۶ كتاب المسافر / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۳۹ الباب الخامس عشر صلوة المسافر/ فتا وي حقا نية ج ۳ ص ۹۹ باب صلوة المسافر)

كه مسافر په هيره سره او سهوه سره څلور ركعته لمونځ اداء كړي.

الاستفتاء كه چيري يو مسافر شخص په سهوه او هيره سره د دوه ركعته پر ځاي باندي څلور ركعته لمونځ وكړي نو لمونځ يې درست دي كه يا ؟.

الجواب حامدا و مصليا : كه چيري دغه شخص دلمانځه په مينځ كښې قعده او ناسته وكړي نو لمونځ يې صحيح كيږي او غاړي يې خلاصيږي په آخره كې دې سجده سهوه وكړي البته دسلام د تاخير دوجهي شخه به گناهگاره وي. ليكن كه چيري اوله ناسته او قعده ونه كړي او بې له ناستي او قعدې شخه دريم ركعت ته پورته سي او څلور ركعته پوره كړي نو لمونځ يې باطليږي .بيا به يې د سره شخه راگرځوي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : (فلو أتم مسافر إن قعد في) القعدة (الأولى تم فرضه ؤ) لكنه (أساء) لو عامدا لتأخير السلام وترك واجب القصر وواجب تكبيرة افتتاح النفل وخلط النفل بالفرض، وهذا لا يحل كما حرره القهستاني بعدأن فسر أساء بأثم واستحق النار (وما زاد نقل (الدرالمختار علي صدرردالمحتارج ۲ ص ۱۲۸ باب صلاة المسافر / الفتاوى الهندية ج ۱ ص۱۳۹ الباب الخامس عشر في صلاة المسافر / البحرالرائق ج ۲ ص ۱۳۰ باب المسافر / فتاويح فان ية ھ ج ۳ ص ۸۸ باب صلاة المسافر

موټروانان به د سفر لمونځ كم كوي كه پوره؟

الاستفتاء هغه كسان چي ټول عمر ئې په سفر كښې وي لكه موټروانان يا هغو ته ورته كسان آيا دوي لمونځ د سفر به كم كوي كه پوره همدا شان كوچيان او كېږدي والاخلك؟

الجواب حامدا و مصليا: هغه موټروانان او پيرداران چي هره ورځ سفر كوي د سفر د مسافت په اندازه دغه موټروانان او دوي ته ورته كسب كاره به لمونځ د سفر كوي او كوچيان او مالدار به هغه وخت پوره لمونځ كوي چي نيت د اقامت وكړي او ترڅه وخته چي ئې نيت د اقامت نه وي كړي نو دي د سفر لمونځ كوي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار :بخلاف أهل الأخبية...... نووها في المفارة فإذا تصح في الأصح وبه يفتى (الدرالمختارج ۱ ص ۵۸۳ باب صلاة المسافر مكتبه حبيبيه/ستاسومسائل اودهغوي حل ج ۴ ص۸۱/فتاوي ح فان ية ج ۳ ص ۹۳ باب صلاة المسافر/فتاوي دارالعلوم

دیوبند ج ۴ ص ۳۶۴ البحرالرائق ج ۲ ص ۲۲۶ باب صلاة المسافر مکتبه رشیدیه/فتاوي فریدیه ج ۳ ص ۶۸)

د یوه وطن اصلي په بل وطن اصلي باندې د متاثـــر کیدلو حکم

الاستفتاء: که چیرته یو څوک خپل وطن اصلي پریږدي او د سفر د مسافې په اندازه سره په کوم بل ځاي کښې له خپل اهل او عیال سره استوګن غوره کړي نو د اسې که چیرته د دوه درې ورځو لپاره خپل پلرنیة وطن ته راشي نو د هغه لمانځه حکم به څه وي؟ په داسې حال کښې چه دلته ئې په پلرنیة وطن کښې تر ملکیت لاندې زمکه هم موجوده وي؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا: د یوه سړي له خپل وطن څخه د سفر د مسافې په اندازه د سفر په نیت وتل او هلته له پنځلسو ورځو څخه د کم وخت قیام کولو په صورت کښې قصر پړي واجب دی- البته دا سړي که چیرته خپل پلرني وطن ته لاړ شي او هلته ئې تر ملکیت لاندې جائداد هم موجود وي نو دا ځاي د هغه وطن اصلي ګڼل کیږي او پوره لمونځ کول پړې لازم دي ځکه چه سړي کولي شي چه څو ځایه خپل وطن اصلي جوړ کړي-

لما قال صاحب مجمع الانهر: (تحت قوله) و یبطل الوطن الأصلی بمثله لو کان له اهل الکوفة و اهل البصرة فمات اهله با لبصرة و بقی له دور و عقار با لبصرة قبل البصرة لا تبقی وطناً له لانه انام کا نت وطناً له با لاهل لا با لعقار الا تری انه لو تأهل ببلدة و لم یکن له عقار صارت وطناً له و قیل تبقی وطناً له لانه کا نت وطناً له با لاهل و الدور و جمیعاً وال احدهما لا یرتفع الوطن کموطن القامة تبقی ببقاء الثقل. (مجمع الانهر ج۱، ص ١٦٤، باب المسافر)لما في الهندیة: و لو انتقل باهله و مناعه الی بلد و بقی له دور و عقار في الاول قبل بقی الاول وطناً له و الیه اشار محمد في الکتاب. (الفتاوی الهندیة ج۱، ص ١٤٢، الباب الخامس عشر في صلوة المسافر) و مثله في البحر الرائق ج ٢، ص١٣٦، باب المسافر .

بـــاب الجمعة و العيـــدين

د جمعې د لمانځه له فرضيت څخه د منکر سړي حکم

الاستفتاء: د جمعې د لمانځه شرعي حيثيت څه دی؟ که چيرته يو څوک د جمعې د لمانځه له فرضيت څخه انکار وکړي نو کافر کيږي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د نورو لمونځونو غوندې د جمعې لمونځ هم فرض عين دی، چه انکار ترې د کفر موجب دی۔

قال علاؤ الدين الحصكفي: هي فرض عين يكفر جاحدها لثبوتها با لدليل القطعي. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ۱۳۹، باب الجمعة) و قال العلامة ابن نجيم. و هي فريضة محكمة با لكتب و السنة و الاجماع يكفر جاحدها الخ. (البحر الرائق ج ۲، ص ۱۳٤، باب الجمعة) و مثله في فتح القدير ج ۲، ص ۲۱، باب الجمعة)

د جمعې د وجوب لپاره د حاکم د اجازې شرعي حيثيت

الاستفتاء: فقهاوو د جمعې د لمانځه د اداء د وجوب لپاره د بادشاه اجازه ضروري بللې ده ليکن چيرته چه د مسلمانانو حاکم نه وي نو هلته د جمعې د لمانځه شرعي حکم څه دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: په کومو ځايونو کښې چه اسلامي سلطنت قائم وي نو هلته صراحتاً يا دلالتا اجازه ضروري ده، ليکن په کومو ځايونو کښې چه د اسې انتظام نه وي نو د شرائطو تر رعايتولو وروسته عام مسلمانان دې د خپلو ذمه واريو د محسوسولو له مخې د جمعې د لمانځه اهتمام وکړي.

لما ذكر في الهندية: و لو تعذر الاستيذان من الامام فا جتمع الناس على رجل يصلى بهم الجمعة جاز، (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۱٤٦، باب صلوة الجمعة) و قال الشبلي في حاشية الزيلعي: و لو اجتمعت العامة

على ان يقدموا رجلا من غير امر خليفة الميت او القاضي لم يجز و لم تكن جمعة لأنه لم يفوض اليهم أمرهم الا اذا لم يكن فيهم قاض و لا خليفة الميت بان كان الكل ميت فحينئذ يجوز لاجل الضرورة الخ. (الزيلعي ج ٢، ص١٤٣، باب صلوة الجمعة) و مثله في البحر الرائق ج ٢، ص ١٤٣، باب صلوة الجمعة. فتاوي حقانية ج٣ ص ١١٠

د ښـــــار د فناء اندازه

الاستفتاء: د کوم ښار يا لوي کلي د توابعو او فناء د اثره تر کومې اندازې پورې کيدلي شي په د اسې حال کښې چه د لويو کليو د اثره څو څو ميلو ته رسيږي آيا دا ټوله علاقه په فناء يا توابعو يا مضافاتو کښې شماريږي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د کلي يا ښار د توابعو د تعين يا ټاکنې په باره کښې مختلف اقوال وجود لري- ليکن د قاضي ابو يوسف د رأيې مطابق تر کومه ځايه پورې چه د آذان آواز اوريدلکيږي نو هغه علاقه په توابعو کښې شمارل کيږي. نور ګڼ قولونه هم د مسافت په باره کښې راغلي دي ليکن په موجوده وخت کښې د کوم لوی کلي هغه برخه کومه چه د لوي کلي انتظامي امور پکښې چليږي په توابعو کښـې شمارل کيږي لکه د کوم کلي په کميټې پورې

تړلې ټوله علاقه توابع ګڼل کيږي. د دې لپاره همدا علاقه د تنظيمونو د آمدني او مصارفو لپاره مخصوصه ګڼل کيږي. البته يونين کونسل په دې زمرې کښې راتلل مشکل دي. يا هم د د اسې لوی کلي علاقه بايد د عرف تابع وي

-قال علاؤ الدين الكاساني: و اما تفسير توابع المصر فقد اختلفوا فيها روى عن ابي يوسف ان المعتبر فيه سماع النداء ان كان موضعاً يسمع فيه النداء من المصر فهو من توابع المصر الخ. (بدائع الصنائع ج١، ص ٢٦٠، فصل في بيان شرائط الجمعة) و قال علامة ابن عابدين: و جملة اقوالهم في تقديره ثمانية اقوال او تسعة علوه ميل ميلان ثلثة فرسخ فرسخان ثلثة سماع الصوت سماع الآذان الخ- (شامي ج ٧، ص ١٣٩، باب صلوة الجمعة) و مثله في البحر الرائق ج ٢، ص١٤١، باب صلوة الجمعة. كذافي فتا وي حقا نية ج٣ ص ١١١

په فوځي چاوڼۍ يا کومې ممنوعه علاقه کښې د جمعې د لمانځه حکم

الاستفتاء: په ځينو حساسو علاؤو يا فوځي چاوڼيو کښې د عامو خلکو د اخليدل د قانون له مخې منع وي. په داسې ځايونو کښې (چيرته چه هر چا ته د داخليدو د نه اجازې له وجهې د "اذن عام" شرط مفقود وي) د جمعې لمونځ جائز دي او که نه؟ په داسې حال کښې چه د فقهې په کتابونو کښې يو شرط اذن عام" هم ليکلي دی؟

الجواب حامدا و مصليا: په داسې ځايونو کښې له داخليدو څخه ممانعت د انتظامي امورو يوه برخه ده تر څو چه د اشرارو او مفسدينو له شر څخه محفوظ پاتې وي. د دې لپاره له داسې ممانعت څخه د جمعې حيثيت نه خرابيږي. هو! له دې ځاي سره د تعلق لرونکو خلکو د کلي اجازې تر څنګ اضافي اذن عام هم ميندل کيږي. د دې لپاره د اسې ځاي چه کله په داسې علاؤې کښې واقع وي چيرته چه جمعې او عيدين واجب وي نو په ګنو ځايونو کښې د لمانځه د روا والي له وجهې دلته هم د جمعې او عيدينو په اداکولو کښې کوم حرج نشته

قال علاؤ الدين الحصكفي: تحت قوله "الاذن العام" فلا يضر غلق باب القلعة لعدو او لعادة قديمة لان الاذن العام مقرر لاهله الخ. (در مختار ج ٢، ص ١٥٢ ، باب الجمعة) قال داماد آفندی: و ما يقع في بعض القلاع من غلق ابوابه خوفاً من الاعداء او كا نت له عادة قديمة عند حضور الوقت فلا بأس به لان الاذن العام مقرر لاهله الخ. (مجمع الانهر ج١، ص ١٦٦، باب الجمعة) فتا وي حقا نية ج٣ ص١١٢

په کليو کښې د جمعې په اداکولو سره د ماسپښين د لمانځه څخه غاړې نه خـــلاصيږي

الاستفتاء: چيرته چه جمعه واجبه نه وي او د مسئلې د معلوم والي سره سره ځيني خلک محض د ضد او تضاد له مخې د جمعې لمونځ اداکوي نو آيا د هغو له غاړې څخه د ماسپښين لمونځ ساقطيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: چه کله په کوم ځاي کښې جمعه واجبه نه وي نو د ماسپښين لمونځ هلته فرض وي . په داسې حالت کښې سره له دې چه جمعه واجبه نه وي د جمعې د لمانځه اداکول مکروه تحريمي دي او د ماسپښين د لمانځه څخه د غاړې د خلاصيدو لپاره ګټه نه کوي-

قال العلامة ابن العابدين: و فيما ذكرنا اشارة الى انه لا تجوز في الصغيرة التي ليس فيها قاض و منبر و خطيب كما في المضمرات و الظاهر انه أريد به الكراهة لكراهة النفل با لجماعة الا ترى ان في الجواهر لو صلوا في القرى لزمهم اداء الظهر الخ. (شامي ج١، ص١٣٨) قال العلامة ابن نجيم المصرى: قوله شرط ادائها المصر اى شرط صحتها أن تؤدى في مصر حتى لا تصح في قرية و لا مفازة. (البحر الرائق ج٢، ص١٤٠، باب الجمعة) و مثله في البناية شرح الهداية ج٣، ص٢٨٦، باب الجمعة. فتا وي حقا نية ج٣ ص١١٤

په بيابان كښې د جمعې د لمانځه حكم

الاستفتاء: په كوم بيابان كښې د خلكو د يو ځاي كيدو په صورت كښې د جمعې د لمانځه د ادا كولو حكم څه دى؟ خصوصاً په داسې حال كښې چه خلك په زياته اندازه يو ځاي شوي وي ليكن په مستقله توګه هلته نه اوسيږي؟

الجواب حامدا ومصليا: كه چيرته د ا بيابان د لوي كلي يا ښار له توابعو څخه نه وي نو په د اسې ځاي كښى، جمعې او اخترونو لمونځونه جائز نه دي

. قال علاء الدين الحصكفي: و لا بعرفات لانها مفازاة الخ . (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص ١٤٤، باب الجمعة) و فـــي الهندية: و لا جمعة بعرفات اتفاقا كذا في الكافي. (الهندية ج١، ص ١٤٥) و مثلـه في البحر الرائق ج ٢، ص ١٤٢ ، باب الجمعة فتا وي حقا نية ج٣ ص١١٤

د مسافر لپاره د جمعې د لمانځه حكم

الاستفتاء: په مسافر باندې د جمعې د لمانځه د نه واجب والي سره سره كه چيرته د جمعې لمونځ ادا كړي نو آيا د ماسپښين له لمانځه څخه ئې غاړې خلاصيږي او كه به د ماسپښين لمونځ بيا ادا كول پرې ضروري دي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: اقامت (مقيم والى) د جمعې د لمانځه د ادا له هغو شرائطو څخه دي چه د هغه په نه موجود والي کښې هم د جمعې لمونځ ادا کيدلي شي. د دې لپاره د مسافر لپاره د جمعې لمونځ صحيح دي او د جمعې تر اداکولو وروسته د ماسپښين لمونځ پرې لازم نه دی۔

قال العلامة ابن عابدين: تحت قوله و اقلها ثلثة رجال اطلق فيهم فشمل العبيد و المسافرين و المرضى و الأميين و الخرسي لصلاحيتهم للامامة الخ. (شامي ج٢، ص ١٥١ ، باب الجمعة)و في الهندية، و تتعقد الجمعة باتمام العبيد و المسافرين و المرضى و كذا با لاميين و الخرس الخ. والهندية ج ١، ص ١٤٨، صلوة الجمعة) و مثله في فتح القدير ج ٢، ص ٣٣، باب صلوة الجمعة..

د جمعې او اخترونو د لمونځونو لپاره د ښځو د را وتلو حکم

الاستفتاء: په جوماتونو کښې د جمعې او اخترونو لپاره د ښځو لپاره د وتلو شرعاً څه حکم دی؟

الجواب حامدا و مصليا: د ښځو لپاره په مستقله توګه د جمعې او اخترونو اهتمام روا نه دي او نه په هغو باندې واجب دی. هو! په کوم جامع مسجد کښې تبعا شرکت پخپل ذات کښې ممنوع نه دي ليکن په نن دور کښې د ښځو وتل له فتنې او فساد څخه خالي نه وي د دې لپاره د جمعې د لمانځه لپاره د وتلو په ځاي دې ښځې بايد پخپلو کورونو کښې لمونځونه وکړي او د اخترونو لمونځونه هم په ښځو واجب نه دي۔

قال صلوة الدين الكاساني: و اما المرأة فلانها مشغولة بخدمة الزوج ممنوعة عن الخروج الى محافل الرجال لكون الخروج سب للفتنة و لهذا لا جماعة عليهن و لا جمعة الخ. (بدائع الصنائع ج١، ص٢٥٨، فصل بيان شرائط الجمعة) و ذكر السرخسي و المرأة كذلك مستغولة بخدمة الزوج منهية عن الخروج شرعاً لما في خروجها الى مجمع الرجال فتنة. (المبسوط ج٢، ص٢٢، باب الجمعة) و مثله في الطحطاوي حاشية مراقي الفلاح ص ٤١١، باب الجمعة.

په معذور سړي باندې د جمعې لمونځ واجب نه دی

الاستفتاء: داسې سړي چه تگ او راتگ نه شي کولي د هغه لپاره د جمعې د لمانځه ادا کول څه حکم لري؟ بینوا توجروا

-الجواب حامدا و مصلیا: چه کله کوم تړدي جامع جوماته پوري د جمعې د لمانځه لپاره په رسید و باندې څوک قادر نه وي نو د اسې سړي د نورو معذورو خلکو په حکم کښې راځي او د جمعې د لمانځه له وجوب څخه مستثنية دی-البته که چیرته په کومې طریقې سره لاړ شي او د جمعې لمونځ ادا کړي نو لمونځ ئې صحیح دي لیکن په نه ورتگ سره نه گنهگاریږي-

قال العلامة ابن العابدين: (تحت قوله و قدرته على المشى) فلا تجب على المقعد و ان وجد حاملاً اتفاقاً خانية. لانه غير قادر على السعي اصلا فلا يجرى فيه الخلاف في الاعمى كما نبه عليه القهستانية . (سامي ج۲ ، ص ١٥٤، مطلب في شروط وجوب الجمعة) و في الهندية: حتى لا تجب الجمعة على العبيد و النسوان و المسافرين و المرضى كذا في المحيط السرخسي و لا على المقعد با لاجماع الخ. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ١٤٤، باب صلوة الجمعة) و مثله في البحر الرائق ج۲، ص ١٥١، باب صلوة الجمعة. فتا وي حقا نية ج۳ ص۱۱۵

د خطبې آذان باید خطیب ته مخامخ وشي

الاستفتاء: د جمعې لپاره د خطبې آذان په کوم ځاي کښې کیږي؟ آیا د امام ښي او چپې خوا ته آذان کول جائز دي او که به خامخا امام ته مخامخ آذان کیږي؟

الجواب حامدا و مصلیا: اگر که آذان د یوه اعلان په حیثیت له کوم ځانگړي ځاي سره مخصوص نه دي لیکن له خطبې څخه مخ کښې د آذان کولو لپاره فقهاء کرامو دا تصریح کړې ده چه دا آذان دې باید په جومات کښې د ننه خطیب ته مخامخ وشي-

قال علاء الدين الحصكفي: و يؤذن ثانياً بين يديه اي الخطيب. (رد المحتار ج٢، ص ١٦١، مطلب في حكم الآذان بين يدي الخطيب) و في الهندية: و اذا جلس على المنبر اذن بين يديه . .. الخ. والفتاوي الهندية ج١، ص١٤٩، صلوةالجمعة) و مثله في البحر الرائق ج٢، ص ١٥٧ ، باب صلوة الجمعة

د جمعې لپاره په يوې خطبې باندې اكتفاء كول د سنتو خلاف دی

الاستفتاء: كه چيرته كوم خطيب د دوو خطبو په ځاې په يوې خطبې باندې اكتفاء وكړي نو آيا خطبه ئې اداكيږي او كه نه؟ او په همدې حالت كښې ئې د لمانځه حكم څه دی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د يوې خطبې په ويلو سره اگر كه د خطبې شرط پوره كيږي ليكن دوه خطبې مسنوني دي. د دې لپاره په يوې خطبې باندې اكتفاء كول د سنتو خلاف عمل دي البته په لمانځه باندې كوم اثر نه كوي-

قال محمدبن عبدالله التمرتاشي و يسن خطبتان بجلسة بينهما. (تنوير الابصار على صدر رد المحتار ج٢٠ قال محمد بن ص ١٤٨، باب الجمعة) قال برهان الدين المرغيناني: و يخطب خطبتين يفصل بينهما بقعدة و به جرى التوارث. (الهداية ج١، ص ١٤٨، باب صلوة الجمعة) و مثله في الزيلعي ج ١، ص ٢٢٠ ، باب الجمعة.

د خطبې د اوريدو لپاره د ناستې كيفيت

الاستفتاء: د خطبې په وخت كښې سړي بايد څنگه كښيني؟ آيا په تشهد كښې د ناستې غوندې ناستې ضروري دي او كه څنگه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: په عامو كتابونو كښې د تشهد د ناستې غوندې ناستې ته بهتر ويل شوي دي ليكن د روايتونو له مخې له دې پرته په طبعي كيفيت باندې ناسته هم ممنوع نه ده

.لما ورد في الحديث : حدثنا داؤد بن رشيدنا خالد بن حيان الرقي حدثنا سليمان بن عبد الله بن الزبر فان عن يعلى بن شداد بن اوس قال شهدت مع معاوية بيت المقدس فجمع بنا فنظر فاذا اجل من في المسجد اصحاب النبي ﷺ فرأيتهم محتبين و الامام يخطب . قال ابو داؤد و كان ابن عمر يحتى و الامام يخطب ...... الخ. (ابو داؤد ج١، ص١٥٨) و في الهندية: اذا شهد الرجل عند الخطبة ان شاء جلس محتبياً او متربعاً او كما تيسر لانه ليس بصلوة عملا و حقيقة كذا في المضمرات. (الفتاوى الهندية ج١، ص١٤٨، الباب السادس عشر في صلوة الجمعة) و مثله في التاتارخانية ج٢، ص ٦٣، باب الجمعة، شرائط الجمعة. فتا وي حقا نية ج٣ ص١١٧

په منبر باندې خطبه ويـل سنت دي

الاستفتاء: له منبر نه بغير په بل ځاي کښې د خطبې ويلو حيثيت څه دی؟

الجواب حامدا و مصليا: په منبر باندې خطبه ويـل يو نبوي سنت دي. او له منبره پرته خطبه ويل د سنتو خلاف دی-

قال العلامة جلال الدين عبد الرحمن ابن ابي بكر السيوطي: و اخرج ابن ابي شيبة عن الشعبي قال كان رسول الله اذا صعد المنبر يوم الجمعة استقبل الناس بوجه الكريم فقال السلام عليكم و يحمد الله و يعلى عليه و يقرأ سورة ثم يجلس ثم يقوم فيخطب ثم ينزل و كان ابو بكر و عمر يفعلانه. (تفسير در منثور ج ٦ ، ص٢٢٢) و قال العلامة ابن العابدين: و من السنة ان يخطب عليه اقتدا به ..... الخ. (رد المحتار ج ٢، ص١٦١. باب العيدين) و مثله في الهندية ج ١، ص ١٤٧، الباب السادس عشر في صلوة الجمعة

د خطبې په دوران کښې د خلفاء راشدينو د يادونې حکم

الاستفتاء: په عامو کتابونو کښې د جمعې په خطبه کښې د حمد، صلات، وعظ او نصيحتونو تذکره (يادونه) تر سترګو کيږي، آيا له دې پرته د خلفاء راشدينو يادونه هم پکښې ضروري ده او که نه؟ او که چيرته ئې څوک ياد کړي نو شرعي حيثيت ئې څه دى؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: اګر که د خطبې رواوالي د خلفاء راشدينو په يادونې پورې اړه نه لري ليکن بيا هم د صحابه کرامو په ځانګړې توګه د خلفاء راشدينو يادونه يو ښه عمل دى۔

قال العلامة الحصكفي: ويندب ذكر الخلفاء الراشدين و العمين الخ. (در مختار ج٢، ص١٤٩، مطلب في قول الخطيب الخ) و في الهندية: و ذكر الخلفاء الراشدين و العمين رضوان الله تعالى عليهم اجمعين مستحسن بذلك جرى التوارث كذا في التجنيس. (الفتاوى الهندية ج١، ص ١٤٧، الباب السادس عشر في صلوة الجمعة) فتا وي حقا نية ج٣ ص١١٨

د خطبې په وخت کښې د خبرې کولو حکم

الاستفتاء: د خطبې په وخت کښې د خبرو حکم څه دى؟ که چيرته يو خطيب د خطبې په دوران کښې کومه خبره وکړي نو آيا خطبه ترې متاثره کيږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: د خطبې په وخت کښې د خطيب لپاره له امر بالمعروف نه بغير نورې خبرې مکروه دي ليکن د خطبې بيرته راګرځول ضروري نه دي. البته اوريدونکو ته د خطبې د اوريدلو د واجب والي له وجهې په مطلقه توګه خبرې کول يا اشاره کول مکروه دي۔

قال علاؤ الدين الحصكفي: و يكره تكلمه فيها الألامر بمعروف لانه منها ...... الخ. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص ١٤٩، باب الجمعة) و ايضاً كل ما حرم في الصلوة حو م فيها اي في الخطبة خلاصة و غيرها فيحرم اكل و شرب و كلام و لو تسبيحاً او رد السلام او امرأ بمعروف بل يجب عليه ان يستمع و يسكت . (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٢، ص١٥٩، مطلب في شروط وجوب الجمعة) لما قال العلامة ابن نجيم المصرى: (تحت قوله و اذا خرج الامام فلا صلوة و لا كلام) و يكره للخطيب ان يتكلم في حال الخطبة الا اذا كان امرأ بمعروف فلا يكره..... اما وقت الخطبة قال كلام مكروه تحريما لو كان امراً بمعروف او تسبيحاً او غيره. (البحر الرائق ج٢، ص ١٥٥، باب الجمعة) و مثله في خلاصة الفتاوى ج١، ص٢٠٦ ، الفصل الثالث و العشرون في صلوة الجمعة. فتا وي حقا نية ج٣ ص١١٩

د خطبې په وخت کښې د دعا حکم

الاستفتاء: د جمعې د دواړو خطبو په منځ کښې د خطيب يا اوريدونکو لپاره د دعا د کولو حکم څه دی؟

الجواب حامدا و مصليا: له رسول اللهﷺ څخه د هيڅ يوې دعا د کولو ثبوت نه دی راغلی. د دې لپاره په دې وخت کښې د دعا لپاره د لاسونو پورته کول مکروه دي۔

حدثنا احمد بن منيع، حدثنا هشيم، حدثنا حصين قال سمعت عمارة بن روية و بشر بن مروان يخطب فرفع يديه في الدعاء فقال عمارة فح الله هاتين اليدين القصيرتين لقد رأيت رسول الله ﷺ و ما يزيد على ان يقول هكذا و اثار هشيم با لسبابة قال أبو عيسى هذا حديث حسن صحيح. (الجامع الترمذي ج١، ص ١١٤) و قال الشيخ عبد الحق دهلوى: و آنحضرت ﷺ در ميان دو خطبه لحظه بنشستي چنانچه در حديث جابر بن سمره آمد و خاموش بودي و دعا از آنحضرت – درين وقت بصحت نه رسيد. (شرح سفر السعادت ص ٢٧٢) و مثله في غاية الاوطار ج١، ص٣٧٣، باب الجمعة. فتا وي حقا نية ج٣ ص١١٩

د اخترونو د جماعت ترکید و وروسته د دو هم جماعت د ادا کولو حکم

الاستفتاء: د اخترونو په لمانځه کښې د جماعت تر کید و وروسته چه کوم خلک له لمانځه څخه پاتې شوي وي نو آیا د ا خلک دو همه جمعه کولي شي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا: په یوه ښار کښې د ننه په ګڼو ځایونو کښې په یوه وخت د جمعې او اخترونو لمونځونه صحیح دي لیکن په یوه ځاي کښې څو واري جماعت جائز نه دی. لهذا له کومو خلکو څخه چه د اختر لمونځ پاتې شوي وي هغوي که په کوم بل ځاي کښې د کوم بل امام پسې اقتداء کولي شي یا په کوم بل ځاي کښې د جماعت د ادا کولو اهتمام کولي شي نو صحیح دي او که نه شي کولي نو په همدې ځاي (جومات یا عیدګاه کښې د دوهم ځل لپاره لمونځ جائز نه دی-

و قال العلامة ابن نجیم: و الا اذا قالت مع امام و امکنه ان یذهب الی امام آخر فانه یذهب الیه لانه یجوز تعدادها في مصر واحد في موضعین و اکثر اتفاقاً. (البحر الرائق ج ۲، ص ۱۶۲ ، باب العیدین) فتا وي حقا نیة ج۳ ص ۱۲۰

د اختر په لمانځه کښې د مسبوق حکم

الاستفتاء: که چیرته یو څوک د عیدینو په لمانځه کښې له امام سره په دو هم رکعت کښې شریک شي نو پاتې شوي رکعت به څرنګه ادا کوي؟

الجواب حامدا و مصلیا: د امام تر سلام ګرځولو وروسته به مسبوق دریږي او له سورت فاتحه سره به کوم بل سورت یو ځاي کوي او وروسته به د خپل مسلک مطابق زائد تکبیرونه وایي او خپل رکعت به پوره کوي-

قال علاؤ الدین الکاساني: فاذا فرغ الامام من صلوته یقوم الی قضاء ما سبق به ثم ان کان رأیه یخالف رأی الامام یتبع رأی نفسه لانه منفرد فیما یقضی بخلاف اللاحق لانه في الحکم کانه خلف الامام و ان کان رأیه موافقاً لرأی امامه بان کان امامه یری رأی ابن مسعود و هي کذلك بدأ با لقرأة ثم با لتکبیرات ...... الخ.

(بدائع الصنائع ج۱، ص۲۷۹، فصل بيان صلوة العيدين) و قال العلامة ابن العابدين: يقرأ ثم يكبر اي اذا قام الى قضائها لئلا يتوالى التكبير . (شامي ج۲ ، ص ۱۷٤ ، باب العيدين، مطلب امر الخليفة لا يبقى بعد موته) و مثله في الطحطاوي ص ٤۳۷، باب احكام العيدين. فتا وي حقا نية ج۳ ص۱۲۰

د جمعې د لمانځه لپاره بهترين وخت

الاستفتاء: د فقه حنفي له مخې د ماسپښين په لمانځه کښې په ساړه موسم کښې تعجيل او د ګرمي په موسم کښې ابراد افضل دی-نو آيا د جمعې د لمانځه هم همدا حکم دي او که څنګه؟

الجواب حامدا و مصليا: د وخت د تعين او افضليت د دواړو په اعتبار سره د جمعې حکم د ماسپښين د لمانځه غوندې دی. د دې لپاره د جمعې د لمانځه لپاره په ساړه موسم کښې تعجيل او د ګرمي په موسم کښې ابراد مستحب دی-

قال العلامة ابن نجيم المصرى: و الجمعة كا لظهر اصلا و استحباباً في الزمانين كذا ذكره الاسيجابي، (البحر الرائق ج ۱، ص ۲٤۷، كتاب الصلوة في المواقيت الصلوة) و قال برهان الدين المرغيناني: و من شرائطها الوقت فتصح في وقت الظهر و لا تصح بعده لقوله عليه السلام اذا مالت الشمس فصل با لناس الجمعة الخ. والهداية على صدر فتح القدير ج۲، ص۲۷، باب الجمعة) و مثله في الزيلعي ج ۱، ص ۲۱۹، باب الجمعة. فتا وي حقا نية ج۳ ص۱۲۱

د عيدينو لپاره د پاکو او صفا جامو د اغوستلو حکم

الاستفتاء: په عيدينو کښې د نوي يا مينځل شويو جامو اغوستلو د اهتمام شرعي حيثيت څه دی؟

الجواب حامدا و مصليا: په داسې اجتماعي مواقعو کښې پاکې او صفا جامې يا نوې جامې اغوستل مستحب دي-

قال علاؤ الدين الحصكفي: و ندب يوم الفطر اكله الخ و بعد سطر و ليس احسن ثيابه و لو غير ابيض. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص ١٦٨، باب العيدين) و في الهندية: و يستحب يوم الفطر للرجل الاغتسال و السواك و لبس احسن ثيابه ..... الخ. (الفتاوى الهندية ج١، ص ١٤٩، صلوة العيدين) و مثله في البحر الرائق ج ٢، ص ١٥٧ ، باب صلوة العيدين. فتا وي حقا نية ج٣ ص١٢١

په خطبه کښې د عصاد نیولو حکم

الاستفتاء: آیاد جمعې او عیدینو په خطبو کښې په لاس کښې د عصانیول جائز دي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: د خطبې لپاره په لاس کښې عصا نيول مسنون دي ليکن د ابايد يو مقصودي سنت ونه بلل شي بلکه د اثر استحبابي عمل پورې بايد محدود وسائل شي–

قال العلامة الحصكفي: و يكره ان يتكي على قوس او عصا. قال ابن عابدين: نقل القهستاني عن عبد المحيط ان اخذ عصا سنة کا لقيام، (رد المحتار ج ٢، ص ١٦٣ ، باب الجمعة، مطلب اذا شرك في عبادته الخ) قال الشيخ ظفر احمد العثماني:

د عصا په لاس کښې نيول مستحب دي ليکن که چيرته ضروري وګڼل شي او په نه نيوونکي باندې بد رد وويل شي نو د التزام ما لا يلزم له وجهې به منع وي. (امداد الفتاوي ج١، ص١٥٩، فصل في الجمعة و العيدين) فتا وي حقا نية ج٣ ص١٢۶

د اختر تر لمانځه وروسته د دعا غوښتلو حکم

الاستفتاء: په عيدګاوو کښې خلک د اختر تر لمانځه وروسته دعاګانې غواړي. آيا د اختر تر لمانځه وروسته دعا غوښتل جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: قرآن او سنت دعا د غوښتنې لپاره کوم وخت نه دي ټاکلي بلکه د دعا وختونه مطلق ذکر کړي دي. چه هر وخت چه څوک دعا غواړي نو جائز دي. د عيدينو تر لمانځه وروسته د دعا په غوښتنې باندې د امت د مشرانو او لويانو تعامل هم راغلي دی. د دې لپاره په دې کښې شرعاً کوم قباحت نشته بلکه دعا غوښتل مستحب دي

-لما قال الله تبارك و تعالى: إذا سألك عبادي على فإني قريب أجيب دعوة الداع إذا دعان. (سورة البقرة آية ۱۸٦)

قال الشيخ ظفر احمد العثماني: پس د عيدينو د لمانځه نه وروسته زارى او دعا ګانې د حديثو له عموماتو څخه مستحب دي بلکه تر هر لمانځه وروسته هم مستحب دي. (امداد الاحكام ج۱، ص۷۴۲، فصل في الجمعة و العيدين) فتا وي حقا نية ج۳ ص۱۲۷

د جمعې په ورځ د دوهم آذان د جواب ورکولو حکم

الاستفتاء: د فرض لمونځونو لپاره د ورکول کيدونکي آذان ځواب ورکول خو ضروري دي آيا د جمعې په ورځ د دوهم آذان ځواب ورکول هم ضروري دي او که څنګه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: اګر که د آذان ځواب ورکول ضروري دي ليکن د جمعې په ورځ د د و هم آذان په ژبې سره ځواب ورکول د فقهاوو تر منځ يوه اختلافي مسئله ده. مناسبه دا ده چه ځواب ور نه کړل شي. البته که چيرته په زړه کښې ځواب ورکړي نو بيا پروا نه لري-

لما قال العلامة الحصكفي: و ينبغي ان لا يجيب بلسانه اتفاقاً في الآذان بين يدي الخطيب. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱، ص۳۹۹، باب الآذان) قال الشيخ العلامة عبد الحي اللكهنوي: ينبغى ان لا يجيب بلسانه اتفاقاً في الآذان بين يدى الخطيب و ان يجيب اتفاقاً في الآذان الأول يوم الجمعة. (السعاية في حل شرح الوقاية ج۲، ص۵۳ ، باب الآذان) فتا وي حقا نية ج۳ ص۱۲۷

د جمعې د لمانځه د څند ولو حکم

الاستفتاء: ځيني خطيب صاحبان د جمعې لمونځ دومره ناوخته کوي چه د مثل اول وخت ختم شوي وي. آيا د جمعې دومره ځنډول صحيح دي او که څنګه؟

الجواب حامدا ومصليا: د ماسپښين وخت د مثل ثاني تر ختميدو پورې دي او له مثل اول څخه د مثل ثاني وخت مکروه دی. د دې لپاره چه څوک د جمعې لمونځ له مثل ثاني څخه وروسته کوي

لما قال العلامة ابراهيم الحلبي و كذا لو اشار برأسه او عينه او يده عند رؤية المنكرولم يتكم بلسانه الصحيح انه لا يكره. (كبيري ص ٥٦٠، باب الجمعة) ذكر العلامة ابن نجيم. و عن ابي يوسف انه كان ينظر في كتابه و يصححه وقت الخطبة و لو لم يتكلم لكن اشار بيده او بعينه حين رأى منكر الصحيح انه لا بأس به. والبحر الرائق ج٢، ص١٥٦، باب الجمعة) و مثله في الهندية ج١، ص ١٤٧، الباب السادس عشر في الجمعة

د خطبې په دوران کښې د خطيب ښى او کيڼې خواته د کتلو حکم

الاستفتاء: ځيني خطيبان د خطبې د ويلو په وخت کښې ښی او کيڼې خواته ګوري. آيا د اسې کول محمود، او که نه؟ بينوا توجرو

ا-الجواب حامدا ومصليا: د خطبې په دوران کښې سنت طريقه دا ده چه خطيب د مخې خواته توجه وکړي او يوې او بلې خواته و نه ګوري. فقهاء کرامو له داسې کولو څخه منع فرمايلې ده.

لما قال العلامة ابن عابدين: و ما يفعله بعض الخطباء من تحو يل الوجه جهة اليمين وجهه اليسار عند الصلوة على السياسة في الخطبة الثانية لم ازا من ذكره و الظاهر انه بدعة ينبغي تركه لئلا يتوهم انه سنة ثم رأيت في منهاج النووي و لا يلتفت يميناً و شمالاً في شيء منها قال ابن حجر في شرحه لان ذلك بدعة. (رد المحتار ج ٢، ص ١٤٩ ، باب الجمعة، مطلب في قول الخطيب الخ) قال الشيخ وهبة الزحيلي: اما من الخطبة فهي

عند الحنفية ثماني عشرسنة...... استقبال القوم بوجهه دون التفات يميناً و شمالاً سنة با لاتفاق لما روى ابن ماجة عن عدي بن ثابت عن أبيه عن جده قال كان النبي اذا قام على المنبر استقبله الناس بوجوههم.. (الفقه الاسلامي و ادلته ج٢، ص٢٩١، المطلب السادس من الخطبة و مكروهاتها) فتا وي حقا نية ج٣ ص١٣٠

د خطبې په دوران کښې د سنتونو د ادا کولو حکم

الاستفتاء: ځینې خلک عین د خطبې په دوران کښې د جمعې د لمانځه لپاره جومات ته راځي او له رتګ سره د سنتو په ادا کولو باندې شروع کوي. آیا د خطبې په دوران کښې د سنتو اداکول جائز دي؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا: د جمعې د خطبې اوریدل واجب دي. په دې دوران کښې هر هغه عمل چه د خطبې له اوریدو څخه توجه اړوي ناجائز دی. د دې لپاره د فقه حنفي له مخې د خطبې په وخت کښې د سنتو اداکول صحیح نه دي-

لما قال العلامة ابو البركات التسفي: اذا خرج الامام فلا صلوة و لا كلام..... قال ابن نجيم في شرحه لما رواه ابن ابي شيبة في مصنفه عن على و ابن عباس و ابن عمر رضي الله عنهم كانوا يكرهون الصلوة و الكلام بعد خروج الامام وقول الصحابة حجة (البحر الرائق ج٢، ص ١٥٥، باب الجمعة) قال العلامة الحصكفي: اذا خرج الامام من الحجرة ان كان و الا فقيامه للصعود شرح المجمع فلا صلوة و لا كلام إلى تمامها. قال ابن عابدين: (قوله فلا صلوة) شمل السنة و تحية المسجد. (رد المحتار ج٢، ص١٥٨، باب الجمعة) و مثله في الهداية ج١، ص ١٥١ ، باب الجمعة . فتا وي حقا نية ج٣ ص١٣٠

د خطبې له ویلو پرته د جمعې د لمانځه د ادا کولو حکم

الاستفتاء: آیا له خطبې پرته د جمعې لمونځ کیږي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا: خطبه د جمعې په شرایطو کښې داخله ده د دې لپاره له خطبې پرته د جمعې لمونځ نه کیږي-

و في الهندية: و منها الخطبة قبلها حتى لو عملوا بلا خطبة او خطب قبل الوقت لم يجز. (الفتاوى الهندية ج١ء ص١٤٦، الباب السادس عشر في صلوة الجمعة) قال العلامة ابن نجيم: و في فتح القدير و اعلم ان الخطبة شرط الانعقاد في حق من ينشيء التحريمة للجمعة الخ. (البحر الرائق ج ٢، ص ١٤٧ ، باب الجمعة) و مثله في الفقه الاسلامي و ادلته ج٢، ص٢٨٢، باب الجمعة الخطبة قبل الصلوة. فتا وي حقا نية ج٣ ص١٣٤

د اخترونو د لمانځه اصل وخت

الاستفتاء: د اخترونو لمونځونه د لمر له ختو څخه څومره وروسته باید ادا شي؟

الجواب حامدا و مصليا: چه كله لمر ديوې نيزې په اندازه را وخيژي له هغه وخت څخه را ونيسه تر زوانه پورې د اخترونو لمونځونه جائز دي-

ما قال العلامة الحصكفي: و وقتها من الارتفاع قدر رمح فلا يصح قبله بل تكون نفلا محرما الى الزوال باسقاط الغاية، (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص ١٧١، باب صلوة العيدين) قال العلامة حسن بن العمار الشرنبلالي: و ابتداء وقت صحة صلوة العيد ارتفاع الشمس قدر رمح او رمحين حتى تبيض للنهي عن الصلوة وقت الطلوع ان ان تبيض لانه كان يصلى العيد حتى ترفع الشمس قدر رمح او رمحين فلو صلوا قبل ذلك لا تكون صلوة عيد بل نقل محرما. (مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ٤٣٦ ، باب صلوة العيدين) و مثله في خلاصة الفتاوى ج١، ص ٢١٤، الفصل الرابع و العشرون في صورة العيدين. فتا وي حقا نية ج٣ ص١٣٦

[عیدګاه ته د تلو په وخت کښې تکبیرات په زوره ویل کیږي او که په پټ

الاستفتاء: آیا د لوي اختر د لمانځه لپاره عیدګاه ته د تلو په وخت کښې په لارې تکبیرات په لوړ آواز سره ویل کیږي او که په پټه یعنې په پټ آواز سره؟

الجواب حامدا و مصلیا: د لوي اختر د لمانځه لپاره عیدګاه ته د تلو په وخت کښې تکبیرات په لوړ آواز سره ویل کیږي په داسې حال کښې چه د کوچني اختر د لمانځه لپاره د تلو په وخت کښې تکبیرات په پټه (په زړه کښې) ویل کیږي. همدا له امام ابو حنیفة څخه مروي دی او علامه قاسم بن قطلوبغا هم همدا خبره غوره کړې ده

.قال العلامة ابن عابدین: و یوم الفطر لا یجهر به عنده و عندهما یجهر و هو روایة عنه و الخلاف في الافضلیة اما الکراهة فمنتفیة عن الطرفین. و قد ذکر الشیخ القاسم في تصحیحه ان المعتدل قول الامام. (رد المحتار ج۲، ص ۱۷۰، باب صلوة العیدین، مطلب یطلق المستحب علی السنة با لعکس) قال العلامة الکاساني: و منها ان یغدوا الی المصلی جاهراً یا لتکبیر في عید الاضحي فاذا انتهی الی المصلی ترك........ و اما في عید الفطر فلا یجهر با لتکبیر عند ابي حنیفة الخ. (بدائع الصنائع ج۱، ص۲۷۹، باب صلوة العیدین) و مثله فیه الهندیة ج۱، ص۱۵۰ ، باب صلوة العیدین . فتا وي حقا نیة ج۳ ص۱۳۷

د تکبیرات زوائد د هیرید و حکم

الاستفتاء: که چیرته کوم امام ته تر سورت فاتحې وروسته ور په زړه شي چه تکبیرات زوائد خو درنه پاتې شول نو په دې حالت کښې به نو موړي امام څه کوي؟

الجواب حامدا و مصلیا: د عیدینو په لمانځه کښې تکبیرات زوائد واجب دي. که چیرته امام ته د سورت فاتحه د ویلو په منځ کښې یا تر سورت فاتحه وروسته ور په یاد شي خو په دې شرط چه بل سورت ئې نه وي لا تلاوت کړي نو په دې صورت

کښې به امام لومړي تکبيرونه وايي او بيا به له سره سورت فاتحه او کوم بل سورت ووايي او که چيرته ئې سورت ويلي وي نو تکبيرات ساقطيږي او سجده سهو پرې لازميږي

-لما قال العلامة ابن عابدين: في البحر عن المحيط بدأ الامام با لقرأة سهواً فتذكر بعد الفاتحة و السورة يمضى في صلوته و ان لم يقرأ الا الفاتحة كبر و اعاد القرأة لزوما لان القرآة اذا لم تتم كان امتناعا عن الاتمام لا رفضا للفرض. (رد المحتار ج ۲، ص ۱۷۳، باب صلوة العيدين، مطلب امر الخليفة لا يبقى بعد موته) قال العلامة الكاساني: فاما اذا تذكر قبل الفراغ منها بان قرأة الفاتحة دون السورة ترك القرأة و يأتي با لتكبيرات لانه اشتغل با لقرأة قبل أوانها فيتركها و يأتى بما هو الاهم ليكون المحل محلا له ثم يعيد القرأة لأن الركن متى ترك قبل تمامه ينتقض من الأصل. (بدائع الصنائع ج۱، ص۲۷۸، باب صلوة العيدين، فصل بيان قدر صلوة العيدين و كيفية ادائها) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۱۶۱ ، باب صلوة العيدين . فتا وي حقا نية ج۳ ص۱۳۸

له تکبيرات زوائد و څخه وروسته په لمانځه کښې د شامليدلو حکم

الاستفتاء: که چيرته څوک د تکبيرات زوائد و له ويلو وروسته په لمانځه کښې شامل شي نو هغه به په دې حالت کښې څه کوي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: څوک چه له تکبيرات زوائد و څخه وروسته په لمانځه ښې له امام سره شريک شي نو د هغه څو صورتونه دي:

که چيرته په لومړي رکعت کښې شامل شي نو لومړي به له ځان سره درې تکبيرونه وايي- (۲) او که چيرته په دوهم رکعت کښې له امام سره شريک شي نو د امام له سلام ګرځولو وروسته چه کله د قضاء شوي رکعت لپاره پورته کيږي نو لومړي به تکبيرات وايي او بيا قرائت او داسې نور پوره کوي- (۳) او که چيرته له امام سره په رکوع کښې شاه و شي نو که چيرته د رکوع د پيدا کولو هيله وي نو لومړي به تکبيرونه وايي او بيا به له امام سره په رکوع کښې شريکيږي او که چيرته ئې

درکوع د پیدا کولو هیله نه وي نو تکبیرات دې په رکوع کښې وایي (۴) او که چیرته د تکبیراتو په دوران کښې امام له رکوع څخه سر پورته کړي نو چه څومره تکبیرونه ئې ویلي وي هغه دې ویلي وي نور ترې ساقطیږي-

لما في البزازية: قال كلما تصدقت في هذه السنة فهو عن الزكوة ثم جعل يتصدق و لا يحضره النية ان كان افرز جملة من المال في حرة و قال وقت الا وقت الافراز ذلك وقع الكل عن الصدقة و الا لا. (البزازية على هامش الهندية ج٤، ص ۱۸۷ فصل الثاني في المصرف نوع آخر) قال ابن نجيم: و شرط ادائها نية مقارنة للاداء او لعزل ما وجب او تصدق بكله. (البحر الرائق ج٢، ص٠٢١٠ كتاب الزكوة) و مثله في الهداية على صدر فتح القدير ج ٢، ص ١٢٥، كتاب الزكوة. كذافي فتا وي حقا نية ج٣ ص١٩٩

چيرته چا ته دا معلومه نه وي چه زه كله د نصاب خــــاوند جوړ شوي يم نو څه به كوي؟

الاستفتاء: كه چيرته يوه چا ته د خپلې غناء (د نصاب د خاوند والي) معلومات نه وي چه له كله راهيسې د نصاب خاوند جوړ شوي دي نو د داسې سړي لپاره د زكات د ادا كولو څه طريقه ده؟

الجواب حامدا و مصليا: د اسې سړي ته چه له كوم وخت څخه د نصاب د خاوند كيدلو غالب ګومان وي نو له هغه وخت څخه دې حساب وكړي او زكات دې ادا كړي. البته د احتياط په خوا باندې عمل كول ډير ښه او احوط دي-

لما قال ابن نجيم المصرى و الظن الطرف الراجح و هو ترجيح جهة الصواب و الوهم رجحان جهة الخطاء و اما اكبر الرائي و غالب الظن فهو الطرف الراجح اذا أخذ به القلب و هو المعتبر عند الفقهاء...... و بعد اسطر و غالب الظن عندهم ملحق با ليقين و هو الذي يبتنى عليه الأحكام. (الاشباه و النظائر ج١ ، ص ٢٤٠/٢٤١ ، القاعدة الثالثة اليقين لا يزول بالشك) قال ابن نجيم: (تحت قوله و لو دفع بتحر الخ) و الظن ترجح احدهما من غير دليل و التحرى ترجح احدهما بغالب الرأى و هو دليل يتوصل به الى طرف العلم و ان

کان لا يتوصل به الى ما يوجب حقيقة العلم. (البحر الرائق ج۲» ص ۲٤۹ ، باب المصرف)کذافي فتا وي حقا نية ج۳ ص۱۹۹

په ساتل شويو روپو باندې هر کال د زکات د واجبيدلو حکم

الاستفتاء: څه فرمايي د دين علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه له يوه سړي سره دومره نقدې روپۍ موجودې دي چه د نصاب اندازې ته رسيږي او تر ډيرو کلونو پورې ئې استعمالولو ته ضرورت نه دي پيدا شوي نو آيا د اسړي به يوائې د يوه کال زکات ادا کوي او که د تيرو شويو ټولو کلونو جلا جلا زکات به ورکوي؟

الجواب حامدا و مصليا: که چيرته له چا سره دومره نقدې روپۍ موجودې وي چه د نصاب اندازې ته رسيږي يا تر نصاب څخه زياتې وي نو د کال په تيريدو سره پرې زکات واجبيږي- همد ارنګه چه څومره کلونه د اروپۍ ساتل شوي دي او د نصاب په اندازه کښې ئې هم کوم فرق نه وي راغلي نو د هر کال به ځان ځانته زکات ورکوي.

قال علي ابن بي بکر المرغيناني: الزکوة واجبة على الحر العاقل البالغ المسلم اذا ملك نصاباً ملکاً تاماً و حال عليه الحول، (الهداية ج ۱،ص ۱۸۵، کتاب الزکوة) قال علاؤ الدين الحصکفي و سببه اي سبب افتراضها ملك نصاب حو لى تام. (الدر المختار على صدر ردالمحتار ج ۲ ، ص۲۹۵ ، کتاب الزکوة) و مثله في البحر الرائق ج۲، ص۲۰۲، کتاب الزکوة. کذافي فتا وي حقا نية ک۳ص۲۰۱

د زکـــات په يو ځل يوه چاته ورکول ضروري نه دي

الاستفتاء: که چيرته له چا سره د زکات روپۍ موجودې وي او هغه ئې کوم مستحق ته هره مياشت کمې کمې روپۍ د زکات په توګه ورکوي نو آيا په د اسې ډول سره زکات اداکيږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: د زکات په يو ځل ورکول ضروري نه دي، د قسطونو په ډول ئې کوم مستحق ته په ورکولو سره هم زکات ادا کيږي. البته په مجموعي توګه د ادا کولو په وخت کښې نيت ضروري دي او که نه وي نو د هر قسط د ورکولو په وخت کښې به يا خامخا نيت کوي۔

قال علاء الدين الحصكفي: او مقارنة بعزل ما وجب كله او بعضه و لا يخرج عن العهدة با لعزل با لاداء للفقراء، (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص ۲٦٩، كتاب الزكوة) قال زين الدين ابن نجيم: و شرط ادائها نية مقارنة للاداء او لعزل ما وجب أو تصدق بكله. (البحر الرائق ج ۲، ص ۲۱۰، كتاب الزكوة) و مثله في الهندية ج۱، ص۱۷۰، كتاب الزكوة.

: د حج لپاره په جمع شويو روپو کښې د زکات حکم

الاستفتاء: کــه چيرته يو چا د حج لپاره له څو کلونو راهيسې څه روپۍ. په بــانک کښې جمع کړي وي او له نصاب څخه زياتې وي نو آيا د کال تر تيريدو وروسته زکات پرې واجبيږي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د حج لپاره د روپو د ساتلو په صورت کښې زکات نه ساقطيږي. تر څو پورې چه دا روپۍ په حج کښې و نه لګيږي او د ده له ذاتي ضروریاتو څخه زياتې وي نو د کال تر تيريد و وروسته زکات پرې واجبيږي۔

قال ابن عابدين: في المعراج في فصل زكوة العروض ان الزكوة تجب في النقد كيفما امسكه للنماء او للنفقة. (رد المحتار ج۲، ص۲٦۲، كتاب الزكوة) قال زين الدين ابن نجيم: و يخالفه ما في المعراج الدراية في فصل زكوة العروض ان الزكوة تجب. في النقدكيفما امسكه للنماء او للنفقة آه. (البحر الرائق ج۲، ص۲۰٦، كتاب الزكوة) و مثله في حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۸۹، كتاب الزكوة.كذافي فتا وي حقا نية ج۳ ص۲۰۲

د کوزدې یا واده په سامان کښې د زکات حکم:

الاستفتاء: د کوزدې یا واده لپاره په اخیستل شوي سامان باندې زکات واجب دي او که نه؟ په د اسې حال کښې چه د سامان قیمت د نصاب له اند ازې څخه زیات وي؟

الجواب حامدا و مصلیا: د کوزدې یا واده لپاره جمع شوي سامان لکه څرنګه چه په اثاث البیت کښې د اخل دي او په اثاث البیت باندې زکات واجب نه وي نو د دې لپاره په صورت مسئوله کښې هم د کوزدې یا واده په سامان باندې زکات واجب نه دی۔

قال علي بن ابي بکر المرغیناني: و لیس في دور السکنی و ثیاب البدن و اثاث المنازل و دواب الرکوب و عبید الخدمة و سلاح الاستعمال زکوة. (الهدایة ج۱ ، ص۱۶۹، کتاب الزکوة) قال علاؤ الدین الحصکفي: و لا في ثیاب البدن المحتاج الیها لرفع الحر و البرد ابن ملك و اثاث المنزل و دور السکنی و نحوها. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج ۲، ص ۲٦٤، کتاب الزکوة) و مثله في الهندیة ج۱، ص۱۷۲ کتاب الزکوة، کذافي فتا وي حقا نیة ج۳ ص۲۰۳

د واده لپاره په یو ځای شویو روپو کښې د زکات حکم:

الاستفتاء: یوه سړي د واده لپاره څه روپۍ جمع کړي دي کوم چه د نصاب له اند ازې څخه زیاتې دي او دا روپۍ له څو کلونو څخه له نوموړي سړي سره موجودې دي لیکن د پوره وسائلو نه میسر کیدو له وجهې ئې تر اوسه واده نه دي کړي په د اسې حال کښې چه دا روپۍ د واده د ضرورت لپاره ځانګړې شوې دي. آیا په دغو روپو باندې به زکات و اجب وي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: تر څو پورې چه دا روپۍ لګیدلې نه وي د واده د ضروریاتو له وجهې څخه د زکات.واجب والي نه متاثر کیږي او په نوموړي سړي باندې به باقاعده زکات واجب وي. همد ارنګه که چیرته پلار د زوي د واده لپاره روپۍ جمع کړي او د زکات نصاب ته رسیدلې نو د کال په تیرید و سره په دغو روپو باندې زکات واجب دی۔

و سبب لزوم ادائها توجه الخطاب يعنى قوله تعالى: و اتوالزكوة. وشرطه اي شرط افتراض ادائها حو لان الحول و هو في ملكه و نسبة المال كا لدراهم و الدنانير لتعينهما للتجارة باصل الخلقة فتلزم الزكوة كيفما امسكهما و لو لنفقة عياله. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ۲٦۷، كتاب الزكوة) و شرط وجوب ادائها ای افتراضها حو لان الحول و هو في ملكه اي في ثمنية المال كا لدراهم و الدنانير. (حاشية الطحطاوي ص ۳۸۹، كتاب الزكوة، حاشية الطحطاوي الخ) و مثله في الهندية ج ۱ ، ص ۱۷۵، كتاب الزكوة. كذافي فتا وي حقا نية ج۳ ص۲۰۴

د پلار له مال څخه زوي د پلار له اجازې پرته زكات وركولي شي او كه نه

الاستفتاء: كه چيرته د پلار په ذمه زكات فرض شوي وي نو د ا زكات بغير د پلار له اجازې څخه زوي كوم مستحق ته وركوي شي او كه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د پلار له اجازې پرته زوي د هغه له مال څخه زكات نه شي وركولی. البته كه چيرته د پلار له اجازې پرته زوي د هغه له مال څخه زكات وركړ او بيا ئې پلار دا حالت وليده او اجازه ئې وكړه او په دې وخت كښې د زكات روپۍ د فقير په لاس كښې موجودې وي نو زكات ادا كيږي او كه نه نو نه ادا كيږي-

لما قال في الهندية: رجل ادى زكوة غيره عن مال ذلك الغير فاجازه المالك فان كان المال قائماً في يد الفقير جاز و الافلا. (الفتاوى الهندية ج ۱، ص ۱۷۱، كتاب الزكوة، الباب الاول) قال الحسن بن عمار بن على: و لو مقارنة حكمية كما لو دفع بلا نية ثم نوى و المال قائم بيد الفقير و لا يشترط علم الفقير انها زكوة. (مراقي الفلاح ص ۳۹۰، كتاب الزكوة) و مثله في رد المحتار ج۲، ص۲٦۸، كتاب الزكوة. .كذافي فتا وي حقا نية ج۳ ص۲۰۵

د مړي له خوا څخه د زکات ورکولو حکم

الاستفتاء: یوه سړي پخپل ټول ژوند کښې زکات نه دي ورکړي نو که د هغه له مرګ څخه وروسته ئې وارثان د هغه له خوا څخه د زکات ادا کول وغواړي نو دا زکات ادا کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: که چیرته مړي د مرګ په وخت کښې وصیت کړي وي چه زما په ذمه باندې د زکات دومره روپۍ پاتې دي نو د جائداد له دریمې برخې څخه په دې وصیت باندې عمل کول واجب دي او په وارثانو لازم دي چه د هغه د غاړې د خلاصیدو لپاره د هغه په وصیت عمل وکړي. او که چیرته مړي وصیت نه وي کړي نو اګر که په وارثانو لازم نه دي لیکن د ادا کولو په صورت کښې ئې د غاړې د خلاصوالي هیله شته

لما قال العلامة ابن عابدین: (تحت قوله و لو مات فاداها وارثه جاز) في الجوهرة النیرة اذا مات من علیه الزکوة او فطرة او کفارة او نذر لم توخذ من ترکته عندنا الا ان یتبرع ورثته و هم من اهل التبرع و لم یجبروا علیه و ان اوصی تنفذ من الثلث . (رد المحتار ج۲، ص۳۵۹، باب صدقة الفطر)قال الشیخ النظام: اذا مات من علیه زکوة او قطرة او کفارة او نذر لم یوخذ من ترکته عندنا الا ان یتبرع ورثته بذلك و هم من اهل التبرع فان امتنوا لم یجبروا علیه و ان اوصی بذلك یجوز و ینفذ من ثلث ماله. (الفتاوی الهندیة ج۱، ص۱۹۳، کتاب الزکوة، الباب الثامن في صدقة الفطر) و مثله في بدائع الصنائع ج۲، ص۵۳، کتاب الزکوة، فصل بیان ما یسقطها.

که چیرته پلار د خپلې لور مهر پخپله واخلي نو زکات به ئې په چا واجب وي؟

الاستفتاء: یوه سړي د خپلې لور د مهر تقریباً لس زره روپۍ له ځان سره ایښې دي. د کال په تیرید و سره به د دغو لسو زرو روپو زکات په چا باندې وي په لور او که په پلار ئې؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: که چیرته لور د شرم او حیاء له وجهې د اروپۍ خپل پلار ته ورکړي وي نو دا هبه هیڅ اعتبار نه لري ځکه چه په هبه کښې د واهب رضاء ضروري ده. پس په دې صورت کښې به زکات په لور باندې وي او د پلار لپاره د دې روپو

استعمالول جائز نه دي. البته که چیرته لور دا روپۍ په خوښه او رضا سره پلار ته ورکړي نو بیائې د پلار لپاره استعمالول جائز دي او زکات به ئې هم په پلار باندې واجب وي۔

لما في الهندية: و من كان له نصاب فاستفاد في اثناء الحول مالاً من جنسه ضمه الى ماله و زكاه سواء كان المستفاد من ثمانه اولا و باي وجه استفاد ضمه سواء كان بميراث او هية او غير ذلك و لو كان من غير جنسه. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۷۵، كتاب الزكوة، الباب الاول في تفسيرها) قال ابن نجيم: و اطلق المستفاد فشمل المستفاد بميراث او هبة او شراء او رصية. (البحر الرائق ج۲، ص ۲۲۲ ، فصل في الغنم) و مثله في الهداية على صدر فتح القدير ج ۲، ص ۱۱۲، كتاب الزكوة.

د زکات د وجوب لپاره له سرمایې څخه د پور د ایستلو حکم

الاستفتاء: له یوه سړي سره د دولسو زرو روپو ګینړې دي او لس زره روپۍ پور وړي هم دی، نو آیا په دې صورت کښې به هغه د دولسو زرو روپو زکات ورکوي او که به قرض ترې منفي کوي او د دوه زرو روپو زکات به ورکوي؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: که چیرته له نوموړي سره له ګینړې پرته نورې روپۍ نه وي چه په هغو باندې خپل پور اداکړي نو په دې صورت کښې به یوائې د دوه زره روپو زکات ورکوي خو په دې شرط چه دا دوه زره روپۍ نصاب ته رسیدلې. او که چیرته د پور اداکولو لپارئې نورې روپۍ درلودلې نو بیا به د دولسو زرو روپو زکات پرې لازم وي۔

لما قال العلامة الحصكفي: سببه اي سبب افتراضها ملك نصاب ...... تام...... فارغ الدين له مطالب من جهة العباد سواء كان لله كزكوة و خراج..... و سبب لزوم ادائها توجه الخطاب (قوله تعالى و انو الزكوة) و شرطه اي شرط افتراض ادائها حو لان الحول و هو في ملكه و ثمنية المال كا لدراهم و الدنانير لتعينهما للتجارة باصل الخلقة فتلزم الزكوة كيف امسكهما و لو للنفقة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ۲۶۰/۲۶۷، كتاب الزكوة) قال في الهندية: منها الفراغ عن الدين قال اصحابنا كل دين له مطالب من جهة العباد يمنع وجوب الزكوة.. (الفتاوى الهندية ج ۱، ص۱۷۲، الباب الاول) و فيه ايضاً تجب في كل مائتي درهم خمسة

دراهم و في كل عشرين مثقال ذهب نصف مثقال مضروباً كان او لم يكن مصوغاً كان او غير مصوغ حلياً كان للرجال او للنساء تبراً كان او سبكية كذا في الخلاصة. (الفتاوى الهندية ج١، ص١٧٨، كتاب الزكوة، الباب الثالث في زكوة الذهب و الفضة) و مثله في بدائع الصنائع ج٢، ص١٦/١٧، كتاب الزكوة، فصل في صفة هذا النصاب. كذافي فتا وي حقا نية ج٣ ص ٢٠٩

په امـانت کښې د زکات حکم

الاستفتاء: یوه سړي له بل چا سره څه روپۍ د امانت په توګه ایښې دي نو آیا زکات به ئې په اصل مالک باندې وي او که په امین (چاته چه امانت کیښودل شوي دی) باندې؟

الجواب حامدا و مصلیا: له یوه چا سره د امانت په توګه د کوم شي په کیښودلو سره ملکیت نه زائلیږي. د دې لپاره تر څو پورې چه ملکیت مبرهن او مسلم وي نو په اصل مالک باندې به د کال په تیرید و سره زکات واجب وي۔

لما قال ابن عابدين: (تحت قوله فلو له بيئة تجب) و الظاهر على القول با لوجوب ان حكمه حكم الدين القوى. (رد المحتار ج ٢، ص٢٦٦، كتاب الزكوة)

قال الامام ابن الهمام: (تحت قوله و لو كان الدين على مقر) ففي القوى تجب الزكوة اذا حال الحول و يتراخي الاداء الى ان يقبض اربعين درهما. (فتح القدير ج٢، ص١٢٣، كتاب الزكوة) و مثله في الهندية ج١، ص ١٧٥، كتاب الزكوة، الباب الأول في تفسيره. كذافي فتا وي حقا نية ج٣ ص٢٠٩

له حلالو او حرامو څخه په ګډ مال باندې د زکات حکم

الاستفتاء: یوه سړي د بانک د سود په خاته کښې څه روپۍ جمع کړي دي او له څو کلونو وروسته د سود د ور جمع کولو له وجهې روپۍ څو چنده زیاتې شوي دي. نو په د اسې صورت کښې که چیرته هغه سړي وغواړي چه زکات ادا کړي نو آیا د اصل روپو زکات به ورکوي او که د سود د روپو له ور جمع کولو سره د ټولو روپو زکات به ورکوي؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا : که چیرته د حلالو او حرامو اندازه معلومه وي نو د حلال مال زکات به ورکوي او د حرام مال په باره کښې اصل حکم دا دي چه که چیرته هغه د کوم بل سړي مال وي نو هغه ته به. : يې بيرته ورکوي او که چیرته ئي مالک معلوم نه وي نو د ثواب له نیت څخه پرته به ئې خيراتوي. تر څو چه له حرامو څخه ئې غاړې خلاصې شي. او که چیرته مالک ته دا معلومه نه وي چه کومې حلالې دي او کومې حرامې دي او غواړي چه په مجموعي توګه (له حلالو او حرامو دواړو) څخه زکات ورکړي نو دا هم د ده په حق کښې د تخفیف سبب دي چه له مخې ئې د حلال مال زکات اداکيږي او له حرام مال څخه د زکات په نامه سره چه کومې روپۍ وتلي دي له هغو روپو څخه د ده غاړې خلاصيږي. په همدې حالت کښې که چیرته په حلالو او حرامو کښې تمیز و نه شي او دواړه سره ګډ وي نو بیا هم همدغه حکم دی۔

لما قال ابن نجيم: و لذا قالولو ان سلطاناً غصب مالاً و خلطه صار ملكاً له حتى وجبت عليه الزكوة و ورث عنه على قول ابو حنيفة لان خلط دراهمه بدارهم غيره عنده استهلاك اما على قولهما فلا. (البحر الرائق ج۲، ص۲۰۵، كتاب الزكوة)قال ابن عابدين: لو اخرج زكوة المال الحلال من مال حرام ذكر في الوهبانية انه يجزى عند البعض و نقل القولين في القنية. وقال في البزازية لو نوى في المال الخبيث الذي وجبت صدقته ان يقع عن الزكوة و قع عنها اى نوى في الذي وجب التصدق به لجهل اربابه. (رد المحتار ج ۲، ص۲۹۱، مطلب في التصدق من المال الحرام الثاني في المصرف نوع آخر) و مثله في البزازية على هامش الهندية ج ٤ ، ص ٨٦، كتاب الزكوة

: په زمرود ، جواهراتو او د اسې نورو قیمتي ډبرو کښې د زکات حکم

الاستفتاء : که چیرته له یوه سړي سره ملغلرې، زمرود او داسې نورې قیمتي ډبرې موجودې وي لیکن د تجارت لپاره نه وي نو آیا په د اسې سړي باندې د د اسې جواهراتو زکات و اجب دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا : ټولې هغه قیمتي ډبرې چه د تجارت په غرض سره ئې له ځان سره چا نه وي ایښي نو په هغو کښې زکات واجب نه دی۔

لما قال العلامة الحصكفي: لا زكوة في اللآلي و الجواهر الا ان تكون للتجارة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱، ص۲۷۳، كتاب الزكوة، قبل باب السائمة)و في الهندية: و اما اليواقيت و اللآلي و الجواهر فلا زكوة فيها و ان كا نت حلياً الا ان تكون للتجارة. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۸۰، الباب الثالث في زكوة الذهب و الفضة و العروض) و مثله في الجوهرة النيرة ج۱، ص۱۵۱، كتاب الزكوة، باب زكوة الذهب كذافي فتا وي حقا نية ج۳ص۲۱۸

د مطالـعې لاندې كتابونو كښې د زكات حكم

الاستفتاء: زه په يوه هايي سكول (ليسه) كښې د اسلامياتو استاذ يم. له ما سره له يو لک روپو څخه د زيات قيمت كتابونه دي كوم چه يواځې مې د مطالعې لپاره جمع كړي دي او د تجارت لپاره نه دي. پوښتنه دا ده چه آيا په دغو كتابونو كښې زكات واجب دي او كه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د شريعت له مخې زكات په هغه مال باندې واجب وي چه له اصلي حاجاتو څخه زيات وي او د تجارت په نيت سره ايښي وي. په صورت مسئوله كښې لكه څرنګه چه ستاسو كتب خانه د مطالعې لپاره ده نه د تجارت لپاره نو څكه دا په اصلي حوائجو كښې راځي او زكات پرې نشته

قال في الهندية: منها فراغ المال عن حاجته و كذا كتب العلم ان كان من اهله و آلات المحترفين. (الفتاوى الهندية ج۱ ، ص ۱۷۲، كتاب الزكوة، الباب الاولتفسيره) قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاري: رجل له كتب العلم ما يساوى مائتي درهم ان كا نت مما يحتاج اليهافي الحفظ و الدراسة و التصحيح لا يكون نصاباً و حل له اخذ الصدقة فقها كان او حديثاً او ادباً الخ. (خلاصة الفتاوى ج۱، ص ۲٤۰، الفصل السابع في الكتب و العروض)

د زکـــات له نیت څخه پرته په فقراو و او مساکینو باندې د روپۍ تقسیمول زکات نه دی

الاستفتاء: که چیرته یو سړي د زکات له نیت څخه پرته بې ډیرې روپۍ په فقیرانو او مسکینانو باندې وویشي نو آیا د اسې زکات ادا کیږي او که نه؟ په داسې حال کښې چه دا سړي له څو کلونو راهیسې د اسې کوي؟

الجواب حامدا و مصلیا: د زکات د اداکولو یا د زکات د مال د جلاکولو په وخت کښې د زکات نیت لازمي دی- لهذا که چیرته چا له نیت څخه پرته فقیرانو ته هر څومره ډیرې روپۍ ورکړي نو زکات ئې نه ادا کیږي بلکه د اسړي به د تیرو شویو کلونو زکات هم دوباره اداکوي-

لما قال العلامه الحصکفي: و شرط صحه ادائها نیة مقارنة له ای للاداء و لو کا نت المقارنة حکماً..... لا یخرج عن العهدة با لعزل بل با لاداء للفقراء. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج ۲، ص ١٤، کتاب الزکوة) لما قال العلامة برهان الدین المرغیناني: و لا یجوز اداء الزکوة الا بنیة مقارنة للاداء أو مقارنة لعزل مقدار الواجب لان الزکوة عبادة فکان من شرطها النیة، (الهدایة ج١، ص١٦٨، کتاب الزکوة) و مثله في الجوهرة النیرة ج١ – ص ١٤١، کتاب الزکوة.

د حکومت لپاره له اموال باطنه څخه د زکات ګرځولو حکم

الاستفتاء: په بانکونو کښې د عوامو په جمع کړل شویو روپو باندې د زکات په ګرځولو کښې د حکومت پالیسي دا ده چه په سیونګ اکاونټ (حفاظتي خاته) کښېودل شویو روپو څخه زکات ګرځوي او له کرنټ اکاونټ څخه ئې نه ګرځوي او بیا دا روپۍ په غریبو عوامو باندې ویشي-په داسې حال کښې چه په عوامو کښې دا خبره مشهوره ده چه حکومتي زکات سود دي او اخیستل ئې جائز نه دي. نو آیا په رښتیا هم په پورتنۍ طریقې سره د زکات ګرځول شوې روپۍ د سود په جملې کښې راځي او که څنګه؟ بینوا توجروا

-الجواب حامدا و مصلیا: د وخت حکومت شرعا د دې خبرې شرعا اجازه لري چه د خلکو له مالونه څخه زکات وصول کړي که په سیونګ اکاونټ کښې جمع وي او که په کرنټ اکاونټ کښې. چه کله حکومت ته شرعاً دا حق حاصل دي نو معلومه شوه

چه دا په ربښتیا هم زکات دي چه د غریبو عوامو لپاره ئې اخیستل جائز دي. البته د حکومت دا رویه غلطه ده چه له سیونګ اکاونټېنو څخه زکات اخلي او له کرنټ اکاونټ څخه ئې نه اخلي.

و ذکر الامام محمد بن حسن الشيباني كان أبو بكر اذا اعطى الناس اعطياتهم يسئل الرجل هل عندك . مال قد وجبت فيه الزكوة فان قال نعم اخذ من عطائه زكوة ذلك المال و ان قال لا سلم اليه عطائه قال محمد و بهذا نأخذ و هو قول أبي حنيفة. (مؤطا امام محمد ص ۱۷۰، باب الرجل يكون له الدين هل عليه فيه زكوة) عن عائشه بنت قدامة عن أبيها انه قال كنت اذا جئت عثمان بن عفان رضي الله عنه اقبض عطائي سألني هل عندك من مال وجبت فيه الزكوة قال فان قلت نعم اخذ من عطائي زكوة ذلك المال و ان قلت لا دفع الى عطائى. (مؤطا امام مالك ص ۲۷۲، الزكوة في العين من الذهب و الورق) كذافي فتاوي حقانية ج۳ ص۲۱۹

مدرسې د سفیرانو لپاره زکاتونو او صدقاتو له روپو څخه برخه اخیستل جائز دي

الاستفتاء: ځیني سفیران د دیني مدرسو لپاره چندې راټولوي او له دې چندې څخه د کمیشن په توګه یوه ټاکلې برخه پخپله اخلي او د سفر په دوران کښې له همدې چندې څخه خوراک او څښاک هم کوي. آیا د سفیرانو لپاره د اسې کول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب حامدا و مصلیا: سفیر د چندې ورکوونکي وکیل وي. له تملیک څخه مخکښې هغه ته د زکاتونو او نور صدقاتو له روپو څخه خوراک، څښاک او د خپلې ټاکلې حصې اخیستل جائز نه دي. او نه دوي د زکات په عاملینو باندې قیاسول صحیح دي. د زکات له آمد څخه سفیر ته تنخواه ورکول جائز نه دي او دوي په عاملین علیها کښې داخل نه دي.

لما قال العلامة اكمل الدين النابولي رحمه الله : العلام هو الذي يبعثه الامام لجابة الصدقات (العناية على هامش فتح القدير ج ۲، ص ۲۰٤ ، باب من يجوز دفع الزكوة الخ) لما قال الشيخ عزيز الرحمن: (فتاوي دار العلوم ديوبند ج۱، ص۳٦۰، (امداد المفتي) باب مصارف الزكوه)

باب الزكوة في الاموال:

په زکات کښې د سرو زرو کوم قیمت معتبر دی

الاستفتاء: که چیرته له یوه سړي سره زر وي نو په هغه کښې به کوم قیمت معتبر وي؟ په د اسي حال کښې چه مروجه قیمت د خرید له قیمت څخه څو چنده زیات دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: سره زر داسې مال دي چه په هغه کښې په قدرتي توګه نمو پیدا کیږي. د دې لپاره د زګـــــات د وجوب په وخت کښې له هغه څخه به تاکلې برخه ایستل کیږي لیکن که قیمت ئې ادا شي نو بیا ئې هم غاړې پرې خلاصیږي. د دې لپاره په دې کښې به اخیستلو د قیمت اعتبار نه وي بلکه د زکات ورکولو په وخت کښې چه کوم قیمت وي د هغه په اعتبار سره به زکات ورکول کیږي

لما قا العلامة الحصكفي رحمه الله: و تعتبر القيمة يوم الوجوب و قالا يوم الاداء........ و يقوم في البلد الذي المال فيه و لو في مفازة ففي أقرب الامصار اليه. (الدر المختار علي صدر رد المحتار ج ۲، ص ۲۸٦، باب زكوة الغنم) قال العلامة ابن الهمام: يقومها أي المالك في البلد الذي فيه المال حتى لو كان بعث عبد التجارة الى بلد اخرى لحاجة فحال الحول يعصر قيمته في ذلك البلد و لو كان في مفازة تعتبر قيمته في اقرب الامصار الى ذلك الموضع كذا في الفتاوى ثم قول أبي حنيفة فيه انه تعتبر القيمة يوم الوجوب و عندهما يوم الاداء. (فتح القدير ج ۲، ص ۱٦۷، باب زكوة المال فصل في العروض) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۲۲۹، باب زكوة المال

د میړه او ښځې په مشترکه ګینه کښې د زکات حکم:

الاستفتاء: که چیرته ښځې ته خپل مور او پلار په جهیز کښې څه ګینړې جوړې کړې وي او ورکړې ئې وي او له دې پرته میړه هم څه ګینړې خپلې ښځې ته د استعمالولو لپاره ورکړې وي لیکن د میړه او ښځې تر منځ د ا معاهده شوې وي چه خاوند څومره

ګېنډې جوړې کړې وي هغه به د هغه خپل ملکیت وي ښځه به ئې یوائې استعمالوي. آیا په دې صورت کښې په ښځې باندې به د ټولو ګېنړو زکات واجب وي او که څنګه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا ومصليا: که چیرته د خاوند له خوا ورکړ شوې ګېنړې د ښځې ملکیت وي نو ټولې ګېنې به حساب کړې چه کله نصاب ته ورسیږي نو بیا به ښځې د هغو زکات ادا کوي لیکن که چیرته میړه خپلې ښځې ته د اګېنړې د عاریت په توګه ورکړې وي نو په د اسې حالت کښې به ښځه له مشترکو کېنړو څخه د خپلې برخې که چیرته نصاب ته رسیده زکات ورکول ضروري دي. او که چیرته ټولې مشترکې ګېنړې نصاب ته رسیدلې او په جلا جلا توګه د میړه او ښځې ګېنې له نصاب څخه کمې وي نو بیا په یوه باندې هم زکات نشته.

لما قال العلامة الحصكفي: و سببه اي سبب افتراضها ملك نصاب حو لى نسبة الحول لحولانه عليه. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص ٢٥٩ ، كتاب الزكوة) قال في الهندية: و منها كون المال نصاباً فلا زكوة في أقل منه. (الفتاوي الهندية ج١، ص١٧٢، كتاب الزكوة، الباب الاول) و مثله في البحر الرائق ج ٢، ص٢٠٢، كتاب الزكوة.

د سرو او سپینو زرو په مقدار کښې د علامه عبد الحي او حضرتهانوي په عبارتونو کښې:

الاستفتاء: د سرو او سپینو زرو په نصاب کښې د اکابرینو عبارتونه مختلف دي. د حضرتهانوي له عبارت څخه معلومیږي چه د سرو زرو نصاب اوه نیمې تولې او د سپینو زرو نصاب دوه پنځوس نیمې تولې دي-لکه څرنګه چه د "د امداد الفتاوی له عباراتو څخه څرګندیږي-لیکن مولانا عبد الحي قول مولانا مفتي محمد شفیع صاحب په "اوزان شرعیه کښې نقل کړې دي چه د علامه عبد الحي په نزد د سرو زرو نصاب پنځه نیمې تولې او د سپینو زرو نصاب شپږ دیرش تولې او پنځه نیمې ماشې دی. د دغو دواړو اکابرینو له رأیو څخه به کومې رأیې ته اعتبار ورکول کیږي –

الجواب حامدا ومصليا: د حضرتهانوي رأيه اوفق با لروايات دي (له روايتونو سره سر خوري) ده چه د كومې تولې حساب کړي زمونږ په ځای کښې همدا نصاب مروج دی- ممکنه چه مولانا عبد الحي د تولې په مقدار کښې اختلاف کړې وي

او د همهغې تولې حساب ئې کړي وي کوم چه له مروجې تولې څخه زياته ده. د دې لپاره ده کم حساب کړي دی، حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب هم د حضرتهانوي رأيه راجحه بللې ده-

لما قال مفتي محمد شفيع صاحب حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب په "اوزان شرعيه کښې فرمايلي دي چه علامه عبد الحي رحمه الله او د ځينو نورو علماء کرامو تحقيقات په دې باره کښې فرق لري او فرق هم معمولي فرق نه دي ځکه چه د مولانا عبد الحي په نزد د سپينو زرو نصاب شپږديرش تولې او پنځه نيمې ماشې دي او د سرو زرو نصاب پنځه نيمې تولې او دوه نيمې ماشې دی. له دې تفاوت څخه په ټولو شرعي احکامو باندې اثرلويږي او دا خبره تسليم شوې ده چه د سرو زرو شرعي نصاب شل مث فان ه دي او د يوه مثقال وزن څلور نيمې ماشې دي نو له دې حساب څخه د سرو زرو نصاب اوه نيمې تولې راځي او د سپينو زرو شرعي نصاب دوه سوه در همه دی. له دې تحقيق څخه ثابته شوه چه د يوه در هم وزن درې ماشې، يوه رتې او د رتې پنځمه برخه دي نو د دې حساب له مخې د سپينو زرو نصاب د وه پنځوس نيمې تولې راځي. و التفصيل في الاوزان الشرعية للمفتى محمد شفيع صاحب رحمه الله.

: په ګينړو کښې زکـــات څه وخت و اجبيږي؟

الاستفتاء: که چيرته ګينې د استعمال لپاره وي نو آيا زکات پرې واجب دي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: سره او سپين زر که د ګينړو په شکل کښې وي او که همد اسې په هر حال کښې زکات پرې واجب وي. د استعمال تر څنګ په دغو کښې زکات ادا کول ضروري دي په دې شرط چه نصاب ته رسيږي

قال علي ابن ابي بکر المرغيناني: و في تبر الذهب و الفضة و حليهما و اوانيهما الزکوة، (الهداية ج١، ص ١٩٥، باب زکوة المال) قال علاؤ الدين ابي بکر بن مسعود الکاساني الحنفي: فتجب الزکوة فيها سواء کا نت دراهم مضروبة او نقرة أو تبرا او حلياً مصنوعا او حلية سيف او منطقة او لجام او سرج او الکواکب في المصاحب و الاواني و غيرها، (بدائع الصنائع ج٢، ص١٧، فصل و اما صفة هذا النصاب) و مثله في الهندية ج١، ص١٧٨، باب الثالث في زکوة الذهب والفضة والعروض

د سرو زرو د قيمت اعتبار

الاستفتاء: له يوې ښځې سره پنځه تولې سره زر دي چه خپل ميړه په مهر کښې ورکړي دي. له دې پرته نقدې روپۍ، سپين زر او داسې نور څه ورسره نشته. اگر که دا سره زر د مقدار له مخې نصاب ته نه رسيږي چه زکات ترې ادا شي ليکن د سرو زرو د مروجه قيمت په اعتبار سره ئې دومره قيمت جوړيږي چه دوه پنځوس نيمې تولې سپين زر پرې اخيستل کيږي. که چيرته په دې طريقې سره حساب ولگول شي نو ښځه د نصاب خاونده جوړيدلې شي. اوس د پوښتنې ځاي دادي چه آيا په دې صورت سره نوموړې ښځه د نصاب په خاوندانو کښې شماريږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: چه کله له نوموړې ښځې سره يوازې سره زر وي نو قيمت ته ئې هيڅ اعتبار نشته بلکه د نصاب رعايت به ساتي. د سرو زرو نصاب لکه څرنگه چه اوه نيمې تولې دي او د ښځې پنځه تولې له نصاب څخه کمې دي نو ځکه نوموړې ښځه د نصاب خاونده نه ده

لما في الهندية: و منها كون المال نصاباً فلا تجب في اقل منه. (الفتاوى الهندية ج١، ص١٧٢، كتاب الزكوة، الباب الاول) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : و سببه اي سبب افتراضها ملك نصاب حو لى نسبة الحول لحو لاته عليه. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص٢٥٩، كتاب الزكوة) و مثله في البحر الرائق ج٢، ص٢٠٢، كتاب الزكوة

: له سرو او سپينو زرو څخه هر کال زکات ورکول ضروري دي

الاستفتاء: مونږ د سرو زرو زکات داسې باسو چه د سرو زرو حساب کوو د لومړي کال زکات ئې ورکوو او له دې وروسته د يوه کال زکات هم نه باسو -آيا دا طريقه جائزه ده او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: په داسې گڼو کښې هر کال د زکات ورکول ضروري دي، د يوه کال زکات ورکول کافي نه دي ځکه چه دا ثمن خلقي دي چه په کوم شکل کښې له سړي سره موجود وي نو د هر کال زکات به ئې ورکوي. ځکه چه سره او سپين زر داسې شيان دي چه په هغو کښې زيانولي او نموپخپله راځي-

لما قال العلامة التمرتاشي: و اللازم في مضروب كل منهما و معموله و لو تبرأ او حلياً مطلقاً مباح الاستعمال اولا و لو للتجمل و النفقة لا نهما خلقاً اثماناً فيزكيها كيف كانا. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص۲۹۸، باب زكوة المال) ال الامام برهان الدين المرغيناني رحمه الله: و في تبر الذهب و الفضة و حليهما و اوانيهما الزكوة (الهداية على صدر فتح القدير ج۲، ص۱۶۳، باب زكوة المال، فصل في الذهب) و مثله في بدائع الصنائع ج۲، ص۱۶/۱۷، فصل صفة النصاب .

د حکومت لــــه خوا ښځه د لګول شوې جرمانې په ادا کولو کښې د زکـــات ورکولو حکم –

الاستفتاء: که چیرته په یوه سړي باندې د حکومت له خوا ښځه واجب الاداء جرمانه راغلې وي لیکن له هغه سره د جرمانې د ادا کولو لپاره هیڅ شي موجود نه وي نو آیا د هغه له خوا ښځه د زکات روپۍ په جرمانه کښې ورکول کیدلی شي او که نه؟

الجواب حامدا و مصلیا: له کوم مجبور او محتاجه سړي سره مالي امداد کول پخپل ذات کښې لویه نیکي ده. صورت مسئوله مطابق که چیرته دا سړي غریب وي نو پرته له کومې حیلې ښځه هغه ته د زکات په ورکولو سره د جرمانې په اداکولو کښې امداد پروا نه لري. هو! که چیرته دا سړي د نصاب خاوند وي لیکن جرمانه دومره زیاته وي چه د هغه له برداشت او توان ښځه وتلې وي نو له کومې شرعي حیلې پرته هغه ته د زکات په ورکولو سره زکات نه اداکیږي-

لما قال الشيخ النظام رحمه الله : و لو قضى دين الفقير بزكوة ماله ان كان بامره يجوز و ان كان بغير امره لا يجوز و سقط الدين. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۱۹۰، كتاب الزكوة، الباب السابع في المصارف)قال العلامة ابن الهمام وه له الله و محمل هذا انه يكون بغير اذن الحي اما اذا كان باشند و هو فقير الحوز من الزكوة على انه تمليك منه و العان يقبضه بحكم النيابة عنه ثم يصير فايضاً للنفسه و في العالية نقلا عن المحيط و المفيد أو قصى بها دين حي او ميت بامره جار و معلوم إرادة فيه فقير المديون او قصي دين حي او ميت بغير اذن الحي لا يجوز . (فتح القدير ج ۲، ص۲۰۸، باب من يجوز دفع الصدقة اليه الخ) و مثله في الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ۳۰۵، باب زكوة المال.

د تجارت په مالونو کښې د زکات حکم:

الاستفتاء: په تجارت کښې د نقد و او قرض دواړه معاملې کيدونکې وي د دې لپاره د کال تر تيريد و وروسته که چيرته له کوم تاجر سره نقدې روپۍ کمې او پورئې په خلکو باندې زيات وي نو د زکات په اداکولو کښې به کوم مال معتبر وي؟

الجواب حامدا و مصليا: د تجارت په کاروبار کښې به ټول ماليت نه اعتبار ورکول کيږي که هغه له مالک يا تاجر سره د نقدو په شکل کښې موجود وي او که د تجارت د مالونو (جنس) په شکل کښې موجود وي. تر دې پوري چه قرض هم په دې کښې شمېرل کيږي او د ټول مال زکات ورکول کيږي- البته که چيرته د قرض زکات تر وصوليد و پوري موقوف پاتې شي نو دا هم جائز دي.

قال زين الدين ابن نجيم: قوى و هو بدل القرض و مال التجارة ..... ففي القوى تجب الزكوة اذا حال الحول و يتراخي القضاء الى ان يقبض اربعين درهما ففيها درهم و كذا فيما زاد بحسابه. (البحر الرائق ج۲، ص۲۰۷، كتاب الزكوة)و في الهندية: و (قوى و هو ما يجب بدلا عن سلع التجارة اذا قبض اربعين زكي لما مضى كذا في الزاهدي. (الفتاوى الهندية ج ۱، ص ۱۷۵ – كتاب الزكوة) و مثله في الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ۳۰۵، باب زكوة المال ..

د تجارت په مالونو کښې د زکات د وجوب لپاره د مــــروجه قيمت د اعتبار حکـــــم:

الاستفتاء: د تجارت له مالونو څخه د زکات د اداکولو لپاره چه د کوم ماليت اندازه ورکول کيږي نو په هغو کښې به کوم قيمت معتبر وي؟ ځکه چه د شيانو د خريد قيمت يو وي په داسې حال کښې چه کاهک ته په بل قيمت ورکول کيږي؟

الجواب حامدا و مصليا: د تجارت د مالونو د قيمت په لګولو کښې به ځايي قيمت ته اعتبار ورکول کيږي. بيا دې قيمت د تفاوت په پام کښې نيولو سره دا اندازه لګول کيږي چه په دې کښې به د مارکيټ موجوده قيمت ته اعتبار ورکول کيږي ځکه چه همدا قيمت د دغو مالونو د ماليت معيار دی-

لما قال في الهندية. و يقومها المالك في البلد الذي فيه المال حتى لو بعث عبداً للتجارة الى بلد آخر فحال الحول تعتبر قيمته في ذلك البلد و لو كان في مفازة تعصر قيمته في اقرب الامصار الى ذلك الموضع. (الفتاوى الهندية ج١، ص١٨٠، كتاب الزكوة، الباب الثالث في ذاكرة الذهب و العروض الفضل الدائر في العروض) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تحت قوله و يقوم في البلد الذين المال فيه فلو بعث عما التحدرة في عد أمر بقوة في البلد الذي فيه العيد ورد المحتارج۴، ص٢٨۶، باب زكره الحسن و جعله في البحر الرائق ٢۴، مي٢٢٩باب زكوة في الاموال

د مضاربت په مال کښې د زکات حکم

الاستفتاء: يوه سړي بل کاروباري سړي ته په مضاربت باندې څه روپيې ورکړي دي، د روپو خاوند له نورو روپو څخه زکات ادا کوي. اوس د پوښتنې خبره دا ده چه کوم حال چه ده به مضاربت باندې ورکړي دي آيا د هغه زکات په رب المال باندې دي او که مضارب باندې او که په دواړو باندې؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د مضاربت په صورت کښې چه تر څو پورې کنه نه وي نو له مضارب سره د اروپۍ د امانت په توګه وي او مال د رب المال ګڼل کېږي. د دې لپاره زکات هم به رب المال باندې واجب دي ليکن که چيرته په هغه کښې کنه وشي او د مضارب برخه هم همدومره شي نو بيا په هريوه باندې د خپلې خپلې برخې زکات واجب دی

-لما قال العلامة الحصكفي: و ان تعدد النصاب اجماعاً ويترام الحصص و بيانه في تحاوى فان بلغ نصيب احدهما نصاباً زكاه دون الآخر اذا تم نصاباً و حال الحول لكن لا فوراً بل عند ج٢، ص٣٠۴/٣٠۵، باب زكوة المال) و اعلم ان الديون ، عند الامام ثلاثة قوى و متوسط و ضعيف احب زكولها درهماس قال في الهندية الخليطان في المواشي كبير الخليط كان نصيب احدهما يبلغ نصابة وجبت الزكوة على. نصاباً دون الآخر و ان كان احدهما ممن تا ، عليه الزكوة دون الآخر فانها تجب على من تجب عليه اذا بلغ نصيبه نصاباً. (الفتاوى

الهندية ج۱، ص۱۸۱، كتاب الزكوة ، الباب الثالث في زكوة، مسائل شتى) الذي يبلغ : و مثله في المراقي الفلاح في ۳۹۰، كتاب الزكوة.

په جومات باندې د زکات د روپو د لګولو حکم

الاستفتاء: يو سړي د يوه جومات متولي دي او پخپلو ذاتي روپو باندې ئې جومات جوړ کړي دی. اوس د متولي دا اراده ده چه دا قرضه له خلکو څخه را يو ځاي کړم. نو آيا نوموړي متولي له خلکو څخه د زکات روپۍ اخيستلي شي تر څو هغه پور ئې ادا شي کوم چه ده له جومات سره کړي دی؟

الجواب حامدا و مصليا: په جومات کښې د زکات روپۍ نه شي لګول کيدلی. له کومې شرعي حيلې پرته په جومات باندې د زکات روپۍ لګول بې ځايه دي او زکات نه پرې اداکيږي-

لما قال في الهندية: و لا يجوز ان يبني با لزكوة المسجد و كذا القناطر و السقايات و اصلاح الطرقات و كرى الانهار و الحج و الجهاد و كل ما لا تمليك فيه. (الفتاوى الهندية ج ۱، ص ۱۸۸، كتاب الزكوة، الباب السابع في المصارف) لما قال العلامة الحصكفي: ويشترط ان يكون الصوف تمليكا لا أباحة كما مر لا يصرف الى بناء نحو مسجد و لا الى كفن ميت و قضاء دينه. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص ۳٤٤، باب المصرف) و مثله في الهداية على صدر فتح القدير ج ۲، ص ۲۰۷، باب من يجوز دفع الصدقة اليه الخ.

د جومات په روپو باندې تجارت کول او له ګټې څخه ئې د زکات ورکولو حکم

الاستفتاء: د جومات لپاره په يو ځاي شوي روپو باندې يو سړي په دې نيت تجارت کوي چه د جومات آمدني زياته شي. نو د شريعت له مخې دا تجارت جائز دي او که نه؟ او آيا د زکات ورکول ئې پرې لازم دي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د چنده ورکوونکو او د هغو له خوا د تاکل شوي معتمد سړي له اجازې پرته د جومات په روپو باندې تجارت کول جائز نه دي. البته که چیرته دا روپۍ متولي ته ورنه کړل شي نو د چنده ورکوونکو له ملکیت څخه نه ووځي. نو په داسې صورت کښې د چنده ورکوونکو په اجازه تجارت جائز دي او که اجازه ئې نه وي نو نه دی جائز- او د جومات لپاره په جمع شوي مال کښې زکات واجب نه دي ځکه چه د زکات د وجوب لپاره د چا شخصي ملکیت ضروري دي کوم چه دلته وجود نه لري یعنې دا روپۍ د هیچا په شخصي ملکیت کښې نه شي راتلي چه زکات ئې ادا شي.

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله وسببه اي سبب افتراضها ملك نصاب حو لى قوله ملك نصاب فلا زكوة في الاستفتاءم الوقف و الخيل المسيلة لعدم الملك (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص۲۵۹، كتاب الزكوة) قال العلامة الكاساني: و اما المشرائط التي ترجع الى المال فمنها الملك فلا تجب الزكوة في سوائم الوقف و الخيل المسيلة لعدم الملك و هذا لان في الزكوة تمليكا و التمليك في غير الملك لا يتصور . (بدائع الصنائع ج۲، ص۹) و مثله في تبيين الحقائق ج۱، ص ۲۵۲، كتاب الزكوة

د کومو شیانو په اخیستلو کښې چه د تجارت اراده نه وي په هغو کښې زکات واجب نه دی

الاستفتاء: که چیرته چا یو شي د ذاتي استعمال لپاره واخیست او په هغه وخت کښې ئې دا اراده وکړه چه دا شي هر کله قیمته شي نو زه به ئې خرڅوم. نو آیا دا شي د تجارت په مال کښې شمیرل کیږي او د کال تر تیریدو وروسته زکات پرې واجبیږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: د تجارت په مالونو کښې د اخیستلو په وخت کښې د تجارت نیت ضروري دي چیرته چه نیت نه وي نو بیا هغه شیان د تجارت په مال کښې نه راځي. په نوموړي صورت کښې چونکه د خرید اري په وخت کښې د تجارت قطعي نیت نشته نو ځکه زکات پرې نه واجبیږي-

قال علاؤ الدين الحصكفي: او اشترى شيئا للقنية ناوياً انه وجد ربحاً باعه لا زكوة عليه. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲ ، ص ۲۷٤، كتاب الزكوة) قال الشيخ ابن الهمام: فلو اشترى عبداً مثلا للخدمة ناوياً بيعه ان وجد ربحاً لا زكوة فيه. (فتح القدير ج۲، ص ۱٦٦، فصل في العروض) و مثله في فتاوي قاضيخان ج ۱، ص ۱۱۷، كتاب الزكوة.

په کتــابونو کښې د زکات حکــم

الاستفتاء: له يوه سړي سره د ذاتي مطالعې لپاره ډير کتابونه موجود دي چه قيمت ئې تر لکونو روپوزيات دی. آيا په د اسې سړي باندې د کتابونو زکات واجب دي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: په کتابونو باندې هلته زکات واجبيږي چه د تجارت لپاره وي. ذاتي کتابونه د تجارت د نيت د نشت والي له وجهې د تجارت په مالونو کښې شمارول مشکل دي. د دې لپاره د داسې کتابونو په قيمت باندې زکات واجب نه دی-

لما في الهندية: و منها فراغ المال عن حاجته الأصلية. . ر كذا كتب العلم ان كان من اهله و آلات المحترفين. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۱۷۲، كتاب الزكوة، الباب الأول) قال سيد احمد الطحطاوي: عن حاجته الاصلية.. و كتب العلم لاهلها فاذا كان عنده دراهم اعدها لهذه الاشياء و حال عليها الحول لا تجب فيها الزكوة و كتب العلم لغير اهلها ليست من الحوائج الاصلية و ان كانت الزكوة لا تجب على صاحبها بدون نية التجارة. (حاشية الطحطاوي ص ۳۸۹، كتاب الزكوة) و مثله في السنامي ج ۲، ص ۸، كتاب الزكوة.

په موټرو کښې د زکات حکم

الاستفتاء: له یوه سړي سره یو موټر دي چه د مزدورۍ لپاره ئې استعمالوي. د دې موټر له ګټې څخه په عمومي توګه دا سړي یو بل موټر اخلي. په دې ډول دي د همدې موټر د ټول کال د ګټې په نتیجه کښې د څو نورو موټرو چښتن کیږي لیکن نقدې روپۍ له ځان سره نه ږدي آیا د مذکوره سړي په د اسې موټرو باندې زکات واجب دي او که نه؟

الجواب حامدا و مصلیا: د کوم موټر یا کومې بلې مزدورۍ په قیمت باندې زکات واجب نه دي بلکه د هغو د په لاس راغلي ګټې څخه چه کال پرې تیر شي زکات ورکول واجب دي. په صورت مذکوره کښې چه کله نقدې روپۍ نه وي او موټر د تجارت په نیت نه وي اخیستل شوي نو زکات پرې واجب نه دی. هو! که چیرته دا حیله د زکات له وجوب څخه د ځان ساتلو لپاره جوړیږي نو د دې سړي په ګنهکاروالي کښې بیا هیڅ شک نشته

لما قال العلامة جلال الدين الخوارزمي و اما الآلات الصناع الذين يعملون بها و ظروف الامتعة للتجارة لا تجب فيه الزكوة لانها ليست بمعدة للتجارة (الكفاية في ذيل فتح القدير ج ۲، ص ۱۷۰، باب زكوة الاموال، فصل في العروض) لما قال في الهندية : و لو اشترى قدوراً من صفر يمسكها و يواجرها لا تجب فيها الزكوة كما لا تجب في بيوت الغلة. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۸۰، كتاب الزكوة، الباب الثالث في زكوة الذهب و العروض، الفصل الثاني في العروض) و مثله في البحر الرائق ج۲، ص۲۲۸، باب زكوة المال .

د زمکو په اخیستلو او خرڅولو باندې د زکات حکم

الاستفتاء: په عمومي توګه د زمکو زکات نه ادا کیږي بلکه د هغو له آمدني څخه عشر یا نیم عشر ادا کیږي لیکن یو سړي د پلاټونو یا عمارتونو کاروبار کوي. په داسې حالت کښې د دې سړي اکثره سرمایه غیر منقوله جائداد وي نو په دې صورت کښې د کال په تیریدو سره زکات پرې واجبیږي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا: د پلاټونو او عمارتونو د کاروبار په صورت کښې غیر منقوله جائداد له خپل اصلي حالت څخه اوړي او د تجارت د مالونو حیثیت غوره کوي. د دې لپاره له د اسې زمکو سره د تجارت د نورو مالونو غوندې معامله کیږي

چه د کال په تیریدو سره ئې د قیمت اندازه لګیږي او زکات پرې واجبیږي. البته په دې کښې د کاروباري حیثیت د ارتقاء والي حیثیت تاکنه د خرید اري په وخت کښې وي چه د هغه لپاره په هم هغه وخت کښې د تجارت نیت ضروري دی او که نه نو وروسته د کاروبار د نیت په کولو سره هیڅ اثر نه پرې لویږي

لما قال ابن نجيم: و اما الدلالة فهي ان يشترى عينا من الاعيان بغرض التجارة او يواجر داره التي للتجارة بعرض من العروض فيصير للتجارة و ان لم ينو التجارة صريحاً لكن ذكر في البدائع الاختلاف في بدل منافع عين معدة للتجارة ففي كتاب الزكوة من الاصل انه للتجارة بلا نية و في الجامع ما يدل على التوقف على النية فكان في المسئلة روايتان و مشائخ بلخ كانوا يصححون رواية الجامع لان العين و ان كانت للتجارة لكن قد يقصد ببدل منافعها المنفعة فيواجر الدابة لينفق عليها و الدار للعمارة فلا تصيرللتجارة مع التردد الابالنية. (البحر الرائق ج ٢، ص ٢١٠، كتاب الزكوة) قال العلامة الحصكفي: او في عرض تجارة قيمنه نصاب الجملة صفة عرض و هو هنا ما ليس بنقد و هو. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٢، ص٢٩٨، كتاب الزكوة) و مثله في الهندية ج١، ص ١٧٠، كتاب الزكوة.

: په اسلحه باندې د زکات حکم

الاستفتاء: په قبائلي علاقو کښې اکثره خلک اسلحه ساتي او د اسلحې قیمت د نصاب له اندازې څخه ډیر زیات وي نو آیا په داسې اسلحو باندې زکات واجب دی او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: کومه اسلحه چه د ځان او مال د ساتنې لپاره په کور کښې ساتل کیږي اګر که د قیمت له لحاظه د نصاب له اندازې څخه زیات هم وي نو په اصلي حوائجو کښې د داخلیدو له وجهې زکات پرې نه واجبیږي. البته که چیرته د تجارت په غرض سره ساتل شوې وي نو بیا زکات پرې واجب دی-

قال علي ابن ابي بكر الفرغانية : و ليس في دور السكني و ثياب البدن و اثاث المنازل و دواب الركوب و عبيد الخدمة و سلاح الاستعمال زكوة. (الهداية ج١، ص١٨٦، كتاب الزكوة) و في الهندية: و منها فراغ المال عن

حاجته الاصلية فليس في دور السكني و ثياب البدن و اثاث المنازل و دواب الركوب و عبيد الخدمة و سلاح الاستعمال زكوة. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۷۲، كتاب الزكوة، الباب الاول في تفسيرها الخ) و مثله في فتح القدير ج۱، ص۱۱۹، كتاب الزكوة.

خره چه د تجارت د مال په شکل کښې وي نو زکات پرې واجب دی

الاستفتاء: له مونږ سره يو څو خره دي چه يو ائې د کاروبار د چلولو په غرض سره مو ساتلي دي. آيا ه دغو خرو باندې زکات واجب دي او که نه؟ ځينې علماء کرام وايي چه د ا مرد ارشيان دي له دې وجهې په د اسې شيانو باندې زکات واجب نه دی.

الجواب حامدا و مصليا: د خرو د زکات په باره کښې مقدس شريعت کوم واضح حکم نه دي کړي د دې لپاره په خرو باندې زکات نشته. البته که چيرته د تجارت لپاره وي لکه څرنګه چه له الاستفتاء څخه معلوميږي نو په قيمت باندې ئي بيا زکات و اجب دی۔

قال علي ابن ابي بكر المرغيناني: و لا شيء في البغال و الحمير لقوله عليه السلام لم ينزل على فيهما شيء و المقادير تثبت سماعاً الا ان يكون للتجارة لان الزكوة حينئذ تتعلق با لمالية كسائر اموال التجارة. (الهداية ج۱، ص ۱۹۱، فصل في الخيل) قال علاؤ الدين الحصكفي: (و) لا في (بغال و حمير) سائمة اجماعاً (ليست للتجارة) فلو لها فلا كلام لانها منذالعروض. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ۲۸۲، باب زكوة الغنم) و مثله في الهندية ج ۱، ص ۱۵۸، فصلدالخامس فيما تجب فيه الزكوة

: د زمکې کرايه (تيکه) په پيشګي کښې د ورکولو په صورت کښې د زکات حکم

الاستفتاء: يو سړي زمکه په کرايه باندې نيولې ده او د دوه دريو کلونو کرايه ئې مخ کښې د زمکې مالک ته ورکړې ده. په دې پيشګي کرايه کښې چه کوم زکات دي هغه په مالک د زمکې باندې وي او که مستاجر (کرايه دار) باندې؟

الجواب حامدا و مصليا: کرایه دار چه په پیشګي کښې ځومره روپۍ ورکړي دي که چیرته ئې د زمکې د کرایه په توګه ورکړي وي نو زکات به ئې د زمکې د مالک په غاړه وي او که ئې د قرض په توګه ورکړي وي نو زکات به ئې په کرایه دار باندې وي

قال علاؤ الدين الحصكفي: فتجب عند قبض اربعين درهماً من الدين القوى كقرض و بدل مال تجارة فكلمادقبض اربعين درهما يلزمه درهم. (الدر المختار على صدر رد المحتارج ۲، ص۳۰۵، باب زكوة المال) قال زين الدين ابن نجيم. قسم ابو حنيفة الدين على ثلاثة اقسام قوى و هو بدل القرض و مال التجارة الخ. ففي القوى تجب الزكوة اذا حال الحول و يتراخى القضاء الى ان يقبض اربعين درهماً ففيها درهم و كذا فيما زاد بحسابه (البحر الرائق ج۲، ص۲۰۷) و مثله في خلاصة الفتاوى ج۱، ص۲۳۸، فصل السادس في الديون و مسائلها.

په قیمتي ډبرو کښې زکات څنګه ادا کیږي؟

الاستفتاء: نن صبا د اسې ډېرې پیدا کیږي چه له سرو زرو څخه ئې هم قیمت زیات وي نو آیا په د اسې ډبرو باندې زکات واجب دي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: په قیمتي ډبرو لکه زمرد لاجور او د اسې نورو کښې زکات نشته. البته که د تجارت لپاره وي نو بیا زکات پرې واجب دی۔

لما في الهندية، و لا شيء فيما يخرج من البحر كا لعنبر و اللؤلؤ و السمك و فيها ايضاً و لا شيء الا ان يكون للتجارة فان كان للتجارة فحكمها حكم العروض. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۷۸/۱۷۵، كتاب الزكوة، الباب الخامس في المعادن و الركاز) قال العلامة الحصكفي: لا زكوة في اللآلي و الجواهر و ان ساوت الفاً اتفاقاً الا ان تكون للتجارة و الأصل ان ما عدا الحجرين و السوائم انما يزكى بنية التجارة. (الدر المختار على

صدر رد المحتار ج۲، ص۲۷۳، کتاب الزکوة) ومثله في مراقي الفلاح ص ۳۹۱، کتاب الزکوة، قبیل باب المصرف.

سایکل، ساعت (گړی) او د اسې نور په ضروریاتو کښې د اخل دي

الاستفتاء: که چیرته له چا سره د دوه نیمو یا دریو زرو بایسکل او همدارنګه یوه قیمتي ګړی ورسره وي نو آیا د دغو شیانو مجموعي قیمت که چیرته نصاب ته ورسیږي نو مالک ئي غني بلل کیږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصلیا: د موجوده معاشري او حالاتو له کتني څخه څرګندیږي چه دا شیان په اصلي حوائجو کښې د اخل دي. د دې لپاره د دغو شیانو مالک د نصاب خاوند نه بلل کیږي بلکه د ځینو خلکو د ضروریاتو په پام کښې نیولو سره موټر سایکل هم د هغو لپاره په ضروریاتو کښې داخل ګڼل شوي دی. د دې لپاره که چیرته د اسې غریب وي نو زکات ورکول هم ورته جائز دي۔

قال علي ابن ابي بکر المرغیناني: و لا یجوز دفع الزکوة الی من یملك نصاباً من اي مال کان. الی ان قال و یجوز دفعها الی من یملك اقل من ذلك و ان کان صحیحاً مکتسباً لانه فقیر الخ (الهدایة ج۱، ص۲۰۷، باب مصارف الزکوة)

باب زکوة السوائم

په ووزو او میږو کښې د زکات حکم

الاستفتاء: که چیرته له کوم سړي سره شل میږې وي او دیرش بچیان هم ولري. اوس خو ئې لا په بچو باندې کال نه دی تیر شوی په داسې حال کښې چه په شلو میږو باندې کال تیر شوی دی. په دې حالت کښې به زکات څه وخت ادا کیږي؟

الجواب حامدا و مصليا: په صورت مذکوره کښې چونکه په څلویښتو میږو یا ووزو باندې کال نه دی تیر شوی بلکه په شلو باندې کال تیر شوی دی او په پاتې دیرشو بچیانو ئې پوره کال نه دی تیر شوی. د دې لپاره تر هغه وخته پورې زکات ترې نه اداکیږي تر څو چه په څلویښتو میږو باندې کال تیر نه شي

لما قال في الهندية: ليس في اقل من اربعين من الغنم السائمة صدقة فاذا كا نت اربعين سائمة و حال عليه الحول ففيها شاة الى مائة و عشرين. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۷۸، كتاب الزكوة، الباب الثاني، الفصل الرابع في زكوة الغنم)قال الامام برهان الدين المرغيناني رحمه الله : ليس في اقل من اربعين من الغنم السائمة صدقة فاذا كا نت اربعين سائمة و حال عليها الحول ففيها شاة. (الهداية على صدر فتح القدير ج۲، ص۱۳۵، فصل في الغنم) و مثله في البحر الرائق ج۲، ص۲۱٦، باب زكوة المال، فصل في الغنم

.د څاروو په شید و کښې د زکات حکم

الاستفتاء: یو سړي له خپلو ونبو ښخه څناور پالي او شیدې ئې خرڅوي. د څناورو په شیدو کښې د زکات ورکولو حکم څه دی؟

الجواب حامدا و مصليا: پخپل ذات کښې په دغو روپو باندې زکات واجب نه دی- البته د کال تر تیریدو وروسته که چیرته نصاب ته ورسیږي نو زکات پرې لازمیږي-

لما قال الشيخ النظام: و منها كون المال نصاباً فلا تجب في اقل منه. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۷۲، كتاب الزكوة الباب الأول) و قال ايضاً (و منها حولان الحال على المال العبرة في الزكوة الحول القمري. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۱۷۵، الباب الاول) قال العلامة الحصكفي: وسبه اي سبب افتراضها ملك نصاب حولي رد المحتار ج۲، ص۲۵۹ ، كتاب الزكوة، مطلب في احكام المعتوه) و مثله في البحر الرائق ج۲، ص۲۰۲، كتاب الزكوة.

د چراگاه (د مال د څرولو ځای) په کرایه باندې زکات نه متاثر کیږي

الاستفتاء: یو سړي ګڼ شمیر غوایي او میښې لري او د کال په اکثره برخه کښې د باندې څریږي لیکن په کوم ځاي باندې چه دا څاروي څرېږي نو مالک ئې په باقاعده توګه هر کال یوه اندازه روپۍ ادا کوي. اوس د پوښتنې خبره داده چه آیا د کرایې د ادا کولو په وخت کښې دا څاروي له سالمه (خرید ونکو) څارو څخه شمارل کیږي او که له غیر سائمه (نه څرید ونکو) څارو څخه

الجواب حامدا و مصلیا: فقهاء کرامو په څاروو کښې د زکات د وجوب لپاره چه د "سائمة" کوم ذکر کړي دي نو دا په همدغو څاروو باندې صادقیږي. د دې لپاره د میاشتني یا کلني کرایې په ادا کولو سره د څاروي د "سائمه وو له حکم څخه نه ووځي. لهذا د کال په اکثره برخه کښې د څریدلو له وجهې په هغو کښې به زکات واجب وي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله: و شرعاً المكتفية با لرعى المباح ذكره الشمني في اكثر انعام لقصد الدر والنسل ذكره الزيلعي (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ۲۷۵، باب السائمة) قال ابن نجيم رحمه الله : هي التي تكتفي با لرعي في اكثر السنة بيان للسائمة با لمعنى الفقهي لان اسم السائمة لا يزول با لعلف اليسير و لانه لا يمكن الاحتراز عنه قيد با لاكثر لافادة انه لو علفها نصف الحول فانها لا تكون سائمة فلازكوة فيها لوقوع الشك في السبب والبحر الرائق ج ۲، ص ۲۱۲، باب صدقة السوائم) و مثله في الجوهرة النيرة ج۱. ص ۱٤۷، باب زكوة الخيل.

د څریدلو د ځاي یو والي ضروري نه دی

الاستفتاء: که چیرته له چا سره شپیته میږې وي او دوه مزدوران ئې ورته نیولي وي چه یو مزدور دیرش میږي په یوه ځاي باندې او بل مزدور دیرش میږې په بل ځاي کښې څروي. نو آیا په داسې سړي باندې به د دغو میږو زکات واجب وي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: زمونږ په نزد په نصاب باندې د کال تر تيريدو وروسته د څريدلو د ځاى يو والي ضروري نه دي چه کله شپيته ميږې د يوه سړي په ملکيت کښې وي نو په جلا جلا ځايونو کښې ئې د څرولو تر څنګ په هغه باندې زکات واجب دى۔

لما قال في الهندية: الخليطان في المواشي كغير الخليطين ...... اسباب الملك..... و سواء كا نت في مرعى واحد أو في مرعى مختلفة فان كان نصيب أحدهما يبلغ نصاباً و نصيب الآخر لا يبلغ نصاباً و جبت الزكوة على الذي يبلغ نصيبه نصاباً دون الآخر. (الفتاوى الهندية ج ١، ص ١٨١، كتاب الزكوة، الباب الثالث، مسائل شتى)قال ابن الهمام رحمه الله: ففي الوجوب الجمع بين الاملاك المتفرقة اذ المراد الجمع و التفريق في الاملاك الا الامكنه إلا ترى أن النصاب المفرق في امكنة مع وحدة الملك تجب فيه و من ملك ثمانين شاة ليس للساعي ان يجعلها نصابين بان يفرقها في مكانين فمعنى لا يفرق بين مجتمع انه لا يفرق الساعي بين الثمانين مثلاً. (فتح القدير ج٢، ص١٢٩، باب صدقة الالاستفتاءم، فصل في الابل) و مثله في الخانية على هامش الهندية ج١، ص٢٤٨، فصل في صدقة الحملان و الفصلان

د غواوو او ميښو د زکات په نصيب کښې فرق شته او که نه؟

الاستفتاء: د غواوو او ميښو د زکات د نصاب تعداد څومره دي چه هغه ته ورورسيږي نو زکات پرې واجبيږي. او آيا غواوې او ميښې دواړه يو شي دي او که په زکات کښې جلا جلا حکم لري؟

الجواب حامدا و مصليا: د غواوو او ميښو د زکات نصاب ديرش دي په دې شرط چه د کال په اکثره برخه کښې د باندې مفت څري. او په ديرشو غواوو يا ميښو کښې يو بچي يا يوه بچۍ چه دوه کلني ته داخل شوي وي په زکات کښې ورکول واجب دي۔

لما قال العلامة برهان الدين المرغيناني: ليس في اقل من التين من البقر صدقة فاذا كا نت ثلثين سائمة و حال عليها الحول ففيها تبيع او تبعية و هي التي طعنت في الثانية. الجواميس و البقر سواء. (الهداية ج١، ص١٧٩،

كتاب الزكوة، فصل في البقر) لما قال العلامة الحصكفي: نصاب البقر و الجاموس و لو متوالداً من وحش و اهلية بخلاف عكسه. .. ثلاثون سالمة غير مشتركة و فيها تبيع لانه يتبع أمه ذو سنة كاملة او تبعية انثاه الخ. (الد رالمختار على صدر رد المحتار ج۲، ص ۲۸۰، كتاب الزكوة، باب زكوة البقر) و مثله في بدائع الصنائع ج۲، ص۲۸، كتاب الزكوة، فصل في نصاب البقر .

د میښو د زکات نصاب

الاستفتاء: په مبارکو احادیثو کښې د غواوو، اوښانو، میږو او د اسې نور د زکات نصاب تهاکل شوي دي لیکن د میښو نصاب نه دي تهاکل شوی. نو د شریعت له مخې د میښو د زکات نصاب څومره دی؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د میښو د زکات نصاب د غواوو غوندې دي یعنې څومره نصاب چه د غواوو دي هغومره نصاب د میښو هم دی. همدارنګه که دواړه ګډ وي نو بیا به ئې هم همدغه نصاب وي یعنې د دواړو به یو نصاب وي

-لما قال العلامة ابن نجيم: (قوله و الجاموس كا لبقر) لان اسم البقر يتناولهما اذ هو نوع منه فيكمل نصاب البقربه و تجب فيه زكاتها و عند الاختلاط تؤخذ الزكوة من اغلبها الخ. (البحر الرائق ج ۲، ص ۲۱۵، كتاب الزكوة، باب صدقة البقر) و في الهندية: و الجاموس كا لبقر و عند الاختلاط يجب ضم بعضها الى بعض لتكميل النصاب ثم تؤخذ الزكوة من اغلبها ان كان بعضها أكثر من بعض . (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۷۸، كتاب الزكوة، الفصل الثالث في زكوة البقر) و مثله في الجوهرة التيرة ج ۱، ص ۱۴۴، كتاب الزكوة، باب زكوة البقر.

: په کور کښې د پالل شویو څناورو زکات

الاستفتاء: که چیرته یو څوک د څاروو پالنه په کور کښې کوي لیکن د تجارت په نیت ئې ساتلي وي نو آیا په د اسې څارو و کښې زکات واجب دي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: کوم څناور چه د تجارت په نيت سره ساتل کيږي او د خوراک او څښاک بند وبست ئې په کور کښې کيږي او که په صحراء کښې نو د اسې څناور د تجارت د سامان په مرتبه کښې راځي او د کال تر تيريد و وروسته زکات پرې و اجبيږي په دې شرط چه قيمت ئې د سرو او سپينو زرو نصاب ته ورسيږي۔

نصاباً من الورق و الذهب لقوله عليه السلام فيها يقومها فيؤدى من كل مائتي درهم خمسة دراهم الخ. (الهداية ج۱، لما قال العلامة ابن نجيم: (قوله و لا في العلوفة و العوامل)........ و المراد بنفى الزكوة عن العلوفة زكوة و السائمة لأنها لو كانت للتجارة وجبت فيها زكوة التجارة. (البحر الرائق ج۲، ص۲۱۸، كتاب الزكوة، فصل في الغنم)

د تجارت لپاره په ساتل شويو خاروو کښې د سرو او سپينو زرو نصاب معتبر دی

الاستفتاء: که چيرته يو څوک د تجارت په نيت سره غواوې يا ميښې ساتي او تعداد ئې له ديرشو څخه کم وي نو آيا په د اسې سرې باندې زکات واجب دي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: کوم څناور چه د تجارت په نيت سره پالل کيږي نو په هغو کښې د څناورو د زکات نصاب ضروري نه دي بلکه چه کله ئې قيمت د اوه نيمو تولو سرو او دوه پنځوس نيمو تولو سپينو زرو ته ورسيږي نو زکات پرې و اجبيږي که د څناورو تعداد د نصاب ته ورسيږي او که نه–

لما قال العلامة برهان الدين المرغيناني: الزكوة واجبة في عروض التجارة كائنة ما كا نت اذا بلغت قيمتها نصاباً من الورق و الذهب لقوله عليه السلام فيها يقومها فيؤدى من كل مائتي درهم خمسة دراهم. (الهداية ج۱، ص۱۷۵، كتاب الزكوة، فصل في العروض) لما قال العلامة ابن نجيم: قوله و في عروض تجارة بلغت نصاب ورق او ذهب..... اي يجب ربع العشر في عروض التجارة اذا بلغت نصاباً من احدهما. (البحر الرائق ج۲، ص۲۲۸، كتاب الزكوة، باب زكوة المال)

: په غوا او غویی، سنډا او میښه کښې د شیــد و او ذاتي ضرورت لپاره د ساتنې په صورت کښې د زکات حکم

الاستفتاء: زه یو بزګر سړي یم له ما سره څه غوایي دي چه د یوې د چلولو لپاره مې ساتلي دي او دوه سنډا ګان دي چه د ارهټ چلولو لپاره ساتلي دي او څه غواوې او میښې دي چه د شیدو د ضرورت د پوره کولو لپاره مې ساتلي دي او بچي هم ورسره شته. نو آیا په ما باندې د دغو څناورو زکات شته او که نه؟

الجواب حامدا ومصلیا: کوم څناور چه د کوم عمل (ارهټ، یوې او د اسې نورو) لپاره ساتل کیږي په هغو کښې شرعاً زکات نشته او کوم څناور چه د شیدو او بچي پیدا کولو لپاره ساتل کیږي په هغو کښې زکات واجب دي په دې شرط چه د کال اکثره برخه د باندې څري او مفتي خوراک پیدا کوي او نصاب ته هم رسیږي او که داسې نه وي نو بیا واجب نه دی-

لما قال العلامة برهان الدين المرغيناني. و ليس في العوامل و الحو امل و العلوفة صدقة خلافا لمالك له ظواهر النصوص و لنا قوله عليه السلام ليس في الحو امل و العوامل و لا في البقرة المثيرة صدقة. (الهداية ج١، ص١٧٢، كتاب الزكوة، فصل في الخيل) لما قال العلامة ابن نجيم المصرى رحمه الله : (قوله و لا في العلوفة و العوامل) للحديث ليس في الحو امل و العوامل و العلوفة صدقة ولان السبب هو المال النامي الخ. (البحر الرائق ج٢، ص٢١٨، كتاب الزكوة، فصل في الغنم) و مثله في الهندية ج١، ص١٧٨، كتاب الزكوة، الفصل الخامس فيما لا زكوة فيه.

له میږو سره د هغو بچي هم په نصاب کښې ګڼل کیږي

الاستفتاء: زمونږ په ملک (افغانستان کښې اکثره خلک میږې ساتي چه اکثره وخت د غتو میږو تعداد کم وي کوم چه نصاب ته نه رسیږي نو آیا له غټو میږو سره د هغو واړه بچي هم په نصاب کښې شمیرل کیږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: د ځناورو د زکات په نصاب کښې له لويو ځناورو سره ئې واړه بچي هم په نصاب کښې ورسره ګډل کيږي او چه کله نصاب ته ورسيږي نو زکات پرې واجبيږي

لما قال العلامة الحصكفي: و لا في حمل و فصيل ولد الناقة و عجول ولد البقرة..... الا تبعا لكبير و لوواحداً. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٢، ص٢٨٣، كتاب الزكوة، باب زكوة الغنم) لما قال العلامة برهان الدين المرغيناني رحمه الله : و ليس في الفصلان و العجاجيل و الحملان صدقة عند ابي حنيفة الا ان يكون معها كبار و هذا آخر اقواله و هو قول محمد والهداية ج١، ص١٧٣، كتاب الزكوة، فصل في الخيل) و مثله في البحر الرائق ج ٢، ص ٢١٧، كتاب الزكوة، فصل في الغنم

په آسونو کښې د زکات حکم

الاستفتاء: ما د سورلۍ لپاره يو اس ساتلي دي نو آيا په ما باندې د دې اس زکات شرعا واجب دي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: په مقدس شريعت کښې چه کوم اس د سورلۍ لپاره ساتل کيږي په هغه باندې زکات نه واجبيږي. له دې وجهې په تا باندې د دې اس زکات واجب نه دی

-لما قال العلامة برهان الدين المرغيناني: و ليس في دور السكنية و ثياب البدن و اثاث المنازل و دواب الركوب و عبيدالخدمة و سلاح الاستعمال زكوة لانها مشغولة بالحاجة الاصلية. (الهداية ج١ ، ص ١٦٦، كتاب الزكوة) لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : ليس في دور السكنية و ثياب البدن و اثاث المنازل و دواب الركوب و عبيد الخدمة و سلاح الاستعمال زكوة لانها مشغولة بحاجة الاصلية و ليست بنامية. (رد المحتار ج٢، ص٢٦٢٠ كتاب الزكوة) و مثله في عزيز الفتاوي ج ١، ص ٣٤٨ ، كتاب الزكوة

په اوښانو کښې د زکات نصاب

الاستفتاء: زمونږ د علاؤې خلک زیاتره اوښان پالي نو د شریعت له مخې په څو اوښانو باندې زکات واجبیږي؟

الجواب حامدا و مصلیا: د اسلام د زکات د قانون مطابق چه کله اوښان د کال په اکثره برخه کښې د باندې یعنې په صحرا کښې وڅري او پوره کال پرې تیر شي نو په هغو کښې زکات و اجبیږي په دې شرط چه پنځو اوښانو ته ورسیږي نو بیا په هغو کښې یوه ووزه واجبیږي۔

لما قال العلامة برهان الدين المرغيناني. قال ليس في اقل من خمس ذود صدقة فاذا بلغت خمساً ساتمة و حال عليها الحول ففيها شاة الى تسع الخ. (الهداية ج١، ص١٧٠، كتاب الزكوة، فصل في الايل) لما قال العلامة عالم بن العلاء الانصارى: قال محمد و ليس فيما دون الخمس من الأبل السالمة زكوة و في الخمس شاة. (الفتاوى التاتارخانية ج٢، ص٢١٩. كتاب الزكوة الفصل الاول في صدقة السوائم) و مثله في بدائع الصنائع ج٢، ص ١٩، كتاب الزكوة، باب نصاب الابل.

: باب العشر

د چینې په اوبو باندې د خړوبیدو په صورت کښې د عشر حکم

الاستفتاء: کومې زمکې چه د چینې په اوبو باندې خړوبیږي په هغو کښې د عشر حکم څه دی؟

الجواب حامدا و مصلیا: د چینې په اوبو باندې په خړوبیدونکو زمکو کښې د عشر ورکول واجب دي ځکه چه په دې کښې محنت او خواري کمه وي او د عشر د ارو مدار په محنت او خواري پورې دی۔

لما قال في الهندية: ثم ماء العشر ماء البئر التي حفرت في ارض العشر و ماء العين التي تظهر في ارض العشر و كذلك ماء السماء و ماء البحار العظام عشرى. (الفتاوى الهندية ج١، ص١٨٦، كتاب الزكوة، الباب

السادس في زكوة الزروع و الثمار) قال الامام برهان الدين المرغيناني: لم الماء العشرى ماء السماء و الآبار و العيون و البحار التي لا تدخل تحت ولاية احد. (الهداية ج٢، ص١٩٩، باب زكوة الزروع والثمار) و مثله في رد المحتار ج ٢، ص ٢٣٠، باب العشر

: عشر د کوم ځاي په حساب سره واجبيږي

الاستفتاء: که چيرته يو سړي رومي بانجان کرلي وي ليکن د نرخ د ټيټوالي له وجهې ئې پخپل ښار کښې خرڅ نه کړل نو په دې صورت کښې که چيرته نومړي خپل رومي بانجان کوم بل ښار ته يوسي او هلته ئې خرڅ کړي نو عشر به د کوم ځاي په حساب ورکوي؟

الجواب حامدا و مصليا: که چيرته پخپل ښار کښې له جنس څخه عشر ادا کړي نو ښه تر ښه او که نه وي نو په بل ښار کښې ئې د خرڅولو په صورت کښې په نومړي ښار کښې به د جنس د قيمت په اعتبار سره عشر اداکوي-

لما قال العلامة الحصكفي: و يقوم في البلد الذي المال فيه و لو في مفازة ففي اقرب الامصار اليه. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص٢٨٦، باب زكوة الغنم) قال في الهندية: و يقومها المالك في البلد الذي فيه المال حتى لو بعث عبداً للتجارة الى بلد آخر فحال الحول تعتبر قيمة في ذلك البلد و لو كان في مفازة تعتبر قيمة في اقرب الامصار الى ذلك الموضع. (الفتاوى الهندية ج١، ص ١٨٠، كتاب الزكوة، الباب الثالث في زكوة الذهب و الفضة و العروض.

د برمې له اوبو څخه په خړوبيدونکې زمکې باندې د نيم عشر د وجوب حکم

الاستفتاء: د زمکې د خړوبولو لپاره که چيرته يو څوک برمه استعمالوي چه په هغې کښې بزګر د برق د اخراجاتو برسيره نور اخراجات هم پرې کوي. په دې صورت کښې د داسې زمکې په آمدني باندې به عشر واجب وي او که نيم عشر؟

الجواب حامدا و مصليا: د فقهاء كرامو د تصريحاتو مطابق د كومې زمكې په خړوبولو كښې چه محنت او مشقت وي نو په هغې كښې به نيم عشر وي. په داسې حال كښې چه په واټر پمپ (برمې) باندې د زمكې خړوبولو په صورت كښې مالي تاوان له چا څخه پټ نه دې د دې لپاره په داسې زمكې باندې به نيم عشر واجب وي

لما في الهندية : و ما سقى با لدولاب و الدالية فقيه نصف العشر و ان سفى سيحاً و بدالية يعتبر أكثر السنة فإن استويا يجب نصف العشر الهندية ج ۱، ص ۱۸۶، كتاب الزكوة ، الباب السادس في زكوة الزروع و الثمار) قال الشيخ الاسلام ابي بكر بن علي بن محمحد و ما سقى بعرب او دالية او سافية ففيه نصف العشر الدالية و الدولاب و السانية البعير الذي يستقى به الماء. (الجوهرة النيرة ج۱، ص ۱۵٤ ، باب العشر) و مثله في الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص۳۲۸، باب العشر رام

: د جوماتونو امامانو ته د ورکړل شوې زمکې په آمد ني کښې د عشر يا نيم عشر وجوب

الاستفتاء: په ځينو علاؤو كښې سيد انو يا د جومات امامانو ته څه زمكې وركول كيږي چه په عرف كښې ورته "سيري" ويل كيږي. ډير واري د ازمكې دوي ته د مالكانه حقوقو په توګه وركول كيږي. نو ښكاره خبره ده چه دا خو د جوماتونو د امامانو ملكيت ګڼل كيږي ليكن كومه چه زمكه د جومات لپاره وقف وي او د جومات امامان په هغې باندې څه كړي نو آيا عشر به پرې واجب وي او كه نه؟

الجواب حامدا و مصليا: له زمكې څخه د عشر د ادا كولو لپاره مالك و الى شرط نه دې بلكه د زمكې آمدني چه څوك اخلي په هغه باندې عشر يا نيم عشر و اجب وي. د جوماتونو امامان چه د جومات له وقف شوې زمكې څخه كوم فصل اخلي په هغه كښې به عشر يا نيم عشر و اجب وي-

لما في الهندية: و كذا ملك الارض ليس بشرط للوجوب لوجوبه في الأراضي الموقوفة و يجب في ارض الماذون و المكاتب، (الفتاوى الهندية ج۱ ، ص ۱۸۵، كتاب الزكوة، الباب السادس في زكوة الزروع و

الثمار) قال ابن نجيم المصرى و كذا ملك الارض ليس بشرط للوجوب لوجوبه في الارض الموقوفة. (البحر الرائق ج۲، ص ۲۳۷، باب العشر) و مثله في الجوهرة النيرة ج۱، ص ۱۵۳ ، باب زكوة الزروع و الثمار .

د راتلونكي كال د عشر وركولو حكم

الاستفتاء: كه چيرته يو شوك د سږ كال د عشر وركولو په وخت كښې د راتلونكي كال عشر هم ادا كړي نو آيا د اسې كول ورته جائز دي او كه نه؟

الجواب حامدا و مصليا: عشريا نيم عشر لكه څرنگه چه په پيد اوار يعنې د زمكې په فصل باندې واجبيږي. د راتلونكي كال د عشر وركول داسې دي لكه له وجوب څخه مخ كښې د عشر وركول چه په داسې كولو سره ئې غاړې نه خلاصيږي۔

وقته وقت خروج الزرع و ظهور الثمر عند ابي حنيفة فلو عجل عشر ارضه قبل الزرع لا يجوز و لو عجل.بعد الزراعة بعد النبات فانه يجوز و لو عجل بعد زراعة قبل النبات فا لاظهر انه لا يجوز و لو عجل عشر الثمار ان كان بعد طلوعها يجوز و ان كان قبل طلوعها لا يجوز في ظاهر الرواية. والفتاوى الهندية ج۱، ص ۱۸٦، كتاب الزكوة، الباب السادس في زكوة الزروع و الثمار) قال العلامة جلال الدين الخوارزمي ثم اختلفوا في وقت الوجوب فوقت الوجوب عند ابي حنيفة يكون عند ظهور الثمرة و عند أبي يوسف الوجوب عند الادراك و عند محمد يكون عند استحكامه. (الكفاية في ذيل فتح القدير ج۰۲ ص۱۹۱/۱۹۲، باب زكوة الزروع و الثمار) و مثله في البدائع الصنائع ج ۲، ص ۵۴ ، فصل زكوة الرروح و الثمار

د قومي اخراجاتو تر ايستلو مخكښې عشر واجب دى

الاستفتاء: په ځينو علاؤو كښې د خلكو د ارواج دي چه د زمكې له آمدني څخه د كلي پښ، نايي او د اسې نورو كسب گروته يوه مخصوصه برخه وركول كيږي نو آيا د دغو قومي او علاؤايي اخراجاتو له ايستلو څخه مخكښې به عشر وركوي او كه وروسته؟

الجواب حامدا و مصليا: عشر یا نیم عشر په ټوله آمدني باندې واجب دی. نوموړي اخراجات هم د زمکې له آمدني څخه ورکول کیږي نو ځکه د دغو اخراجاتو عشر یا نیم عشر هم واجب دي او د دغو اخراجاتو له ایستلو څخه مخ کښې به عشر ورکوي۔

لما قال الشيخ الاسلام ابي بكر بن علي بن محمد: و قال محمد اذا حصدت و صارت في الحرين و قائدته فيما اذا اكل منه شيئاً بعد ما صار جهيستا او اطعم غيره منه با لمعروف فانه يضمن عشر ما اكل و اطعم عند أبي حنيفة و زفر........ و ان اكل منها بعد بلغت الحصاد قبل ان حصد فمن عند أبي حنيفة و ابي يوسف (الجوهرة النيرة ج۱، ص۱۵۴، باب زكوة الزرع و الثمار)قال ابن نجيم: و اما ركنه فا لتمليك كا لزكوة و شرائط الاداء ما قدمناه في الزكوة .... و ان استهلكه غير المالك اخذ الضمان منه و ادى عشره و ان استهلكه المالك ضمن عشره و مار ديا في ذمته، والبحر الرائق ج۲، ص۲۳۷، باب العشر) و مثله في الهندية ج۱، ص۱۸۷، كتاب الزكوة.

د حکومت لخوا له خلکو څخه د زکات او عشر د اخیستلو حکم

الاستفتاء: حکومت چه له عوامو څخه کوم عشر او زکات اخلي او په خلکو ئې تقسیموي نو آیا په دې ډول سره د نصاب د مالک غاړه له زکات څخه فارغیږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصلیا: د حکومت په واسطه د زکات او عشر ادا کول څه پروا نه لري لیکن د زکات د موجوده نظام خامیو ته په پام کښې نیولو سره دا اندازه لګول له هیچا څخه پټ نه دي چه په عمومي توګه زکات پخپل اصل مصرف کښې نه لګیږي بلکه د سیاسي تړون او ګوندي تعلقاتو په بنیاد باندې غیر مستحقینو ته ورکول کیږي. د دې لپاره چه سړي د ا ویني هم چه زکات مې ضائع کیږي او بیا هم په هغه باندې اکتفاء کول د عقل او پوهې خبره نه ده بلکه دوباره ادا کول ئې بهتر دي۔

لما قال العلامة صدر الشريعة: و ان اخذوا الزكوة المذكورة صرفوا الى مصارفها و هي مصارف الزكوة فلا اعادة على الأملاك و ان لم يصرفوا الى مصارفها فعليهم الاعادة. (شرح الوقاية ج۱، ص۲۸۰، كتاب زكوة الاموال) لما

قال العلامة الحصكفي: اخذ البغاة و السلاطين الجائرة زكوة الاموال الظاهرة كا لسوائم و العشر و الخراج لا اعادة على اربابها ان صرف الماخوذ في محله الا في ذكره و الا يصرف فيه فعليهم فيما بينهم و بين الله. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص۲۸۸، باب زكوة الغنم) و مثله في السراجية ص۲٦، كتاب الزكوة

: قرض د عشر د وجوب لپاره مانع (خند) نه دی

الاستفتاء: که چیرته په زمیندار (بزگر) باندې څه پوروي نو آیا د پوروړي توب تر څنګ به هم د زمکې له آمدني څخه د عشر ورکول پرې ضروري دي او که پور د عشر د وجوب مانع دی۔

الجواب حامدا و مصليا: د عشر وجوب د زمکې په حاصل پورې اړه لري په دې کښې غنا او د نصاب مالک والی ضروري نه دی. د دې لپاره د پوروړي توب تر څنګ عشر يا نیم عشر ادا کول ضروري دي۔

لما قال الامام برهان الدين المرغيناني: قال ابو حنيفة رحمه الله في قليل ما اخرجته الارض و كثيره العشر سواء سقي سيحاً أو سقته السماء. (الهداية على صدر فتح القدير ج ۲، ص١٨٦، باب زكوة الزرع و الثمار) قال ابي بكر بن علي بن محمد: قال أبو حنيفة في قليل ما اخرجته الارض و كثير العشر حد القليل الصاع و ما دونه لا شيء فيه و قبل حده نصف الصاع و المراد با لارض هنا العشر و فيه اشارة الى انه لا يلتفت الى المالك سواء كان بالغاً او صبياً او مجنوناً او عبداً او كا نت الارض وقفاً على الرباطات او المساجد أو المدارس. (الجوهرة النيرة ج۱، ص۱۵۳. باب زكوة الزرع و الثمار) و مثله في الهندية ج۱، ص۱۸٦، كتاب الزكوة، الباب السادس في الزروع و الثمار.

: په زور او جبر سره د اخیستل شوي عشر بیرته ګرځول بهتر دي

الاستفتاء: که چیرته له یوه سړي څخه والي یا کوم ظالم بادشاه په زور او جبر سره عشر واخلي نو آیا په دې سره د سړي غاړې خلاصیږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: كه چيرته له چا څخه د ظلم او ستم په توګه عشر په زوره واخيستل شي نو په مالک باندې د عشر بيرته را ګرځول لازم نه دي. لکه څرنګه چه دا عشر په عمومي توګه د حکمرانانو د عياشيو نذر کيږي او په يوه د اسې ځاي باندې په يقيني توګه نه مصرفيږي چه شريعت د مصارفو په توګه ټاکلي دي. د دې لپاره د احتياط له مخې د عشر دوباره ايستل بهتر دي ترڅو چه مالک ئې پخپله خوښه په غريبانو تقسيم کړي او اطمينان تر لاسه کړي

قال علي بن ابي بكر المرغيناني: و اذا اخذ الخوارج الخراج و صدقة السوائم لا يثنى عليهم و افتوا بان يعيدوها دون الخراج الخ و قيل اذا نوى با لدفع التصدق عليهم سقط عنه و كذا ما دفع الى كل جائز لانهم بما عليهم لما قال الامام برهان الدين المرغيناني: قال أبو حنيفة رحمه الله في قليل ما اخرجته الارض و كثيره العشر سواء سقى سيحا او سقته السماء. (الهداية على صدر فتح القدير ج۲، ص۱۸۶، باب زكوة الزرع و الثمار) قال ابي بكر بن علي بن محمد: قال أبو حنيفة في قليل ما اخرجته الارض و كثير العشر حد القليل الصاع و ما دونه لا شيء فيه و قبل حده نصف الصاع و المراد با لارض هنا العشر و فيه اشارة الى انه لا يلتفت الى المالك سواء كان بالغاً او صبياً او مجنوناً او عبداً او كا نت الارض وقفاً على الرباطات او المساجد او المدارس. (الجوهرة النيرة ج۱، ص۱۵۳، باب زكوة الزرع و الثمار) و مثله في الهندية ج۱، ص۱۸۶، كتاب الزكوة، الباب السادس في الزروع و الثمار. من التبعات فقرا و الاول احوط. (الهداية ج۱، ص ۱۷۵، فصل في الخيل)

د موقوفه زمکې په حاصلاتو کښې د عشر حکم

الاستفتاء: د کومې مدرسې يا کوم جومات لپاره د وقف شوې زمکې په حاصلاتو کښې د عشر يا نيم عشر څه حکم دی؟ په داسې حال کښې چه د اسې زمکه د چا شخصي ملکيت نه وي؟

الجواب حامدا و مصليا، د عشر په وجوب کښې د زمکې مالک والی شرط نه دي بلکه د ما خرج من الارض (هغه څه چه له زمکې را ووځي) مالک والی شرط دی- کوم شي چه له زمکې څخه لاس ته راځي او څوک ئې چه مالک وي نو په هغه مالک

باندې ئې عشر لازم دی. که چیرته موقوفه زمکې اهل وقف کرې نو په دوی باندې عشر لازم دي او که چیرته ئې له اهل وقف څخه بغیر بل څوک کرې نو په هغه کښې به بیا د اجارې او مزارعت غوندې احکام جاري کیږي۔

قال علاء الدين الحصكفي: و يجب مع الدين و في ارض صغير و مجنون و مكاتب و ماذون و وقف قال العلامة ابن عابدين: (تحت قوله و وقف) افاد ان ملك الارض ليس بشرط لوجوب العشر و انما الشرط ملك الخارج لأنه يجب في الخارج لا في الارض فكان ملكه و عدمه سواء. (رد المحتار ج ۲، ص ۳۲٦، باب العشر)و في الهندية و كذا ملك الارض ليس بشرط للوجوب لوجوبه في الاراضي الموقوفة. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۱۸۵، باب السادس في زكاة الزرع و الثمار) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۲۳۷ ، باب العشر

په کرایه باندې په ورکړشوې زمکې کښې د عشر حکم

الاستفتاء: که چیرته د کرایه زمکه چا ته په کرایې باندې ورکړ شي کوم چه له کرنې پرته په نورو ضروریاتو کښې هم استعمالیدلي شي نو آیا د زمکې په مالک باندې عشر و اجبیږي او که زکات ئې پرې لازمیږي؟

الجواب حامدا و مصلیا: د کرنې زمکه که چیرته په کرایې باندې ورکړ شي نو که چیرته ئې کرایه د نصاب له اندازې سره برابره یا ترې زیاته وي نو د کال په تیریدو سره ئې په مالک زکات و اجبیږي نه عشر - که چیرته د نصاب له اندازې څخه ئې کرایه کمه وي او مالک ئې د نور نصاب خاوند هم نه وي نو زکات پرې نه و اجبیږي

قال العلامة ابن عابدين: و ان غصب عشرية فزرعها ان لم تنقصها الزراعة فلا عشر على المالك، و ان نقصتها فا لعشر على المالك كانه آجرها با لنقصان. (رد المحتار ج۲، ص۳۳۳، باب العشر) قال العلامة زين الدين ابن نجيم: و في الارض المغصوبة على الغاصب ان لم تنقصها الزراعة و ان نقصتها فعلى ربالارض. (البحر الرائق ج۲، ص۲۳۷، باب العشر) و مثله في الهندي ج ۱، ص ۱۸۷، باب السادس في زكوة الزروع و الثمار.

په غصب باندې د عشر وجوب

الاستفتاء: په کومه زمکه باندې د غاصبانه قبضې په نتیجه کښې چه کوم حاصلات تر لاسه کیږي آیا عشر پرې واجبیږي او که نه او آیا د اعشر به اصل مالک ادا کوي او که غاصب؟

الجواب حامدا ومصليا: د عشر د وجوب لپاره د زمکې مملوک والی ضروري نه دي بلکه د آمدني (حاصلاتو) مالک والی ضروري دی. د دې لپاره له مغصوبه زمکې څخه چه څومره حاصلات د غاصب سره جمع کیږي عشر ئې په غاصب باندې لازمي دی. البته د عشر په ادا کولو سره د زمکې حاصلات نه ورته حلالیږي. البته که چیرته غاصب ټول حاصلات د زمکې مالک ته ورکړه نو بیا به په مالک باندي عشر واجب وي

قال العلامة ابن عابدين: و ان غصب عشرية فزرعها ان لم تنقصها الزراعة فلا عشر على المالك و ان نقصتها فالعشر على المالك كانه آجرها با لنقصان. (رد المحتار ج۲، ص۳۳۳، باب العشر) قال العلامة زين الدين ابن نجيم: و في الأرض المغصوبة على الغاصب ان لم تنقصها الزراعة و ان نقصتها فعلى رب الارض. (البحر الرائق ج ۲، ص ۲۳۷، باب العشر) و مثله في الهندية ج۱، ص۱۸۷، باب السادس في زكوة الزرع و الثمار.

: پوره کال په پاتې شویو غنمو کښې د زکات حکم

الاستفتاء: له یوه سړي سره ډیر غنم دي او په پنځه ویشتو منو باندې ئې پوره کال تیر شوي دي آیا په دغو غنمو باندې زکات واجب دي او که نه؟

الجواب حامدا ومصليا: چه کله غنم د تجارت لپاره نه وي نو زکات پکښې فرض نه دي ځکه چه په غنمو کښې نمو نه لیدل کیږي او له غنمو څخه چه یو ځل عشر ادا شي نو د بیا لپاره د کال په تیریدو سره زکات نه پرې واجبیږي–

لما قال العلامة ابن نجيم. و خرج ايضاً ما اذا دخل من ارجة حنطة تبلغ قيمتها قيمة نصاب و نوى ان يمسكها و يبيعها فامسكها حو لا لا تجب فيها الزكوة كما في الميراث. (البحر الرائق ج۲، ص۲۰۹، كتاب الزكوة)

قال العلامة ابن عابدين: (تحت قوله و لا تصح نية التجارة) لانها لا تصح الا عند عقد التجارة فلا تصح فيما ملكه بغير عقد كارث و نحو ه كما سياتي و مثله الخارج من ارضه لان الملك يثبت با لذوات و لا اختيار له فيه و نوى فيه قال في البحر و خرج اى بقيد العقد ما اذا دخل حنطة تبلغ قيمتها نصاباً و نوى ان يمسكها و يبيعها فامسكها حو لا لا تجب فيها الزكوة كما في الميراث. (رد المحتار ج ۲، ص ۲٦۸ ، كتاب الزكوة) و مثله في الهندية ج ۱، ص ۱۷۲، كتاب الزكوة.

په اخيستونكي باندې واجب دي او كه په خرڅوونكي باندې؟

الاستفتاء: كه چيرته د زمكې مالك خپل كښت په كوم تيكدار خرڅ كړي او هغه ته ئې ور وسپاري نو د زمكې له حاصلاتو څخه عشر يا نيم عشر به د چا ذمه واري وي د زمكې د مالك او كه د تيكدار؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په صورت مسئوله كښې كه چيرته كښت د فصل له تيارېدو څخه وروسته خرڅ كړې شي نو د عشر ذمه وار به ئې د زمكې مالك يعني خرڅوونكي وي ليكن د اومه كښت د خرڅولو په صورت كښې به عشر په اخيستونكي باندې واجب وي-

لما قال في الهندية: و اذا باع الارض العشرية و فيها زرع قد أدرك مع زرعا أو باع الزرع خاصة فعشره على البائع دون المشترى و لو باعها و الزرع بقل ان قصه المشترى في الحال يجب على البائع و لو تركه حتى ادرك فعشره على المشتري (الهندية ج۱، ص۱۸۷ ، كتاب الزكوة، الباب السادس في زكوة الزرع و الثمار) قال العلامة الحصكفي: و لو باع الزرع ان قبل ادركه فا لعشر على المشتري و لو بعده فعلى البائع. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص۳۳۳، باب العشر) و مثله في بدائع الصنائع ج۲، ص٥٦/٥٧ ، فصل شرائط الفريضة

د غره په حاصلاتو کښې د عشر مسئله

الاستفتاء: د غرونو پخپله په شنو شویو ونو کښې میوه لرونکې وئې هم وي لکه اخروټ، جنغوزي او داسې نور- نو آیا په دغو شیانو باندې عشر واجب دي او که نه؟ ځکه چه مالیت ئې په کافي اندازې باندې وي؟

الجواب حامدا ومصليا: په غرونو کښې پخپله له شنو شویو ونو څخه چه کوم حاصلات لاس ته راځي نو چه څوک دا حاصلات تر لاسه کوي عشر به ئې پرې واجب وي-

لما قال في الهندية؛ و ما يجمع من اثمار الاشجار التي ليست بمملوكة كاشجار الجبال يجب فيها العشر. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۸۶، كتاب الزكوة، الباب السادس في زكوة الزرع و الثمار)قال العلامة ابن عابدين: (تحت قوله كذا يجب العشر في ثمرة جبل او مفازة ان حماه الامام) و يجب العشر و لو كان الشجر غير مملوك و لم يعالجه احد........ فان ثمر الجبال مباح لا يجوز مع المسلمين عنه و قال ابو يوسف رحمه الله لا شيء فيما يوجد في الجبال لأن الأرض ليست مملوكة و لهما ان المقصود من ملكها النساء و قد حصل. (رد المحتار ج۲، ص۳۲۵، باب العشر) و مثله في البزازية على هامش الهندية ج ۴، ص۹۱، الباب الثالث في العشر و الخراج و لجزية.

د میوې او د اسې نورو حاصـــلاتو تر پخیدو مخ کښې د خرڅولو په صورت کښې د عشر مسئله

الاستفتاء: زمونږ په علاقؤه کښې د مڼو او داسې نورو میوو ډیر داسې باغونه دي چه د میوې تر ښکاریدو مخکښې خرڅیږي، بیا تر پخید و پورې دا میوې د مالکانو په باغونو کښې پرینبودل کیږي. چه کله پخې شي او تیارې شي نو له دې ځای څخه نورو ځایونو ته د خرڅولو لپاره وړي آیا د دغو باغونو عشر په مالک باندې وي او که په اخیستونکو باندې؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په میوو باندې هغه وخت عشر واجبيږي چه کله په ونو کښې ښکاره شي او تر ېخیدو پورې له خرابیدو او ضائع کیدو څخه محفوظ پاتې شي-

قال ابن عابدين: قال في الجوهرة النيرة و اختلفوا في وقت العشر في الثمار والزرع. فقال أبو حنيفة و زفر ، عند ظهور الثمرة و الامن عليها من الفساد. (رد المحتار ج۲، ۳۳۱، باب العشر)

لیکن مروجې بیعې فاسدې دي او په بیع فاسد کښې قبل القبض مفید للملک نه وي له دې وجهې به عشر په خرڅوونکي باندې وي او که چیرته بائع مشتري ته ور سپارلي وي نو بیا به عشر په مشتري یعنې اخیستونکي باندې وي-

قال علاؤ الدين الحصكفي: و لو باع الزرع ان قبل ادراكه فا لعشر على المشترى و لو بعده فعلى البائع. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص۳۳۳، باب العشر) و في الهندية: و لو باعها و الزرع بقل ان فصله المشترى في الحال يجب على البائع و لو تركه حتى ادرك فعشره على المشترى. (الفتاوى الهندئ ج۱، ص۱۸۷، الباب السادس في زكوة الزرع الثمار) و مثله في بدائع الصنائع ج۲، ص۵۷، فصل و اما شرائط الفرضية.

په شوتلو باندې د عشر د وجوب حکم

الاستفتاء: که چیرته یوه سړي پخپلې زمکې باندې شفتانه کرلې وي نو لکه څرنګه چه شفتانه څو څو ځلې ریبل کیږي او بیا را پورته کیږي. نو آیا هر ځل به ئې عشر ادا کوي او که یو ځل ادا کول ئې کافي دي؟

الجواب حامدا و مصليا: د شفتلې په کرلو باندې لکه څرنګه چه زمکه مشغوله لیدل کیږي له دې وجهې په هغې کښې عشر یا نیم عشر ادا کول ضروري دي. بیا لکه څرنګه چه بار بار ریبل کیږي له دې وجهې ټولو حاصلاتو ته دې حساب وکړي او عشر دې ادا کړي او که نه وي نو هر ځل دې په جلا جلا توګه عشر ادا کړي-

لما قال ابي بكر بن علي بن محمد: اما اذا اتخذ ارضه مقصبة او شجرة او منبتاً للحشيش و ساق اليه الماء و منع الناس منه يجب فيه العشر. (الجوهرة النيرة ج۱، ص۱۵۳ ، باب زكوة الزرع الثمار) قال العلامة ابن عابدين: (تحت قوله الا فيما لا يقصد و........ و ان المدار على القصد حتى لو قصد به ذلك وجب العشر)

په سبزيو کښې د عشر وجوب

الاستفتاء: ځينې سبزې د اسې وي چه پوره کال نه ساتل کيږي او ډير زر خرابيږي. آيا له زمکې څخه د د اسې سبزيو د حاصلاتو په اخيستو سره عشر و اجبيږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: د امام ابو حنيفه په نزد د عشر يا نيم عشر د وجوب لپاره د زمکې د حاصلاتو تر يو څه مودې پورې پاتې کيدل ضروري نه دي. د دې لپاره کوم حاصلات چه له زمکې څخه تر لاسه کيږي په هغو کښې عشر يا نيم عشر به واجب وي که د اوږدې مودې پورې د پاتې کيدو صلاحيت ولري او که نه په موجوده زمانې کښې د دغو سبزيو د لويو لويو ګود امونو په ذريعې سره تر ډيرې مودې پورې ساتل کومه لرې خبره نه ده -

قال ابن عابدين: (قوله بلا شرط نصاب و بقاء) فيجب فيما دون النصاب بشرط ان يبلغ صاعاً و قيل نصفه و في الخضروات التي لا تبقى هذا قول الامام و هو الصحيح. (رد المحتار ج۲، ص۳۲٦، باب العشر) قال العلامة ابو بكر الكاساني: فاما كون الخارج مما له ثمرة باقية فليس بشرط لوجوب العشر بل يجب سواء كان الخارج له ثمرة باقية او ليس له ثمرة باقية و هي الخضروات كالبقول و الرطاب و الخيار و الفناء و البصل و الثوم و نحو ها. (بدائع الصنائع ج۲، ص۵۸، فصل و اما شرائط المحلية) و مثله في الهندية ج۱، ص۱۸٦، الباب السادس في زكوة الزروع و الثمار)

په پوروړي باندې هم عشر واجب دی:

الاستفتاء: که چیرته یو څوک پوروړي وي نو آیا په دې صورت کښې هم عشر پرې واجب وي او که پور د عشر ساقطوونکي دی؟

الجواب حامدا و مصليا: پور اگر که د زكات د وجوب لپاره مانع دي ليكن د عشر د وجوب لپاره مانع نه دي د پوروړي توب سره سره به عشر اداكوی۔

لما قال العلامة الحصكفي: و يمنع الدين وجوب العشر و خراج و كفارة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص ٢٦١، كتاب الزكوة) قال العلامة ابن نجيم: و قيد المصنف با لزكوة لان الذين لا يمنع وجوب العشر و الخراج و يمنع صدقة الفطر. (البحر الرائق ج ٢، ص٢٠٦، كتاب الزكوة)

په خيريه كارونو كښې د عشر د روپود لگولو حكم

الاستفتاء: آيا د عشر روپۍ په خيريه كارونو كښې لگول كيدلي شي او كه نه؟

الجواب حامدا و مصليا: عشر له واجبو صدقاتو سره تړلي دي چه په هغه كښې د بل تمليک شرط دی. لكه څرنگه چه په خيريه كارونو كښې تمليک نه ليدل كيږي د دې لپاره په خيريه كارونو كښې د عشر روپۍ نه شي لگول كيدلي۔

قال العلامة الحصكفي: هي تمليك خرج الاباحة فلو اطعم يتيما ناويا الزكوة لا يجزيه الا اذا دفع اليه المطعوم..... جزء مال خرج المنفعة عينه الشارع. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص ٢٥٦، كتاب الزكوة) قال العلامة ابن نجيم: هي تمليك المال من فقير مسلم غير هاشمى و لا مولاه يشترط قطع المنفعة من الملك من كل وجه لقوله تعالى: و اتو الزكوة. و ايتائهم التملك و مراده تمليك جزء من ماله و هو ربع العشر او ما يقوم مقامه, (البحر الرائق ج٢، ص٢٠١، كتاب الزكوة)

باب صدقه الفطر :

په صدقة فطر (سرسايه) كښې د غناء نصاب

الاستفتاء: كه چيرته له يوه سړي سره څو قسمه حيوانات وي ليكن په هغوي كښې يو قسم هم نصاب ته نه رسيده او د تجارت لپاره هم نه وي نو په د اسې سړي باندې قرباني او صدقة فطر واجب دي او كه نه؟

الجواب حامدا و مصليا: د قربانۍ او صدقي فطر (سرسايې) د وجوب لپاره په بنيادي توګه يو اځې غناء كافي ده اګر كه د څو قسمه مالونو يو اځې نمونې هم موجودې وي. د مالونو د يو ډول زياتولي د زكات لپاره ضروري دي نه د صدقي فطر لپاره همدا وجه ده چه فقهاء كرامو فرمايلي دي چه كه چيرته له يوه سړي سره له ضرورت څخه زيات يوه ميښه وي او قيمت ئې د نصاب له مقدار سره برابر وي نو په هغه باندې صدقة فطر او قرباني دواړه واجب دي بيا هم په دې كښې به د هغه د ضرورت لحاظ كيږي. يو ده فان ته د زمكې لپاره د دوو غوايانو ضرورت دي نو كه دريم غويې ورسره وي هغه به بې ضرورته ګڼل كيږي

.لما في الهندية: و ببقرةواحدة غنى و بثلاثة ثيران اذا ساوي احدهما مائتي درهم صاحب نصاب. (الفتاوى الهندية ج ۵، ص ۲۹۳، كتاب الاضحية، الباب الاول في تفسيرها) قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاري: و ببقرة واحدة غنى بثلاثة ثيران اذا تساوى احدهما مائتي درهم صاحب نصاب . (خلاصة الفتاوى ج ۴، ص ۳۱۰، الفصل الثاني في نصاب الاضحية)

د زكات او صدقة فطر د وجوب نصاب

الاستفتاء: د زكات د وجوب د نصاب او د صدقه فطر د نصاب تر منځ څه فرق دی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د دواړو نصاب يو دی. يعنې د اوه نيمو تولو سرو زرو يا د دوه پنځوس نيمو تولو سپينو زرو په ملكيت باندې زكات او صدقه فطر دواړه واجب ګرځي. او د زكات لپاره د كال تيريدل پرې ضروري دي په داسې حال كښې چه

د صدقة فطر لپاره د کال تیریدل پرې ضروري نه دي. یعني که کال پرې تیر وي او که نه چه دومره سره او سپین زر یا د هغوی قیمت برابر روپۍ ورسره وي نو صدقة فطر پرې واجب دی

-لما قال العلامة اكمل الدين البابرتي: و لا يشترط فيه النمو اى لا يشترط ان يكون النصاب بمال نام لانها وجبت با لقدرة الممكنة و النمو انما يشترط فيما يكون وجوبه با لقدرة الميسرة كا لزكوة على ما عرف في الاصول. (العنابة على هامش فتح القدير ج۲، ص۲۱۹، باب صدقة الفطر) قال حسن بن عمار بن على: مالك النصاب اعلم ان النصب ثلاثة نصاب يشترط فيه النماء و تتعلق به الزكوةو سائر الاحكام المتعلقة با لمال النامي و نصاب تجب به احكام اربعة حو الصدقه وجوب الاضحية وصدقة الفطر و نفقة الاقارب و لا يشترط فيه النمو بالتجارة و لا حو لان الحول و نصاب تثبت به حرمة السوال و هو ما اذا كان عنده قوت يومه، الخ (مراقي الفلاح ص۳۹۴، باب صدقة الفطر) و مثله في الهندية ج۱، ص۱۹۱، كتاب الزكوة، الباب السابع فصل ما يوضع في بيت المال)

د صدقـــه فطر اندازه

الاستفتاء: د صدقة فطر مقدار څومره دي او د قیمت په اداکولو کښې به ئې د تفاوت له وجهې کوم قیمت معتبر وي؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د فقه حنفي له مخې نیم صاع یعني یو سل او څلویښت تولې غنم د صدقة فطر مقدار دی- البته د اوربشو، خرماوو او ممیزو څخه به یو صاع یعني دوه سوه اتیا تولې اداکیږي -په دغو کښې کیلو او منطقوي سیرونه فرق سره لري نو ځکه د تولې له مقدار څخه د منطقوي سیر تعین آسان دي او په اداکولو کښې به ئې د فقیر مفاد ته کتل کیږي که چیرته ئې په قیمت کښې فقیر ته فائده وي نو مروجه قیمت به ئې ورکوي -

قال علاؤ الدين الحصكفي: و يقوم في البلد الذي المال فيه. (الدر المختار على صدر رد ار ج٢، ص٢٨٦، باب زكوة الغنم) قال الشيخ ابن الهمام: (و يقومها) اى المالك في البلد الذي فيه المال. الخ- (فتح القدير ج ٢، ص ١٦٧، فصل في العروض) و مثله في الهندية ج١، ص ١٨٠، الفصل الثاني في العروض)

په صدقة فطر کښې شرعي صاع معتبر دي نه رواجي صاع

الاستفتاء: په صدقه فطر کښې به شرعي صاع معتبر وي او که مروجه صاع؟ او که چيرته ئې څوک په مروجه صاع باندې اداکړي نو صدقه فطر ئې کيږي او که نه؟ بينو اتوجروا-

الجواب حامدا ومصليا، د صدقه فطر په اداکولو کښې اصل اعتبار شرعي صاع لره دي او که د مروجه صاع مقدار مجهول وي نو بيا د هغې هيڅ اعتبار نشته او که چيرته د مروجه صاع له شرعي صاع څخه زيات وي نو بيا په زيات اداکولو کښې ئې څه حرج نشته او که چيرته مروجه صاع کم وي نو تر څو پورې چه د شرعي صاع مطابق صدقه فطر ادا نه شي تر هغو پورې ئې غاړې نه خلاصيږي-

لما قال في الهندية: ثم يعتبر نصف صاع من بر او صاع من غيره با لوزن فيما روى ابو يوسف عن أبي حنيفة لان اختلاف العلماء في الصاع بانه كم رطلاً و هو اجماع منهم بانه معتبر با لوزن و قبل هذه العباره و الصاع ثمانية ارطال با لبغدادي و الرطل البغدادي عشرون استاراً. (الفتاوى الهندية ج١، ص١٩٢، كتاب الزكوة، الباب الثامن في صدقة الفطر) قال الامام برهان الدين المرغيناني: ثم يعتبر نصف صاع من بر وزناً فيما يروى عن أبي حنيفة و عن محمد انه يعتبر كيلا و الدقيق اولى من البر و الدراهم اولى من الدقيق. (الهداية على صدر فتح القدير ج٢، ص٢٢٩، باب صدقة الفطر) و مثله في البحر الرائق ج ٢، ص ٢٥٩، باب صدقة الفطر)

[د حکومت د جرمانې پس ه اداکولو کښې په صدقه فطـر سر چاد تعاون کـــولو حکم

الاستفتاء: که چیرته په یوه بندي (قیدي) باندې د حکومت د جرمانې اداکول لازمي وي نو هغه ته د قطر د صدقې ورکول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا: د صدقه فطر او زکات مصرف یو دی. لهذا د نوموړي سړي په ذمې باندې که چیرته د حکومت جرمانه واجب الاداء وي نو له دې وجهې چه هغه مدیون (پوروړی) دي ځکه هغه ته صدقه فطر ورکول جائز دي-

قال العلامة ابن نجیم: وصدقة الفطر کا لزکوة في المصارف. الخ. (البحر الرائق ج۲، ص۲۵۶، باب صدقة الفطر و في الهندیة: و مصرف هذه الصدقة ما هو مصرف الزکوة. (الفتاوی الهندیة ج۱، ص۱۹۴، باب صدقة الفطر) و مثله في الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۲، ص۸۶، باب صدقة الفطر)

په اجرت کښې د صدقه فطر ورکول جائز نه دي

الاستفتاء: که چیرته د جوماتونو امامانو ته د دوي د امامت په اجرت کښې صدقه فطر ورکړي نو آیا په دې سره د خلکو صدقة فطر اداکیږي او که نه؟ او پخپله د امام لپاره ئې اخیستل جائز دي او که نه؟

الجواب حامدا و مصلیا: د صدقه فطر په اداکولو کښې دا ضروري خبره ده چه د څه خدمت عوض أو بدل نه وي. د واجبو صدقاتو خصوصیات همدا دي چه په هغو کښې به تملیک بغیر له کوم بدل څخه وي او دا پکښې شرط دی. په امامت او آذان باندې اجرت اخیستل اگر که پخپل ذات کښې څه پروا نه لري لیکن صدقه فطر د امامت د اجرت په عوض کښې ورکول جائز نه دي. بیا تې هم که چیرته ورکړي نو اجرت پرې اداکیږي لیکن صدقةفطر ئې له غاړې نه ساقطیږي. البته که چیرته امام غریب وي او د هغه لپاره د امامت په بدل کښې ځانته اجرت ټاکل شوی وي نو بیا د اضافي تعاون له مخې غریب امام ته د صدقة فطر په ورکولو کښې څه حرج نشته

قال علاؤ الدين الحصكفي: وصدقة الفطر كا لزكوة في المصارف الا في الدفع الى الذمي. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص۳۶۹، باب صدقة الفطر) قال ابن نجيم رحمه الله: وصدقة الفطر كا لزكوة في المصارف. الخ. (البحر الرائق ج۲، ص۲۵٦، باب صدقة الفطر) و مثله في الهندية ج ۱، ص ۱۹٤، باب صدقة العشر)

: په صدقه فطر کښې تجزي (حصې حصې) کول پروا نه لري

الاستفتاء: آیا د یوه سړي سرسایه (صدقه فطر) یوه کس ته ورکول ضروري دي او که ګڼ شمیر فقیرانو ته هم ورکول کیدلي شي؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا: په سرسایه کښې تجزي او تقسیم تاوان نه کوي نو ځکه د یوه سړي سرسایه په ګڼو فقیرانو باندې هم تقسیمول صحیح دي او همدارنګه یو اځې یوه سړي ته د ډیرو کسانو سرسایه ورکول هم صحیح دي.

قال شيخ الاسلام محمد بن عبد الله التمرتاشي الحنفي: و جاز دفع كل شخص فطرته الى مسكين على المذهب كما جاز دفع صدقة جماعة الى مسكين واحد بلا خلاف، (تنوير الابصار متن الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص۳٦۷، باب صدقة الفطر) قال العلامة ابو بكر الكاساني رحمه الله: و يجوز ان يعطى ما يجب في صدقة الفطر عن انسان واحد جماعة مساكين و يعطى ما يجب عن جماعة مسكيناً واحداً. (بدائع الصنائع ج۲، ص ۷۵، فصل و اما ركنها) و مثله في فتاوي قاضي خان على هامش الهندية ج ۱، ص ۲۳۱، باب صدقة الفطر)

د ښځې سرسایه په چا باندې واجبه ده

الاستفتاء: آیا د ښځې سرسایه په میړه باندې واجبه وي او که پخپله ښځه به ئې ادا کوي په داسې حال کښې چه د هغې مال یا مهر د نصاب اندازې ته نه رسیږي؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: کله چه ښځه د نصاب مالکه وي نو سرسایه به پخپله د ې په ذمې باندې واجبه وي او د میړه په ذمه ئې سرسایه نه ده لازمه. بیا هم که چیرته میړه د خپلې ښځې له خوا سرسایه ورکړي نو سرسایه ئې اد اکیږي. او که چیرته ښځه د نصاب مالکه نه وي نو بیا په هغې باندي بالکل سرسایه واجبه نه ده

لما قال العلامة المرغيناني: و لا يؤدى عن زوجته و لا عن اولاده الكبار و ان كانوا في عياله و لو أدى عنهم او عن زوجته اجزاهم استحساناً. (الهداية ج١، ١٩١، باب صدقة الفطر) و في الهندية: و لا يؤدي عن زوجته و لا عن اولاده الكبار و ان كانوا في عياله و لو ادى عنهم او عن زوجته (الفتاوى الهندية ج١، ص١٩٣، الباب الثامن في صدقة الفطر) و مثله في الجوهرة النيرة ج١، ص١٦٣، اجزاهم استحساناً باب صدقة الفطر) كذافي فتاوي حقانية ج٣ص٢٩٩

: آیا چا ته د قرض په معاف کولو سره سرسایه اد کیږي؟

الاستفتاء: په یو چا باندې څه پور دی. که چیرته پور ورکوونکي هغه پور نوموړي ته په سرسایه کښې ور معاف کړي نو آیا سرسایه ئې اداکیږي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: سرسایه د واجبو صدقاتو له جملې څخه ده کومه چه تملیک پکښې شرط دی. لهذا په نوموړي صورت کښې چونکه تملیک نشته بلکه له وصولولو پرته قرضه ورته معاف شوې ده نو ځکه ئې صدقه فطر نه اداکیږي. بیا هم که چیرته یو څوک د اسې کول وغواړي نو اول دې غریب پوروړي ته سرسایه ورکړي او بیا دې خپل پور ترې وغواړي-

لما قال العلامة الحصكفي: و يشترط ان يكون الصرف تمليكاً. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٢٠ ص ٣٤٤، باب المصرف) و في الهندية: فهي تمليك المال من فقير مسلم غيرها هاشمي و لا مولاه بشرط قطع المنفعة عن المملك من كل وجه لله تعالى هذا في الشرع. (الفتاوى الهندية ج ١، ص ١٧٠، كتاب الزكوة، الباب الاول في تفسيره)

: په سرسایه (صدقه فطر) او قربانۍ کښې احتیاط

الاستفتاء: یو سړي د جائد اد خاوند دي لیکن د دې جائد اد ګټه د ده د قوت او لایموت (ورځني ژوند) ذریعه ده او له هغه پرته هیڅ نقد مال ورسره نشته نو آیا په نوموړي سړي باندې صدقه فطر واجب دي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا: په دې مسئله کښې مفتي به دا ده چه په دې سړي باندې قرباني او یا سرسایه واجبه نه ده. البته احتیاط په دې کښې دي چه تر خپله وسه پورې سرسایه او قرباني دواړه ادا کړي. او که چیرته د جائداد منافع یا ګټه د هغه له اصلي حاجاتو څخه زیاته وي نو په دې صورت کښې خو بالاتفاق سرسایه او قرباني دواړه پرې واجب دي

-لما قال العلامة ابن عابدين: سئل محمد عمن له ارض يزرعها او حالوت يستغلها او دار غلتها ثلاثة آلاف لا يكفي لنفقته و نفقة عياله سنة يحل له اخذ الزكوة و ان كا نت قيمتها تبلغ الوجاء و عليه الفتوى و عندهما . (رد المحتار ج۲، ص۳۴۸، باب المصرف) و في الهندية و كذا لو كان له حو انيت او دار غله تساوى ثلاثة آلاف درهم و غلتها لا تكفي لقوته و قوت عياله يجوز صرف الزكوة اليه في قول محمد و لو كان له ضيعة تساوى ثلاثة آلاف الخ. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۸۹، الباب السابع في المصارف) و مثله في البحر الرائق ج۲، ص ۲۴۰، باب المصرف)

: د روژې په ورځو کښې د سرسایې د اداکولو حکم

الاستفتاء: که چیرته یو سړي سرسایه د رمضان المبارک په میاشت کښې ادا کړي نو آیا غاړې ئې پرې خلاصیږي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا د سرسایې د وجوب وخت د اختر د ورځې د ګهیځ له ختلو څخه مخ کښې دی- لیکن که چیرته ئې څوک د اختر له ورځې څخه مخ کښې ادا کړي اګر که د روژې د میاشتې په کومه ورځ کښې هم وي نو سرسایه ئې اداکیږي- لیکن بیا هم مستحبه دا ده چه د اختر په ورځ ئې عیدګاه ته له تللو څخه مخ کښې ادا کړي-

لما قال العلامة برهان الدين المرغيناني: و المستحب ان يخرج الفطرة يوم الفطر قبل الخروج الى المصلى........ فان قدمها يوم الفطر جاز لانه ادى بعد تقرر السبب فاشبه التعجيل في الزكوة. (الهداية ج١، ص ١٩٣، باب صدقة الفطر) لما في الهندية و المستحب للناس ان يخرجوا الفطرة بعد طلوع الفجر يوم الفطر قبل الخروج الى المصلي. (الفتاوى الهندية ج١، ص ١٩٢، باب الثامن في صدقة القطر) و مثله في الجوهرة النيرة ج١، ص١٦٥ ، باب صدقة الفطر)

په منطقوي لحاظ سره د غنمو په قيمت كښې د تفاوت په صورت كښې به په سرسايه كښې د كوم قيمت اعتبار وي

الاستفتاء: كه چيرته په پنجاب كښې د غنمو قيمت كم وي او په صوبه سرحد كښې د غنمو قيمت زيات وي نو آيا مونږ به د پنجاب د غنمو د قيمت په اعتبار سره سرسايه ادا كوو او كه او كه د صوبه سرحد؟

الجواب حامدا و مصليا: اصل دا دي چه په سرسايه كښې غنم او يا هغه شي وركړي شي چه شريعت معتبر كړي وي. او كه چيرته څوك د هغه شي په بدل كښې د هغه د قيمت وركول وغواړي نو د خپل ښار قيمت به ئې معتبر وي او د بل ښار يا علاؤې د قيمت اعتبار صحيح نه دى-

لما قال العلامة الحصكفي: و يقوم في البلد الذي المال فيه و لو في مفازة ففي اقرب الامصار اليه. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٢، ص٢٨٦، باب زكوة الغنم) و في الهندية: ويقومها المالك في البلد الذي فيه المال حتى لو بعث عبداً للتجارة الى بلد آخر محال الحول تعتبر قيمته في ذلك البلد و لو كان في مفازة تعتبر قيمته في اقرب الامصار الى ذلك الموضع، (الفتاوى الهندية ج١، ص١٨٠ء الباب الثالث في زكوة الذهب و الفضة و العروض) و مثله في فتاوي دار العلوم ديوبند ج٦، ص٣٠٨، مسائل صدقة الفطر)

په غیر منصوصي شیانو کښې د سرسایې حکم

الاستفتاء: زمونږ په ځای کښې د وريژو فصل زيات کیږي یعنې شولې زیاتې کرل کیږي. که چیرته مونږ په صدقه فطر کښې وغواړو چه وريژې ورکړو نو څومره وريژې به ورکوو د نیم صاع په اعتبار سره او که د پوره صاع په اعتبار سره؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: احنافو فقهاوو په غیر منصوصي شیانو سره د سرسایې د ادا کولو په باره کښې دا تصریح کړې ده چه که چیرته څوک د غیر منصوصي شیانو سره د سرسایې ادا کول وغواړي نو د منصوصي شیانو د قیمت په اعتبار به ئې ورکوي. او د هغو د قیمت په برابر چه څومره وريژې او یا نور غیر منصوصي شیان جوړیده هغومره دې ورکړي سرسایه ئې ادا کیږي

-لما قال العلامة الحصكفي: نصف صاع فاضل يجب من بر او دقيقه او سويقه او زبيب .... او صاع تمر او شعير و لو رديئا و ما لم ينص عليه كذرة و خبز يعتبر فيه القيمة. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج ۲، ص ۳۶۴، باب صدقة الفطر) و في الهندية: ثم الدقيق اولی من البر و الدراهم اولی من الدقيق لدفع الحاجة و سواه من الحبوب لا يجوز الا بالقيمة. (الفتاوی الهندية ج ۱، ص ۱۹۲، الباب الثامن في صدقة الفطر) و مثله في الجوهرة النيرة ج ۱، ص ۱۶۵، باب صدقة الفطر)

په میوه جاتو کښې به د غنمو قیمت معتبر وي

الاستفتاء: که چیرته یوه علاقه داسې وي چه د غنمو او نورو منصوصي شیانو فصلونه وي بلکه هلته د نورو میوه جاتو باغونه وي نو د هغه ځای خلک دې په سرسایه کښې د غنمو د قیمت په اعتبار سره به د خپلې منطقې د غنمو قیمت ته اعتبار ورکوي او که چیرته چه غنم پید اکیږي د هغه ځای د غنمو قیمت ته به اعتبار ورکوي؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: چیرته چه غنم او یا نور منصوصي شیان نه پیدا کیدل نو سرسایه به د خپلې علاؤې له حاصلاتو څخه به د غنمو د قیمت برابر ادا کوي او حال دا چه د خپل ښار او منطقې د غنمو قیمت ته به اعتبار ورکوي او د بل ځای د غنمو قیمت ته به اعتبار نه ورکوي -

...لما قال العلامة الحصكفي: نصف صاع يكب من بر او دقيقه او سويقه او زبيب او صاع تمر او شعير و لو رديناً . و لم ينص عليه كذرة و خبز يعتبر فيه القيمة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص ٣٦٤، باب صدقة الفطر) و قال أيضا : و يقوم في البلد الذي المال فيه. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص٢٨٦، باب زكوة الغنم) و في الهندية: ثم الدقيق اولى من البر و الدراهم اولى من الدقيق لدفع الحاجة و ما سواه من الحبوب لا يجوز الا با لقيمة. (الفتاوى الهندية ج١، ص١٩٢، الباب الثامن في صدقة الفطر) و مثله في الجوهرة النيرة ج ١، ص ١٦٥، باب صدقة الفطر)

حقیقي ورور ته د سرسایې ورکولو حکم

الاستفتاء: خپل حقیقي ورور ته سرسایه او د لمانځه او روژې فدیه ورکول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: خوندې ورونه چونکه په فروعو او اصولو کښې د اخل نه دي نو ځکه دوي ته د هر ډول صدقاتو ورکول جائز دي. که زکات وي او که سرسایه او یا د لمانځه او روژې فدیه او داسې نور د ټولو ورکول ورته جائز دي-

و في الهندية، و الافضل في الزكوة و الفطر و النذر و الصرف أولاً الى الاخوة و الاخوات ثم الى اولادهم ثم الى الاعمام و العمات الخ. (الفتاوى الهندية ج ١، ص ١٩٠، باب المصارف) قال العلامة ابن نجيم المصرى: قيد باصله و فرعه لان من سواهم من القرابة يجوز الدفع لهم و هو اولى لما في من الصلة مع الصدقة كا لاخوة و الاخوات و الاعمام و العمات و الاحو ال و الحالات الفقراء والبحر الرائق ج٢٠ ص ٤٢ ٢ ، باب المصارف) و مثله في امداد الفتاوي ج ٢، ص ٨٠» باب صدقة الفطر)

د نابالغ بچي سرسايه په پلار باندې واجبه ده

الاستفتاء: که چيرته يو نابالغ بچي د نصاب مالک وي يا نه وي ليکن پلار ئې سرسايه نه وي اداکړې نو آيا د ابچي به له بلوغ نه وروسته خپله سرسايه اداکوي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: صدقة فطر په هر مسلمان چه د نصاب خاوند وي واجبه ده. که چيرته د نابالغ بچي پلار مالدار وي نو په هغه باندې د خپل نابالغ اولاد سرسايه واجبه ده. اوس که چيرته بچي پخپله مالدار وي ليکن ولي ئې د هغه له خوا سرسايه نه وي اداکړې نو له بلوغ نه وروسته په بچي باندې د خپلې سرسايې اداکول واجب دي۔

لما قال العلامة الحصكفي: على كل حر مسلم و لو صغيراً أو مجنوناً حتى لو لم يخرجهما و ليهما وجب الاداء بعد البلوغ. (الدر المختار على هامش الطحطاوي ج ۱، ص ۴۳۳ ، باب صدقة الفطر)

لما قال الشيخ اشرف على شاه التهانوي : هو! دا هلک به له بلوغ څخه وروسته صدقة فطر ادا کوي. او که چيرته هلک د نصاب مالک نه وي ګواکه پلار د نصاب خاوند وو او هغه ادا نه کړ نو په هلک باندې به له بلوغ څخه وروسته واجب وي – (امداد الفتاوي ج ۲، ص۷۸، باب صدقة الفطر)

بنديانوا ته د سرسايې ورکولو حکم

الاستفتاء: که چيرته په بندي خانه کښې بنديانو ته سرسايه ورکړي شي نو آيا سرسايه اداکيږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: په سرسايه کښې هم د زکات غوندې فقير او غريب سړى مالک ګرځول لازمي دي له دې وجهې که چيرته په جيل کښې غريب او فقير سړى بندي وي نو د سرسايې ورکول ورته جائز دي

لما قال العلامة ابو البركات النسفي: هي تمليک المال من فقير مسلم غير هاشميه و لا مولاه بشرط قطعالمنفعة من المملك من كل وجه. (كنزا لدقائق على هامش البحر الرائق ج۲، ص۲۰۱، كتاب الزكوة) قال العلامة علاؤ الدين الحصكفي: هي تمليك حرج الاباحة فلو اطهم يتيماً ناويا الزكوة لا يجزيه...... جزء مال

.... عينه الشارع و هو ربع عشر نصاب حو لي.... من مسلم فقير و لو معتوها غير هاشمي و لا مولاه مع قطع المنفعة عن المملك من كل وجه فلا يدفع لاصله و فرعه لله تعالى. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص۲٥٦ تا ۲٥٨، كتاب الزكوة)

باب مصارف الزكوه

دولت مند سړي ته د زكات وركولو حكم

الاستفتاء: كه چيرته د يوه سړي د غير منقوله جائداد قيمت ولګول شي او حساب كړي شي نو د قيمت په اعتبار سره دا سړي غني ګڼل كيږي ليكن د دې جائداد څخه حاصليد ونكي آمدني دومره نه وي چه ګذاره ئې پرې وشي نو آيا د داسې سړي لپاره د زكات اخيستل جائز دي او كه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په دې مسئله كښې د جائداد غير منقوله قيمت ته اعتبار نشته. بلكه په غناء كښې د هغه د ژوند ګذارې ته كتل كيږي. څكه چه د يوه سړي د جائداد قيمت زيات وي ليكن په منافعو ئې د ژوند ګذاره نه كيږي او نه له هغه سره نقدي روپۍ وي نو داسې سړي د زكات د مصرف ځاي دي او زكات وركول ورته جائز دي

-لما قال في الهندية: و كذا لو كان عنده من الصاحف و هو يحتاج اليه و ان كان ..... و كذا لو كان له حو انيت او دار غلة تساوي ثلثة آلاف درهم و غلتها لا تكفي لقوته و قوت عياله يجوز صرف الزكوة اليه في قول محمد و لو كان له ضيعة تساوى ثلثة آلاف و لا تخرج ما يكفي له و لعيانه اختلفو فيه قال محمد بن مقاتل يجوز له أخذ الزكوة (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۸۹، كتاب الزكوة، الباب السابع في المصارف) قال طاهر بن عبد الرشيد البخاري: و لو كان له ضيعة تساوى ثلثة آلاف درهم و لا يخرج منها ما يكفى له و لعيانه اختلفوا فيه قال محمد بن مقاتل يجوز له أخذ الزكوة. (خلاصة الفتاوى ج۱، ص۲٤۲، الفصل الثامن في اداء الزكوة) و مثله في البرازية على هامش الهندية ج ٤ ، ص ٨٥، الباب الثاني في المصرف)

د جائداد خاوند ته د زکات ورکولو حکم

الاستفتاء: د یوه سړي تقریبا ۲۵ کنانه زمکه ده او قیمت ئې د زکات له نصابه یعنې له دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو څخه زیات دي او د اوسیدلو خپل کور ئې هم شته نو آیا د اسې سړي له نورو خلکو څخه زکات اخیستلي شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: په صورت مسئوله کښې د زمکې قیمت لره اعتبار نشته او نه ئې قیمت د غناء سبب دی۔ بلکه د زمکې منافع که چیرته د ټولو مصارفو لپاره کافي وي نو د اسې د جائداد خاوند دي او د زکات اخیستل ورته جائز نه دي او که چیرته ئې د زمکې منافع د کور د ضروریاتو لپاره کافي نه وي نو بیا ورته د زکات په اخیستلو کښې څه حرج نشته

و لو كان له ضيعة قيمتها آلاف و لا يحصل منه ما يكفي له و لعياله اختلف فيه قال ابن مقاتل يجوز صرف الزكوة اليه. (بزازية على هامش الهندية ج ٤ ، ص ٨٥، الباب الثاني في الصرف) قال طاهر بن عبد الرشيد البخاري: و كذا لو كان له ضيعة تساوى ثلاثة آلاف درهم و لا يخرج منها ما يكفي له و لعيانه اختلفوا فيه قال محمد بن مقاتل يجوز له أحد الزكوه. وخلاصة الفتاوي ج١، ص٢٤٢، الفصل الثامن في أداء الزكوة) و مثله في الهندية ج ١، ص١٨٩، الباب الثالث في زكوة الذهب و الفضة و العروض)

د غوا مالک ته د زکات د ورکولو حکم

الاستفتاء: که چیرته له یوه سړي سره یوه غوا وي او قیمت ئې نصاب ته رسیږي نو د دې سړي لپاره د زکات اخیستل جائز دي او که نه؟ یعنې یوائې په دې باندې چه د یوې غوا مالک دی غني ګڼل کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا د غناء لپاره له اصلي حوائجو پرته د دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو مالک جوړیدل ضروري دي. که چیرته له یوه سړي سره د اصلي ضروریاتو څخه زیات یوه غوا او یا یو غویي وي او قیمت ئې دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو ته رسیده نو نوموړي به غني ګڼل کیږي او د زکات اخیستل ورته جائز نه دي –

قال في الهندية: و ببقرة واحدة غنى و بثلاثة ثيران اذا ساوى احدها مائتي درهم صاحب نصاب.(الفتاوى الهندية ج۵، ص۲۹۳، كتاب الاضحية، الباب الأول في تفسيرها الخ) قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاري: و بقرة واحدة غني و بثلاثة ثيران غنى اذا تساوى احدها مائتي درهم- صاحب نصاب (خلاصة الفتاوى-۴

: د غني سړي لپاره د زکات قبض کول او بیا ئې فقیرانو ته د ورکولو حکم

الاستفتاء یو د نصاب خاوند د زکات روپۍ قبض کوي او پخپله ئې نه استعمالوي بلکه فقیرانو او مستحقینو ته ئې ورکوي. نو آیا د نوموړي لپاره د زکات د مال قبض کول شرعا روا دي؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا د نوموړي سړي لپاره له نورو خلکو څخه د زکات اخیستل جائز نه دي ځکه چه غني دي او غني ته زکات ورکول جائز نه دي. او په دې صورت کښې د اسړي نه اصل دي او نه وکیل. او چه د زکات مال پخپله قبض کوي او نورو خلکو ته ئې د صدقې په توګه ورکوي لهذا په دې طریقې سره د زکات مال اخیستل او محتاجانو او فقیرانو ته ئي ورکول مناسب نه دي. بیا هم د وکالت په توګه ئي اخیستل او په فقیرانو باندې ویشل مرخص دی-

لما في الهندية: و كذا لو كان عنده من المصاحف و هو يحتاج اليه و ان كان لا يحتاج اليه و هو يساوي مائتي درهم لا يجوز صرف الزكوة الله لا انلما في الهندية: و كذا لو كان عنده من المصاحف و هو يحتاج اليه و ان كان لا يحتاج اليه و هو يساوى مائتي درهم لا يجوز صرف الزكوة اليه و لا يجوز له اخذها. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۱۸۹، كتاب الزكوة، الباب السابع في المصارف) قال الامام برهان الدين المرغيناني: و لا تدفع الى على لقوله عليه السلام و لا تحل الصدقة لغنى. (الهداية على صدر فتح القدير ج۲، ص۲۰۸، باب ما يجوز دفع الزكوة و ,ا لا يجوز) و مثله في البحر الرائق ج۲، ص۲۴۴، كتاب الزكوة، باب المصرف)

اصول او فروع د زکات مصرف نه دي

الاستفتاء: که چیرته یو سړي له خپلو والدینو څخه جدا وي او منافع او مصارف ئي هم سره بیل وي آیا په داسې صورت کښې د کوم یوه د غربت په صورت کښې یوه او بل ته زکات سره ورکولي شي او که نه؟

الجواب حامدا و مصلیا: د اصولو او فروغو او د میړه او ښځې رشتې دومره قوي رشتې دي چه د املاکو او مالونو له جد اوالي سره سره هم جدا نه شي بلل کیدلی. نو ځکه د جدا جدا کاروبارونو په کولو سره یوه او بل ته زکاتونه نه شي سره ورکولی۔

قال علي بن ابي بکر المرغيناني رحمه الله و لا يدفع المزکي زکوة ماله الى ابيه و جده و ان علا و لا الى ولده و ولد ولده و آن سفل الخ. (الهداية ج۱، ص۲۰۶، باب المصارف) قال العلامة ابن عابدين: و لا الى من بينهما ولاد.. اي اصله و آن علا کابويه و اجداده و جداته من قبلهما و فرعه و آن سفل. (رد المحتر ج ۲، ص ۲۴۳، باب المصرف) ومثله في البحر الرائق ج ۲، ص ٦٤٣، باب المصرف)

خپلوانو ته د زکات په ورکولو کښې د صله رحمي رعایت هم دی

الاستفتاء: که چیرته د چا یو خپل سړي له مسکنت سره سره دیندار هم نه وي نو آیا زکات به پردي دیندار ه فقیر ته ورکوي او که نوموړي بې دینه خپل سړي ته؟

الجواب حامدا و مصلیا: که چیرته یو سړي د زکات روپۍ د بې دینۍ په کارونو کښې لګوي نو د اسې سړي ته که خپل وي او که پردي زکات ورکول د تعاون علی المعصیت سره برابره ده-البته که د بې دینۍ په کارونو کښې ئې روپۍ نه لګولې او په ذاتي ضروریاتو کښې ئې لګولې نو بیا په زکات کښې د خپلوانو رعایت بهتر دی. ځکه چه د زکات له اداکولو بر سیره په دې کښې د صله رحمي رعایت هم راځي. البته که کوم پردي فقیر ته زکات ورکړي نو بیا مو هم غاړې پرې خلاصیږي

-قال ابن عابدين: و قيد بالولاد لجوازه لبقية الاقارب کا لاخوة و الاعمام و الاحو ال الفقراء بل هم اولى لانه صلة و صدقة و في الظهيرية ويبدأ في الصدقات با لاقارب ثم الموالي ثم الجيران. (رد المحتار ج ۲، ص ۳۴۶،

باب المصرف) قال زيدن الدين ابن نجيم: و قيد باصله و فرعه لان من سواهم من القرابة يجوز الدفع لهم و هو اولى لما فيه من الصلة مع الصدقة كا لاخوة والاخوات و الاعمام و العمات و الاحو ال و الخالات الفقراء و لهذا قال في الفتاوى الظهيرية و يبدأ في الصدقات با لاقرب ثم الموالي ثم الجيران الخ. (البحر الرائق ج ۲، ص۲۴۳، باب المصرف) و مثله في الهندية ج۱، ص ۱۹۰، باب المصرف)

خويندې ورونو ته د زكات د وركولو حكم

الاستفتاء: كه چيرته خويندې ورونه غريبان وي نو آيا يو سړي د خپل مال زكات خپلو غريبو خويندو ورونو ته وركولي شي او كه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا د ميړه او ښځې او اصولو فروعو نه صلوٰة نورو ټولو خپلوانو ته زكات وركول نه يوائې جائز بلكه تر نورو خلكو بهتر هم دي چه زكات وركړي خو په دې شرط چه د نصاب خاوند آن نه وي. او خويندې ورونه چونكه نژدې خپلوان دي نو ځكه دوي ته د زكات په وركولو كښې څه حرج نشته

قال ابن عابدين و قيد با لولاد لجوازه لبقية الاقارب كا لاخوة و الاعمام و الاحو ال الفقراء بل هم اولى لانه صلة وصدقة. (رد المحتار ج ۲، ص ۳٤٦، باب المصرف) قال زين الدين ابن نجيم: و قيد باصله و فرعه لان من سواهم من القرابة يجوز الدفع لهم و هو اولى لما فيه من الصلة مع الصدقة كا لاخوة و الاخوات و الاعمام و العمات و الاحو ال و الحالات الفقراء، الخ. والبحر الرائق ج۲ ص ۲٤۳، باب المصرف) و مثله فه الهندية ج۱، ص ۱۹۰، باب المصرف)

يوه غريب ته د هبې يا د قرض په نامه سره د زكات وركولو حكم

الاستفتاء: ځينې خلك زكات نه اخلي حالانكه ښه غريب هم وي نو كه چيرته هغوي ته د هبې يا قرض په نامه زكات وركړي شي او نيت پكښې د زكات وشي نو آيا د اسې زكات ادا كيږي او كه نه؟

الجواب حامدا و مصليا: په دوو وختونو کښې د ننه د زکات نيت ضروري دي يو د زکات روپي له نورو روپو . څخه د جلا کولو په وخت کښې او بل د زکات د ورکولو په وخت کښې. په دغو وختونو کښې چه په کوم وخت کښې د زکات نيت وکړي شي او غريب او مستحق ته ئې چه په کومه طريقه سره ورکوي نو زکات ئې ادا کيږي. لهذا په نوموړي صورت کښې چه کله يوه مستحق ته د هبې او قرض په نامه چا زکات ورکړي وي او نيت ئې د زکات پکښې کړي وي نو زکات ئې ادا کيږي. البته که چيرته نوموړي غريب ئې بيرته ورکړي او وائې نه خلي نو بيا دې بل مستحق ته دې ورکړي-

الجواب حامدا ومصليا : درمضان المبارك په مقدسه میاشت کښې دورځې په جماع کولو سره روژه ماتیږي چي په بدل کښې یې قضا او کفاره دواړه لازمیږي په داسي عمل باندي که چیري میړه او ښځه دواړه راضي وي نو قضا او کفاره پر دواړو باندي لازمیږي او که نه نو بیادښځي د مجبورولو په صورت کښې پرښځي باندي یوازي قضاء لازمیږي او پر میړه باندي قضاء او کفاره دواړه لازمیږي.

اذا جامع امراته متعمدا في نهار رمضان فعليه القضاء والكفارة اذا توارت الحشفة انزل اولم ينزل .وفي تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق : أو لجومع نص على أنها تجب على المفعول به وعلى المرأة إن كان يطوعها(تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ج ۱ ص ۳۲۷ باب ما يفسد الصوم ومالايفسده مكتبه شامله /خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۲۵۹ كتاب الصوم الفصل الثالث فيما يفسد الخ / الهداية ج ۱ ص ۲۰۱كتاب الصوم / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۹۱ كتاب الصوم فصل ركنه / فتا وي حقا نية ج ۳ ص ۴۰۶كتاب الصوم)

﴿دکفارې دروژو اتصال ماسوا دحيض ښځه بل هر عذر ختموي .﴾

الاستفتاء: يو کس دکفارې شپېته روژې نيولې خو يوه ورځ په خطا سره يوه روژه ځيني ماته سوه ايا په دغه خطا سره هغه اتصال ختميږي که يا ؟

الجواب حامدا و مصليا: فقهاء کرامو ليکلي دي چي دحيض ښځه صلوة نور چي هر عذر وي هغه دکفارې د روژو اتصال ختموي بيا به يې د سره ښځه راګرځوي .

لما قال العلامة ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي(المتوفى: ١٢٥٢هـ) في رد المحتار على الدر المختار: فلو أفطر ولو لعذر استأنف إلالعذر الحيض .

(ردالمحتار علي الدرالمختارج ٢ ص ٤١٢ باب مايفسد الصوم ومالايفسده / الفتاوى الولوجية ج ١ص ٢٢٦ فصل في كيفية الكفارة وترتيبها بيروت چاپ / حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص٦٧٠ فصل في الكفارة قديمي کتابخانه / احسن الفتاوي ج ٤ ص ٤٤١ / فتاوي دارالعلوم زکريا ج٣ ص ٣٠٩ کتاب الصوم باب القضاء والکفارة)

﴿فرضي روژه په قصداً سره خوړل کفاره غواړي که يا﴾

الاستفتاء:دېنځلسو کالو هلک چي بلوغ ته رسېدلي وي قصدا فرضي روژه ماته کړه کفاره باندي لازميږي که يا ؟

الجواب حامدا و مصليا : په روژه کښي که چا قصدا خوراک ، يا چيښاک ، يا جماع وکړه په دغه درې واړه صورتونو کښي قضا او کفاره ورباندي لازميږي فرق يې نسته

.وفي الهداية :ولو اکل اوشرب مايتغذي به اومايتداوي به فعليه القضاء والکفارة .... ومن جامع في احدالسبيلين عامدا فعليه القضاء والکفارة(الهداية ج ١ص ٢٠١ مکتبه حنفيه / الدرالمختار مع ردالمحتارج ٢ص ١١٧)کمافي فتاوي رحمانية هـ

﴿ هغه كارونه چي معتكف ته يه كول روا دي. ﴾

(۱) خوراک، چيښاک، خوب كول (۲) ډوډۍ د خپله كوره څخه را وړل پسله غروبه دلمر په وخت كښي د عذر (۳) را نيول او خرڅول د خپل اولاد د ضرورت لپاره بيله دې چي هغه سامان مسجد ته راوړه سي (۴) نكاح، طلاق، او رجوع كول په ژبه سره (۵) خبري كول په قدر د ضرورت په دې شرط چي د ده خبري سبب د تكليف د بل معتكف و نه ګرځي (۶) د سرپړولل په دې شرط چي سر به يې د مسجد څخه دباندي وي (۷) روادي پرېولل دلاسو او د پښو او اودس په يو لوي لوښي كښي چي مسجد خراب او ككړ نه سي (۸) جامې بدلول، روغن استعمالول او خوشبوئي لګول (۹) ننوتل منارې او حجرې ته د اذان لپاره او بل كار لپاره هم په دې شرط چي د مسجد په حدودو كښي به وي،او كه حجره د مسجد د حدودو څخه باندي وه نو بيا فقط د اذان لپاره ورتلاي سي(۱۰) وتل له مسجد څخه د طبعي ضرورت لپاره لكه بولي او قضاء حاجت او د جنابت

د غسل لپاره (۱۱) او وتل د مسجد څخه د هوا د خارجولو لپاره (۱۲) سګريټ او نسوار په مسجد كښي كول ناروا دي او د دغو شيانو د استعمال لپاره د مسجد څخه وتل هم نه دي روا بلكه پرېښودل يې ضروري دي، او كه يې ضرورت ډېر زيات ؤ دنسوارونو چي كله بيت الخلاء ته انسان ځي په لاره كښي بايد استعمال سي، يا په بيت الخلاء كښي دننه استعمال سي، او بيا به بد بوي څخه پاكوي مسجد ته به راځي (۱۳) د حاجت شرعي لپاره وتل روا دي لكه د جمعې لمونځ او داسي وخت به ځي لمانځه ته د جمعې چي هلته ورسي تحية الوضوء نفل اداء كړي سنت به اداء كړي اذان او خطبه به واوري او بيا به وروسته تر اداء كولو د فرضو او سنتونو د جمعې روان سي په اطمينان سره، او كه چيري پاته سو زيات د رنګ يې وكړي يا بالكل اعتكاف هلته په هغه مسجد كښي پورا كړي دا كار روا دي سره د كراهيته (۱۴) كه به ضرورت پسي را وتلي ؤ پر مريض يې پوښتنه وكړه يا يې د جنازې لمونځ اداء كړي روا دي ليكن خاص د دغه كار لپاره و تل نه دي روا (۱۵) روا دي اعتكاف كوونكي لره ملاقات د خپلو محرماتو ښځو سره لكه مور خور خانه خوانې په دې شرط چي هغوي په حجاب كښي وي (۱۶) وښته كوچني كول په خپله يا په بل سره بېله مزدورۍ په مسجد كښي روا دي او كه حجام، نايي مزدوري غوښته معتكف به دننه وي او حجام به د مسجد څخه وتلي وي، ځكه كار په مزدورۍ په مسجد كښي نه دي روا (۱۷) د جامو پرېمينځل او ګنډل په مسجد كي روا دي په دې شرط چي مسجد ككړ نسي.

﴿که چیري حامله یا مرضیعه ښځه پرځان یا پر اولاد ویریږي﴾

الاستفتاء که چیري حامله یا مرضیعه ښځه پرځان یا پر اولاد ویریږي نو درزوي خوراک ورته جائز ده او که نه

الجواب حامدا و مصلیا په صورت مسئولة کې ودواړو ته دروزي خوراک جائز ده

لمافي الهندیه ۱/۲۰۷وَمِنْهَا حَبَلُ الْمَرْأَةِ، وَإِرْضَاعُهَا) الْحَامِلُ وَالْمُرْضِعُ إذَا خَافَتَا عَلَى أَنْفُسِهِمَا أَوْ، وَلَدِهِمَا أَفْطَرَتَا وَقَضَتَا، وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِمَا كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ. كذافي ردالمحتار ۲/۴۲۲قَوْلُهُ أَوْ حَامِلٍ) هِيَ الْمَرْأَةُ الَّتِي فِي بَطْنِهَا حَمْلٌ بِفَتْحِ الْحَاءِ أَيْ وَلَدٌ، وَالْحَامِلَةُ الَّتِي عَلَى ظَهْرِهَا أَوْ رَأْسِهَا حِمْلٌ بِكَسْرِ الْحَاءِ نَهْرٌ (قَوْلُهُ أَوْ مُرْضِعٍ) هِيَ الَّتِي شَأْنُهَا الْإِرْضَاعُ وَإِنْ لَمْ تُبَاشِرْهُ، وَالْمُرْضِعَةُ هِيَ الَّتِي فِي حَالِ الْإِرْضَاعِ مُلْقِمَةٌ ثَدْيَهَا الصَّبِيَّ نَهْرٌ عَنْ الْكَشَّافِ كذافي مجمع الانهر ۱/۲۵۱

﴿شیخ فاني﴾

الاستفتاء که چیري یو سړئ ده ډیر وخت وي کمزوري وي روزي ده نیولو قدرت نه لري نو ده د لپاره څه حکم ده

الجواب حامدا و مصلیا په صورت مسئولة کې دا سړئ شیخ فاني بلل کیږي نوروزي نیول ورباندي نسته ده هري روزي فدیه به ورکوي

لمافي مجمع الانهر ۱/۲۵۰وَالشَّيْخُ) مَنْ جَاوَزَ عُمُرُهُ خَمْسِينَ (الْفَانِي) سُمِّيَ بِهِ لِفَنَاءِ قُوَاهُ أَوْ لِلْقُرْبِ مِنْهُ، أَوْ فِي الزِّيَادَاتِ الشَّيْخُ الْفَانِي الَّذِي يَعْجِزُ عَنْ الْأَدَاءِ فِي الْحَالِ وَيَزْدَادُ كُلَّ يَوْمٍ عَجْزُهُ إلَى أَنْ يَكُونَ ماله الْمَوْتَ بِسَبَبِ الْهَرَمِ وَكَذَا الْعَجُوزُ كذافي البحرالرائق ۲/۳۰۸قَوْلُهُ وَلِلشَّيْخِ الْفَانِي وَهِيَ يَفْدِي فَقَطْ) أَيْ لَهُ الْفِطْرُ وَعَلَيْهِ الْفِدْيَةُ وَلَيْسَتْ عَلَى غَيْرِهِ مِنْ الْمَرِيضِ وَالْمُسَافِرِ وَالْحَامِلِ وَالْمُرْضِعِ لِعَدَمِ وُرُودِ نَصٍّ فِيهِمْ وَوُرُودِهِ فِي الشَّيْخِ الْفَانِي

كذافي درالمختار ۲/۴۲۷ وَلِلشَّيْخِ الْفَانِي الْعَاجِزِ عَنْ الصَّوْمِ الْفِطْرُ وَيَفْدِي) وُجُوبًا وَلَوْ فِي أَوَّلِ الشَّهْرِ وَبِلَا تَعَدُّدِ فَقِيرٍ كَالْفِطْرَةِ....الخ

﴿متفرقات الصوم﴾

دلوي اختر دمياشتي نهه روژې نيول ډېر ثواب لري که يا ؟

الاستفتاء دلوي اختر دمياشتي نهه روژې يعني د ذوالحجې دمياشتي اولي نههورځي روژې نيول ډېر ثواب لري او که يا ؟

الجواب حامدا و مصليا : دلوي اختر دمياشتي اولي نهه ورځي روژې نيول ډېر ثوابونه او اجرونه لري په حديث شريف کښي راغلي دي چې په دغه ورځو کښي روژه نيول ديوه کال دروژو سره برابره ده او دشپې عبادت يې دليلة القدر د شپې په اندازه دي

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم (ما من أيام الدنيا أيام أحب إلى الله سبحانه أن يتعبد له فيها من أيام العشر . وإن صيام يوم فيها ليعدل صيام سنة وليلة فيها بليلة القدر) رواه ابن ماجه

(سنن ابن ماجه ص ۱۲۴ قديمي چاپ / جامع الترمذي ج ۱ ص ۱۵۸ سعيد چاپ / مشكوة المصابيح ج ۱ ص ۱۲۸ قديمي چاپ / فتاوي محموديه ج ۱۰ ص ۱۹۲ اردو كتاب الفتاوي ج ۳ ص۴۴۶ اردو

﴿دشوال (کوچني اختر) دمېاشتي دشپږو روژو نېول مستحب دي﴾

الاستفتاء ۲ : دشوال(کوچني اختر) دمېاشتي شپږ روژې نيول چې موږ تر اوسه دعلماوو څخه اورېدلي دي خو مستحب دي خو اوس مو ديو چا څخه واورېدل چې داروژې نيول مکروه دي ايا دغه دکراهت خبره درسته ده که يا ؟

الجواب حامدا ومصليا : په احاديث مباركه و كښي دشوال (کوچني اختر) دمېاشتي دشپږو روژودنيولو ډېر زيات فضيلت راغلي دي. رسول الله صلى الله عليه وسلم دا عمل د ډېر اجر او ثواب باعث بللي دي نو ځکه داحنافو فقها و و تقريبا په

هر كتاب كښي دا روژې مستحب ګڼلي دي . تر كومه ځايه چي د كراهيت خبره ده نو په دې باره كښې د امام صاحب رحمة الله عليه يو شاذ او نادر قول نقل دي چي هغه د احنافو مفتي به مذهب نه دي او كه داسي واي نو بيا به ولي فقهاء كرامو دا خبره په ډېر اهتمام سره ذكر كولاي او ولي به يې مفتي به ګرځوله نو معلومه سوله چي دغه د كراهت خبره مفتي به نه ده

.لما قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى في البحر الرائق شرح كنز الدقائق : ومنه أيضا صوم ستة من شؤال عند أبي حنيفة متفرقا كان أو متتابعا وعن أبي يوسف كراهته متتابعا لا متفرقا لكن عامة المتأخرين لم يروا به بأسا . وقال ابن عابدين رحمه الله تعالى (تحت قوله ولم يرواه به باسا) قدسرد عبارتهم العلامة في فتاواه ورد قول من صحح الكراهة فراجعه .(البحرالرائق ومنحة الخالق ج ۲ ص ۲۸۷ كتاب الصوم مكتبه شامله / فتا وي حقا نية ج ۳ ص ۳۹۱ كتاب الصوم)

﴿د روژې اقسام﴾

الاستفتاء: روژه پر څو قسمه ده او هر قسم يې جلا جلا راته بيان كړئ؟

الجواب حامدا و مصليا په عمدة الفقه كتاب كښي ليكلي دي چي روژه پر اته (۸) قسمه ده (۱)فرض معين : فرض معين هغه روژوته وايي چي وخت يې معلوم او مخصوص وي لكه د رمضان المبارك روژې چي وخت او مياشت يې معلومه ده (۲) فرض غير معين : دا هغه روژې دي چي فرض خو وي لېكن وخت يې معلوم نه وي لكه د فرض روژې قضاء را وړل يعني كله چي د روژې په مياشت كښي يو كس روژه وخوري نو بيا د دې روژې قضاء راوړي نو دغي روژې ته فرض غير معين وايي ځكه چي وخت يې معلوم نه دي هر وخت يې قضاء راوړلاي سي (۳) واجب معين : دا هغه روژې ته وايي چي يو كس د معلوم و خت روژې پر ځان نذر كړي يعني يو كس داسي ووايي چي كه الله پاك زما دا فلانكي حاجت را پوره كړي نو زه به د دغي مياشتي روژې نية سم دې روژې ته واجب معين وايي : (۴) واجب غير معين: دا هغه روژې ته وايي چي يو كس داسي ووايي چي كه الله پاك زما فلانية حاجت پوره كړي نو زه به لس روژې نية سم وخت يې معلوم كړي نه وي نو دې روژې ته واجب غير معين وايي : (۵) سنت روژې : دا هغه روژې ته وايي چي د نبي كريم ﷺ څخه قولي يا فعلي ثابتي وي يعني چي خپله نبي كريم ﷺ

نیولي وي او يايې دداسي روژو فضائل بیان کړي وي البته دسنت څخه مراد سنت مؤکد نه دي (۶) مستحب روژې :دفرض ؛ واجب؛ او

سنت روژو څخه بغیر نوري ټولي روژې مستحب دي لکه په هره هفته کښي ددوشنبې او پنجشنبې روژې د غو روژوته علماء کرام مستحب روژې وايي : (۷)مکروه تحریمي روژې : لکه دکوچني اختر د ورځي روژه یا دلوي اختر د ورځي روژه او داسي دلوي اختر د میاشتید (۱۱) (۱۲)او (۱۳) د ورځو روژې نیول هم مکروه تحریمي دي چي ودغه ورځوته ایام تشریق هم وايي (۸) مکروه تنزیهي روژې :داهغه روژې دي چي دغیر مسلم قوم په ټاکل سوو ورځوکښي یې یو کس نیسي لکه دنوروز او مهرجان په ورځو کښي روژه نیول البته که یې ددغه ورځو د تعظیم او احترام په خاطر نیسي نو بیا مکروه تحریمي دي

.وهو أقسام ثمانية: فرض معين كصوم رمضان أداء... و غير معين كصومه قضاء ...وواجب معين كالنذر المعين، و غير معين كالنذر المطلق.... ونفل كغيرهما يعم السنة كصوم عاشوراء مع التاسع. . والمندوب كأيام البيض من كل شهر ويوم الجمعة ولومنفردا وعرفة ولو لحاج لم يضعفه.... والمكروه تحريما كالعيدين، وتنزيها كعاشوراء وحده وسبت وحده(الدرالمختار علي صدر ردالمحتارج ۲ ص ۳۸۸؛ ۳۸۹ کتاب الصوم بیروت چاپ مکتبه شامله /بدائع الصنائع ج ۲ ص ۷۸ فصل شرائط انواع الصيام بیروت چاپ مکتبه شامله الاختيار لتعليل المختارج ۱ ص ۱۲۵ کتاب الصوم بیروت چاپ مکتبه شامله/ دررالحكام شرح غررالاحكام ج ۱ ص۱۹۷ باب انواع الصيام بیروت چاپ مکتبه شامله/ حاشيةالطحطاوي علي مراقي الفلاح ص۶۲۷، ۶۲۸فصل في صفة الصوم وتقسيمه بیروت چاپ مکتبه شامله / عمدة الفقه ج ۳ ص ۱۸۱ تر ۱۸۹ پوري کتاب الصوم)

﴿د شک په ورځ باندي روژه نیول روا ده که یا﴾

الاستفتاء د شک په ورځ روژه نیول جواز لري که یا ؟

الجواب حامدا و مصليا: د برات د میاشتي دېرشم تاریخ ته د شک روځ ورځ وائي چي نه دا معلومه ده چي برات دي څکه کېدلاي سي چي د روژې میاشت نوېشت (٢٩) شپې وي او نه دا معلومه ده چي د روژې ورځ ده کېداي سي د برات میاشت دېرش شپې وي نو په دغه ورځ باندي روژه نیول مکروه کار دي باید پرهېز څني وسي .

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قوله: ولا يصام يوم الشك)هو استواء طرفي الإدراك من النفي والإثبات بحر (قوله: هو يوم الثلاثين من شعبان)الأولى قول نور الإيضاح هو ما يلي التاسع والعشرين من شعبان أي؛ لأنه لا يعلم كونه يوم | الثلاثين لاحتمال كونه أول شهر رمضان ويمكن أن يكون المراد أنه يوم الثلاثين من ابتداءشعبان فمن ابتدائية لا تبعيضية تأمل(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ٢ ص ٩٦ مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ٢ ص ۴۶۱ مكتبه رشيديه / فتح القديرج ٢ ص ٢۴٧ مكتبه رشيديه / فتاوي دارالعلوم ديوبندج ۶ ص ٣۴٩پښتو /مسائل رفعت قاسمي ج ٣ حصه ٢ ص ١۶١اردو)

﴿: د روژې په آخره کښي قضايي عمري لمونځ کول ثبوت لري که يا﴾

الاستفتاء څيني کسان د روژې مبارکي په اخري جمعه کښي قضائې عمري لمونځ کوي او هر لمونځ په اذان او اقامت سره کوي او دا عقېده لري چي په دغه يوه هفته لمونځو سره د ټوله عمر قضاء سوي لمونځو نه اداء کېږي، او څوک چي يې نه ورسره کوي هغه هم ملامت کوي دغه قضائي عمري لمونځ د شريعت د نګاه څخه څنګه عمل دی؟

الجواب حامدا و مصلیاد داسي عمل او عقېدې ثبوت قطعا په شريعت کښي نسته شرعا د هر قضاء سوي لمانځه قضاء مستقل لازمي عمل دی، دا د شرعي دلائلو خلاف عمل دي دداسي عمل نه کوونکي تهديد ول او هغو ته ګناهګاره ويل ډېر سخته ګناه ده .

لماقال الامام ابوالحسنات محمد عبدالحی اللكهنوي رحمه الله في مجموعة الرسائل :اعلم انهم قداحدثوا في آخر جمعة شهر رمضان امورا مما لا اصل لها والتزموا امورا لااصل فمنها القضاء العمري حدث ذلك في بلاد خراسان واطرافها للزومها وبعض بلاد اليمن واكنافها ولهم في ذلك طرق مختلفة ومسالک متشتة . فمنهم من

يصلي في آخر جمعة رمضان خمس صلوات قضاءا باذان واقامة مع الجماعة ويجهرون في الجهرية ويسرون في السرية وينوون لها بقولهم . نويت ان اصلي اربع ركعات مفروضة قضاءا لمافات من الصلوات في تمام العمر مما مضى ويعتقدون انها كفارة لجميع الصلوات الفائتة فمامضى(صحيح البخاري ج ۱ ص ۸۴ قديمي / ردالمحتارج ۱ ص ۵۱۶ مكتبه رشيديه / مجموعة الرسائ للكنهوي رسالة ردع الاخوان عن محدثات اخر جمعه رمضان ج ۲ ص ۴ / فتاوي محموديه ج ۷ ص ۳۸۳ اردو / فتا وي حقا نية ج ۳ ص ۴۸ پښتو / فتاوي عثمانية ج ۱ ص ۵۰۷ پښتو)

﴿د ډيرو نامعلومو روژو راګرځول پر څه طريقه كيږي﴾

الاستفتاء يوه ښځه ده ډيري روژې د حيض او نفاس د وجي څخه ځيني خوړل سوي دي او س يې هيڅ معلومات نسته ورته چي ما څومره روژې نيولي دي او څومره راباندي پاته دي . داسي ښځه د شريعت دنګاه څخه بايد څنګه روژې ونيسي او څوداني ونيسي

الجواب حامدا و مصليا: په داسي صورت كښې چي دغه ښځي ته د خپلو قضايي روژو د عدد او شمېر اندازه نه وي معلومه نو دغالب ګمان څخه كار اخيستل كيږي . تر هغه وخته پوري به داروژې نيسي چي ددې غالبه ګمان داسو چي اوس مي نو قضايي روژې پوره سوې ، اودراګرځولو اسانه طريقه يې داده چي داسي نېت دي وكړي : چي زه دآخري رمضان دروژو در اګرځولو نېت كوم كله چي يې داروژه و نېو له ددې څخه مخكښې روژه خپله آخري سوله لهذا دهري روژې سره دي د آخري روژې نيت كوي ، او يا دي داسي نېت وكړي د اول رمضان روژې چي زما څخه قضا سوي دي دهغو دنيولو نيت مي دی نو كله چي يې دا او له روژه و نيوله هغه وروسته روژه خپله اوله ګرځي .فقها و و يې دراګرځولو طريقه په دغه شان بيان كړې ده . والله اعلم

وإذا كثرت الفوائت يحتاج لتعيين كل صلاة" يقضيها لتزاحم الفروض والأوقات كقوله أصلي ظهر يوم الإثنين ثامن عشر جمادى الثانية سنة أربع وخمسين وألف وهذا فيه كلفة "فإنأراد تسهيل الأمر عليه نوى أول ظهر عليه" أدرك وقته ولم يصله فإذا نواه كذلك فيم يصليه يصير أولا فيصح بمثل ذلك وهكذا "أو" إن شاء نوى

"آخره" فيقول أصلي آخرظهر أدركته ولم أصله بعد فإذا فعل كذلك فيما يليه يصير آخرا بالنظر لما قبله فيحصل التعيين وكذا الصوم" الذي عليه "من رمضانين" إذا أراد قضاءه يفعل مثل هذا (حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح شرح نورالايضاح ج ١ص١٧٣ باب قضاء الفوائت مكتبه شامله / الدرالمختار مع ردالمحتارج ٢ ص ٧٦ ، ٧٧ باب قضاء الفوائت / فتاوي محموديه ج١٠ص ١٦٣ باب قضاء الصوم وكفارته وفديته / خير الفتاوي ج ٤ ص ٨٠ باب قضاء الصوم .

كه يو څوک د روژې په مياشت کښې بلوغ ته ورسيږي د دغې ورځې څخه روژه و نيسي که د تيرې مياشتې د هم پر فرض دي ؟

الاستفتاء : که چيرې يو شخص د روژې په مياشت کښې بلوغ ته ورسيږي نو پر دغه شخص باندې د دغې ورځې څخه روژه فرضيږي او که ټوله مياشت پر دغه شخص باندې فرض سوه ؟

الجواب حامدا و مصليا : فقهاء کرامو ليکلي دي چې د روژې د فرضيت لپاره درې شرطونه ستة چې دا شرطونه اسلام ، عقل ، اوبلوغ دي نو څرنګه چې بلوغ د روژې د فرضيت لپاره شرط دی په دې خاطر پر دغه شخص باندې د روژې فرضيت د دغې ورځې څخه شروع کيږي مخته روژې نه دي باندې فرض سوي البته دغه شخص به د دغې ورځې تر ماښامه پورې امساک کوي . والله اعلم

لماقال ابو الحسن علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الرشداني المرغياني رحمه الله في الهداية : وإذا بلغ الصبي أو أسلم الكافر في رمضان أمسكا بقية يومهما قضاء لحق الوقت بالتشبه ولو أفطرا فيه لا قضاء عليهما لأن الصوم غير واجب فيه وصاما ما بعده لتحقق السبب والأهلية(الهداية ج ١ ص ٢٠٥ كتاب الصوم مكتبه حنفيه / الفتاوى الهندية ج١ ص١٩٥ مكتبه رشيديه /حاشية الطحطاوي ج ٦٣٤ مكتبه رشيديه / تبين الحقائق ج ١ ص ٣١٣ مكتبه شامله / قاموس الفقه ج ٤ ص ٢٨٨ اردو)

﴿باب الاعتكاف﴾

﴿اعتكاف سنة ده كه مستحب﴾

استفتاء په عام اوقات كښي اعتكاف كول مستحب ده ده روزي په اخيره لسو شپو كي مستحب ده كه سنت ده بينوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا په صورت مسئوله كښي اعتكاف منذور ده هغه واجب ده او ده روزي اخير عشرة كښي اعتكاف سنة موكد ده نبي عليه السلام مواظبة ورباندي كړي ده او په عامو حالاتو كښي مستحب ده

كمافي الجوهرة النية رة ج۱ ص۱۴۵ (الِاعْتِكَافُ مُسْتَحَبٌّ) يَعْنِي فِي سَائِرِ الْأَزْمَانِ أَمَّا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ فَهُوَ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ لِأَنَّ «النَّبِيَّ – عَلَيْهِ السَّلَامُ – وَاظَبَ عَلَيْهِ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ» وَالْمُوَاظَبَةُ دَلِيلُ السُّنَّةِ كذافي الهداية ج۱ ص۲۱۱ قَالَ (الِاعْتِكَافُ مُسْتَحَبٌّ) وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ، لِأَنَّ النَّبِيَّ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – وَاظَبَ عَلَيْهِ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ وَالْمُوَاظَبَةُ دَلِيلُ السُّنَّةِ كذافي دررالحكام ج۱ ص۲۱۳ (وَهُوَ وَاجِبٌ فِي الْمَنْذُورِ وَسُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ فِي الْعَشَرَةِ الْأَخِيرَةِ مِنْ رَمَضَانَ وَمُسْتَحَبٌّ فِيمَا سِوَاهُ) أَيْ الْعَشْرِ الْأَخِيرِ كذافي درمختار مع رد المحتار ج۱ ص۴۴۲ وَهُوَ) ثَلَاثَةُ أَقْسَامٍ (وَاجِبُ النَّذْرِ) بِلِسَانِهِ وَبِالشُّرُوعِ وَبِالتَّعْلِيقِ ذَكَرَهُ ابْنُ الْكَمَالِ (وَسُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ فِي الْعَشْرِ الْأَخِيرِ مِنْ رَمَضَانَ) أَيْ سُنَّةُ كِفَايَةٍ كَمَا فِي الْبُرْهَانِ وَغَيْرِهِ لِاقْتِرَانِهَا بِعَدَمِ الْإِنْكَارِ عَلَى مَنْ لَمْ يَفْعَلْهُ مِنْ الصَّحَابَةِ (مُسْتَحَبٌّ فِي غَيْرِهِ مِنْ الْأَزْمِنَةِ) هُوَ بِمَعْنَى غَيْرِ الْمُؤَكَّدَةِ.

﴿اعتكاف كښي نيت﴾

استفتاء په اعتكاف كښي نيت د اعتكاف غواړي او كه نه بينوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا په صورت مسئوله كښي ده اعتكاف نيت شرط ده ده اعتكاف لپاره

كمافي الهنديه ج۱ ص۲۱۱ فَمِنْهَا النِّيَّةُ حَتَّى لَوْ اعْتَكَفَ بِلَا نِيَّةٍ لَا يَجُوزُ بِالْإِجْمَاعِ كَذَا فِي مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ.

كذافي العنايه ج٢ ص٣٩٠ وَبَعْضُ شَرَائِطِهِ وَهُوَ الصَّوْمُ وَالنِّيَّةُ، أَمَّا النِّيَّةُ فَهِيَ شَرْطٌ فِي جَمِيعِ الْعِبَادَاتِ، وَأَمَّا الصَّوْمُ فَهُوَ شَرْطٌ عِنْدَنَا، كذافي درمختار ج٢ ص٤٤١ (بِنِيَّةٍ) فَاللُّبْثُ: هُوَ الرُّكْنُ وَالْكَوْنُ فِي الْمَسْجِدِ وَالنِّيَّةُ مِنْ مُسْلِمٍ عَاقِلٍ طَاهِرٍ مِنْ جَنَابَةٍ وَحَيْضٍ وَنِفَاسٍ شَرْطَانِ.

﴿نابالغ هلک اوبنځه هم اعتکاف کولاي سي﴾

استفتاء نابالغ هلک اوبنځه اعتکاف کولاي سي اوکنه بینوتوجروا

الجواب حامدا ومصليا په صورت مسئولة کښي دواړه اعتکاف کولاي سي يعني هلک اوانجلۍ اعتکاف کولاي سي پدا شرط چي مسلمانان به وي ليونيان به نه وي هلک به له جنابت اوانجلۍ به له جنابت او حيض اوله نفاس پاکه وي

کمافي الهنديه ج١ ص٢١١ وَمِنْهَا الْإِسْلَامُ وَالْعَقْلُ وَالطَّهَارَةُ عَنْ الْجَنَابَةِ وَالْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ) ؛ لِأَنَّ الْكَافِرَ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ الْعِبَادَةِ وَالْمَجْنُونَ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ النِّيَّةِ وَالْجُنُبَ وَالْحَائِضَ وَالنُّفَسَاءَ مَمْنُوعُونَ عَنْ الْمَسْجِدِ، وَأَمَّا الْبُلُوغُ فَلَيْسَ بِشَرْطٍ لِصِحَّةِ الِاعْتِكَافِ فَيَصِحُّ مِنْ الصَّبِيِّ الْعَاقِلِ، وَلَا تُشْتَرَطُ الذُّكُورَةُ وَالْحُرِّيَّةُ فَيَصِحُّ مِنْ الْمَرْأَةِ وَالْعَبْدِ بِإِذْنِ الْمَوْلَى وَالزَّوْجِ إنْ كَانَ لَهَا زَوْجٌ كَذَا فِي الْبَدَائِعِ. کذافي درمختارج٢ ص٤٤١

﴿بغيرله عذر له مسجد وتل﴾

استفتاء معتکف له مسجد وتلاي سي په حال د اعتکاف کښي که نه سي بینواتوجروا

الجواب حامدا ومصليا په صورت مسئولة کي معتکف بغير ضرورت نه سي وتلاي که بغير عذر ووتئ اعتکاف يي فاسديږي عندالامام صاحب که قصدا ووزي که ناسيا اوصاحبين واي که خروج تر نصف د ورځي وو بيا اعتکاف فاسديږي اوکه تر نصف د ورځي کم وو بيا نه فاسديږي

كمافي الهنديه ج١ ص٢١٢ وَأَمَّا مُفْسِدَاتُهُ) فَمِنْهَا الْخُرُوجُ مِنْ الْمَسْجِدِ فَلَا يَخْرُجُ الْمُعْتَكِفُ مِنْ مُعْتَكَفِهِ لَيْلًا وَنَهَارًا إلَّا بِعُذْرٍ، وَإِنْ خَرَجَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ سَاعَةً فَسَدَ اعْتِكَافُهُ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - كَذَا فِي الْمُحِيطِ. سَوَاءٌ كَانَ الْخُرُوجُ عَامِدًا أَوْ نَاسِيًا هَكَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ كذافي درمختار ج٢ ص٤٤٧ فَلَوْ خَرَجَ) وَلَوْ نَاسِيًا (سَاعَةً) زَمَانِيَّةً لَا رَمْلِيَّةً كَمَا مَرَّ (بِلَا عُذْرٍ فَسَدَ كمافي الهدايه ج١ باب الاعتكاف لَوْ خَرَجَ مِنْ الْمَسْجِدِ سَاعَةً بِغَيْرِ عُذْرٍ فَسَدَ اعْتِكَافُهُ) عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - لِوُجُودِ الْمُنَافِي وَهُوَ الْقِيَاسُ، وَقَالَا: لَا يُفْسِدُ حَتَّى يَكُونَ أَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ يَوْمٍ

﴿معتكف اذان لپاره﴾

استفتاء معتكف دي اذان لپاره وتلاي سي چي اذان خانه له مسجد دباندي وي

الجواب حامدا و مصليا په صورت مسئوله کښي معتکف دي اذان لپاره له مسجد وتلايسي دي اذان وځاي ته

كمافي فتا وي حقا نية ج۴ ص۲۰۷ كذافي درمختار مع ردالمحتار ج٢ ص٤٤٥ أَو شَرْعِيَّةٍ كَعِيدٍ وَأَذَانٍ لَوْ مُؤَذِّنًا وَبَابُ الْمَنَارَةِ خَارِجَ الْمَسْجِدِ كذافي خيرالفتاوي ج۴ ص۱۴۰

﴿په حال ده اعتكاف كښي حيض﴾

الاستفتاء : کله چي يوه ښځه په اعتكاف کښي وي او ودې ته حيض يا مياشتنۍ مريضي راسي نو اوس پو ښتنه داده چي اعتكاف پوره کړي که يا او که يې اعتکاف پرېښو وي نو د مريضۍ څخه د خلاصېدو وروسته به د کومو ورځو قضاء راوړي؟

الجواب حامدا ومصليا : کله چي ښځه په اعتكاف کښي وي او ودې ته مياشتنۍ مريضي راغله نو اعتكاف دي پرېږدي اعتكاف يې درست نه دي کله چي د مريضۍ څخه پاکه سوه نو صرف د دغي يوې ورځي د اعتكاف قضاء به راوړي که چيري يې

قضاء ددغه يوې ورځې د اعتكاف په هم داغه روژه كښې سوه نو هم صحيح ده او دغه فرضې روژه ورته كافي ده ، او كه يې قضاء په بله مياشت كښې راوړل نو دهغې ورځې روژه نيول هم ضروري ده

لماقال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى في بدائع الصنائع : ولو خاضت المرأة فيحال الاعتكاف فسد اعتكافها؛ لأن الحيض ينافي أهلية الاعتكاف لمنافاتها الصوم ولهذامنعت من انعقاد الاعتكاف فتمنع من البقاء(بدائع الصنائع ج ۲ ص ۱۱۶ كتاب الاعتكاف سعيدچاپ/ جامع الفتاوي ج ۵ ص ۳۳۳ كتاب الاعتكاف/ فتاوي محموديه ج ۱۰ ص۲۸۰ باب الاعتكاف/ ستاسو مسائل اودهغوئ حل ج ۴ ص۶۲۹ باب الاعتكاف / كتاب الفتاوي ج ۳ ص ۴۵۹ / احسن الفتاوي ج ۴ ص ۵۱۲ باب الاعتكاف/مسائل رفعت قاسمي ج ۴ ص ۲۶ مسائل اعتكاف)

﴿معتكف د مسجد څخه دباندي بيدېدلای سي كه يا﴾

الاستفتاء : ايا معتكف يعني (اعتكاف كوونكي) ته ددې اجازه سته چي د مسجد څخه دباندي بيدېدلای سي ؟

الجواب حامدا و مصليا : معتكف ته شرعا دا اجازه سته چي په مسجد كښې دننه هر ځاي چي وي بيده دي سي خو د مسجد څخه دباندي د وتلو اجازه نسته هغه كه د خوب دپاره وي ،يادطبيعت دراسته كيد و دپاره وي ، يادكر مي دوجي غسل كول او لمبيدل وي داهغه شيان دي چي د امام صاحب رحمة الله عليه په نزد كه څوك د دغه شيانو دپاره يو ګړي يا ساعت و وزي د مسجد څخه نو يې اعتكاف فاسد دي البته دصاحبينو (يعني يارانوا) په نزد بيا نه فاسديږي د امام صاحب پر قول باندي په عمل كولو كښې احتياط دي او ديارانو پر قول باندي په عمل كولو كښې توسع او پراخي ده .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : وحرم عليه) أي على المعتكف اعتكافا واجباالخروج إلا لحاجة الإنسان) طبيعية كبول وغائط وغسل لو احتلم ولا يمكنه الاغتسال في المسجد كذا في النهر .... وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : (قوله الخروج) أي من معتكفه ولو مسجد البيت في حق المرأة ط فلو خرجت منه ولو إلى بيتها بطل اعتكافها لو

واجبا وانتهى لونقلا بحر (قوله إلا لحاجة الإنسان إلخ) ولا يمكث بعد فراغه من الطهور ولا يلزمه أن يأتي بيت صديقه القريب(الدرالمختار مع ردالمحتارج ٢ ص ٤٤٥ باب الاعتكاف / حاشية الطحطاوي علي الدرالمختارباب الاعتكاف ج ١ ص ٤٧٤ /٤٧٥ طبع رشيديه كويټه / اللباب في شرح الكتاب باب الاعتكاف ج ١ص ١٦٢ قديمي كتب خانه / ستاسي مسائل او دهغوي حل ج ۴ ص ٦٣٠ باب الاعتكاف تخريج شده)

﴿د اعتكاف په دوران كښې پر ټليفون باندي خبري كول﴾

الاستفتاء آيا اعتكاف كوونكي ته دا رواه ده چي د اعتكاف په حالت كښې پر ټليفون باندي خبري وكړي كه يا ؟

الجواب حامدا ومصليا: داعتكاف په حالت كښې د ديني خبرو اجازه شرعا سته او په قدر دضرورت دنيوي (يعني ددنيا خبري) كول هم رواه دي . هغه نو بيا عامي دي كه پر ټليفون باندي وي كه غير د ټليفون څخه وي .

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر الرائق : وأما الثالث وهو أنه لا يتكلم إلا بخير فلقوله تعالى {وقل لعبادي يقولوا التي هي أحسن} (سورةالإسراء ٥٣) وأما التكلم بغير خير فإنه يكره لغير المعتكف فما ظنك للمعتكف وظاهره أن المراد بالخير هنا ما لا إثم فيه فيشمل المباح(البحرالرائق ج ٢ ص ٣٢٧ باب الاعتكاف / الفتاوى الهندية ج ١ ص الباب السابع في الاعتكاف / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۴ ص ٦٣٢ باب الاعتكاف)

﴿د دكانونو د پاسه جوړ شوي جمات كښې د اعتكاف مسئله﴾

الاستفتاء څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره كښې چه كوم جماعت په بازار كښې د دكانونو د چت د پاسه جوړ شوې وى، او خلق په هغې كښې پنځه وخته لمونځ كوى، آيا په هغې كښې د اعتكاف دپاره كښيناستل پكار دي او كه نه؟بينوا توجروا

الجواب حامدا ومصلیاکوم جمات چه مملوک غیر موقوف دکانونو باندې جوړ شوې وی.هغه مسجد عرفي دې، مسجد شرعی نه دې، کما في وقف البحر (۱) پس داسې قسمه جماتونو کښې اعتکاف دپاره کښيناستل صحيح نه دي لان المسجد له شرط(۲) وهو الموفق.

۲۶﴾ قال في الهندية: واما شروطه فمنها النية...... ومنها مسجدالجماعة الخ.(فتاوي عالمگيرية ا : ۱ ۲ الباب السابع في الاعتكاف)وقال العلامة الحصكفي: والكون في المسجد .. والنية من مسلم عاقل طاهر من جنابة وحيض ونفاس شرطان.(الدرالمختار على هامش ردالمحتارج۲ ص۱۴۱ :باب الاعتكاف

﴿د اعتـــکـاف په حالت کښې د تعليم لپاره وتل﴾

الاستفتاء که چيرته د اعتکاف په دوران کښې د تعليم ضرورت پيدا شي نو معتکف ته له جومات څخه د وتلو څه حکم دی؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: که چيرته يو څوک په اعتکاف کښې له کښيناستلو څخه مخ کښې دځينو کارونو د کولو شرط ولګوي نو د اعتکاف په دوران کښې د هغه لپاره هم هغه عمل جائز وي او اعتکاف ئې پرې نه ماتيږي-

قال العلامة عالم بن العلاء: و لو شرط وقت النذر و الالتزام ان يخرج الى عيادة المريض و صلوة الجنازة وحضور العلم يجوز له ذلك. (فتاوى تاتارخانية ج۲،ص۴۱۲ ، الفصل الثاني عشر في الاعتكاف)قال العلامة الحصكفي. لو شرط وقت النذر و الالتزام ان يخرج الى عيادة المريض وصلوة الجنازة و حضور مجلسعلم يجوز له ذلك فليحفظ. (الدر المختار ج۲،ص۱۴۶ ، باب الاعتكاف) و مثله في حاشية طحطاوي ج۱، ص۴۸۴.

كتاب الحج

د حج د فرضيت وخت

الاستفتاء: څه فرمايي علماء كرام د دې مسئلې په باره كښې چه يوه سړي ته د رمضان په مياشت كښې له خپل نيكه څه په ميراث كښې په كافي اندازې سره مال پاتې شو او د محرم تر مياشتې پورې دا مال ورسره باقي پاتې وو. وروسته بيا هغه مالترې مصرف شو نو آيا په نومړي سړي باندې حج فرض دي او كه نه؟

الجواب حامدا ومصليا: د حج د فرضيت لپاره د حج په مياشتو كښې د ډير مال مالك جوړيدل ضروري دي. چونكه نومړي په مياشتو د حج كښې د مال مالك گرځيدلي وو نو ځكه حج پرې فرض شوي دی. البته كه چيرته دا سړي په د اسې لرې ملك كښې اوسيده چه له هغه ځايه څخه د حج له مياشتو څخه مخ كښې حاجيان روانيدل نو د حجاجو د قافلې د روانيدو وخت به معتبروي-

قال الامام ابن همام: و الاولى ان يقال اذا كان قادراً وقت خروج اهل بلده ان كانوا يخرجون قبل اشهر الحج لبعد المسافة او قادراً في اشهر الحج ان كانوا يخرجون فيها و لم يحج حتى افتقر تقرر ديناً. (فتح القدير ج ۲، ص۳۲۱، كتاب الحج)قال العلامة ابن عابدين: (تحت قوله على مسلم الاول شروط الوجوب و الوقت اى القدرة في اشهر الحج أو في وقت خروج اهل بلدة على ما يأتي. (رد المحتار ج ۲، ص ٤٥٨، كتاب الحج، مطلب فيمن حج بمال الحرام) و مثله في الهندية ج۱، ص۳۱۹، كتاب المناسك، الباب الاول

له ضرورت څخه د زياتې زمكې د درلودو په وجه د حج د فرضيت حكم

الاستفتاء: څه فرمايي علماء كرام د دې مسئلې په باره كښې چه د يوه سړي زمكه د هغه له ضرورياتو څخه زياته ده نو آيا په داسې سړي باندې حج فرض كيږي او كه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د حج د مصارفو له اداكولو نه وروسته چه دومره زمکه پاتې شي چه د اهل و عيال او ژوند تيرولو لپاره ئې کافي وي نو په داسې سړي باندې حج فرض او لازمي دی۔

و في الهندية: ان كان له من الضياع لو باع مقدار ما يكفي لزاد و راحلة ذاهب و جائيا و نفقة عياله و اولاده و يبقى له من الصنيعة قدر ما يعيش بعلة الباقي يفترض عليه الحج و الا فلا. (الفتاوى الهندية ج١، ص٢١٨، الباب الاول في تفسير الحج)و قال قاضيخان: و ان كان صاحب صنيعة ان كان له من الصباع لو باع مقدار ما يكفي لراد و الراحلة داها . جائيا و نفقة عياله و اولاده و يبقى له من الصنيعة قدر ما يعيش بغلة الباقي يفترض عليه الحج و الاقلا (الفتاوي قاضي جان على هامش الهندي ج١، ص ٢٨١، كتاب الحج) و مثله في البحر الرائق ج ٢، ص ٣١٤، كتاب الحج

د زمکې په حاصلاتو باندې د حج د فرضيت حکم

الاستفتاء: زما څه زمکه ده او له هغې څخه چه کوم کلنية حاصلات لاس ته راځي يواځې زما د کال مصارف پوره کوي. بيا هم که چيرته د زمکې قيمت ولګول شي نو په نتيجه کښې ئې به ډير مال يا پيسې لاس ته راځي. نو آيا د زمکې د قيمت له وجهې په ما باندې حج فرض کيږي او که نه؟ بينوا توجروا

-الجواب حامدا ومصليا: د حج د فرضيت لپاره سړي بايد دومره مال خامخا ولري چه پرې تلي او راتلي شي او تر راتګ پورې ئې د کور خرڅ کيږي. يواځې د زمکې په قيمت باندې حج نه فرض کيږي. البته که چيرته د زمکې حاصل او آمدني دومره وي چه اهل او عيال خرڅ او حج ته د تګ او راتګ خرڅ پوره کيده نو بيا حج پرې فرض دي او که نه پوره کيده نو نه دي فرض

قال العلامة برهان الدين المرغيناني اذا قدر على الزاد و الراحلة فاضلة عن السكن ما لا بد منه و عن نفقة عياله الى حين عوده (الهداية ج١، ص ٢١٢، كتاب الحج) قال العلامة التمرتاشي و راحلة فضلة عما لا بد منه و فضلا عن نفقة عياله الى حين عوده (تنوير الابصار على صدر رد المختار ج ٢، ص ٤٦٢ ، كتاب الحج) و مثله في البحر الرائق ج ٢، ص ٣١١، كتاب الحج

:يوائحې د تصرف په اختيار سره حج نه فرض کيږي

الاستفتاء: علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې څه فرمايي چه د يوې کونډې ښځې اولاد ښه پوره مالدار دي او مورئې د خپل اولاد په مال کښې د تصرف کولو ښه پوره اختيار لري. نو آيا د دې اختيار له وجهې په نو مورې کونډې ښځې باندې حج فرض دي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: که چيرته د کومې ښځې سره مال د ملک په توګه موجود وي يعنې خپل ملک او خپلې پيسې ورسره وي او د حج شرائط هم پوره کيده نو په هغې باندې حج فرض دی. او يوائحې په مال باندې د اختيار د لرلو له مخې شرعاً حج په چا نه فرض کيږي.

و اما شرائط الوجوب منها الاسلام و منها العقل و منها القدرة علي الزاد و الراحلة بطريق الملك والفتاوى الهندية ج۱ ، ص ۲۱۷، كتاب الحج، الباب الاول في تفسير الحج) قال العلامة التمرتاشي: على مسلم ذي زاد و راحلة و فضلا عن نفقة عياله الى حين عوده (تنوير الابصار على صدر رد المحتار ج۲، ص ۴۶۱ ، كتاب الحج) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۳۱۱، كتاب الحج .حكم

له مشترک مال څخه د حج د فرضيت.

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه مونږ څلور ورونړه په شريکه کاروبار کوو نو آيا له دغه کاروبار څخه چه کومه نفع حاصليږي په هغې باندې يو ورور حج کولې شي او که نه؟ او د مشترک مال د موجوديت له وجهې حج په سړي فرض کيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: که چيرته د مشترکه کاروبار د امنافع په څلورو حصو باندې له تقسيم نه وروسته هر يوه ته دومره روپۍ ور رسيدلې چه د حج ټول اخراجات پرې پوره کيده نو په هر يوه حصه لرونکي ورور باندې حج فرض دي او که نه پوره کيده نو په يوه باندې هم فرض نه دي او همدارنګه د مشترک مال په ټولې نفعې باندې په مجموعي توګه په يوه ورور حج نه فرض کيږي.

قال العلامة الحصكفي على مسلم ذى زاد الخ، و راحلة فضلا عما لا بد منه و فضلاً عن نفقة عياله الخ الى ذي عوده. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ٢، ص ٤٥٨ ، كتاب الحج)قال العلامة عالم بن العلاء الانصارى: شرائط وجوب الحج العقل و البلوغ و الحرية و الاستطاعة و تكلموا في تفسير الاستطاعة. قال أبو حنيفة في ظاهر رواية تفسيرها سلامة البدن و ملك الزاد و الراحلة (فتاوى تاتارخانية ج٢، ص ٤٢٩، كتاب الحج ، الفصل الاول في شرائط الوجوب) و مثله في الهندية ج ١، ص ٢١٧، الباب الأول في تفسير الحج

د حکومت په مصرف باندې د حج په کولو سره د حج فریضه ساقطیږي

الاستفتاء: څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه یو سړي سرکاري نوکري او دي یو په څلورمه برخه روپۍ جمع کوي او د حج نورې روپۍ حکومت پرې کوي. نو آیا د نوموړي سړي حج به فرضي حج ګڼل کیږي او که نفلی؟

الجواب حامدا و مصلیا: په دې سفر سره د ده فرضي حج اداکیږي او د فرضو غاړې ئې پرې خلاصیږي. ځکه چه حکومت کومې پیسې چه ورکړي دي د حج بدل لپاره نه بلکه د کومک په توګه یې ورکړي دي

-قال العلامة الحصكفى بخلاف ما لو خرج ليحج عن نفسه و فقير جاز عنه وصوله الى الميقات صار قادرا لقدرة نفسه و فيه ايضا الا فاقي اذا وصل الى الميقات فهو كالمكي (الدر المختار على رد المحتار ج٢، ص٤٦٠، كتاب الحج) قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري و الفقير اذا حج ما شاء ثم ايسر لا حج عليه. (الفتاوى الهندية ج١ ص٢١٧، كتاب المناسك، الباب الاول

په حرام مال سره د حج کولو حیله

الاستفتاء: د یوه سړي په مال کښې حرام مال ګډ دي او اوس د حج اراده لري او د دې لپاره څه پیسې له چا څخه په پور اخلي لیکن کله چه پور اداکوي نو خپل هغه حرام مال پکښې ورکوي نو آیا د نوموړي سړي حج صحیح ده او که غلط؟

الجواب حامدا و مصليا: د حج د وجوب لپاره حلال مال یا د مخلوط مال شته والي ضروري دی- نو چونکه نوموړي سړي حلالې روپۍ په قرض اخیستي دي نو ځکه حج ئي صحیح دی اګر که وروسته خپل قرض په حرام مال سره ادا هم کړي. بیا هم له داسې حیلو څخه اجتناب او پرهیز په کار دی-

اذا اراد الرجل ان یحج بمال الحلال فیه شبهة فانه یستدین للحج و یقضی دینه من ماله كذا في فتاوی قاضیخان (الفتاوی الهندیة ج۱ ، ص ۲۲۰، الباب الأول في الحج) قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري و اذا اراد ان یحج بمال الحلال فیه شبهة فانه یستدین للحج و یقضی دینه من ماله. (الفتاوی التاتارخانیة ج۲، ص۵۷٦ ، کتاب الحج، الفصل العشرون في المتفوقات) و مثله في البحر الرائقج۲، ص۳۰۹، کتاب الحج.

د غلاد مال د مخلوط والي په صورت کښې د حج حکم

الاستفتاء: څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه یو سړي د غلا مال له خپل مال سره ګډ کړي او تجارت وکړي او دومره روپۍ وګټي چه حج پرې فرض شي نو آیا نوموړي له دغې څخه حج کولي شي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا: د غلا مال له خپل مال سره د ګډولو په صورت کښې ټول مال د هغه په ملک کښې داخل شوي دی. نو ځکه د وجوب د شرائطو د شته والي په صورت کښې په هغه باندې حج فرض دی- نو له حج څخه د بچ کیدو په خاطر د مال د حراموالي بهانه یا پلمه دې نه کوي بلکه حج دې وکړي او خپلې غاړه دې خلاصې کړي

قال العلامة ابن عابدین: کا لحج بمال حرام لیس الحرام بل حرام هو الانفاق للمال الحرام و لا للازم بینهما . (رد المحتار ج۲، ص۴۵٦، کتاب الحج، مطلب فیمن حج بمال حرام) و في الهندیة: و یجتهد في تحصیل نفقة حلال فانه لا یقبل الحج با لنفقة الحرام مع انه یسقط القرض معها. (الفتاوی الهندیة ج۱ ، ص ۲۲۰، الباب الاول في تفسیر الحج) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۳۰۹، کتاب الحج

د حج تر فرض کیدو وروسته د غریبۍ له وجهې حج نه ساقطیږي.

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه په یوې ښځې باندې حج فرض وو لیکن د ځینو عوارضو له وجهې هغې حج و نه کړاي شو او حال دا چه اوس غریبه شوې ده. نو آیا د دې غربت له وجهې له هغې څخه حج ساقط شوي دي او که نه؟ او که چیرته یو سړي د حج د فرض کیدو سره سره عمره وکړي نو آیا په دې سره حج ترې ساقطیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: که چیرته له یوې ښځې سره دومره روپۍ موجودې وي چه د ځان او محرم مصرف ئې برداشتولي شواي نو په هغې باندې حج فرض دی۔ په غریبۍ سره او یا د عمرې په کولو سره ئې له حج څخه غاړه نه خلاصیږي. په ژوند کښې ورته حج کول ضروري دي او که چیرته ئې حج و نه کړ نو بیا له مرګ څخه دې مخ کښې د حج وصیت وکړي او په وصیت باندې به ئې عمل خامخا کیږي

و منها المحرم للمرأة شابة کا نت أو عجوزاً اذا کا نت بينها و بين مكة ثلاثة ايام، هكذا في المحيط، والفتاوى الهندية ج۱، ص ۲۱۹، كتاب الحج) و قال بشا و اما شرائط وجوبه منها الاسلام حتى لو ملك به الاستطاعة حال كفره ثم اسلم بعد ما افتقر لا يجب عليه شيء بتلك الاستطاعة بخلاف ما لو ملكه مسلما فلم يحج حتى افتقر حيث ينقرر الحج في ذمته دينا عليه (الفتاوى الهندية ج ۱، ص ۲۱۷، كتاب المناسك ، الباب الاول) قال العلامة ابن همام بخلاف ما لو ملكه مسلما فلم يحج حتى افتقر حيث يتقرر الحج في ذمته دينا عليه. (فتح القدير ج۲، ص ۳۲۰، كتاب الحج) و مثله في رد المحتار ج۲، ص۳۱۵، کتاب الحج .

که یو څوک له اصلي حوائجو څخه زیات کورونه ولري نو حج پرې فرض دی:

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه د یو سړي له زمکې برسیره کورونه هم لري کوم چه له اصلي حوائجو څخه ئې زیات دي نو آیا په د اسې سړي باندې حج فرض دی او که نه؟ او که چیرته نوموړي حج و نه کړي نو ګنهګار به وي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د چا زرعي زمکه، کورونه، جائداد او داسې نور که چیرته له اصلي حوائجو څخه زیات وي نو په هغه باندې حج فرض دی. نو د دې لپاره په نوموړي سړي باندې هم حج فرض دی. او که چیرته ئې حج و نه کړ نو ګنهګار به وي

قال العلامة التمرتاشي و راحلة فصلة عما لا بد منه و فضلا عن نفقة عياله الخ الى حين عوده (تنوير الابصار على صدر رد المحتار ج ۲، ص۴۶۲، كتاب الحج) قال العلامة برهان الدين المرعيناني رحمه الله اذا قدر على الزاد و الراحلة فاضلة عن المسكن و ما لا بد منه و عن نفقة عياله الى حين عوده (الهداية ج ۱، ص ۲۱۲، كتاب الحج) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۳۱۱، كتاب الحج

د لور و دول د حج مانع نه دی.

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه په زيد باندې حج فرض شوي دي ليکن د هغه په کور کښې يوه بالغه پيغله لور ده. نو آيا زيد په کور کښې د پيغلې لور په وجود والي کښې حج کولي شي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: د ناواده شوي اولاد شته والي د والدينو په عدالت باندې کوم اثر نه اچوي، د اولاد په ودولو کښې نه د ډېر مال لګول کوم ضروري خبره ده او نه د حج لپاره د شرعي موانعو څخه ګڼل کيږي. لهذا کله چه په زيد باندې شرعا حج فرض شوي دي نو د حج کول ورته ضروري دي.

قال في الهندية: و منها القدرة علي الزاد و الراحلة بطريق الملك و الاجارة الخ. (الفتاوی الهندية ج۱) ص ۲۱۷، الباب الاول في تفسير الحج)قال العلامة ابن عابدين: (على مسلم تحت هذه العبارة الاول شروط و الوجوب اذا وجبت بتمامها وجب الحج و الا فلا (رد المحتار ج ۴، ص ۴۵۹ ، كتاب الحج) و مثله في البحر الرائق ج۲ ، ص۳۱۱، كتاب الحج

د استطاعت د خاوند لپاره د کور نه درلودل د حج مانع نه دی

الاستفتاء: له ما سره دومره روپۍ شته چه حج پرې وکړم. که چیرته په دغو روپو باندې کور جوړ کړم نو د حج لپاره پیسې نه پاتې کیږي نو آیا ما ته د کور جوړول ضروري دي او که د حج کول؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا: کور د اسې ضرورت نه دی کوم چه شرعا د حج د فریضي لپاره مانع وګرځي. نو کله چه یو څوک د حج د ادا کولو لپاره پیسې ولري نو په هغه باندې حج فرض دی د کور جوړول کومه ضروري خبره نه ده.

قال العلامة ابن نجیم المصری: هو فرض بشرط حریة و بلوغ و عقل و صحة و قدرة و زاد و راحلة و فضلت عن مسکنه. و في قوله و ما لا بد منه اشارة الی ان المسکن لا بد ان یکون محتاجا الیه لمسکن فلا یثبت الاستطاعة بدار یسکنها و عبد یستخدمه و ثیابه یلبسها و متاع یحتاج الیه و ثبت الاستطاعة بدار یسکها و عبد لا یستخدمه فعلیه ان یحج، (البحر الرائق ج۲، ص۳۱۳، کتاب الحج)قال العلامة ابن عابدین: و ان لم یکن له مسکن و لا شيء من ذلك و عنده دارا هم تلغ الشمس مسکنها و خادم و طعام و قوت علیه الحج و جعلها في غیره. (رد المحتار ج ۲، ص ٤٦۲، کتاب الحج قبل مطلب في قولهم یقدم حق العبد) و مثله في التاتارخانیة ج۲، ص٤۳۳، کتاب الحج، الفصل الاول في شرائط الوجوب

د اولاد د واده نه درلودل د حج د وجوب مانع نه دی

الاستفتاء: څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه ما سر کال سره د خپلې بي بي د حج اراده کړې ده لیکن په دې حال کښې زما یو بالغ زوي واده نه لري نو آیا د زوي واده نه درلودل شرعي عذر ګڼل کیږي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا ومصلیا: د زوي واده نه درلودل کوم شرعي عذر نه دي چه د حج لپاره مانع جوړ شي. لهذا کله چه په تاسو باندې حج فرض شوي دي او بل کوم شرعي مانع موجود نه وي نو څومره زر چه کیدلي شي باید حج وکړی

قال العلامة الحصكفي: و في الاشياء و مع الف و خاف الضروبة ان كان قبل خروج اهل بلدة فله للتزوج و لو وقته لزم الحج. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ٤٦٢ ، كتاب الحج) و في الهندية: اذا وجد ما يحج به و قد قصد التزوج يحج به و لا يتزوج لان الحج فريضة اوجبها الله تعالى على عبده كذا في التبين. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۲۱۷، كتاب المناسك، الباب الاول في تفسير الحج) و مثله في التاتارخانية ج۲، ص٤٣٣ ، كتاب الحج، الفصل الاول في شرائط الوجوب

په حج سره د گناهونو د معاف کیدلو تفصیل -

الاستفتاء: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه په حدیث نبوي ﷺ کښې دی من حج فلم یرفث ولم یفسق رجع کیوم ولدته امه، آیا ددې حدیث مطلب دادې، چه د حج نه مخکښې دده نه چه کوم عبادات مالیة او بدنیه پاتې شوې دی، هغه معاف کیږی، یا افعال مذمومه معاف کیږی؟ بینوا بالتفصیل توجروا

الجواب حامدا ومصليا په حج سره گناه صغیره او هغه حقوق الله چه دهغې دپاره قضا نه وی، . معاف کیږی، او حقوق العباد او هغه عبادتونه چه دهغې دپاره قضا شته،نه معاف کیږی، او دکبیره گناهونو دمعاف کیدلو هم امید شته

قال العلامة الحصكفي: هل الحج يكفر الكبائر قيل نعم كحربي اسلم وقيل غير المتعلقة بالآدمي كذمي اسلم وقال عياض اجمع اهل السنة ان الكبائر لا يكفرها الا التوبة ولا قائل بسقوط الدين ولو حقا لله تعالى كدين صلاة وزكاة نعم اثم المطل وتأخير الصلاة و نحو ها يسقط وهذا معنى التكفير على القول به، (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج ۳ ص۲۷۲ مطلب في تكفير الحج الكبائر) (وهكذا في البحر الرائق ج۲ : ۳۳۸ باب الاحرام مبحث العرفات كلها موقف)كذافي فتاوي فريديه ج۴ ص۲۵۲

: د حج په وجه د گناهونو د معافي مسئله

الاستفتاء: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه يو سړې قاتل دې، او حرام خور دې، د حج په ادا کولو سره به دده دا ټول گناهونه معاف شي؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا: که دې حاجي توبه وويستله، نو هغه ته د حقوق العباد نه صلوة ټول صغائر او کبائر معاف کيږي، لنصوص ورد بذلک، او که توبه ئې نه وي ويستلې، نو د حج په ادا کولو سره صغائر په اتفاق سره معاف کيږي، او په کبائرو کښې اختلاف دې

كما في شرح التنوير: هل الحج يكفر الكبائر قيل نعم كحربي اسلم وقيل غير المتعلقة بالآدمي كذمي اسلم، وقال عياض اجمع .ا وفي المنهاج: ان الاصل في تكفير الكبائر التوبة كما صرح به القاضي عياض فلا يقطع بتكفير الحج الكبائر لظاهر الاحاديث ولكن ليس معنى التكفير انه سقط عنه قضاء مافات منه من الصلاة والصوم والزكاة وسقط عنه الدين وحقوق العباد بل معنى التكفير سقوط اثم تاخير العبادات واثم مطل الدين وغيره،وعفو الكبائر التي لا بدل لها كالزنا وشرب الخمر، وعفو حقوق الله تعالى اذا مات قبل القدرة على ادائها، وعفو حقوق العباد بارضاء الخصوم عنه هذا ملخص كلام الفقهاء والمحدثين. (منهاج السنن شرح الترمذي ج ۴: ص۸۲باب ثواب الحج والعمرة) كذافي فتاوي فريديه ج۴ ص۲۵۱

ښځه د چاسره د حج سفر کولاي سي ؟

الاستفتاء : ښځه د چاسره د حج سفر کولای سي ؟

الجواب حامدا و مصليا : د حج د فريضې د اداکولو لپاره د ښځي سره د مېړه يا ديو محرم شتون ضروري دي او د ښځي محرم هغه چاته ويل کيږي چي د دې ښځي سره يې په هيڅ وخت کښي نکاح نه روا کيږي لهذا د دغه اصل په نظر کښي نيولو سره ښځه

دهغه چا سره د حج سفر کولاي سي چي ددې مېړه وي ياد اسي شخص وي چي ددې نكاح په هيڅ وخت کښي دهغه سره نسي کېدلاي لکه زوي ، پلار ، اکا ، ماما

.لماقال ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : والمحرم من لا يجوز له مناكحتها على التأبيد بقرابة أو رضاع أو صهرية كما في التحفة ولما في الهندية : ومنها المحرم للمرأة شابة كا نت أو عجوزا إذا كا نت بينها وبين مكة مسيرة ثلاثة أيام هكذا في المحيط وإن كان أقل من ذلك حجت بغير محرم كذا في البدائع والمحرم الزوج ومن لا يجوز مناكحتها على التأبيد بقرابة أو رضاع أو مصاهرة كذا الخلاصة (ردالمحتارج ٢ ص ١٥٧ مكتبه حبيبه / البحرالرائق ج ٢ ص ٥٥٢ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهنديه ج ١ ص ٢١٨ رشيديه / بدائع الصنائع ج ٣ ص ٥٦ مكتبه رشيديه / فتاوي محموديه ج١٠ص٣٢٩اردو)

يو سړي په ستر ګو ړوند دي او مال هم لري حج څنګه وکړي ؟

الاستفتاء : يو کس په سترګو ړوند دي او مال او دولت هم لري آيا پر ده حج فرض دي که يا او که حج پر فرض وي نو بيا يې د حج د اداء کولو طريقه څرنګه ده؟

الجواب حامدا ومصليا : د حج په شرائطو کښي يو شرط سالم صحت دي نو کله چي يو کس داسي معيوبه وي چي دي په سترګو ړوند وي نو پرداسي کس حج فرض نه دي .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : (قوله صحيح البدن) أي سالم عن الآفات المائعة عن القيام بما لا بد منه في السفر، فلا يجب على مقعد.... وأعمى، وإن وجد قائدا (ردالمحتارج ٢ ص ٤٥٩ كتاب الحج سعيد چاپ/مجمع الانهرج ١ ص ٣٨٥ كتاب الحج مكتبه غفاريه/ البحرالرائق ج ٢ ص ٥٤٦٠٥٤٥ كتاب الحج رشيديه/فتاوي تاتارخانية ة ج ٣ ص ٤٧٠ مكتبه فاروقيه / فتاوي محموديه ج ٢٢ ص ٤٢٧)كذافي رحمانية هـ ج٢ ص٤١٧

يوه پيغله انجلي د خپل پلار يا ورور سره حج ته تللاي سي که يا ؟

الاستفتاء۴: يوه پيغله انجلي د خپل پلار يا ورور سره حج ته تللاي سي که يا ؟

الجواب حامدا ومصليا : دغه پيغله ښځه د خپل پلار يا ورور بلکي د هر محرم ابدي سره حج ته تللاي سي که شرعاً کوم مشکل نه لري.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : ومع زوج او محرم وهو من لا يحل له نكاحها على التابيد للمرأة ولو عبدا اوذميا اوبرضاع (الدرالمختار كتاب الحج ج ٢ص ۴۶۴ مكتبه شامله / البحرالرائق كتاب الحج ج ٢ ص ۵۵۱ رشيديه / بدائع الصنائع ج ٣ ص ۵۶ رشيديه)كذافي رحمانية هـ ج٢ ص۴١٨

که ښځي ته د حج په ورځو کښي د حيض مريضي راسي .

الاستفتاء کومو ښځوته چي د حج د ادا کولو په دوران کښي د حيض مريضي راسي په ا دغه حالت کښي به د حج ارکان څنګه اداءکوي؟

الجواب حامدا ومصليا : دغه ښځه به په دغه ورځو کښي د طواف څخه ما سوا ټول ارکان د حج اداء کوي فقط يو طواف به نه کوي د فرضي طواف قضاء دي د پاکۍ وروسته وکړي واجب او سنت طوافونه د دي څخه ساقط دي .

وفي الهداية :واذاحاضت المرء ة عند الاحرام اغتسلت واحرمت وصنعت كمايصنعه الحاج غير انها لاتطوف بالبيت حتي تطهر الخ. (الهداية باب التمتع ج ١ص٢٤٦ كتاب الحج / فتاواي دارالعلوم ديوبندج ٦ ص ۴١۶ رشيديه .كذافي رحمانية هـ ج٢ ص۴١٨

.دلوريا دخوريه ولور سره حج كول رواه دي كه يا ؟

الاستفتاء : ځيني كسان داسي دي چي خپله لوريا خوريه نكاح وركړي يا ددغي لور يا خوريه ولور باندي دهغې د واده څخه مخكي حج ته ځي او دليل دا وايي چي دا زما خوريا لور ماته خپل ولور را بخښلي دي ايا د خوريا دلوريه ولور سره حج كول جائز دي كه يا ؟

الجواب حامدا و مصليا : (سابق مفتي اعظم افغانستان الحاج مرحوم مولانا عبدالعلي ديوبندي رحمة ا الله عليه)دغه سوال ته داسي جواب ويلي دي : چي يو پلاريا ورور كه چيري ددغي لوريا دخورولور ددې لوريا خورد واده څخه مخ كښې واخلي كه څه هم هغه يې وروبخښي دابخښه نه ده صحيح ځكه چي دابخښه دحيا او شرم سره مل ده او هغه هبه او بخښه چي د حيا او شرم د غلبې د وجي څخه وي هغه صحت نه لري او نن سبا اكثره هم داسي وي چي دالوريا خوربې دشرم او حيا دوجي څخه انكار نه سي كولاي . البته كله چي دا لوريا خور واده سوله د واده كولو وروسته نو يا كه چيري هغه خپل ولور ورته بخښه او هبه كړي نو دا بخښه او هبه درسته او صحيح ده ځكه چي حيا او شرم نه ده ورسره مل . نو خلاصه دا سوه چي په دغه پيسو سره حج كول جائز او رواه نه دي چا چي كړي دي هغه دي د الله جل جلاله څخه معافي واخلي او دخپلي لور دغه اخيستي ولور دي ور وا پس كړي . كه

عن أنس بن مالك, أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «لا يحل مال امرئ مسلم إلا بطيب نفسه. (مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۲ ص ۲۷۴۳ باب الضيافة بيروت / فتاوي قاسميه ص۴۸۴ سنن الدارقطني ج۳ ص ۴۲۴ كتاب البيوع مكتبه شامله / دخلاصون لاره مسائل دطلاق)

د حائضې ښځي دپاره دحج داداء كولو طريقه .

الاستفتاء: كه چيري يوه ښځه حج ته ولاړه سي او په دغه دوران كښې ورته حيض (زنانه مريضي) راسي نو دا ښځه به د حج اركان څنګه اداء كوي؟

الجواب حامدا و مصليا : دحج په دوران کښې چي کله يوې ښځې ته حيض راسي نو دهغې دپاره شرعي حکم دادي چي د طواف څخه صلوة به دحج ټوله ارکان اداءکوي يو طواف به نه کوي که طواف قدوم وي چي سنت دي ، که طواف زيارت وي چي فرض دي او که ا طواف رخصت وي چي واجب دي . نور ارکان لکه وقوف پر عرفات ، مزدلفې ته تلل ، منية ته وتل ، شيطانان ويشتل ، ذبح کول او داسي نور دا به کوي . البته کله چي ددغي مريضې څخه پاکه سوه نو دي طواف زيارت چي دحج لوي رکن دي او بېله هغه حج نه صحيح کيږي هغه دي دپاکۍ په حالت کښې اداء کړي . او ترڅه وخته چي يې طواف زيارت نه وي کړي حج يې نه دي صحيح او نه هم دغه ښځه د احرامه څخه حلاليږي . بالفرض که چيري ددې ښځي پاکۍ ته ډيري شپې پاته وې او بل طرف ته ددې د وتلو وخت پوره وو نو دي طواف زيارت د ناپاکۍ په حالت کښې اداء کړي او په بدل کښې دي يو اوښ يا غويي دم ورکړي .

لما قال ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : فلو حاضت قبل الإحرام اغتسلت وأحرمت وشهدت جميع المناسك إلا الطواف والسعي اه أي لأن سعيها بدون طواف غير صحيح فافهم . وقال المرغيناني رحمه الله تعالى : وإذا حاضت المرأة عند الإحرام اغتسلت وأحرمت وصنعت كما يصنعه الحاج غير أنها لا تطوف بالبيت حتى تطهر " لحديث عائشة رضي الله عنها حين حاضت بسرف ولأن الطواف في المسجد (ردالمحتار علي صدر الدرالمختار ج ۲ ص ۲۰۶ کتاب الحج مطلب في طواف الزيارة / الهداية ج ۱ص ۲۴۶ کتاب الحج مکتبه رشيديه / الفتاوى التاتارخانية ة ج ۲ ص ۴۷۱ کتاب الحج / فتاوي دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۴۶۱ کتاب المناسک مکتبه رشيديه / فتا وي حقا نية ج ۳ ص ۴۵۴ کتاب ص الحج / فتاوي رحيميه ج ۸ ص ۷۹ کيفية اداء الحج / فتاوي محموديه ج۱۰ص ۳۷۲ باب في احکام الحج / ستاسي مسائل اودهغه حل ج ۵ ص ۳۸۶ فصل في طواف الزيارة / مجمع الانهر في ا شرح ملتقي الابحر باب الحيض ج ۱ ص ۵۳ بيروت چاپ)

د ښځې لپاره خپل اخشي (د خور میړه) محرم نه دی

الاستفتاء: زما میړه مریض دي نو آیا زه حج ته د خپلې خور له میړه سره تللې شم او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا: د حج د فریضې د ادا کولو لپاره له ښځې سره د محرم شتون ضروري دی-آخشي (د خور میړه) چونکه شرعي محرم نه دي نو له دې وجهې د خور له میړه سره د حج د فریضې د ادا کولو لپاره تلل صحیح نه دي. البته که چیرته کومه ښځه له محرم پرته حج ته لاړه شي نو غاړې ئې پرې خلاصیږي لیکن له کراهیت څخه خالي نه دي-

و منها المحرم للمرأة شابة کا نت عجوز إذا کا نت بینها و بین مکة ثلاثة ایام هکذا في المحیط و ان کان اقل من ذلك حجت بغیر محرم و المحرم الزوج و من لا یجوز مناکحتها علی التابید بقرابة أو رضاع او مصاهرة کذا في الخلاصة (الفتاوی الهندیة ج ۱ ، ص ۲۱۹، الباب الاول في تفسیر الحج) قال العلامة الحصکفي، و مع زوج او محرم و في رد المحتار و المحرم من لا یجوز له مناکحتها علی التابید بقرابة أو رضاع او صهریة، (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۲ ، ص ٤٦٤، کتاب الحج، مطلب في قولهم یقدم حق العبد) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۳۱۵، کتاب الحج .

د ښځـــې لپاره د میړه له ورور سره یعنې لیور یـــا د میړه له وراره ســـره د حج د کولو حکم

الاستفتاء: د یوې ښځې خاوند مړ شوي دي او د خاوند په ژوند کښې ئې یو حج کړي دي لیکن اوس بیا حج کول غواړي نو آیا د خپل خاوند له ورور یا وراره سره حج ته تللې شي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصلیا: د ښځې لپاره حج ته د تللو لپاره د محرم موجود والی ضروري دی. د خاوند ورور یعنې لیور او یا د خاوند وراره چونکه محرم نه دي نو ځکه د ښځې لپاره له هغوي سره حج ته تلل صحیح نه دي-

و منها المحرم للمرأة شابة کا نت او عجوزاً اذا کا نت بینها و بین مکة ثلاثة ایام. هکذا في المحیط. و ان کان اقل من ذلك حجت بغیر محرم و المحرم الزوج و من لا یجوز مناکحتها علی التابید بقرابة او رضاع و

مصاهرة كذا في الخلاصة الفتاوى الهدية ج ۱، ص ۲۱۹، الباب الأول في تفسير الحج) قال العلامة الحصكفي و مع زوج او محرم. و في رد المحتار و المحرم من لا يجور له مناكحتها على التابيد لقرابة او رضاع أو صهرية (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ۴٦۴ ، كتاب الحج، مطلب في قولهم يقدم حق العبد) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۳۱۵، كتاب الحج كذا في ح فان يه ه ج ۳ ص ۴۴۶

: ښځه د نامحرم ګاونډي سره حج ته نه شي تللې

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه يوه ښځه غواړي چه حج وکړي ليکن خاوند يا ورور نه لري. نو آيا له خپل نامحرم ګاونډي سره حج ته تللې شي او که نه؟ بينوا. توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: تر څو پورې چه له دې ښځې سره محرم نه وي تر هغو پورې په دې باندې حج فرض نه دی. او دا ښځه د نامحرم ګاونډي سره حج ته نه شي تللې

. قال العلامة برهان الدين المرغيناني رحمه الله: و يعتبر في المرأة ان يكون لها محرم تحج به او زوج و لا يجوز لها ان تحج بغيرهما اذا كان بينها و بين مكة مسيرة ثلاثة ايام. (الهداية ج ۱، ص ۲۱۳، كتاب الحج) قال العلامة الحصكفى: و مع زوج او محرم مع وجوب النفقة لمحرمها عليها الخ. لا امرأة (و في حاشية) و المحرم من لا يجوز له مناكحتها على التابيد بقرابة او رضاع او صهرية. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج ۲، ص ۴٦۴ ، كتاب الحج) و مثله البحر الرائق ج ۲، ص ۳۱۵، كتاب الحج.

ښځې ته له خپل ليور يا د خاوند له تره سره حج ته د تللو حکم

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه ښځه د خپلې لور او د خاوند له تره سره حج ته تللې شي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: د ښځې لپاره د سفر په حالت کښې د محرم او يا خاوند وجود ضروري دی-ليور او د ميړه تره چونکه محارم نه دي نو له دې وجهې ښځه شرعا له دوي سره سفر نه شي کولي نو ځکه يوې ښځې ته هم له خپل ليور يا د خاوند له تره سره حج ته تلل صحيح نه دي

- قال ابن عابدين، و يؤيده حديث صحيحين لا يحل لامرأة تؤمن با لله و اليوم الآخر ان تسافر مسيرة يوم و ليلة الا مع ذي محرم عليها. (رد المحتار ج ٢، ص ٤٦٥، كتاب الحج) قال ابن نجيم المصرى رحمه الله: (تحت هذه العبارة) و محرم او زوج لا مرأة في سفر اي و بشرط محرم الى آخره. كما في الصحيحين لا تسافر امرأة الا و معها محرم و زاد مسلم في رواية او زوج. (البحر الرائق ج٢، ص ٣١٤، كتاب الحج) و مثله في الهندية ج ١، ص ٢١٩/٢١٨، الفصل الاول في تفسير الحج.

د رهن (ګروي) په پيسو باندې د حج کولو حکم

الاستفتاء: يوه سړي خپله زمکه په رهن (ګروي) باندې چا ته ورکړه او په بدل کښې چه کومې پيسې لاس ته راوړي دي غواړي چه حج پرې وکړي. نو آيا په دغو روپو باندې ئې حج اداکيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: له رهن (ګروي) څخه د انتفاع اخيستل جائز نه دي. البته حج د حج د ارکانو ادا کولو ته وايي اګر که په هر ډول مال سره هم وي. بهتره دا ده چه په حلالو روپو باندې حج وکړي شي اګر که په حرام مال سره هم د حج په کولو سره فرض له سړي ساقطيږي. نو له دې وجهې د رهن په روپو باندې حج کول جائز دي

و في الهندية و يجتهد في تحصيل نفقة حلال فانه لا يقبل الحج با لنفقة الحرام مع انه يسقط الفرض معها و أن كان مغصوبة. (الفتاوى الهندية ج ١، ص ٢٢٠، كتاب المناسك، الباب الأول) قال ابن نجيم المصرى: و يجتهد في تحصيل نفقة حلال فانه لا يقبل با لنفقة الحرام كما ورد في الحديث مع انه يسقط الفرض البحر

الرائق ج۲، ص۳۰۹، کتاب الحج) و مثله في رد المحتار ج۲، ص۴۵٦، کتاب الحج، مطلب فيمن حج بمال الحرام کذافي ح فانیة ه ج۳ ص۴۴۷

[یواځې په نیت سره حج نه فرض کیږي

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه څو کسانو زید ته وویل چه ته د حج نیت وکړه مونږ تا حج ته لیږو. زید د حج نیت وکړ لیکن هغو حج ته و نه لیږه. نو اوس پوښتنه دا ده چه آیا یواځې د نیت په کولو سره حج په سړي فرضیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: یواځې د نیت په کولو سره حج نه فرضیږي تر څو پورې ئې چه تلبیه نه وي ویلی – لهذا په زید باندې صرف د حج په نیت باندې حج نه دې فرض شوی

- و في الهندية: و لا يصير شارعاً بمجرد النية ما لم يأت با لتلبية او ما يقوم مقامها. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۲۲۲، کتاب المناسك، الباب الاول في تفسير الحج) قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري، و لا يصير داخلاً في الاحرام بمجرد النية ما لم يضم اليه التلبية او يسوق هديا (الفتاوى التاتارخانية ج۲، ص۴۳۹، الفصل الثالث في تعليم اعمال الحج) و مثله في البحر الرائق ج۲، ص۲۲۳، کتاب الحج، باب الأحرام

د خاوند له اجازې پرته د حج کولو حکم.

الاستفتاء: په ښځې باندې د حج له فرض کیدو نه وروسته له خپل میړه څخه د اجازې اخیستل ضروري دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصلیا: حج یو عبادت دې کوم چه په مالدار یا غني مسلمان باندې فرض دی. د الله تعالی له طرفه د هغه د ادا کولو لپاره له هیچا څخه د اجازې اخیستل ضروري نه دي. نو له دې وجهې ښځه د خاوند له اجازې پرته هم حج کولی شي خو په دې شرط چه محرم ورسره وي –

و في الهندية: و عند وجود المحرم كان عليها ان يحج حجة الاسلام و ان لم يأذن لها زوجها. (الفتاوى الهندية ج١، ص٢١٩، الباب الاول في تفسير الحج قال الشيخ ابن عابدين و ليس لزوجها منعها عن حجة الاسلام اي اذكان معها محرم الافله منعها رد المحتار ج٢،ص٤٦٥ ، كتاب الحج ، مطلب في قولهم يقدم حق العبد) و مثله في البحر الرائق ج٢،ص٣١٥،كتاب الحج

د والده (مور) له اجازې پرته د نفلي حج کولو حکم

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه زيد د نفلي حج لپاره سعودي عربستان ته تلل غواړي ليکن مور اجازه نه ورکوي. نو آيا زيد د مور له اجازې پرته د نقلي حج لپاره تللي شي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: شريعت مقدسه د والدينو په اطاعت او فرمانبرداري باندې ډير تاکيد کړي دی. لهذا زيد ته د نفلي حج د ادا کولو لپاره له مور څخه د اجازې اخيستل ضروري دي۔ او له اجازې پرته هغه ته د نفلي حج لپاره تلل له کراهيت څخه خالي نه دی. البته د فرض حج لپاره د مور او داسې نورو اجازه ضروري نه ده –

و في الهندية: و يكره الخروج الى الحج اذا كره احد ابويه ان كان الوالد محتاجاً الى خدمة الولد و ان كان مستغنياً عن خدمته في الملتقط حج الفرض أو الى من طاعة الوالدين و طاعنهما اولى من حج النفل. (الفتاوى الهندية ج١، ص ٢٢١، الباب الاول في تفسير الحج) قال الشيخ ابن عابدين: (تحت هذه العبارة) ممن يجب استيذائه كاحد ابويه المحتاج الى خدمته. مخ کښې فرمايي: و هذا كلهم في حج الفرض اما حج النفل و طاعة الوالدين اولي مطلقاً. (رد المحتار ج٢، ص٤٥٢ ، كتاب الحج، مطلب فيمن حج بمال حرام) و مثله في البحر الرائق ج ٢، ص٣٠٨، كتاب الحج .

د نفلي حج لپاره د خاوند اجازه ضروري ده

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه يوې ښځې فرض حج اداکړې وي او س غواړي چه نفلي حج اداکړي نو آيا دې ښځې ته له خاوند څخه اجازه اخيستل ضروري دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د فرض حج د ادا کولو لپاره له چا څخه د اجازې ضرورت نشته ليکن د نفلو حکم بيل دي. د ښځې لپاره د نفلي حج د ادا کولو په خاطر له خپل خاوند څخه د اجازې اخيستل ضروري دي. خو په دې شرط چه محرم ورسره وي. د خاوند له اجازې پرته د ښځې لپاره نفلي حج ته تلل صحيح نه دي.

قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري. و اذا وجدت محرما و لا يأذن لها زوجها ان تخرج فلها ان تخرج بغير اذنه في حجة الاسلام دون التطوع. (فتاوى تاتارخانية ج ۲ ، ص ٤٣٥ ، كتاب الحج، الفصل الاول في شرائط الوجوب) قال العلامة ابن نجيم. او اشار بعدم اشتراط رضا الزوج الى انه ليس له منعها عن حجة الاسلام و اذا وجدت محرما لانه حقه لا يظهر في الفرائض بخلاف حج التطوع، (البحر الرائق ج۲، ص ۳۱۵، كتاب الحج) و مثله في الهندية ج۱، ص ٤١٩، الباب الأول في تفسير الحج.

نفلي حج افضل دي او که صدقه

الاستفتاء: د فرض حج د ادا کولو نه وروسته نفلي حج کول افضل دي او که د هغه په ځاي هغه روپي غريبانو ته په صدقه کښې ورکول افضل دي؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د فرض حج له ادا کولو نه وروسته په فقيرانو او مسکينانو باندې د صدقې په توگه مال مصرف کول له نفلي حج څخه بهتر او افضل دي. په خاصه توگه چه فقيرانو ته ئې ضرورت هم زيات وي

قال العلامة ابن عابدين، و في البرازية الفصلية الحج و حيث قال الصدقة افضل من الحج التطوع و اذا كان الفقير مضطرا الح. (رد المحتار ج۲، ص٦٦١ ، كتاب الحج، مطلب في تفضيل الحج عن الصدقة) قال

العلامة ابن عابدين: قد يقال ان صدقة التطوع في زماننا افضل لما يلزم الحاج غالباً من ارتكاب المحظورات. (منحة الخالق على هامش البحر الرائق ج ۲، ص ۳۱۰، كتاب الحج) و مثله في التاتارخانية ج۲، ص۵۷٦، كتاب الحج ، الفصل العشرون في المتفرقات.

حائضه ښځه چه طواف زيارت پرېږدي نو حکم ئې څه دی؟

الاستفتاء: که چیرته یوه ښځه د حیض په وجه طواف زیارت و نه کړي نو آیا دم پري لازميږي او که نه؟ او آیا د ا ښځه اوس حلاله ده او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: طواف زیارت د حج له ارکانو څخه یورکن دی. که چیرته حائضه ښځه د حیض په حالت کښې چه طواف زیارت وکړي نو یوه بدنه (اوښ) دم پرې اوړي. او که چیرته د طواف زیارت له کولو پرته کورته واپس راشي نو دا ښځه به حلاله نه وي بلکه دوباره به مکې مکرمې ته ځي او طواف زیارت به کوي.

قال العلامة ابن العلاء الانصاري: اذا تركها جميعا ان كان بمكة فانه يعيدها و ان رجع الى اهله فهو محرم من النساء ابدأ فيعود الى مكة بذلك الاحرام، (الفتاوى التاتارخانية ج۲، ص۵۱۸/۵۱۹، الفصل السابع في الطواف و السعي) قال العلامة ابن عابدين: و يمتد الوقت الى آخر العمر فان اخره عنها اي ايام النحر و لياليها منها كره تحريما و وجب الدم و لو لم يطف اصلاً لا يحل له النساء و ان طال و مضت سنون باجماع. (رد المحتار ج۲، ص۵۱۸، مطلب في طواف الزيارة) و مثله في الهندية ج۱، ص۲۴۵، الباب الثامن في الجنايات، الفصل الرابع.

: قرض اخستلو سره د حج کولو حکم

الاستفتاء: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه یو سړې ماته د حج دپاره اوولس زره روپۍ راکړې وې، هغه وخت کښې ورکونکي دا وضاحت نه وو کړې، چه دا قرضه ده، که ماته هغه وخت کښې معلومه وې نو ما به په دې باندې هیچرې

هم حج نه وو کړې، ځکه چه قرض اخستل او حج ته تلل بالکل جائز نه دی، اوس سوال دادی، چه آیا قرض اخستل او حج کول جائز دي او که نه؟ اوس زه څه وکړم؟ بینوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا: کوم سړي چه پیدل یا په قرض مال باندې حرم ته ورسی، او د عام پاکستانیانو پشان عمره کولو نه پس په اتمه ذي الحجه باندې د حج نیت وکړی، نو دغه سړې ذمه د فریضې نه فارغه کیږی، آئنده که دا سړې مالداره هم شی، نو په دغه به دوباره حج فرض نه وي وهو الموفق

قال الملا على قارى: والفقير الآفاقي اذا وصل الى ميقات فهو كالمكى...... فالتقييد بالفقير لظهور عجزه عن المركب وليفيد انه يتعين عليه ان ينوى حج الفرض ليقع عن حجة الاسلام ولا ينوى نفلا على زعم انه فقير لا يجب عليه الحج..... ان قولنا الحج لا يجب على الفقير انما المراد به الآفاقي قبل وصوله الى الميقات فانه حينئذ اذا اراد دخول الحرم يجب عليه احرام احد النسكين وبدخوله الى مكة ووصوله الى الكعبة تعين عليه فرضية الحج سواء احرم به ام لا . (ارشاد الساري ٢٨ مبحث في الفقير اذا وصل الى مكة اوالميقات) وفي الهندية: الفقير اذا حج ماشيا ثم ايسر لاحج عليه هكذا في فتاوي قاضي خان. فتاوي عالمگيرية ا ج :ص٧ ٢١ كتاب المناسک الباب الاول) كذافي فريديه ج۴ ص٢١۶

د بالغ کیدلو نه پس دوباره د حج د فرضیت مسئله

الاستفتاء: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه ما د خپلو والدینو سره تقریبا د پنځو شپږو کالو په عمر کښې حج کړې وو ، اوس الحمد لله زه بالغ او غنية يم، بعضي خلق وائي چه هغه حج نفل وو ، په تا دوباره حج فرض شوې دي، آیا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا

.الجواب حامدا و مصليا: دفرض حج دپاره بالغ کیدل شرط دی، د بلوغت نه مخکښې حج کولو سره فرض حج نه ساقط کیږی، د صاحب استطاعت دپاره د بلوغت نه پس دوباره حج کول ضروري دي

.وا قال الملا على قارى: الثالث البلوغ وهو شرط الوجوب والوقوع عن الفرض لا عن الجواز او الصحة فلا يجب على صبى مميز او غير مميز، فلوح..... فهو نفل لا فرض لكونه غير مكلف فلو احرم ثم بلغ فلوجدد احرامه يقع عن فرضه والافلا الخ. (ارشادالساري ۲۵ باب شرائط الحج) ۲۶ قال العلامة المرغيناني: وانما شرط الحرية والبلوغ لقوله عليه الصلاة والسلام ايما عبد حج عشر حجج ثم اعتق فعليه حجة الاسلام و ايما صبي حج عشر حجج ثم بلغ فعليه حجة الاسلام. قال ابن الهمام: روى الحاكم من حديث محمد بن المنهال حدثنا يزيد بن زريع حدثنا شعبة عن الأعمش عن ابي ظبيان عن ابن عباس رضي الله عنهما على الله قال، قال رسول الله ﷺ ايما صبي حج ثم بلغ الحنث فعليه ان يحج حجة اخرى... وقال صحيح على شرط الشيخين. (الهداية مع فتح القدير ۲:۳۲۵ كتاب الحج)كذافي فريديه ج۴ ص۲۲۹

محرم د احرام په حالت کښې عینکې لګولای سي که یا؟

الاستفتاء: محرم او احرام تړونکي کس د احرام په حالت کښې عینکې لګولای سي که یا؟

الجواب حامدا و مصليا : محرم د احرام په حالت کښې عینکې لګولای سي خاص حرج نه لري

لماقال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى في بدائع الصنائع : فجملة الكلام فيه أنّ محظورات الإحرام في الأصل نوعان. نوع لا يوجب فساد الحج، ونوع يوجب فسادة أما الذي لا يوجب فساد الحج فانواع : بعضها يرجع إلى اللباس، وبعضها يرجع إلى الطيب وما يجري مجراه من إزالة الشعث، وقضاء التفث، وبعضها يرجع إلى توابع الجماع، وبعضها يرجع إلى الصيد (بدائع الصنائع ج ۲ ص ۱۸۳ بيان ما يحظره الاحرام مكتبه حبيبيه/فتاوي دارالعلوم ديوبندج ۶ص ۴۶۷ باب الجنايات رشيديه)

احرام تړونکي کس دخپل سر تر خریلو مخ کښې دبل کس سر خریلای سي؟

الاستفتاء:متمتع حاجي دخپلي قرباني تر حلالید و او ذبحي وروسته دخپل سر خریلو مخکي دبل چا سر خریلای سي که یا

الجواب حامدا ومصلیا: حاجي که متمتع وي ،که قارن وي ،که مفرد وي کله چي دغه حاجي دسرتر خریلو مخکني تمام ارکان د حج اداءکړي او د سر خریلو وخت یې را غی او هغه بل محرم حاجي هم د حج تړو له مخکني احکام اداء کړي دي د سر خریل یې پاته دي اوس دغه حاجي لره خپل ویښته خریل یاد بل ویښته خریل د احرام د ممنوعاتو څخه نه دي لهذا دغه حاجي خپله خپل سر هم خریلاي سي او د خپل سر د خریلو څخه مخکي.دبل حاجي سر هم خریلای سي کوم خاص حرج او مشکل دغه کار شرعا نه لري البته دسرتر خریلو مخکي دي بریتونه اونوکان نه کوچني کوي.

فلما رأوا ذلك قاموا، فنحروا وجعل بعضهم يحلق بعضا حتى كاد بعضهم يقتل بعضا غمًا (صحيح البخاري ج ١ ص ٣٨٠ قديمي چاپ/غنية المناسک ص ٩٣ فصل في الحلق/زبدة المناسک ص ١٧٦:١٧٧/فتاوي رحيميه ج ٨ ص ١٠٦)

د حاملې مايني په خاطر ميړه حج ځندولاي سي؟

الاستفتاء پریوه خاوند او ښځي دواړو باندي حج فرض دي لیکن ښځه یې حمل په نس لري او د ولادت امکان یې سته په حج کښې ایا دغه میړه ددغي خپلي ښځي د حمل د عذر په خاطر خپل حج شرعاً ځندولای سي وراتلونکي کال ته که یا ؟

الجواب حامدا ومصلیا :صحیح قول د فقهاؤ و دادي چي کله حج فرض سي پر انسان باندي نودي دي په هم هغه کال حج ته ولاړسي او بیله عذر شرعي دي ځندنه کوي حدیث شریف کښي راغلي چاچي د حج اراده وکړه نودي دي تلواره وکړي لهذا خاونددي سږکال حج ته ولاړ سي خپل حج دي نه ځنډ وي او ښځه دي په راتلونکي کال د دغه خاوند سره یادبل شرعي محرم سره حج اداء کړي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : فرض....... مرة .... على الفور) في العام الأول عند الثاني وأصح الروايتين عن الإمام ومالك وأحمد فيفسق وترد شهادته بتأخيره (الدرالمختار علي صدر ردالمحتارج ۲ ص ۱۹۱ كتاب الحج مكتبه حبيبيه/الهداية ج ۱ ص ۲۱۲ كتاب الحج مكتبه رحمانية ه/زجاجةالمصابيح ج ۲ ص ۹۲ كتاب المناسک/فتاوي رحيميه ج ۸ ص ۴۸) .

حج مقدم دي كه نكاح او واده كول؟

الاستفتاء:د يو سړي سره دومره اندازه مال سته چي حج په وكړي مگر دي واده او كوزده نه لري ايا دي اول نكاح وكړي كه حج اداء كړي؟

الجواب حامدا و مصليا :كه چيري د حج د فارمونو دداخلولو زمانه وه او داسي وخت دي چي خلگ د حج په تياريو مصروفه دي پيسي ورته جمع كوي د حج داخله شروع ده د حكومت له خوا يا د شركتونو د خوا او بل طرف ته په زناء كښي العياذ بالله د مبتلا كيد و انديښنه او خطره هم نه وه نو دي او له حج وسي او بيا دي نكاح وسي او كه چيري دغه كس پر خپل ځان د قابو كيد و قدرت نه درلودي او په زناء كښي العياذ بالله د مبتلا كيد و خطره وه نو دي او له نكاح وكړي بيا دي حج وروسته اداء كړي (درمختارا و شامي ج ۲ ص۱۹۷) په معلم الحجاج كښي ليكلي دي : (مسئله) كه چيري ديو شخص سره روپي وي د حج د فريضي داداء كولو او غواړي چي نكاح هم وكړي نو كه چيري د حاجيانو دتللو زمانه وه نو پر ده حج كول واجب دي او كه د حاجيانو ادتللوزمانه او وخت نه وو نو نكاح كولاي سي او كه يې يقين وؤ كه چيري نكاح و نه كړم نو په زناء كښي به العياذبالله مبتلا سم نو اوله دي نكاح وكړي بيا دي وروسته حج وكړي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : وفي الأشباه معه ألف وخاف العزوبة إن كان قبل خروج أهل بلده فله التزوج ولو وقته لزمه وفي الأشباه المسألة منقولة عن أبي حنيفة في تقديم الحج على الحج.. التزوج.. ولذا اعترضه ابن كمال باشا في شرحه على الهداية بأنه حال التو قان مقدم على الحج اتفاقا لأن في تركه أمرين ترك الفرض والوقوع في الزنا والجواب أبي حنيفة في غير حال التو قان اه أي في غير حال تحققه الزنا لأنه لو تحققه فرض التزوج أما لو خافه فالتزوج واجب لا فرض فيقدم الحج الفرض عليه فافهم (ردالمحتارج ۲ ص ۹۷ كتاب الحج مكتبه حبيبيه/معلم الحجاج ص ۹۱/فتاوي رحيميه ج ۸ ص۴/ فتا وي حقا نية ج ۳ ص ۴۵۹ كتاب الحج)فتاوي رحمانية هـ ج۲ ص ۴۳۹/۴۳۷/۴۳۶

: ایا د حاجیانو ااستقبال او دهغوی مخ ته ورتلل رواه دي که یا ؟

الاستفتاء نن سبا دغه رواج را روان دي چي کله حاجي د حج څخه راځي نو خلک په ډلوډلو دهغه مخ ته ورځي د استقبال لپاره ایا دغه طریقه په شریعت مقدسه کښې کوم اصل او جواز لري که یا؟

الجواب حامدا و مصليا: د حاجيانو صاحبانو استقبال کول دثواب کار دي د حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم وفرمايل کله چي ستاسي ملاقات دحاجي سره وسي نو سلام ورته وکړئ او مصافحه ورسره سره وکړئ او د خپل ځان لپاره ورڅخه دمغفرة دعاء وغواړئ له مخه تر دې چي دي خپل کورته ورسيږي بي شکه حاجي بخښنل سوي دي او د حضرت حسن رضي الله عنه څخه روايت دي چي کله حاجي حج ته روانيږي نو دهغوي درخصت کېدو لپاره ولاړسئ او دخير ددعاء غوښتنه ځني وکړي او کله چي د حج څخه راسي نو دهغه سره روغبړا و مصافحه وکړئ له مخه تر دې چي دي ده دنيا په کار او په ګناهونو مبتلاسي بې شکه ددوي په لاس کښې برکت دي (الحديث)رسول الله صلي الله عليه وسلم دعاء کړې ده (اللهم اغفر للحاج ولمن استغفر له الحاج) اي الله دحاجي مغفرت وکړي او دهغه چا چي حاجي ورته د مغفرت دعاء کړې ده.

وقال صلى الله عليه وسلم اللهم اغفر للحاج ولمن استغفر له الحاج (احياء علوم الدين ج ۱ ص ۳۱۱ كتاب اسرارالحج/فتاوي رحيميه ج ۸ ص ۳۱ كتاب الحج)كذافي رحمانية هـ ج۲ ص۴۳۹

په ميقات کښې د ننه اوسيدونکو لپاره د طواف وداع حکم

الاستفتاء: کوم خلک چه په ميقات کښې د ننه اوسيږي د هغو لپاره طواف وداع واجب دي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: طواف وداع د هغو خلکو په حق کښې واجب دي چه د حج لپاره له باهر څخه راځي او کوم خلک چه په ميقات کښې د ننه اوسيږي په هغو باندې د وداع طواف واجب نه دی۔

قال ابن نجيم المصرى: و اراد باهل مكة من الخذ مكة و ادخل المواقيت دار فلا طواف صدر على من كان داخل المواقيت . (البحر الرائق ج۲، ص ۳۵۱، باب الاحرام) قال ابن عابدين: ثم طواف الصدر الى الوداع سبعة اشواط بلا رمل و سعي و هو واجب الا على اهل مكة و من في حكمهم. (در المختار ج ۲، ص ۵۲۳ ، مطلب في طواف الصدر) و مثله في الهندية ج۱، ص ۲۳۵، الباب الخامس في كيفية اداء الحج

د سهار او مازديگر تر لمانځه وروسته د احرام د لمانځه حکم

الاستفتاء: آيا د فجر او عصر د لمانځه نه وروسته د احرام د دوو رکعتونو د لمانځه اداکول جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د سهار او مازديگر د لمانځه نه وروسته مطلقاً نفل کول جائز نه دي. نو ځکه د ذوات الاسبابو نوافل لکه د احرام، طواف او د اسې نورو لمونځونه هم ممنوع دي–

و في الهندية: و يصلى ركعتي الطواف في وقت يباح له اداء التطوع فيه. كذا في شرح الطحاوي. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۲۲٦، الباب الخامس في كيفية اداء الحج) قال العلامة ابن عابدين: ثم صلى شفعا في وقت مباح. قال ابن عابدين تحت هذه العبارة و في اطلاقه نظر لما مر في أوقات الصلوة من ان الواجب و لو لغيره كركعتي الطواف و النذر لا تنعقد في ثلاثة من الاوقات المنهية (رد المحتار ج ۲، ص ٤۹۹ ، مطلب في طواف القدوم) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۲۳۲، كتاب الحج، باب الاحرام.

د احرام له تړلو نه مخکښې د غسل کولو حکم

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه زيد حج ته د روانيد و په وخت کښې د تبې له وجهې د احرام له تړلو څخه مخکښې غسل و نه کړيواځې اودس ئې وکړاو احرام ئې وتړلو. نو په دې سره د زيد په حج کښې خو به فرق نه وي راغلی؟او که چيرته راغلي وي نو زيد بايد څه وکړي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د احرام له تړلو څخه مخکښې غسل کول فرض او واجب نه دي بلکه يو مستحب عمل دی. که چيرته له غسل نه بغير يواځې اودس وکړي او احرام وتړي نو د سړي په حج کښې کوم فرق نه راځي

.قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري، و يستحب لمن اراد الاحرام ان يقص شاربه و اظفاره و في الينابيع و يحلق عانته. ثم يغتسل او يتوضاء و في الكافي فيقوم الوضوء مقام الغسل كما في العيدين و الجمعة و الغسل افضل و هذا الاغتسال النظافة و ليس بواجب . (الفتاوى التاتارخانية ج۲، ص٤٤١، الفصل الثالث في اعمال الحج) قال العلامة ابن الهمام و اخرج ايضا عن ابن عمر رضى الله تعالى عنه قال من السنة ان يغتسل اذا اراد ان يحرم. (فتح القدير ج ۲، ص۴۲۹ ، باب الاحرام) و مثله في الهندية ج۱، ص ۲۲۲، الباب الثالث في الاحرام.

په ټول عمر کښې يو ځل د حج په فرضيت کښې حکمت

الاستفتاء په لمانځه او زکات کښې تکرار دي يعنې بار بار ادا کيږي، په حج کښې ولې تکرار نشته؟ په ټول عمر کښې يو ائې يو ځل ولې فرض دی؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا لومړي خو په منصوصي احکام و کښې د حکمت لټول د ايمان د ضعيف والي دليل دی، دويم د عقل له مخې په ټولو فرائضو کښې بايد تکرار نه واي لان الامرلا يقتضي التکرار، ليکن د سبب تکرار د امر د تکرار مستلزم وګرځيد د حج سبب بيت الله يو دي له دي امله بل هيڅ شي د تکرار مقتضي نشته دريم په حج کښې د نورو عبادتونو په نسبت مشقت او تکليف زيات دي ځکه ئې حج ته جهاد ويلي دي له حائضه ښځه د لمانځه د سقوط او د روژې په نه سقوط کښې هم همدا حکمت دی

قال في التنوير هو فرض مرة وفى الشرح لان سببه البيت وهو واحد، وفي الحاشية (قوله لان سببه البيت)بدليل الاضافة في قوله تعالى ولله على الناس حج البيت فان الاصل اضافة الاحكام الى اسبابها كما تقرر في الاصول ولايتكرر الواجب اذالم يتكرر سببه والحديث مسلم يا ايها الناس قد فرض عليكم الحج فحجوا فقال رجل اكل عام يارسول الله فسكت حتى قالها ثلاث فقال رسول الله لوقلت نعم لوجبت ولما استطعتم قال في النهر و الأية و ان كانت كافية في الاستدلال على نفي التكرار لان الامر لا يحتمله الا ان اثبات النفي لمقتضى النفى اولى.(ردالمحتار ج۲) فقط والله تعالى أعلم كذافي احسن الفتاوي ج۴ ص۱۰۰

چا چه پخپله حج نه وي کړي هغه حج بدل کولي شي

الاستفتاء: آيا په حج بدل کښې دا ضروري ده چه مامور به چا چه حج کوي، پخپله حج کړي وي او که نه بينوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا ضروري نه ده، بهتر ده (لخلاف الشافعي رحمه الله تعالى) البته که چيرته به مامور باندې حج فرض وي نو د هغه لپاره حج بدل مکروه تحريمي دي ليکن د آمر لپاره مکروه تزيهي دي

قال في الشامية قال في البحر و الحق انها تنزيهية على الأمر لقولهم و الافضل الخ تحريمية على الضرورة المأمور الذي اجتمعت فيه شروط الحج ولم يحج عن نفسه لانه اثم بالتأخيره. (ردالمحتار ج۲، ص۲۶۷) كذافي احسن الفتاوي ج۴ ص۱۰۳

بـــــاب التمتع و القرآن

په حج تمتع کـــــښي د قربانۍ د نه کولو حکم

الاستفتاء ليکن د ځينو عذرونو له مخې ئې قرباني و نه کړي شو. اوس د ا نقصان په مکه مکرمه کښې د قربانۍ په کولو سره پوره کيږي او که پخپل وطن کښې هم قرباني کولي شي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په متمتع باندې چونکه قرباني کول واجب دي او که چيرته يو سړي د عذر په بناء باندې قرباني و نه کړي شي نو له حج نه وروسته په هغه باندې دوه قربانۍ لازمي وي او دواړه قربانۍ به په مکه مکرمه کښې کوي که اصالتا وي يا وکالتا او که په کومو ورځو کښې چه وي

فلو لم يقدر .على الهدى تحلل و عليه دمان دم التمتع و دم التحلل قبل الهدى. (البحر قال ابن نجيم المصرى البحرالرائق، ج ۲، ص ۱۳۶۱ باب القران) قال العلامة الحصكفي فلو لم يقدر تحلل و عليه دمان . قال ابن عابدين في قوله دمان دم التمتع و دم التحلل قبل أوانه بحر. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص ٥٣٤. كتاب الحج، باب القرآن) و مثله في الهداية ج۲، ص ٤٢٠ ، باب القرآن .

د متمتع او د قارن له قربانۍ څخه مخ کښې د حلق (د سرد خريلو) مسئله

الاستفتاء: متمتع يا قارن که چيرته له قربانۍ څخه مخ کښې حلق وکړي نو شرعي حکم ئې څه دی؟ بينوا توجروا

۔الجواب حامدا و مصليا : که چیرته مفرد با لحج وي نو دم نه دي پرې و اجب ځکه چه جنایت و نه شو او که چیرته متمتع او قارن وي نو له قرباني څخه د حلق په کولو سره دم واجبیږي. او په نومورې باندې د حرم په زمکه کښې قرباني لازمه ده–

قال ابن نجيم: فان حلق القارن قبل ان يذبح فعليه دمان عند ابي حنيفة دم با لحلق في غير أوانه لان اوانه بعد الذبح ودم بتاخير الذبح عن الحلق و عندهما يجب على دم واحد هو الاقل. (البحر الرائق ج ۲، ص ۳٦۱، باب القرآن)لما قال العلامة ابن همام . قال محمد في الرواية دم للقرآن و دم للحلق قبل ان يذبح الا ترى ان المفرد لو حلق قبل أن يديح لم يلزمه شيء يا لاتفاق لعدم استلزامه لتاخير الواجب (فتح القدير ج ۲، ص ۴۷۳ ، باب الجنايات) و مثله في رد المحتار ج ۲، ص ۵۵۵، باب الجنايات.

د حج قرآن او حج تمتع تعریف

الاستفتاء: زید که چیرته د حج په سفر کښې د عمر له طرف څخه عمره ادا کړي نو آیا دا صحیح ده او که نه؟ او که چیرته صحیح وي نو زید د حج تر ادا کولو پورې به په احرام کښې پاتې کیږي او که له دې څخه مخ کښې هم حلالیدلی شي؟

الجواب حامدا و مصليا: زید که چیرته د عمرې ثواب عمر ته وبخښي نو صحیح دي او د حج په میاشتو کښې د عمرې په کولو سره له احرام څخه د وتلو نه وروسته د حج لپاره دوباره احرام وتړي نو د شریعت په اصطلاح کښې د اسې متمتع بلل کیږي او که چیرته دواړه په یوه احرام اد اکړي نو قارن بلل کیږي او په ده باندې د شکر دم واجبیږي۔

كما في الهندية: هو ان يجمع بين احرامي الحج و العمرة من الميقات او قبله في أشهر الحج او قبلها هكذا في معراجالدراية و المتمتع من يأتي باعمال العمرة في اشهر الحج او يطوف اكثر طوافها في اشهر الحج ثم يحرم با لحج و يحج من عامه (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۲۳۷، الباب السابع في القران و التمتع)قال العلامة ابن العلاء الانصاري: و القارن هو الجامع بين الحج و العرة سواء احرم بهما معا او احرم با لحجة و اصناف

اليها العمرة و عليه دم الشكر لما انعم الله عليه من التوفيق للحج بين العبادتين سفر واحد، (الفتاوى التاتارخانية ج۱، ص۵۲۶ ، الفصل التاسع في القارن) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۳۵۷، باب القرآن .

د حج تمتع لپاره د عمرې له کولو نه وروسته د حج د احرام د تړلو ځای

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه متمتع له عمرې څخه د فارغيدو نه وروسته به د حج احرام له کوم ځاي څخه تړي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: متمتع چه کله له عمرې څخه فارغ شي او حلال شي نو کله چه د حج لپاره د احرام د تړلو اراده وکړي نو د مکې مکرمې او د حرم د ټولې زمکې څخه ئې تړلې شي-

قال العلامة الحصكفي: قال في اللباب و الافضل ان يحرم من المسجد يجوز من جميع الحرم و من مكة افضل من خارجها. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص۵۳۷، باب التمتع.قال الشيخ ابن الهمام: فاذا كان يوم التروية احرم با لحج من المسجد. هداية و في فتح القدير و المسجد ليس بلازم بل هو افضل و مكة افضل من غيرها من الحرم. (فتح القدير ج ۲، ص۴۲۳ ، باب التمتع) و مثله في البحر الرائق ج ۲، ص ۳۶۳، باب التمتع.

د متمتع لپاره له عمرې نه وروسته د احرام د خلاصولو حکم

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه له پاکستان څخه ځينې حجاج کرام د حج تمتع په اراده په شعبان کښې مکې مکرمې ته ځي او د عمرې له کولو نه وروسته ئې ځانونه حلال کړي وي. او د رمضان مياشت هغوي په بيت الله شريف کښې تيره کړه او د شوال په مياشت کښې د زيارت نبوی ﷺ په اراده مدينې منورې ته لاړل او په بيرته راتلو باندې ئې بيا احرامونه وتړل، نو اوس د عمرې له کولو نه وروسته دوي ته د احرام د خلاصولو اجازه شته او که نه او که تر حج پورې به دوي په همدې احرام کښې پاتې کيږي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: له مديني منورې څخه په بيرته راتلو باندې که چيرته چا د حج تمتع اراده درلوده نو هغه به له ذو الحليفه څخه احرام تړي او د عمري له ادا کولو نه وروسته دې احرام خلاص کړي او بيا دې د حج لپاره احرام وتړي کوم چه و اجب دي-

قال ابن نجيم المصرى و له احرامها باشهر الحج لأنه ليس بشرط لكن اداء اكثر طوافها فيها شرط فلو طاف الاقل في رمضان مثلاً ثم طاف الباقي في السشوال ثم حج من عامه كان متمتعا . (البحر الرائق ج۲، ص۲٦۲، كتاب – و في الهندية و ليس من شرائط التمتع وجود الاحرام با لعمرة في اشهر الحج بل اداؤها فيها او اداء اكثر طوافها. (الفتاوى الهندية ج۱، ص۲۳۸، الباب السابع في القرآن و التمتع) و مثله في التاتارخانية ج۲، ص ۵۳۱، الفصل العاشر في التمنع.

په ميقات کښې د اوسيدونکو لپاره د حج تمتع او قرآن حکم

الاستفتاء: کوم خلک چه په ميقات کښې د ننه اوسيږي هغوي حج تمتع او حج قرآن کولي شي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا ومصليا: تمتع او قرآن د هغو خلکو لپاره دي کوم چه له ميقات څخه د باندې لهذا کوم خلک چه په ميقات کښې د ننه اوسيږي هغه تمتع او قرآن نه شي کولي هغه به يوائې حج افراد يا عمره کوي.

قال العلامة التمرتاشي و المكي و من في حكمه اي من اهل داخل المواقيت يفرد فقط و لو قرآن او تمتع جاز و اساء و عليه دم جبر ، (تنوير الابصار على صدر رد المحتار ج ۲، ص۵۳۹، باب التمتع)و في الهندية: و ليس لاهل مكة تمتع و لا قرآن و انما لهم الافراد خاصة. كذا في الهداية و كذلك اهل المواقيت. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۲۳۹، الباب السابع في القرآن و التمتع) و مثله في الهداية ج۱، ص۱۴۳، باب القرآن و التمتع.

د حج تمتع له نيت نه وروسته د حج قرآن نيت كول

الاستفتاء: كه چيرته يو سړي له پاكستان څخه د حج تمتع په نيت مكې مكرمې ته لاړ ليكن هلته چه ورسيده نو د عمرې له كولو نه وروسته مدينې منورې ته لاړ او هلته ئي د حج قرآن نيت وكړ نو آيا داسې حج قرآن كولي شي او كه نه؟

الجواب حامدا و مصليا: د صاحبينو په نزد كله چه محرم د حرم له حدودو څخه ووځي نو حيثيت ئې د آفاقي ګرځي. اوس كه چيرته د تمتع په ځاي باندې د قرآن نيت وكړي نو جائز دي او وجه ئې داده چه د دوي په نزد د حرم له حدودو څخه په وتلو باندې د تمتع نيت باطليږي او د امام صاحب په نزد د حرم له حددودو څخه د وتلو له وجهې د تمتع نيت نه باطليږي. نو ځكه د صورت مسئوله مطابق د حج قرآن نيت كول جائز نه دي البته موجوده حالاتو ته په نظر كولو سره د صاحبينو رأيه مفتي به ګرځول په كار دي.

لما قال العلامة ظفر احمد العثماني و هو متمتع ان حج من عامه و كذا لو خرج إلى الآفاق لحاجة فقرن لا يكون قارنا عند أبي حنيفة و عليه رفض احدهما و لا يبطل تمتعه لان الاصل عنده ان الخروج في أشهر الحج إلى غير اهله ى لاقامة بمكة فكانه لم يخرج و قرن من مكة اما عندهما فكا لرجوع الى اهله فاذا خرج بطل تمتعه ثم اذا قرن من الميقات كان قارنا (امداد الاحكام ج ٢، ص ١٨١، كتاب الحج)

حج تمتع افضل دي او كه حج قرآن:

الاستفتاء: په حج تمتع او حج قرآن كښې د احنافو په نزد كوم يو افضل دى؟

الجواب حامدا و مصليا: حج په درې قسمه دي (١) حج افراد (٢) حج تمتع (٣) حج قرآن ٢ احنافو په نزد په دغو دريواړو كښې حج قرآن افضل دي او له قرأن نه وروسته حج تمتع بهتر دى۔

قال العلامة الحصكفي: باب القرآن و هو افضل لحديث الثاني الليلة من ربي و انا با لعقيق فقال يا آل محمد ثم التمتع ثم الافراد. (الدر المختار على صدر رد السحار ج۲، ص ۵۳۰، باب القرآن، اهلوا بحجة و عمرة معا كتاب الحج)

مکي سړي له آفاق څخه په بيرته راتلو باندې تمتع يا قرآن کولي شي او که نه؟

الاستفتاء: د مکې معظمې او جدې اوسيدونکي د رمضان شريف په آخري لسو ورځو کښې مدينې منورې ته ځي او د شوال د مياشتې په پيل کښې د جده خلک جده ته راځي او د مکې معظمې خلک مکې معظمې ته راځي يا د جدې خلک د مکې معظمې په لاره جدې ته بيرته راځي او په همدې کال د حج اراده لري نو هغوي چه اوس له ميقات څخه د باندې تللي دي نو آفاقي شوي دي آيا په داسې حالت کښې حج تمتع کولي شي؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا: دا خلک حج قرآن کولي تمتع نه شي کولی. دا حکم د هغو خلکو دي چه د دوي په حرم يا حل کښې وطن اصلي دی کومو خلکو چه هلته اصلي وطن نه وي جوړ کړي يوائې د نوکری يا تجارت او داسې نورو لپاره هلته مقيم دي هغوي تمتع هم کولي شي او کوم سړي چه د حج د مياشتو له شروع کيدو وروسته آفاق ته تللي وي هغه قرآن هم نه شي کولي که د هغه هلته وطن اصلي وي او که نه

ويقال في الشامية في بيان شروط القرآن معزيا الى الباب السادس ان يكون افاقيا ولوحكمافلاقران لمكى الا اذا خرج إلى الآفاق قبل اشهر الحج. (رد المحتار ج۲، ص۲۰۷) و مزيد التفصيل في الشامية ج۲، ص۲۱۱، و ج۲، ص۲۱۶ فقط والله تعالى اعلم : كذافي احسن الفتاوي ج۴ ص ۲۰

د حج تمتع په صورت کښې دم شکر واجب دې او د عمرې نه پس احرام پرانستلو مسئله

الاستفتاء: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه يو څو حاجيان د حج تمتع دپاره د ذي الحجې نه څلور مياشتې مخکښې مکې مکرمې ته ورسيدل، او د عمرې نه پس ئې احرام پرانستلو ، په شوال کښې يوه مياشت په مدينه

منوره کښې تيره کړه، او په ذي قعده کښې په واپسی کښې په ذو الحليفه کښې د عمرې احرام وتړلو ، اوس سوال دا دې، چه دا خلق د عمرې نه پس احرام پرانستلې شي او که د حج ادا کولو پورې به احرام کښې وی؟ بعضې خلق وائي، چه د مدينې منورې نه واپسی باندې د عمرې نه پس او د حج نه مخکښې احرام پرانستلو باندې دم واجبيږی. او بعضې لا باس به وائي، چه په اووم ذي الحجه يعني يوم ترويه يا اتم ذی الحجه باندې د حج په نيت سره احرام تړل پکار دی؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا: که دا سړې د تمتع اراده لری، نو د ذوالحليفه والا عمرې نه به د طواف او سعي نه پس احرام پرا نيزی، او دغې نه پس به د حج احرام تړی، او يو دم شکر به ادا کوی، چه واجب دې، صرح به في القرآن وصرح به

في الهداية والفتح.قال الله تبارك وتعالى: فاذا امنتم فمن تمتع بالعمرة الى الحج فما استيسر من الهدى، فمن لم يجد فصيام ثلثة ايام في الحج وسبعة اذا رجعتم . (البقرة: ١٩٢) قال العلامة المرغيناني: وصفة التمتع ان يبتدى . من الميقات في اشهر الحج فيحرم بالعمرة ويدخل مكة فيطوف لها ويسعى ويحلق او يقصر وقد حل من عمرته وهذا هو تفسير العمرة، قال ابن الهمام: فتحرير الضابط للمتمتع ان يفعل العمرة او اكثر طوافها في اشهر الحج عن احرام بها قبلها او فيها ثم حج من عامه بوصف الصحة من غير ان يلم باهله بينهما الماما صحيحا . (هداية مع فتح القدير ٢: ٤٢٢ باب التمتع) كذافي فريديه ج٤ ص٢٧٧

: دم شکر صرف په قارن او متمع باندې واجب دې. په مفرد باندې نشته

الاستفتاء: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه آيا قرباني صرف په قارن او متمع باندې واجبه ده. يا مفرد باندې هم واجبه ده؟ که مفرد قرباني وکړي نو جائز ده او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا و مصليا: قرباني (دم شکر) صرف په قارن يا متمتع باندې واجب وی، نه په مفرد باندې

، کما في الهداية(١) و ردالمحتار (٢) والهندية(٣) وغيرها. په دې کښې د فرض او نفل هيڅ فرق نشته، او که مفرد په دې قرباني کښې د کمزورو د ازالې نيت وکړی، نو جائز ده. بخلاف القارن والمتمتع(٤). او که متمتع يا قارن قرباني لره په رمي باندې مقدم کړی، نو په دې کښې د امام ابو حنيفة په نزد دم واجب دې، خلافا لمن سواه

وغيرها) وهو الموفقا قال العلامة المرغيناني: واذا رمى الجمرة يوم النحر ذبح شاة او بقرة او بدنة او سبع بدنة فهذا دم القرآن لانه في معنى المتعة والهدى منصوص عليه فيها. (هداية ۱ :۲۴۰ باب القرآن) ﴾ قال العلامة ابن عابدين: وذبح للقرآن وهو دم شكر ای لما وفقه الله تعالی للجمع بين النسكين في اشهر الحج بسفر واحد. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۲۰۹ باب القرآن) وفي الهندية: اذا رمي جمرة العقبه يوم النحر يذبح دم القرآن وهذا الدم نسك من المناسك. (فتاوي عالمگيريه ۱ : ۲۳۸ الباب السابع في القرآن والتمتع) ** وفي الهندية: ثم يرجع الى منى فان كان معه نسک ذبحه وان لم يكن فلا يضره لانه مفرد بالحج ولو كان قارنا او متمتعا فلا بدله من الذبح. (فتاوي عالمگيريه ۱ : ۲۳۱ باب في كيفية اداء الحج) قال العلامة المرغيناني: ومن اخر الحلق حتى مضت ايام النحر دم عند ابي حنيفة وكذا اذا اخر طواف الزيارة وقالا لا شيئ عليه في الوجهين وكذا الخلاف في تاخير الرمى – وفي تقديم نسک علي نسک كالحلق قبل الرمي ونحر القارن قبل الرمي. (هداية ۱ :۲۸۷ باب الجنايات) ﴾ قال العلامة الحصكفي: او قدم نسكا على آخر فيجب في يوم النحر اربعة اشياء الرمى ثم الذبح لغير المفرد ثم الحلق ثم الطواف لكن لا شي ...... ، على من طاف قبل الرمي والحلق، قال ابن عابدين: قوله فيجب الخ لما كان قوله او قدم الخ بيانا لوجوب الدم بعكس الترتيب فرع عليه ان الترتيب واجب مع بيان مايجب ترتيبه ومالا يجب فافهم. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۲۲۶ باب الجنايات) كذافي فريديه ج۴ ص۲۹۲

باب الحـــج عن الغير

په نفلي حج كښې د حج بدل نيت كــــول ضروري نه دي

الاستفتاء: څه فرمائي علماء كرام د دې مسئلې په باره كښې چه زما په والد صاحب باندې حج فرض نه وو او نه هغه كوم وصيت كړې وو. آيا زه اوس د هغه لپاره د ايصال ثواب په خاطر د نفلي حج نيت وكړم او كه د حج بدل نيت؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: کله چه په چا باندې حج فرض نه وي نو د هغه له خوا څخه حج بدل هم نه کېږي. لهذا په دې صورت کښې تاسو نفلي حج ادا کړي او ثواب ئې خپل والد صاحب ته وبخښی

قال العلامة ابن عابدين (بعيادة ماله جعل ثوابه لغيره) اي سواء كا نت صلوة او صوما او صدقة او قرأة قرآن او ذكرا أو طوافا او حجا أو عمرة او غير ذلك . (رد المحتار ج ٢، ص ٥٩٥ ، باب الحج عن الغير ، مطلب في اهداء ثواب الاعمال الخ) قال العلامة ابن نجيم المصرى فان صام او صلي او تصدق و جعل ثوابه لغيره من الاموات و الاحياء جاز و يصل ثوابها اليهم عند اهل السنة و الجماعة كذا في البدائع والبحر الرائق ج٣، ص٥٩، باب الحج عن الغير) و مثله في الهندية ج١، ص ٢٥٧، الباب الرابع عشر في الحج عن الغير

: د مـــړي لپاره د نفلي حج ثـــواب

الاستفتاء: که چيرته يو سړي د خپل وفات شوي پلار پسې د ايصال ثواب په نيت نفلي حج وکړي نو آيا هغه ته د ده د نفلي حج ثواب وررسيږي او که څنګه؟

الجواب حامدا و مصليا: د هر نفلي عبات که هغه مالي او که ځاني په کولو سره ئې ثواب مړي ته بخښل شرعا صحيح او ثابت دي او همدا د اهل السنت و الجماعت عقيده ده. لهذا که چيرته يو څوک پخپل وفات شوي پلار پسې نفلي حج وکړي او ثواب ئې ورو بخښي نو ثواب ئې وررسيږي

قال العلامة ابن نجيم المصري: فان صام او صلي او تصدق و جعل ثوابه لغيره من الاموات و الاحياء جاز و يصل ثوابها اليهم عند اهل السنة و الجماعة كذا في البدائع. (البحر الرائق ج٣، ص٥٩، باب الحج عن الغير) ان الانسان ان يجعل ثواب عمله لغيره صلوة كان او صوما او صدقة او غيرها كا لحج الخ. (الفتاوى الهندية ج١، ص٢٥٧ ، الباب الرابع عشر في الحج عن العير) و مثله في التاتارخانية ج ٢، ص ٥٤٥ ، الفصل الخامس عشر في الرجل يحج عن الغير . كذافي ح فان ية هـ ج٣ ص٢٦٧

: د نفلي حج لپاره له مور څخه د اجازې د اخیستلو حکم

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه يو سړي په سعودي عرب کښې اوسيږي. هغه د خپلې بوډۍ مور لپاره غواړي چه نفلي حج وکړي کوم چه په پاکستان کښې. ده او که له هم هغه ځای. يعني عربستان څخه دې د خپلې والدې لپاره-به د حج سفر اختيار وي. نو آيا هغه دي له خپلي والدي څخه د اجازې اخيستلو په غرض له پاکستان څخه دي حج اداکړي؟ بينوا توجروا

الجواب حامدا ومصليا: د حج بدل فرضي لپاره له هغه ځاي څخه د حج په نيت سره تلل ضروري دي کوم ځاي کښې چه اوسيږي. البته که چيرته يو څوک د چا له طرفه د نفلي حج کولو اراده وکړي نو په دې کښې د اجازې اخيستل ضروري نه دي او نه د صورت مسئوله مطابق پاکستان ته د راتلو ضرورت شته. لهذا تاسو د خپلې مور له خوا څخه د هغې له اجازې پرته له سعودي عرب څخه هم نفلي حج ورته کولي شي

و في الهندية: الامر با لحج فلا يجوز حج الغير عنه بغير امره الا الوارث هندية. ففي الحج النفل تجوز النيابة حالة القدرة لان باب النقل اوسع كما في سراج الوهاج. (الفتاوى الهندية ج١، ص٢٥٧، الباب الخامس عشر في الوصية با لحج)قال العلامة ابن نجيم المصرى، و انما شرط غير المنوب للحج الفرض لا النفل لجواز الانابة مع القدرة في حج النفل لان المقصود منه الثواب. (البحر الرائق ج٣، ص٦٢، باب الحج عن الغير) و مثله في التاتارخانية ج٢، ص٥٤٥، الفصل الخامس عشر في الرجل يحج عن الغير. كذافي ح فان ية هـ ج٣ ص٤٦٨

: د غريب سړي په واسطه د حج بدل د کولو حکم

الاستفتاء آيا يو غريب سړي چه پخپله ئې حج نه دي کړي: حج بدل لپاره ليږل جائز دي او که يو داسې سړي غوره کول ضروري دي چه پخپله.. ئې حج کړي وي بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: بهتره داده چه د حج بدل لپاره يو د اسې سړي وليږل شي چه پخپله ئي حج كړي وي ليكن سره له دې كه چيرته كوم غريب سړي د حج بدل لپاره وليږل شي نو بيا هم حج بدل اداكيږي او په نوموړي سړي باندې د دې په وجه حج نه فرض كيږي.

و في الهندية و الافضل للانسان اذا اراد عن نفسه ان يحج رجلا قد حج عن نفسه و مع هذا لو احج رجلاً لي ياحج عن نفسه حجة الإسلام يجوز عندنا و سقط الحج من الأمر كذا في المحيط الهندية ج۱، ص ۲۵۷، الباب الرابع. عشر في الحج عن الغير) قال ابن عابدين (ثم فرع عليه) على ان الشرط هو الاهلية دون اشتراط ان يكون المامور قد حج عن نفسه ارد المحتار ج ۲، ص ۶۰۳، باب الحج عن الغير قبل، مطلب في حج الضرورة) و مثله في التاتارخانية ج۲، ص۵۴۶ الفصل الخامس عشر في الرجل يحج عن الغير

په حج بدل كښې د آمر د اطاعت حكم

الاستفتاء: زيد عمر لره د حج بدل لپاره وليږه. عمر له ميقات څخه د عمرې نيت وكړ او كله چه د حج پنځه ورځې پاتې شوې نو عمر د زيد له خوا څخه د حج بدل لپاره احرام وتاړه او د حج افعال ئې اداكړه نو آيا شرعا د زيد حج بدل وشو او كه نه؟

الجواب حامدا و مصليا: د حج بدل كوونكي لپاره د آمر د حكم اطاعت ضروري دى. د صورت مسئوله مطابق چونكه عمر د زيد مخالفت كړي دي نو ځكه په دې صورت كښې د زيد له خو څخه حج بدل و نه شو راتلونكي كال ته به عمر د زيد لپاره بل حج كوي

قال ابن عابدين الثاني عشر ان يحرم من الميقات فلو اعتمر و قد امره با لحج ثم حج من مكة لا يجوز و يتس (رد المحتار ج ۲، ص ۶۰۰، باب الحج عن العبر) قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري و لو امره با لحج فاعتمر ثم حج من مكة فهو مخالف في قولهم. (الفتاوى. التاتارخانية ج۲، ص ۵۴۶، الفصل الخامس عشر في الرجل يحج عن الغير) و مثله في الهندية ج۲، ص ۱۵۸، الباب الرابع عشر في الحج عن الغير

په حج بدل کښې د عمرې د نیت حکم

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه په حج بدل کښې د عمرې نيت صحيح دي او که نه؟ او که چيرته يو سړي په حج بدل کښې د عمرې نيت وکړي نو له هغه څخه حج بدل صحيح کيږي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په حج بدل کښې د حج نيت کول په هغه وخت کښې ضروري دي چه کله آمر مامور لره په حج افراد باندې مامور کړي وي. چونکه زمونږ په ښارونو کښې حج قرآن حج تمتع او حج افراد درې واړو ته حج ويل کيږي او د آمر له طرفه د دريواړو اجازت وي لهذا تمتع کړي شي. بهتره دا ده چه آمر ته ئې څرګندونه وشي

و في الهندية: و اذا امر غيره با لافراد بحجة أو عمرة فقرن فهو ضامن في قول ابي حنيفة و قال ابي يوسف و محمد يجزئ عن الأمر استحساناً (الفتاوى الهندية ج١، ص ٢٥٨، الباب الرابع عشر في الحج عن الغير) قال ابن عابدين: فلو امره الافراد فقرن او تمتع و لو للميت لم يقع عنه و يضمن النفقة (رد المحتار ج٢ ص ٦٠٠، باب الحج عن الغير، مطلب في شروط الحج عن الغير عشرون) و مثله في التاتارخانية ج٢، ص ٥٤٦، الفصل الخامس عشر في الرجل يحج عن الغير. كذافي فتا وي حقا نية ج٣ ص٤٧١

: آيا کمزوري سړي بل څوک پخپل ځاي د حج د پاره ليږلي سي؟

الاستفتاء: آيا کمزوري سړي پخپل ځاي بل څوک د حج د پاره ليږلي سي؟

الجواب حامدا و مصليا: که ضعيف سړي پخپله په حج کولو باندې قادر نه وي نو هغه داسې سړي د خپل طرف څخه د حج د پاره ليږلي سي چا چې پخپله حج کړي وی.

في الدرالمختار ج: ٢ ص: ٥٩٨ (طبع سعيد) حج الفرض تقبل النيابة عند العجز فقط.... الخ. وفي ه الهندية ج: ١ ص: ٢٥٧ (طبع رشيديه کويټه) والافضل للانسان اذا اراد ان يحج رجلا عن نفسه ان يحج رجلا قد حج عن نفسه. كذافي فتاوي عثمانية ج٢ ص٢٥١

په حج بدل کښې به خرڅه په محجوج عنه باندې وي

الاستفتاء: آيا حج بدل د محجوج عنه (چا ته چه حج کيږي) په مال باندې کول ضروري وي او که څوک ئې پخپل مال باندې هم کولي شي؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: په حج بدل کښې دا شرط دي چه د مامور حج به د محجوج عنه په مال باندې کيږي. پس که چيرته د حج بدل خاوند پخپل مال سره حج وکړنو د محجوج عنه له خوا څخه نه کيږي۔

كما في الهندية: و منها ان يكون حج المامور بمال المحجوج عنه فان تطوع الحاج عنه بمال نفسه لم يجز عنه حتى يحج بماله. (الفتاوى الهندية ج۱، ص ۲۵۷، الباب الرابع عشر في الحج عن الغير) قال العلامة الحصكفي: و بقي من الشرائط النفقة من مال الأمر كلها أو اكثرها. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲، ص ٦۰۰ ، باب الحج عن الغير) و مثله في التاتارخانية ج۲، ص ٥٤٥ ، الفصل الخامس عشر في الرجل يحج عن الغير

: د ميقات په ځاي له حرم څخه د حج بدل د احرام تړلو حکم

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه يو سړي په حج بدل کښې له ميقات څخه د حج احرام و نه تاړه بلکه د عمرې احرام ئې وتاړه نو آيا له حرم شريف څخه دوباره د احرام په تړلو سره حج بدل ادا کيږي او که نه؟

الجواب حامدا و مصليا: د مامور لپاره د آمر د حکم په اطاعت سره د حج افعال ادا کول په کار دي نو ځکه که چيرته آمر مامور ته د حج تمتع اجازه ورکړې وي نو بناء پر دې تحقيق د آمر حج ادا کيږي او که نه وي نو نه ادا کيږي

قال العلامة علاؤ الدين الحصكفي: ان اذن له الأمر با لقران و التمتع و الا فيصير مخالفاً. (الدر المختار ج۲، ص٦١١،باب الحج عن الغير) قال العلامة الانصارى: و لو امره با لحج فاعتمر ثم حج من مكة فهو مخالف في قولهم. (الفتاوى التاتارخانية٥۴٦ ،الفصل الخامس عشر في الحج عن الغير.

په حج بدل کښې مصرف په آمر باندې دی:

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه په يوې ښځې باندې حج فرض دې او دا ښځه د ضعف له وجهې خپل زوي ته پيسې ورکړې او د حج بدل لپاره ئې وليږه نو آيا مامور ته د آمر له مال څخه حج کول ضروري دي او که د ځان له خوا څخه هم څه خرڅه کولې شي؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په حج بدل کښې ضروري داده چه خرڅه به د آمر له خوا څخه وي. د صورت مسئوله مطابق د هغې د زوي لپاره ضروري دي چه مصرف د خپلې مور له مال څخه وکړي. بيا هم که چيرته فرضي حج نه وي نو په نفلي حج کښې د خپل ځان له خوا څخه د خرڅې د کولو گنجائش هم شته.

و في الهندية: و منها ان يكون الحج بمال المحجوج عنه فان تطوع الحاج عنه بمال نفسه لم يجز عنه حتى حج بماله. (الفتاوى الهندية ج١، ص ٢٥٧، الباب الرابع عشر في الحج عن الغير) قال ابن عابدين: (فتطوع رجل) اطلق الرجل المتطوع فشمل الوارث. و به صرح قاضيخان بقوله الميت اذا أوصى بان يحج عنه بماله فتبرع عنه الوارث او الاجنبى لا يجوز قلت يعني لا يجوز عن فرض الميت و الا فله ثواب ذلك الحج. (رد المحتار ج٢، ص٦٠٦، باب الحج عن الغير، مطلب العمل على القياس دون الاستحسان هذا) و مثله في البحر الرائق ج٣، ص ٦٢، باب الحج عن الغير.

په حج بدل کښې د خپل ځان له خوا څخه حج کول او بل څوک د حج بدل لپاره د ادا کولو:

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه زيد عمر لره د خپلې مور له خوا څخه د حج بدل لپاره وويل. نو عمر ورته وويل چه تاسو ما ته د ټکټ او راتګ خرڅه راکړې زه په مکه مکرمه کښې يو بل سړي د حج بدل لپاره ټاکم او په دغو روپو باندې زه د خپل ځان له خوا څخه حج کوم نو آيا دا طريقه صحيح ده او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په حج بدل کښې له وطن څخه د آمر تلل ضروري دي. نو ځکه په صورت مسئوله کښې په نوموړې طريقې سره حج کول روا نه دي او نه په دې طريقې سره حج بدل اداکيږي او د زيد د والدې غاړه هم په دې ډول حج بدل سره نه خلاصيږي

قال العلامة محمد امين الشهير بابن عابدين رحمه الله: الحادي عشر ان يحج عنه من وطنه ان اتسع الثلث و الا فمن حيث يبلغ. (رد المحتار ج ٢، ص ٦٠٠، باب الحج عن الغير ، مطلب شروط الحج عن الغير) رجل اوصى ان يحج عنه فاحج عنه رجلا فلما بلغ الكوفة مات او سرقت نفقة و قد انفق النصف فانه يحج عن الميت منزله بثلث ما بقى. (جامع الصغير ص ١٣٥ ، كتاب الحج) و مثله في التاتارخانية ج٢، ص ٥٥٢، الفصل السادس عشر في الوصية با لحج

د حج بـــدل شرائط

الاستفتاء: يو سړي غواړي چه حج بدل وکړي نو د هغه لپاره شرعا کوم شرائط دي؟

الجواب حامدا و مصليا: د اسلام فقهاوو د دې مسئلې د وضاحت لپاره د فقهې په کتابونو کښې يو مستقل باب (باب في الحج عن الغير) قائم کړي دي چه په هغه کښې ئې د حج بدل شرائط ذکر کړي دی. که چيرته د نوموړي شرائطو لاندې حج بدل وشي نو صحيح دي او که نه وشي نو نه دي صحيح. او هغه شرائط په لاندې ډول دي. (١) دا چه محجوج عنه پخپله د حج له اداکولو څخه عاجز وي (٢) او دا عجزئې تر مرګه پورې قائم وي «٣» آمر بالحج وي ۴ د احرام په وخت کښې نيت د محجوج عنه له خوا څخه وي (٥) د مامور حج د محجوج عنه له مال څخه وي.

كما في الهندية: و منها ان يكون المحجوج عنه عاجزا عن الاداء و منها استدامة العجز من وقت الاحجاج الى وقت الموت و منها الامر با لحج و منها نية المحجوج عنه عند الاجرام و منها أن يكون المامور بماله. (الفتاوى الهندية ج١، ص ٢٥٧، الباب الرابع عشر في الحج عن الغير) قال العلامة الحصكفي رحمه الله: لكن بشرط دوام العجز الى الموت و نية الحج عنه هذا اذا كان المرض يرجى زواله الخ (الدر المختار على

صدر رد المحتار ج٢، ص ٥٩٨، باب الحج عن الغير) و مثله في التاتارخانية ج٢، ص ٥٤٥ الفصل الخامس عشر في الرجل يحج عن الغير

د ښځې لپاره د سړي له خوا د حج بدل حکم:

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه د سړي له خوا ښځه حج بدل کولې شي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: د حج بدل لپاره ضروري ده چه مسلمان، عاقل او بالغ وي اګر که ښځه وي يا سړی. البته که چيرته ښځه حج بدل وکړي نو د فقهاوو د تصريح مطابق مکروه دي ليکن بيا هم حج بدل اداکيږي۔

و في الهندية : و لو احج عنه امرأة او عبداً او امة باذن السيد جاز و يكره هكذا في محيط السرخسي. (الفتاوى الهندية ج١ ، ص ١٥٧، الباب الرابع عشر في الحج عن الغير) قال العلامة ابن الهمام: و يجوز حجاج الحر و الامة و الحرة و في الأصل نص على كراهة المرأة، (فتح القدير ج٣، ص ١٥١، باب الحج عن الغير) و مثله في البحر الرائق ج٣، ص ٦٢، باب الحج عن الغير.

د غير وصي لپاره د حج بدل د ادا کولو حکم

الاستفتاء: څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه يو سړي د مرګ په حالت کښې څلورو کسانو ته وصيت وکړ چه په ما باندې حج فرض دي تاسو زما له خوا څخه حج بدل ادا کړی۔ نو آيا حج بدل يوائځې اوصياء و ارثانو ته ادا کول ضروري دي او که غير وصي هم حج بدل اداکولي شي؟ بينوا توجروا۔

الجواب حامدا و مصليا: حج بدل يوائځې اوصياء وارثانو ته اداکول ضروري دي او همد ارنګه غير وصي هم حج بدل کولي شي.

يكون الاوصياء مطلقاً و يدل عليه ما في الهندية و لو أوصى الميت ان يحج عنه و لم يزد كان للوصى ان يحج عنه فان كان الوصى وارث الميت او دفع المال الى وارث الميت ليحج عن الميت. (الفتاوى الهندية ج١، ص٢٥٩، الباب الخامس عشر في الوصية بالحج) قال العلامة ابن العلاء الانصاري، و في الكبرى اوصى بان يحج عنه و لم يوص الى احد فاجتمعت الورثة ليحجوا عنه رجلاً جاز. (الفتاوى التاتارخانية ج٢، ص٥٥٦، الفصل السادس عشر في الوصية با لحج) و مثله في رد المحتار ج ٢، ص٥٩٩، باب الحج عن الغير

له حج بدل څخه وروسته د نذر شوي عمرې د ادا کولو حکم:

الاستفتاء: څه فرمايي علماء كرام د دې مسئلې په باره كښې چه زيد د عمرې نذر منلي دي او په دې وخت كښې زيد د يو چا لپاره د حج بدل د ادا كولو لپاره لاړ. نو د حج بدل له ادا كولو نه وروسته زيد خپله منذوره عمره ادا كړه نو آيا د زيد دا عمره صحيح شوه او كه نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: په ښكاره سره هغه اداء كما التزام كړي دي ځكه چه هغه اول حج بدل ادا كړي دي او د آمر د حكم څخه مخالفتئې نه دي كړي نو ځكه د زيد د دې عمرې ادا كول صحيح دي او په دې سره د زيد غاړې خلاصيږي.

قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري: ابن سماعة عن محمد: المامور يا لحج اذا حج عن الأمر ثم احرم بعمرة ينفق من مال نفسه ما دام معتمرا فاذا انفق من مال الأمر. (الفتاوى التاتارخانية ج٢، ص ٥٤٧ ، الفصل الخامس عشر في الرجل يحج عن الغير) قال ابن عابدين: (تحت هذه العبارة فيصر مخالفاً) و لو امره با لعمرة فاعتمر ثم حج عن نفسه لم يكن مخالفاً بخلاف ما اذا حج اولا ثم اعتمر . (رد المحتار ج٢، ص١١١، باب الحج عن الغير) و مثله في البحر الرائق ج٣، ص٦٣ ،باب الحج عن الغير.

باب الجنايات

د رمي د پرېښودو له وجهې د دم د واجبيد و حکم

الاستفتاء: د حج په ورځو کښې له يوه سړي سره ښځه هم وه او هغې د رمي جمار طاقت نه درلود . نو که چيرته دا ښځه خپل خاوند په رمي جمرات کښې وکيل مقرر کړي نو آيا دا جائزه ده او که نه؟ او آيا په نوموړې ښځې باندې دم واجب دي او که نه؟ بينوا توجروا-

الجواب حامدا و مصليا: د حج په ورځو کښې د شپې وختي د شيطان په ويشتلو کښې دقت او تنگوالي نه وي نو ځکه له شرعي عذر نه بغير د رمي پرېښودل او يوه چا لره وکيل مقررول د دم موجب دی لهذا د نوموړې صورت مطابق په دې ښځې باندې د دم واجب دی-

